ننگرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی

# د اقتصاد او تجارت اصطلاحات

## انګليسي - پښتو تشريحي قاموس




پوهنیار عبداللّه عادل
امان اللّه ورین

خرخول منع دی ۱۳۹۴

د اقتصاد او تجارت اصطلاحات Economic & Business Terms

پوهنیار عبداللّه عادل
امان اللّه ورین
۱۳۹۴

Nangarhar University, Economics Faculty

Afghanic

Asst Tech Prof Abdullah Adil & Amanullah Vreen

# Economic & Business Terms

## English-Pashto Explanatory Dictionary



Funded by
German-Afghan University Society (DAUG)

ISBN 978-9936-620-22-3

Not For Sale 2016

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اقتصاد او تجارت اصطلاحات

## (انګلیسي- پښتو تشریحي قاموس)

دوهم چاپ

پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین

د کتاب نوم        د اقتصاد او تجارت اصطلاحات
(انګلیسي-پښتو تشریحي قاموس)
لیکوالان        پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین
خپرندوی        ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی
ویب پاڼه        www.nu.edu.af
چاپ شمېر        ۷۵۰
د چاپ کال        ۱۳۹۴، دوهم چاپ
ډاونلوډ        www.ecampus-afghanistan.org
چاپ ځای        سهر مطبعه، کابل، افغانستان

دا کتاب د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې (DAUG) لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل
تیلیفون        ۰۷۵٦۰۱٤٦٤۰
ایمیل        textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان  978-9936-620-22-3

## د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کی د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنی (DAUG) او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه کوم چې د کتابونو د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله منده یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنوال دوکتور فریده مومند

د لوړو زده کړو وزیره

کابل، ۱۳۹۴

## د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمیر استادان او محصلین نوي معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

تراوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا، کابل او کابل طبي پوهنتون لپاره ۲۰۰عنوانه مختلف طبي او ۲۴ درسي کتابونه د ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت پوهنځي (۹٦ طبي د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۸۰ طبي سره له ۲۰ غیر طبي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې Kinderhilfe-Afghanistan او ۴ نور غیر طبي د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG په مالي مرسته) چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنځیو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ویب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ - ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان نشي کولای عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي."*

مونږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هیواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړینه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي. زمونږ په واک کې یې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځي، استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یاد شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کړو.**

د مولفینو او خپروونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو په اساس برابر شي، خو بیا هم کیدای شي د کتاب په محتوی کې ځینې تیروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله مند یو تر څو خپل نظریات او نیوکې مولف او یا مونږ ته په لیکلې بڼه راولیږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې German-Afghan University Society (DAUG) څخه ډېره مننه کوو چې د دې کتاب په شمول یې د ځلورو کتابونو د چاپ لګښت ورکړی دی.

په ځانګړې توګه د جي آی زیت (GIZ) له دفتر او Center for International Migration & ) CIM Development) چې زما لپاره یې په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي دي، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له وزیرې پوهنوال دوکتور فریده مومند، علمي معین پوهنوال محمد عثمان بابري، مالي او اداري معین پوهنوال ډاکتر ګل حسن ولیزي، د ننګرهار پوهنتون پوهنځیو ریيسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مولف څخه ډېر مننندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو-کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو حکمت الله عزیز، احمد فهیم حبیبي او فضل الرحیم څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، جنوري ۲۰۱٦

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵٦۰۱۴٦۴۰

ایمیل: textbooks@afghanic.org

اندلیک

## د اقتصاد د اصطلاحاتو دا قاموس

دننګرهارپوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد ښاغلي پوهنيار عبدالله عادل او ښاغلي امان الله ورين په زيار ليکل شوی دا قاموس (اقتصادي اصطلاحات) يوه ډېره مهمه او ارزښتناکه هڅه ده، چې په پښتو ژبه د لومړي ځل لپاره د يو منظم اقتصادي قاموس په بڼه ليکل شوی او خپرېږي.

داوسنی نړۍ چټکو پرمختګونو، بدلونونو او نوښتونو د بشر ژوند او د اقتصاد چاپېريال ته ډېر ژور بدلون ورکړی، چې دا چټک بدلونونه د ژوندانه په هره برخه کې له ورايه احساسيږي .د نوی تکنالوژۍ او برښنايې چاپېريال په رامنځته کېدلو سره اوسمهال سربېره په مخکېنيو اصطلاحاتو، نوي مفاهيم او اصطلاحات د ورځنيو بحثونو لويه برخه جوړوي، نو د اقتصادپه برخه کې د دغه ډول قاموسونو، نه يوازې ليکل ، بلکې تازه کول هم يوه اړتيا ده. زموږ دوطن او خلکو لپاره دا له خواشينۍ کمه نه ده، چې په نويو ساينسي علومو او پوهنو کې کارنده اثار لږ لري او يايې نه لري او اوس چې په وطن کې د پرمختګ او ترقۍ يو نسبتا چټک پړاو پيل شوی، يقيناً چې ښه موقع ده او په دې برخه کې ډېر څه کول په کار دي، اړينه ده چې دمهمو عصري پوهنو په برخه کې آثار وليکل شي او يا هم وژباړل شي تر څو ځوان نسل ته وړاندې شي.د اقتصاد د اصطلاحاتو دا قاموس د همدغو هڅو يوه ښه نمونه ده او دوياړ ځای دی، چې زموږ د پوهنتون يو استاد او ملګری يې په دې بريالي شول، چې په منظم ډول دغه تشريحي قاموس وليکي، ترتيب يې کړي او بيا يې خپراوي ته متې رابډوهي، د اقتصاد د اصطلاحاتو دغه قاموس مې له سره ترپايه وکوت، ډېر نوي اصطلاحات او خبرې مې مخې ته راغلې چې د لوستونکو تنده پرې ماتيدای شي.

دپوهنتون دوره د ځوانانو د زده کړې تر ټولو مهمه دوره وي، په دې دوره کې يوازې په پوهنتوني کتابونو بسنه نه کيږي، ځوانان او محصلين بايد افاقي مطالعه وکړي او خپلې تجربې پراخه کاندې، داقتصاد پوهنځي استاد د خپل ملګري په ملتيا د محصلينو د تحصيلي او علمي سويې دلوړاوي په په

موخه دا ليکنه د قاموس په بڼه کړی ، چې د لنډون د اصل په پامنيوي سره د مانا او محتوی له پلوه د اقتصادي اصطلاحاتو دا تعريفونه او معناوې په ډېره ښه توګه سره ترتيب شوي او د استفادې وړ دي. پښتو ژبې ته چې اوسمهال په ډېر لومړني پړاو کې نور عصري علوم خپلوي او آثار پرې خپروي، د دا ډول اثارو خپريدل ډېر ګټور دي، که څه هم چې دا ډول اثار په لومړيو کې ګڼې نيمګړتياوې لري چې ما هم په خپل نوبت ددې اثر د کتنې پر مهال دغه نيمګړتياوې ليکوال استاد ته د اصلاح لپاره په ګوته کړي، خو هيڅ انساني هڅه له نيمګړتياوو خالي نه وي، زه ډاډمن يم، چې دا ليکنه به ورو- ورو پراخه او په راتلونکو چاپونو کې به ددې قاموس نيمګړې برخې بشپړې شي. نو ځکه زه دواړو ښاغلو ته شاباسی ورکوم او حوصله ورته غواړم، چې دخپل وطن، خلکو، ژبې او پرمختګ لپاره يې دا لار ټاکلې ده.

د يادونې وړ بولم چې په دې قاموس ليکنه او ټولوونه کې له معتبرو اثارو استفاده شوې، مطالعه ورته شوې او بيا هغه اثار تر کره کتنې لاندې نيول شوي،په پای کې ليکونکي ترې خپل شخصي برداشت کړی او هغه يې په تحليلي بڼه په دې قاموس کې ځای کړي، ځکه نو دا يو نوښت او غوره هڅه ده، چې په راتلونکي وخت کې به نورو دا ډول نوښتونو ته لار پرانيزي.

زه ښاغلي استاد پوهنيار عبدالله عادل او امان الله ورين ته مبارکي وايم، او سپارښتنه کوم، چې ډېر ژر دا اثر چاپ او خپور کړي او په دې توګه افغان ځوانانو ته دخير رسونې په دغه لوی کار کې دلوی خدای له درباره د اجرونو مستحق وګرځي.

په ډېر درناوي

سرڅېړونکی ډاکټر محمد علم "اسحق زی"

جلال اباد

۱۳۹٤,٤,۲۳

# يو د ستاينې وړ او ګټور ګام

ډېر د خوشحالۍ ځا ی دی چې په هيواد کې وار په وار د ويښتيا او روڼتيا په لوري اوچت ګامونه پورته کېږي. قاموس ليکنه په دې لوري کې يوه متبارزه نښه ده. دا د يوې ژبې د بډاينې د پړاوونو په لړ کې يو په زړه پورې او مهم پړاو دی. دا دی اوس په پښتو ژبه کې ددغه پړاو شاهد ياستو. درې کاله مخکې مې د افغانستان د علومو اکاډمۍ کې په دې هکله څو ځله وړانديز وکړ چې د قاموس ليکنې په موخه د دايره المعارف په مرکز کې د آريانا دايره المعارف د انستيتيوت تر څنګ، د افغان قاموس انستيتوت فعال شي. دا په داسې حال کې ده چې له نيکه مرغه د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز پخوا يو شمير عمومي قاموسونه نشر کړي هم دي، خو د اختصاصي قاموسونو اړتيا لا اوس هم پر ځای پاتې ده. دا دی اوس د ډېر وياړ ځای دی چې موږ د يو شمير مسلکي او اختصاصي قاموسونو د ليکنې او چاپ شاهد هم ياستو. دغه قاموسونه يو شمير يې د حقوقو اوسياسي علومو په برخه کې، يو – دوه د طب په برخه کې، يو د جيوديزي او کاني توکو او يو – دوه هم دتخنيک په برخه کې ليکل شوي دي ، خو د اقتصاد په برخه کې لا اوس هم پوره کار نه وه شوی، حال دا چې اقتصادي ادبيات او مطالعات اوس په نړۍ کې مهم لومړيتوب لري. دافغانستان دبدې ورځې يو لامل بيوزلي، بيسوادي، درااز راز تعصباتو شتون اود اوهامو، خرافاتو، بهرنيو لاسوهنو، تحجر، دښونځيو دروازو د تړلو او په مجموع کې دفرهنګی بدلونو په وړاندی بې توپيري ده. له نيکه مرغه په دې يوه وروستۍ لسيزه کې افغانانو ددغو ناوړه ښکارندو په وړاندې په ميړانه، خو له ډېرو ستونزو او قربانيو ډکه لاره ووهله. د دې مزل يوه لاسته راوړنه د ويښ، تحصيل کرده او هغو پوهو ځوانانو ډګر ته راوتل دي، چې د هيواد دننه او بهر يې خپلې لوړې او مسلکې زده کړې کړي دي او په زړورتيا سره د نوي افغانستان په هکله فکر او کار کوي. په دی لړ کې ستاسو په لاس کې موجود د اقتصاد د اصطلاحاتو دا کتاب د دغه هڅو يوه غوره او د ستاينې وړ بيلګه ده. دغه کتاب ښاغلي پوهنيار عبدالله عادل او امان الله ورين په ګډه ترتيب او ليکلی دی، چې د مسلکي او

اختصاصي اصطلاحاتو لرونکی دی. زه هیله لرم دغه هڅې چې اوس یې دا دی بنسټ کېښودل شو په راتلونکي کې د یو مرکز له لارې په ښه شکل تنظیم او رهبري شي او سیستماتیکه بڼه به غوره کړي.

ما د اقتصاد د اصطلاحاتو دغه کتاب وکوت او په بشپړېدو یې ډېر خوښ شوم. کتاب د ۱٦۰۰ شاوخوا د مهمو اقتصادي اصطلاحاتو لرونکی دی، هیله ده د اقتصاد د ډګر مسلکې کارکوونکو، محصلانو او د اقتصادي موسساتو کادرونو ته ګټور واقع شي. په راتلونکې کې ښاغلو عادل او ورین ته د دوی دعلمي او مسلکي چاور په برخو کې د لا زیانو بریالیتوبونو غوښتونکی یم. د کتاب د چاپ له امله د کتاب لیکوالانو ، خپرندویې ادارې ، ټولو هیوادوالو او د مطالعی مینه والو ته مبارکي وایم.

په درناوی

پوهاند محمدبشیر دودیال

د اقتصاد پوهنځی استاد

۱۸/٤/۱۳۹٤

## مخکېنۍ خبرې

خوږو لوستونکو!

ستاسې په لاس کې دغه لیکنه که څه هم ښایي هومره چې باید وای معیاري نه وي خو د کلونو کلونو خوارۍ پایله او په پښتو ژبه د خپل ډول یوه بې سارې لیکنه، راټولونه او ژباړه ده، څو کاله وړاندې چې په پښتو ژبه په اقتصاد کې نږدې هېڅ لیکنه نه تر سترګو کېده د ننګرهار په پوهنتون کې محصلین وو ، هاغه مهال زه او زما ګڼ نور ټولګیوال د اقتصاد له ډېرو لومړنیو اصطلاحاتو سره هم نابلده وو او د دې اصطلاحاتو له انګلیسي بڼې سره مو ستونزې تر پښتو او دري اصطلاحاتو لا زیاتې وې. په ځانګړي ډول د هغو محصلینو ستونزې لا ډېرې وې چې له پښتو ژبې پرته په نورو ژبو نه پوهېدل د هر سمستر په پای کې چې به کله د هماغه مهال لکچر نوټ بشپړ شو نو د آزموینې لپاره به مو د چمتووالي په موخه د اړونده مضمون مهم اصطلاحات راغونډ کړل او د استادانو له وېناوو څخه د راټولو شویو یادښتونو او د لاس لیکلي چپټر په مرسته به مو ایله د سمستر په پای کې د یوې اقتصادي اصطلاح په صحیح مانا ځان و پوهاوه، نږدې د هر سمستر په پای کې مو تل دا سې احساس لرلو چې کاش مخکې له مخکې لږ تر لږه د دغو اقتصادي اصطلاحاتو او مفاهیمو په عمومي مانا پوهېدلای چې هماغه وخت مو پرې صنفي بحثونه کړي وای او د استادانو له لکچرونو مو مناسبه ګټه اخیستې وای، دې حالت زه او زما ځینې نور ټولګیوال وهڅولو چې له هر سمستر څخه دمخه د هر مضمون اړونده کتابونه په کتابتون یا بازار کې پیدا او مطالعه کړو تر څو مو دا تشه تر یوه حده ډکه کړې وي. له بده مرغه هاغه مهال نه یوازې دا چې په پښتو کې زموږ د غوښتنې سره سم داسې لیکنه نه وه بلکې په نورو ژبو( انګلیسي، دري او اردو) کې مو هم داسې لیکنه پیدا نه کړه چې دا ستونزه حل کړای شي نو له هماغه ځایه مو هوډ وکړ چې د هر سمستر په پای کې به د ټولو مضامینو مهم اصطلاحات راغونډوو او بیا به ټول په ټولیز ډول د راتلونکو ټولګیو د محصلینو د آسانتیا لپاره د هغوی په واک کې ورکوو تر څو مو لږ تر لږه د راتلونکې لپاره دا ستونزه هواره کړې اوسي. دا پروسه زمونږ د تحصیل د دورې تر وروستي کاله تقریباً بشپړه شوه خو له فراغت وروسته زه (عبدالله

عادل ) د دویم ځل لپاره د تدریس په چارو بوخت شوم او امان الله ورین په دنده بوخت شو، له یو ځه وخت وروسته چې مو بیا په دې هکله مشوره کوله نو دې پایلې ته ورسېدو چې زمونږ راټول شوي اصطلاحات له یوې خوا ډېر کم او بل داچې یوازې د ننګرهار پوهنتون د چېټرونو پورې محدود دی او بله ستونزه یې دا وه چې انګلیسي معیاري اصطلاحات ورسره مل نه وه، چې دې حالت زموږ کار له هغه ځه چې موږ یې تصور کاوه نور هم پېچلی او ځو چنده دروند کړ چې کله نا کله به آن دا چاره زموږ له وسه وتلې ښکارېده. خو بیا مو هم ژمنه وکړه او دلیکنې چارې مو سره ووېشلې. له دې ټولو بوختیاوو وروسته  د ګران وروور امان الله ورین له خوا بیا بیا ټینګار کېده او له ژمنې سره سم یې په لومړي ځل ګڼ  اقتصادي مفاهیم له لنډو تعریفونو سره عملاً چمتو کړي وو ماته راکړل چې هم لیکل شوي اصطلاحات وګورم ، پاتې برخې یې ولیکم او د انګلیسي مفاهیمو پښتو بڼه ور بشپړه کړم .... دا نو لومړی ځل و چې داسې احساس مو وکړ چې دا کار شونی دی او ان شاء الله چې ډېر ژر به یې بشپړ کړو. کله چې مو لومړنۍ نسخه تیاره کړه نو بیا مو په همزمان ډول د پښتو د ادبیاتو دکتنې لپاره د ادبیاتو یو استاد ته او د اقتصاد د تخنیکي اړخ د کتنې لپاره د اقتصاد پوهنځي درنو استادانو ته د نظر اخیستنې لپاره وړاندې کړه، هغوی داسې نیمګړتیاوو ته متوجه کړم چې ګواکې دا لیکنه په بشپړه ډول له سره کتل او اصلاح کول غواړي چې دې کار یو ځل بیا ډېر وخت ته اړتیا لرله. له دې وروسته زما د ماسترۍ د دورې بوختیاوې او زما د ملګري د دندې بوختیاوې پلمه شوې چې یو ځل بیا تر ډېره حده بشپړه شوی کار ټکنی شي. له نیکه مرغه له دې ټولو ستونزو وروسته کله چې د یوې علمي-څېړنیزې دورې لپاره ببرته جرمني ته ولاړم نو کافي وخت مې پیدا کړ چې نږدې ۱۲۰ ساعته پرله پسې متمرکز کار وکړم او د کار پایلې وخت په وخت له خپل ژمن ملګري سره د مشورې او لا بشپړتیا لپاره شریکې کړم چې په پایله کې دغه اوسنې بڼه چمتو او پرېکړه مو وکړه چې د شدیدې اړتیا په پامنیوي سره یې ډېر ژر د اقتصاد د ګڼو مینه والو خدمت ته وړاندې کړو.

اوس چې دا چمتو شوې ښه ستاسو په لاس کې ده له یوې خوا خورا زیات هیله مند یو چې ستاسې د پاملرنې وړ وګرځي او لږ تر لږه ستا سې د لوستلو د وخت په اندازه ارزښت ولري او له بلې خوا تاسو ټولو درنو لوستونکو څخه هیله لرو چې د همدې لیکنې د لا ښه والي او معیاري کولو به برخه کې د زړه له تله په خپلو سمونکو وړاندیزونو سره له موږ سره مرسته وکړئ او زموږ په اړیکشمېرو یا برېښنالیکونو مونږ ته خپل وړاندیزونه د راتلونکي چاپ د لا ښه والي په موخه راولېږئ.

په پای کې له هغو ټولو استادانو او ملګرو څخه چې مونږ سره یې د کتاب په بیلابېلو برخو کې مرسته کړې ده د زړه له کومې مننندوی یو او په راتلونکي کې د اقتصاد د اصطلاحاتو د دې قاموس د لا پراختیا او معیاري کولو په برخه کې د ټولو درنو لاهمکارۍ ته سترګې په لار یو. د یادونې وړ ده چې ددې کتاب په ترتیب کې د معتبرو سرچېنو څخه ګټه اخېستل شوې ده چې د کتاب په پای کې ذکر شوي او د کتاب د جوړښت ، محتوا او له هغه څخه د ګټې اخیستنې لنډې لارې چارې د کتاب په پیل کې توضیح شوي.

په درنښت

پوهنیار عبدالله عادل

امان الله ورین

## د کتاب په اړه لنډ معلومات او لارښوونې

درنو لوستونکو! ستاسې په لاس کې د اقتصاد د اصطلاحاتو دغه کتاب چې نږدې ۱۶۰۰ د اقتصاد او تجارت معیاري انګلیسي اصطلاحات لري داسې ترتیب شوی چې لومړی هره اصطلاح په تر ټولو مناسبه پښتو بڼه مانا شوې او د هرې انګلیسي اصطلاح لاندې لیکل شوې. وروسته همدغه اصطلاح په تفصیل سره توضیح شوې تر څو لوستونکی د اقتصاد په بیلابیلو برخو کې د هغې په عمومي مفهوم ، د استعمال ځای ، او په زیاتره ځایونو کې په عملي مثالونو وپوهیږي . همدا راز که د یوې اصطلاح سره مشابه یا د هغې متضاده اصطلاح په همدې کتاب کې موجوده وي نو د هرې اصطلاح لپاره د توضیحاتو په پای کې یادونه شوې چې لوستونکی اړونده اصطلاح ته مراجعه وکړي تر څو له مشابه او یا متضادو مفاهیمو سره هم اشنا شي.

په دی کتاب کې ټول موجود اصطلاحات د انګلیسي معیاري بڼې په اساس د انګلیسی الفباء تورو د تسلسل په پامنیوي سره ترتیب شوي چې د هر انګلیسی حرف د صفحاتو شمېر او پته دکتاب په سر کې په لنډ فهرست کې ښودل شوي ، علاوه له دې د کتاب د پاڼو په سرپاڼه یا Header کې د هرې پاڼې چپ لوري ته د انګلیسي یو حرف لوستونکي ته لارښوونه کوي چې په دې پاڼو کې هغه اصطلاحات دوام لري چې په همدې انګلیسی حرف پیل شوي وي. نو لوستونکی کولی شي چې د یوې اصطلاح دلټون لپاره د هغې د انګلیسي د لومړي حرف په پامنیوي سره لومړی هغه په لنډ فهرست کې ولټوي او بیا اړونده پاڼو ته ورشي او په آسانی سره یې په لنډ وخت کې پیدا کړي.

همدا راز ځینی اصطلاحات چې په خپل ذات کې فرعي عنوانونه لري د اصلي اصطلاح لاندې په مسلسل ډول تعریف شوي، د بېلګې په توګه د انفلاسیون یا Inflation د اصطلاح لاندې د انفلاسیون ټول ډولونه د فرعي عنوانونو په بڼه تعریف شوي چې دغه فرعي عنوانونه د کتاب د الفباء د تسلسل څخه مستثنی دي. بناً که چېرې یوه اصطلاح په عمومي عنوانونو کې نه ښکاري نو لوستونکي کولی شي چې نوموړې اصطلاح د اصلي اصطلاح په فرعي عنوانونو کې پیدا کړي.

د یادولو وړ ده چې د دې کتاب په ترتیب کې د ژبنیو او تحت لفظي ماناګانو او کره پښتو په پرتله زیاته پاملرنه د یوې اصطلاح عمومي مفهوم ته شوې او هیڅ ځاې کې د یوې اصطلاح بشپړ تیوریکي تعریف ټکي به ټکي نده راوړل شوی، برعکس هڅه شوې چې د یوې انګلیسی اصطلاح لپاره ډیره مروجه پښتو مانا ولیکل شي که څه هم چې ښايي دا مانا ډیره کره پښتو ژباړه نه اوسي. په همدې بنیاد ځینی ځایونو کې اصطلاحاتو ته یو د بل په ځای استعمالیدونکې څو پښتو ماناګانې لیکل شوي د بېلګې په توګه د Cost انګلیسی اصطلاح لپاره پښتو مانا (لګښت / مصرف) لیکل شوی چې لګښت یې کره پښتو مانا خو مصرف ډېره مروجه مانا ده او دواړه د اقتصاد په بحثونو کې یو د بل پر ځای کارول کېږي. همدا راز د (/) علامه زیاتره ځایونو کې د متبادلې مانا لپاره کارول شوې یعنې د دې علامې دواړو خواو ته لیکل شوې کلمې متبادلې یا مشابه مانا ګانې لري. په همدې ډول د دې کتاب په لومړي چاپ کې د لنډون په نیت له اصطلاحاتو سره د هغوی اړونده ریاضیکي فورمولونه او یا هم ګرافونه ندي ترسیم شوي چې انشاالله په راتلونکي کې به دغه تشه هم ډکه شي.

یوځل بیا له تاسو درنو لوستونکو مننه چې خپلې مطالعې ته مو دغه کتاب ځانګړی کړ، تر څنګ یې له تاسو درنو څه خورا په درنښت هیله کوو چې که د لوستلو په بهیر کې له هر ډول ستونزې سره مخ یاست او یا هم کوم رغنده وړاندیز لرئ نو د خپرندویې ادارې په اړیکشمېرو یا بریښنا لیک یې راسره شریک کړئ.

له پاملرنې مو یوه نړۍ مننه

# لړلیک


| عنوانونه (د اصطلاحاتو لومړني حروف) | | مخونه |
|---|---|---|
| A | ........................................................ | 1-29 |
| B | ........................................................ | 30-59 |
| C | ........................................................ | 60-109 |
| D | ........................................................ | 110-141 |
| E | ........................................................ | 142-177 |
| F | ........................................................ | 178-203 |
| G | ........................................................ | 204-216 |
| H | ........................................................ | 217-226 |
| I | ........................................................ | 227-256 |
| J | ........................................................ | 257-262 |
| K | ........................................................ | 263-265 |
| L | ........................................................ | 266-284 |
| M | ........................................................ | 285-320 |
| N | ........................................................ | 321-332 |
| O | ........................................................ | 333-341 |
| P | ........................................................ | 342-387 |
| Q | ........................................................ | 388-391 |
| R | ........................................................ | 392-413 |
| S | ........................................................ | 414-443 |
| T | ........................................................ | 444-464 |
| U | ........................................................ | 465-476 |
| V | ........................................................ | 477-482 |
| W | ........................................................ | 483-487 |
| X | ........................................................ | 488-489 |
| Y | ........................................................ | 490-491 |
| Z | ........................................................ | 492-493 |
| ماخذونه | | 494 |

# A

## Abatement

تنزيل/کمښت

د مالياتو هغه پاتې برخه چې د دولت له خوا بخښل کېږي او يا هم پکې په يوه معلومه اندازه کمښت رامنځته کېږي.

## Ability to Pay Principle of Taxation

د پرداخت د وړتيا له مخې د ماليې ټاکلو اصل

د ماليې د ټاکلو هغه اصل دی، چې له مخې يې دولت ماليه د ماليه ورکوونکو د تادياتي توان له مخې ټاکي نه د هغو خدمتونو له مخې، چې ټولنې ته يې وړاندې کوي. چې د (faculty principle of taxation) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د مالياتو لپاره د حاصله ګټې اصل (Benefit-Received Principle of Taxation) سره يې پرتله کړئ.

## Abnormal Cost

غير عادي لګښت

د ضايعاتو د زياتوالي، د توليدي وړتيا د کموالي او يا هم د کارمندانو د اعتصاب په پايله کې د توليد د تمام شد په لګښت کې زياتوالي ته غير عادي لګښت ويل کېږي.

## Abnormal Loss

غير عادي زيان

هغه زيان ته وايي چې د توکو او خدمتونو د پلور څخه ترلاسه شوی نا خالص ټوليز عوايد د تمام شد ټوليز لګښت څخه کم وي.

## Abnormal Profit

غير عادي ګټه

هغه ګټه چې د توليد د پروسې د جارې ساتلو لپاره د حد اقل ګټې څخه لوړه وي او دا ډول ګټه معمولاً له انحصاري(Monopoly) او اوليګوپولي(Oligopoly) جوړښتونو څخه ترلاسه کيږي.

## Abrasion

فرسایش (د سکو د وزن کمښدل)

په ځانګړي ډول د سکو د فرسایش لپاره کارول کیږي یعنې د استعمال په پایله کې د سکې په وزن کې کمښت ته د وزن کمیدلو فرسایش ویل کیږي.

## Absolute Advantage

مطلق مزیت

دا نظریه د ادم سمیت له لوري رامنځته شوې ده او په ځانګړي ډول د سوداګرۍ او تبادلې په مباحثو کې کارول کیږي ، ددې نظریې له مخې که چیرې یو کس، کاروبار او یا یو هېواد له یو ډول سرچینو نه په ګټې اخېستنې سره د بل کس، کاروبار او یا د هېواد په پرتله ډېر یا ارزانه تولید ترسره کړي د مطلق مزیت لرونکی کس،هېواد یا کاروبار ګڼل کیږی. دا بحث معمولاً د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې زیات رامنځته کیږي، همدا راز دغه اصطلاح دعین تولید لپاره د کمو لګښتونو په استدلال سره هم صدق کوي. له نسبي مزیت (comperative advantage) سره یې پرتله کړئ.

## Absolute Poverty Level

د فقر مطلقه سطحه

د فقر یا غربت د اندازې معلومولو یو میتود دی، چې له مخې یې په ټولنه کې هغه وګړي په مطلق غربت کې ژوند کوي، چې عموماً یې د عوایدو اندازه د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو د رفع کولو لپاره د اړینو عوایدو څخه څو ځله کمه وي او د خپلې فزیکې سلامتیا لپاره هم اړینې سرچینې (لکه کافي غذا او کالوري ) نه لري. دا حالت د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د هر چا لپاره صدق کولی شي. له نسبي غربت له سطحې (Relative Poverty Level) سره یې پرتله کړئ.

## Accelerating Premium

متزایده جایزه

هغه مبلغ ته ویل کیږي، چې د تولیدي شرکت مالک یې کارګرانو ته په تولید کې د زیاتوالي له امله دتشویق او هڅونې په موخه د انعام په توګه ورکوي.

## Accelerator

### شتاب ورکونکی - تېزونکی- مسرع

په عامه اصطلاح هغه قوې ته ویل کیږي چې د یو شي د حرکت او سرعت د زیاتوالي لامل وګرځي. په ځانګړي ډول د ملي اقتصاد او پانګې اچونې په برخه کې د یو حسابي ضریب په بڼه کارول کیږي او د پانګونې په لګښتونو او نا خالص داخلي تولید کې د تغیر ترمنځ نسبت په مرسته ښودل کیږي.دا په دې مانا چې: که چېرې اقتصادي وده زیاته وي نو کاروباري سکتور د مازادې تقاضا (Excess demand) د رفع کولو په خاطر د توکو او خدمتونو په تولید کې ډېره پانګونه کوي. همدا راز د عین مفهوم د افادې لپاره د شتاب ورکونکي تاثیر (Accelerator effect) اصطلاح هم ډېره دود ده چې په اقتصاد کې د ودې له امله په پانګونه باندې مثبته اغیزه څرګندوي او په نا خالص ملي تولید کې د تغیر په وسیله اندازه کېږي.

## Accessorial Services

### مرستندویه خدمتونه

مرستندویه خدمتونه هغه ځانګړو خدمتونو ته ویل کېږي چې د یو خدمت سره په اضافي ډول عرضه کیږي لکه د ترانسپورت په برخه کې: هغو خدمتونو ته وایي، چې یو شرکت یې د ترانسپورت لپاره د یوې لازمي برخې په ډول ترسره کوي، لکه بسته بندي، سورت کول او داسې نور خدمتونه.

## Account

### حساب – صورت حساب

له مالي ادارو سره یو ډول حساب ، چې له مخې یې ځانګړی معاملات ترسره کیدلی شي او دحساب صلاحیت لرونکي په کامل ډول خپل معلوم حساب کې شته شتمني ته لاسرسی پیدا کوي د مثال په ډول په یو بانک کې د حساب پرانیستل. د معاملاتو د ډول او بڼې له پلوه ډول ډول حسابونه وجود لری څو عمده حسابونه عبارت دي له:

۱: جاري حساب (current accout)

۲: سپما حساب(saving account)

۳:معیادي حساب (time deposit).

٤: ګډ حساب (Joint Accout)

له مالي ادارو سره د حساب په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو د حساب ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Accounting

## محاسبه

د يو کاروبار په هکله د مالي معلوماتو راټولول، ثبتول، صنفبندي کول او خلاصه کول او په پولي بڼه يې د کاروبار د نتيجې په بڼه ښودلو ټولې پروسې ته وايي.

## Accounting Cost

## محاسبوي لګښتونه

د محاسبې لګښتونه هغه واقعي او ښکاره لګښتونه دي چې په يوه کاروبار کې د ټولو معاملاتو د ثبت او ريکارډ په بنسټ محاسبه کيږي. معمولاً د اقتصادي لګښتونو د اصطلاح په وړاندې کارول کيږي.

## Accounting Profit

## محاسبوي ګټه

د يوه کاروبار د ښکاره ثبت شوو نا خالصو عوايدو او د محاسبوي لګښتونو ترمنځ توپير ته محاسبوي ګټه ويل کېږي. د محاسبوي او اقتصادي ګټې(Economic profit) ترمنځ ښکاره توپير شتون لري.

د بېلګې په توګه: په اقتصادي عوايدو/ګټه کې نه يواځې محاسبوي لګښتونه په پام کې نيول کېږي، بلکې ځينې ځانګړي اقتصادي لګښتونه هم بايد په پام کې ونيول شي لکه فرصتي لګښتونه (Marginal costs) خو په محاسبه کې فرصتي لګښتونه په نظر کې نه نيول کيږي.

## Accrual basis

## تعهدي پايه

په اړوند حساب کې د يو معاملې ثبتول مخکې لدې، چې واقعي لګښت يې ترسره شوی يا عوايد يې ترلاسه شوي وي.

د بېلګې په توګه: د توکو د پلور څخه هغه اندازه عواید چې لا تراوسه ترلاسه شوي نه وي خو په راتلونکي کې به ترلاسه شي؛ خو معامله په اوسني وخت کې په خپل اړوند حساب کې ثبتېږي.

## Accrued Interest

## متعلقه ربح

هغه سود یا ټکټانه، چې پر اصلي مبلغ ور اضافه شوې وي خو لا تر اوسه ترلاسه شوې نه وي.

## Accumulation

## راغونډېدل یا جمع آوري

د یو توکي یا شتمنۍ ترلاسه کول او نوموړی توکي یا شتمني د ېځوانیو ترلاسه شویو توکو او یا شتمنیو سره د یو ځای کولو پروسې ته راغونډېدل ویل کېږي او معمولاً دا اصطلاح تر ډېره په ملي اقتصاد کې د پانګې راغونډولو (Capital Accumulation) پروسې لپاره کارول کېږي.

## Action Lag

## د اجرا یا تطبیق مهلت

د پالیسۍ جوړولو او تطبیق ترمنځ زماني فاصلې ته د اجراء مهلت ویل کېږي یا د اقتصادي پالیسیو په برخه کې له هاغه مودې څخه عبارت دی، چې د یوې اقتصادي پالیسي عملي کېدلو لپاره ورته اړتیا وي. د بېلګې په ډول: د پولي سیاست لپاره نسبتاً کمې مودې ته اړتیا ده مګر د مالي سیاست عملي کول اوږد مهال یا اوږدې مودې ته اړتیا لري. د لا ډېر معلوماتو لپاره داخلي مودې (insidelag) او پریکړې مودې (decisionlag) ته رجوع وکړئ.

## Activity Policy

## کړنیزه سیاست / پالیسي

د دولت هغه سیاست چې د روښانه تګلارو په وسیله د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړېږي، چې تر ټولو عام ډول یې د کاروباري دایرې (دوران)، (Business Cycle) د ثبات په موخه عملي ګامونه پورته کول، د وزګارتیا راکمولو سیاست، د انفلاسیون د کچې د راکمولو یا ثابت ساتلو سیاست او داسې نور سیاستونه دربر نیسي، چې کړنیز سیاست ته اختیاري سیاست

(Discretionary Policy) هم ویل کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اختیاري مالي/پولي سیاست(Discretionary Fiscal/monetary Policy) ته هم رجوع وکړئ

## Actual Investment

## حقیقي پانګونه

د پانګونې هغو لګښتونو څخه عبارت دی، چې کاروباري سکتور يې په يو معلوم وخت کې په واقعي ډګر کې ترسره کوي، چې په کینزي اقتصادي نظریاتو کې د کلي اقتصاد په څېړنه کې یوه مهمه برخه جوړوي.

## Ad Valorem Tariff

## د ارزښت له مخې تعرفه

پر وارداتي توکو يا خدمتونو باندې د محصول هغه ډول څخه عبارت دی، چې د توکو يا خدمتونو د ارزښت له مخې ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه: يو تلوېزيون افغانستان ته وارديږي، چې ارزښت یې پنځوس زره افغانۍ وي او د ارزښت له مخې د تعرفې اندازه یې ( ١٥٪ ) وي نو په نوموړي تلوېزيون ٧٥٠٠ افغانۍ محصول اخېستل کېږي. د ټن له مخې محصول (tonnage) سره يې پرتله کړئ.

## AdvaloremTax

## د ارزښت له مخې مالیه

د مالیې هغه ډول، چې د توکو او خدمتونو په پلور باندې د ارزښت د سلنې له مخې ټاکل کېږي، چې دري عام ډولونه يې عبارت دي له:

١: پر پلور مالیه(sales tax).

٢: پر عوایدو مالیه(income tax).

٣: پر جایدادونو مالیه(property tax)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Adam Smith

### ادم سمیت

د اوسني معاصر اقتصاد مشهور بنسټ ایښودونکی کس دی. نوموړی اقتصاد پوه د سکاټلنډ اوسېدونکی وو، چې په ۱۷۲۳ میلادي کال کې پیدا او په ۱۷۹۰ میلادي کال کې مړ شوی دی نوموړي د ملتونو ثروت (TheWealth Of Nation) تر عنوان لاندې یو کتاب لیکلی، چې په ۱۷۷۶ میلادي کال نشر شو چې د همدغه کتاب د لیکلو په وجه ورته د معاصر اقتصاد د پلار لقب هم ورکړل شوی دی، د غربي هېوادونو او ځینو نورو پرمختللو هېوادونو په اقتصادي وده کې یې د پام وړ رول لوبولی دی. نوموړی اقتصاد پوه لومړنی کس وو، چې اقتصادي څېړني او مباحثې یې د لومړي ځل لپاره د کتاب په بڼه ټولنې ته وړاندې کړې نوموړي په خپل کتاب کې یوه لویه او اړینه موضوع په آزاده سوداګري باندې تمرکز کول وه، چې د اقتصاد په برخه کې دا کتاب په نړۍ کې تر ټولو مشهور کتاب ګڼل کېږي او د نړۍ ډېر شمیر هېوادونه اوس هم د نوموړي له نظریاتو څخه ګټه پورته کوي. د یادولو وړ ده، چې دادم سمیت په نظریاتو کې مسلمان پوه ابن خلدون، چې له ادم سمیت څخه یې ډېر پخوا د مقدمة ابن خلدون په نوم لیکنه کړې وه او د نوموړي په لیکنه کې د ادم سمیټ نظریاتو ته ورته نظریات شتون لري، همدا راز د سمیت نظریات ډېر په جامع او لومړني بڼه وړاندې شوي وو، چې وروسته د نورو پوهانو له خوا بشپړه شوي. د مطلق مزیت تیوري (absolute advantage theory) یې تر ټولو مشهوره تیوري ګڼل کېږي.

## Adverse Selection

### ناسمه یا نقیصه ټاکنه

دا یوه ځانګړې اصطلاح ده، چې په اقتصاد،مدیریت احصاییه او په زیاتره ډول د بیمې په مسایلو کې کارول کېږي، ناسمه یا نقیصه ټاکنه په بازار کې هغه وخت رامنځته کېږي، چې کله د معاملې دوه اړخونه د معاملې په اړه یو شان معلومات ونه لري او د نا انډوله مالوماتو asymmetric information په شتون کې معامله تر ډېره د هغه کس په ګټه سرته ورسیږي، چې د مقابل لوري په انډول ډېر معلومات ولري.

## Adverse Trade Balance
### د سوداګرۍ معکوسه موازنه

په بهرنۍ سوداګرۍ کې هغه حالت چې د یو هېواد د صادراتو ارزښت د نوموړي هېواد د وارداتو د ارزښت په پرتله کم وي او پدې توګه د سودا ګری بیلانس د هیواد د غوښتنې خلاف وی. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د سوداګرۍ کسر Trade deficit ته هم رجوع وکړئ.

## Advertisement
### تشهیر یا اعلانات

د ګټې، عوایدو او پلور د ډېروالي په موخه د کاروبارونو له لوري د توکو او خدمتونو په اړه پېرودونکو ته د معلوماتو رسولو له پروسې څخه عبارت دی چې د بازار موندنې مهمه برخه جوړوي، چې معمولاً د تلوېزیونونو، راډیوګانو، ورځپانو، مجلو، د سړک غاړې تختو او داسې نورو معلوماتي او رسنیزو وسایلو په وسیله ترسره کېږي.

## Advertising
### اعلانات

د عرضه کوونکو له لوري مستهلکینو ته د توکو او خدمتونو د ورپېژندلو تولو اړوندو کړنو ته اعلانات ویل کېږي، چې په لیکلي، تصویري، غږیز یا برېښنايي بڼه ترسره کېږي.

## Affiliated Company
### تړلې شرکت

**(**Allied company**)** ته رجوع وکړئ.

## African Development Bank
### د افریقا پرمختیایي بانک

د افریقا پرمختیایي بانک په (۱۹٦٤) میلادي کال کې د افرېقایي هېوادونو د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا په موخه تأسیس شوی دی مرکزي دفتر یې د عاج سواحل هېواد د ابېجان په ښار کې دی، چې اوسمهال پکې ( ٥٣) افریقایي او (٢٤) امریکایي او اروپایي هېوادونه ونډه لري.

## Age of High Mass Production

## د لوړې کتلې د تولید دوره

د ډبليو ډبليو راستو( w.wrosto) د نظريې له مخې دا د اقتصادي ودې يا رشد پنځمه مرحله ده، چې په دې مرحله کې د خلکو د عوايدو سطح لوړېږي، چې له مخې يې د استهلاکي توکو په لګښت کې هم ډېروالی راځي او کاروبارونه د تقاضا د ډېروالي په ځواب کې د نورو کارګرانو په استخدام لاس پورې کوي. د دې مرحلې څخه مخکې څلور نورې مرحلې عبارت دي له:

۱: عنعنوي ټولنه (traditional society)

۲: د خيزش يا اوچتيدو لپاره مخکينی شرط ( precondition for take-off)

۳: د ټوپ مرحله (take-off)

٤: د پوخوالي په لور ګام (Drive to maturity)

د ډبليو ډبليو روستو د نظريې له مخې د اقتصادي ودې يا رشد د مرحلو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره يادو شوو مرحلو ته هم رجوع وکړئ

## Agglomeration

## غونډېدل

په يوه ځای کې د څو ورته يا تړلو کاروبارونو او يا کړنو يو ځای کولو څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: يو پانګوال، چې په کابل، جلال آباد او مزار شريف کې يې په مختلفو توليدي کړنو کې پانګونه کړې ده او نوموړی پانګوال دا ټوله پانګونه يوازې کابل ته انتقالوي چې هم يې اداره کول اسانه شي او هم يې د نظارت او داسې نورو کړنو لګښتونه د امکان ترحده راکم شي. د دغه اقتصادي روش ترشا ډېر دلايل نور هم شته لکه ځيني وخت دا ډول راغونډېدل د طبيعي سرچينو د جغرافيايي موقعيت او کله نا کله هم د سيالو صنايعو سره د لګښتونو د يوشانوالي په موخه د کاروبارونو تمرکز او تجمع په يو ځانګړي ځای کې صورت نيسي.

## Agglomeration Economy

## متمرکز /متراکم يا تجمعي اقتصاد

هغه اقتصاد، چې د ورته کاروبارونو د نږدې موقعيت له امله يې په توليدي لګښتونو کې کموالی شتون لري يا په بل عبارت د کاروبارونو تمرکز په يو ځانګړي موقعيت کې

نسبتاً اقتصادي او آرزانه تمامېږي. د بېلګې په توګه: په متحده ايالتونو کې د تېلو صنعت (petroleum industry) په تکساس ايالت کې تمرکزلري.

## AggregateDemand

### ټوليزه تقاضا

په يو اقتصاد کې ټولو کاليو او خدمتونو ته په ټولو بازارونو کې تقاضا ټوليزه تقاضا بلل کېږي. او يا هم دا چې: په اقتصاد کې په توليد شويو نهايي توکو او خدمتونو باندې په ټوليزه توګه له هغه ټوليزو لګښتونو څخه عبارت دي، چې په يوه معلوم وخت (معمولاً يو کال) کې ترسره کېږي، چې لاندې برخې په بر کې نيسي: **AD = C+I+G+(X-M)**

په ذکر شوي مساوات کې

۱: AD ټوليزه تقاضا (Aggregate Demand)

۲: C د کورنيو استهلاکي لګښتونه (Household Consumption Expenditures)

۳: **I** د کاروبارونو لګښتونه (پانګونه )(Investment Expenditures)

٤: G دولتي پيرودنې لګښتونه (Government Purchases)

٥: **(**X-M) خالص صادرات (Export-Import)

چې دا ټول لګښتونه د کلي اقتصاد د څلورو سکتورونو يعنې:

۱: د کورنيو سکتور (House hold sector)

۲: کاروباري سکتور (Business sector)

۳: دولتي سکتور (Government sector)

٤: بهرني سکتور (Foreign sector)

له لوري ترسره کېږي. چې د کلي لګښتونو تابع (Aggregate Expenditure Equation) اصطلاح ورته هم کارول کېږي

## Aggregate Demand(AD)-Aggregate Supply(AS)model

د ټولیزې عرضې او ټولیزې تقاضا ماډل

هغه اقتصادي موډل دې، چې د قیمتونو د کچې او د واقعي تولید ترمنځ تړاو په ګوته کوي، چې د کاروباري دوران (Business cycle) ، ناخالص داخلي تولید (**GDP**)، وزګارتیا، انفلاسیون او داسې نورو اقتصادي موضوعاتو د څېړنې په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. د یادولو وړ ده چې د ټولیزې عرضې او ټولیزې تقاضا کربښې تقریباً د انفرادي تقاضا او عرضې په شان ترسیمیږی خو تر شا یې څېړنه توپیر لري ، همدا راز په عمودي محور یې د قېمت په ځای د هیواد په کچه د قېمتونو سطحه په نظر کی نیول کیږي.

## Aggregate Expenditure

ټولیز لګښتونه

د یو کال په جریان کې د ټلي اقتصاد د څلورو سکتورونو یعنې:

۱: کورنیو سکتور (House hold sector)

۲: کاروباري سکتور (Business sector)

۳: دولتي سکتور (Government sector)

٤: او بهرني سکتور (Foreign sector)

له لوري په نا خالص داخلي تولید (GDP) باندې د ترسره شویو ټولیزو لګښتونو څخه عبارت دي. د دې ډول لګښت څخه د ملي عاید د اندازه ګیری د یوې طریقې په ډول هم ګټه اخیستل کیږي.

## Aggregate Expenditure Equation

د ټولیز لګښت تابع

په اقتصاد کې د ټولیزو لګښتونو مساوات (AE=C+I+G+(X-M څخه عبارت دی، چې په دې مساوات کې :

1. AE ټولیز لګښتونه (Aggregate Expenditure)
2. C د کورنیو استهلاکي لګښتونه (Consumption Expenditure)

**3.** I د پانګونې لګښتونه (Investment Expenditures)

**4.** G دولتي لګښتونه (Government Expenditure)

**5.** (X-M) خالص صادرات(Export-Import) چې **X** د صادراتو او**M** وارداتو د ارزښت په مانا دی.

## Aggregate Market

### ټولیز بازار

د هیواد په کچه د ټولیزې تقاضا او ټولیزې عرضې د یو ځای کیدلو په مانا ده. په اقتصاد کې دا د یو اقتصادي موډل په بڼه ښودل کیږي، چې د بازار له معیاري ماډل څخه په ګټه اخېستنې د ټولیزې تقاضا او ټولیزې عرضې له تقاطع څخه رامنځته کېږي. له دې ماډل څخه په اقتصاد کې د قیمتونو د سطحې او واقعي تولید او د کاروباري دایرې (دوران)، نا خالص داخلي تولید (GDP)، وزګارتیا، انفلاسیون او داسې نورو اقتصادي موضوعاتو او پدېدو د څېړنې کې ترېنه ګټه اخېستل کېږي.

## Aggregate Market Disequilibrium

### د ټولیز بازار عدم تعادل

په بازار کې هغه حالت، چې پکې ټولیزه عرضه او ټولیزه تقاضا یو د بل سره د تعادل په حالت کې قرار ونلري یا په بله ژبه په بازار کې ټولیزه عرضه او ټولیزه تقاضا یو له بله څخه کم یا زیات وي.

## Aggregate Market Equilibrium

### د ټولیز بازار تعادل

په ټولیز بازار کې هغه حالت چې پکې ټولیزه تقاضا او ټولیزه عرضه په خپل منځ کې په مطلق ډول د تعادل په حالت کې قرار ولري او د تغیر لپاره کوم ذاتي میلان شتون ونه لري. او یا هم په بل عبارت: د تولیدوونکو له لوري د ټولو تولید شویو توکو او خدمتونو د پېرلو لپاره په بازار کې د پیرودونکو له اړخه همدومره تقاضا شتون ولري.

## Aggregate Market Shock
## د ټولیز بازار ټکان

کله، چې په ټولیز بازار کې د ټولیزې عرضې او ټولیزې تقاضا ترمنځ د تعادل حالت له منځه ولاړ شي. او یا هم په بل عبارت: په ټولیز بازار کې ټولیزه عرضه د ټولیزې تقاضا یا ټولیزه تقاضا د ټولیزې عرضې څخه د پام وړ اندازه ډېره شي نو پدې توګه اقتصادي ټکان رامنځته کیږي.

## Aggregate Output
## ټولیز حاصل

په معلوم وخت، معمولاً یو کال کې په معلومو قیمتونو سره په اقتصاد کې د نهايي تولید شویو توکو او خدمتونو له مقدار څخه عبارت دی، چې د نا خالص داخلي تولید (GDP) اصطلاح هم ورته کارول کېږي.

## Aggregate Production Function
## د ټولیز تولید تابع

په اقتصاد کې ټولیز تولید او په تولید کې د استعمال شویو منابعو (په ځانګړي ډول سره د کارګرې قوې) ترمنځ ریاضیکي اړیکې څخه عبارت دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تولید تابع (production functions) ته رجوع وکړئ.

## Aggregate Supply
## ټولیزه عرضه

په یو معلوم وخت (معمولاً د یو کال په جریان) کې د ټولیز تولید شویو نهايي توکو او خدمتونو د مقدار یاهم د پولي ارزښت څخه عبارت دی، چې عرضه کونکي يې بازار ته (د سوداګرۍ په شمول) وړاندې کوی.

## Agrarian Society/Economy
پہ کرنہ ولاړ اقتصاد

هغه اقتصاد، چې په کلي توګه د کرنې په سکتور تکیه ولري یا دا، چې په ناخالص داخلي تولید (GDP) کې یې د کرنې سکتور د پام وړ برخه جوړوي.

## Agriculturale Conomics
کرنیز اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې په ځانګړي ډول د کرنیزو توکو د تولید او توزیع او په کرنیزه تولیدي پروسه کې د اقتصاد د اصولو او قوانینو د تطبیق او د هغه موسساتو او نهادونو څخه بحث کوي، چې کرنیز خدمتونه وړاندې کوي.

## All Risk Insurance
د ټولو خطرونو بیمه

د بیمې د هوکړه لیک هغه ډول، چې د ټولو متوقعه خطراتو په وړاندې عقد کېږي بغیر له هغو خطراتو څخه، چې په هوکړه لیک کې یې یادونه شوی وي. چې د (All Loss Insurence) اصطلاح ورته هم کارول کېږي..

## Allied Company
تړلی شرکت

هغه شرکت چې په یو بل لوی شرکت پورې تړلی وي او د نوموړي شرکت پالیسۍ پرمخ وړي د (Affiliated Company) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Allocation
تخصیص/ځانګړي کول

په عامه وینا ځانګړي کولو ته وایي خو د تولید په پروسه کې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د تولید د عواملو د ځانګړي کولو او د کورنیو د استهلاکي لګښتونو لپاره تولید شویو توکو او خدمتونو د توزیع له پروسې څخه عبارت دی څو د کمیابۍ (Scarcity) ستونزه د امکان تر حده راکمه او د

منابعو د ضایع کېدو مخنیوی وشي. د اقتصاد په تیوري کې لدې اصطلاح څخه د سرچینو د ځانګړي کولو په مفهوم هم کار اخېستل کېږي.

د بېلګې په توګه: د مختلفو موخو د ترلاسه کولو په منظور د سرچنیو ځانګړي کول یا دا، چې د تولید کومه وسیله د کوم توکي او یا خدمت د تولید په موخه وکارول شي څو له بلې هرې ټاکنې څخه ګټور تمام شی.

## Allocation Efficiency

د تخصیص اغیزمنتوب

د تولید له شته منابعو او وسایلو څخه د ګټه اخېستنې په پایله کې د امکان ترحده د مستهلکینو د رضایت حاصلولو ته د تخصیص موثریت ویل کېږي. یا هم په بل عبارت: د محدوده منابعو څخه د امکان تر حده داسې ګټه پورته شي، چې د استعمال په پایله کې یې د مستهلکینو نا محدوده اړتیاوې او غوښتنې د امکان ترحده رفع کړای شی، چې همدا د تخصیص بنسټیزه موخه جوړوي.

## Amalgamation

ادغام یا یوځای کېدل/ آمیزش

کله چې دوه یا ډېر سهامي شرکتونه(Corporations) د یو واحد شرکت د رامنځته کولو په موخه سره یو شي د آمیزش په نامه یادېږي.

## Amortization

د فرسایش ویش/سپما/او په مساویانه قسط د پور تادیه

لغوي مانا یې سپما یا زیرمه کول دي په محاسبه کې د فزیکي شتمنیو لپاره د فرسایش سره په مترادفه مانا کارول کېږي او د یوې شتمنې د لګښت د ویش مفهوم ارایه کوي خو په عام ډول د پورونو یا د ربحې د تادیې له هغه ډول څخه عبارت دی، چې د وخت له مخې په مساویانه ډول سره ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: نوی کابل بانک اتل ته سل زره افغانۍ پور ورکوي، چې د ربحې کلنۍ کچه یې ۲۰ سلنه وي او د بانک او اتل ترمنځ داسې هوکړه لیک ترسره کېږي، چې اتل به هره میاشت بانک ته معلومه اندازه اصل مبلغ د ربحې اندازې سره یو ځای تادیه کوي تر څو د کال په پای ته

رسېدو سره اتل ټول پور او د پور ربحه تصفيه کړي دا ډول پورونه معمولاً د موټر پيرودلو په معاملاتو کې ډېر ليدل کيږي.

## Annuity
## کلنی پرداخت/قسط

په مالي او تمويلي چارو کې د تائيد شوي او يا منظور شوي معلوم مبلغ لپاره په مکرر او دوامداره ډول (معمولاً په کلني ډول) د پيسو تاديه کولو ته کلنیِ پرداخت ويل کېږی.

## Anti Dumping Duty
## د ډمپنګ ضد تعرفه

له هغه ګمرکي محصول څخه عبارت دی، چې د نورو هېوادونو د ډمپنګ عمل په وړاندې وضع کېږي تر څو د مقابل لوري د ډمپنګ اغېزې را کمې او کورني توليد ته د پراختيا امکانات ډېر شي.

د بېلګې په توګه: پاکستان پدې موخه چې، چې په افغانستان کې د غوري سېمنټ له ماتې سره مخ کړي افغانستان ته د پاکستاني سېمنټو د صادرولو په برخه کې د ډمپنګ سياست څخه کار اخلي او حتی ځينې وخت د خپل داخلي قيمت په پرتله د افغانستان لپاره صادراتي قېمت را غورځوي؛ خو د افغانستان دولت، چې د کورنيو توليداتو څخه د ملاتړ مسئوليت په غاړه لري په دې موخه، چې غوري سېمنټ د پاکستاني آرزانه سېمنټو په وړاندې له ماتې څخه وژغوري په پاکستاني سېمنټو باندې فوق العاده لوړه تعرفه وضع کوي، څو لدې لارې د پاکستان د ډمپنګ عمل خنثی کړي. د افغانستان له لوري د پاکستان د ډمپنګ عمل پر وړاندې په پاکستاني سېمنټو باندې د دا ډول لوړې ګمرکي تعرفې وضع کولو ته د ډمپنګ ضد تعرفه (Antidumping Duty) ويل کېږي. او يا هم په بل عبارت: د ډمپنګ پر وړاندې فوق العاده ګمرکي محصول ټاکلو په مانا ده.

## Antitrust Law
## د کاروباري اتحاد ضد قانون

هغه قانون، چې معمولاً په بازار کې د هغه انحصار (چې د پېرودونکو په وړاندې د کاروبارونو د خپلمنځي اتحاد له امله رامنځته کيږي) له منځه وړلو په موخه د دولت له لوري وضع کيږي څو په

بازار کې انحصار له منځه یوړل شي او د توکو او خدمتونو د تولیدوونکو ترمنځ په مناسب ډول سیالي رامنځته کړي.

## Applied Economics
## تطبیقي اقتصاد

د اقتصاد هغه برخه چې د اقتصادي ستونزو د حل په موخه د اقتصاد د علم د نظریاتو او لارښوونو د تطبیق لارې تر څېړنې لاندې نیسي.

## Apportioned Tax
## تخصیص کېدونکې مالیه

له هغې مالیې څخه عبارت دی چې د یو ځانګړي پلان یا برنامې له مخې هم راټولېږي او شریکېږي. په ځانګړي ډول دا هغه مالیات دي، چې د دولت د یو ولایتي ادارې له لوري راټول شوي او نورو ولایتي ادارو ته وېشل کېږي. د بېلګې په توګه: د ننګرهار ولایتي اداره مالیات راټولوي او کابل ته یې رالېږي او بیا د مالیې وزارت د چارواکو له لوري د هېواد نورو ولایتونو ته د هغوی د اړتیاو له مخې وېشل کېږي

## Appraisal
## بیه ټاکنه

د یو با صلاحیته ادارې له لوري په رسمي ډول د یو ملکیت د قېمت د ټاکنې ته بیه ټاکنه ویل کېږي. د بېلګې په توګه: د سپین غر غوړیو تولید فابریکه غواړي، چې د خپلو اقتصادي فعالیتونو د لا پراختیا په موخه له افغان ملي بانک څخه پور ترلاسه کړي؛ خو افغان ملي بانک د نوموړي شرکت څخه د پور د اندازې په پرتله د لوړ قېمت جایداد د پور د تضمین په توګه غواړي او شرکت خپل جایداد د یو با صلاحیته ادارې په وسیله، چې د جایدادونو د ارزښت ټاکنې دنده پرمخ وړي قېمت ټاکنه کوي څو له افغان ملي بانک څخه پور ترلاسه کړي.

## Appreciation

## ارزښت زیاتېدنه

په عام ډول د ارزښت د زیاتېدلو په مانا ده. په مالي او بانکي چارو کې د یوې شتمنۍ په ارزښت یا د قېمتونو په منځنۍ سطحه کې په دایمي ډول سره ډېروالی، چې په خپله د شتمنۍ د کیفیت د تغیر له مخې نه بلکې د نورو اقتصادي فکتورونو له امله رامنځته کېږي. چې په مالي راپورونو کې د ارزښت دا ډېروالي لپاره استدلال د پیژندل شوي/منل شوي (Recognized) په لفظ سره کېږي. همدا راز دا اصطلاح د پیسو د ارزښت په اړوند هم کارول کېږي چې د یو یا څو هېوادونو د پولي واحدونو په وړاندې د داخلي پیسو د ارزښت لوړېدل دي، چې د تبادلې ازادې نرخ په سیستم کې د بازار او د تبادلې ثابت نرخ په سیستم کې د پولي پالیسي جوړونکو له خوا رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه: د هېواد پولي واحد په ارزښت کې د اقتصادي ودې، پرمختیا او ښه والي په موخه لوړوالی راتلل. له فرسایش (depreciation) سره یې پرتله کړئ.

## Arbitrage

## آربیټراژ

په یو بازار کې د یو توکي پېرل او په سملاسي ډول یې په بل بازار کې په لوړ قېمت پلورلو ته آربیټراژ ویل کېږي. چې دا عمل معمولاً په مالي بازار کې د ونډو یا اسعارو د پېر او پلور په برخه کې ډېر لېدل کېږي.

د بېلګې په ډول: یو پانګه وال د ټوکیو د ونډو په بازار کې یوه ونډه په یو میلیون امریکایي ډالر پیري او په سملاسي توګه یې د نیویارک د ونډو په بازار کې په یو میلیون او پنځوس زره امریکایي ډالره پلوري، چې په دې ډول پنځوس زره امریکایي ډالر ګټه ترلاسه کوي.

## Arbitration

## حکمیت یا منځګړیتوب

کله، چې د دوه کاروبارونو یا د دوه کسانو ترمنځ یوه مالي شخړه رامنځ ته شي او د نوموړې شخړې د حل په موخه څو ناپېیلي کسان غوره کړي او د شخړې دواړه خواوې داسې پرېکړه کوي، چې د منځګړو پرېکړه به حتماً مني نو په دې ډول د شخړې او یا دعوې فیصله کولو ته حکمیت ویل

کېږي يا د د دوه ډلو ترمنځ د يوې مالي شخړې د حل و فصل په موخه د يوې درېيمې ناپېلې ډلې مداخلې منځګړيتوب ويل کېږي چې د مناقشې دغه حل له محکمې څخه بهر ترسره کېږي او په دواړو خواوو تطبيقېږي.

## Asiancrises

د آسيا بحران

د ۱۹۹۷-۱۹۹۸ ميلادي کلونو ترمنځ د ختيځې آسيا ځينې هېوادونه له اقتصادي او مالي بحران سره مخ شو، چې دغه اقتصادي او مالي بحران ته د آسيايي بحران نوم ورکړل شوی دی او د دې هېوادونو اقتصاد ته د AsianTiger Economies اصطلاح هم کارول کېږي، چې عبارت دي له: جنوبي کوريا، سينګاپور، هانګانګ او ټايوان څخه. د لا ډېرو مالوماتو لپاره ټايګر اقتصاد (tiger economy) ته هم رجوع وکړئ.

## Asian Development Bank (ADB)

آسيايي پرمختيايي بانک

نوموړی بانک په ۱۹٦٦ميلادي کال کې تأسيس شوی، چې موخه يې په آسيا کې د غربت راکمول او د ټولنيزې ودې زياتول دي، چې معمولاً د پرمختيايي پروژو لپاره غريبو هېوادونو ته پورونه او مرستې ورکوي، د خپلې اړتيا پيسې د باندونو د نشرولو او د غړو هېوادونو د اعانو او مرستو څخه ترلاسه کوي مرکزي دفتر يې د فلپين هېواد په مانيلا ښار کې دی اوسمهال ٦۷ غړي هيوادونه لري چې ۵۸ يې اسيايي او پاتې يې له آسيا بهر هيوادونه دی. او اوسمهال اروپايي ټولنه او د امريکا متحده ايالات هم د دی بانک غړيتوب لري.

## Asset

شتمني

د محاسبې په برخه کې يو ارزښت لرونکي توکي يا شي ته، چې په کاروبار کې ترينه ګټه اخيستل کېږي شتمني ويل کېږي او د يو توليدي واحد يا تصدۍ د بيلانس په چپ اړخ کې ثبتيږي. په اقتصادي اصطلاح کې: ټول هغه توليدي وسايل، چې د توکو او خدمتونو د توليد په موخه ترېنه ګټه اخيستل کېږي شتمني ګڼل کېږي. لکه کمپيوټر، مېز، چوکې، پيسې او داسې نور وسايل.

## Association of Southeast Asian Nations (ASEAN)

د جنوب ختيځې اسيا هيوادونو ټولنه

آسيان يو سيمه ايز سياسی – اقتصادي سازمان دی، چې په ۱۹٦۷ ميلادي کال کې د پنځو هېوادونو (اندونيزيا، ماليزيا، فلپين، سنګاپور او تايلنډ) له لوري د تايلنډ په پلازمينه بنکاک کې تأسيس شوی دی، چې په ۱۹۸٤ ميلادي کال کې بروني، په ۱۹۹۵ ميلادي کې ويتنام، په ۱۹۹۷ ميلادي کال کې برما او په ۱۹۹۹ ميلادي کال کې کمبوديا هم د نوموړی سازمان غړيتوب ترلاسه کړ او اوسمهال لس غړي هيوادونه لري. د نوموړي سازمان عمده موخې د اقتصادي ودې چټکول، په سيمه کې ټولنيزه او کلتوري پرمختيا، سميه ايز امن او ثبات ته پراختيا ورکول دي.

## Assumption

فرضيه

هغه لومړنۍ فرضي او شرطونه ، چې په اقتصادي تيوريګانو او څېړنو کې رغنده رول لوبوي، چې د پېچيده او پيچلو موضوګانو د څېړنو او ساده کولو او د لومړنيو او ساده موډلونو او تيوريګانو د ارايې په موخه ترېنه ګټه اخېستل کېږي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د پيسو مقداري نظريې (quantity theory of money) ته هم رجوع وکړئ.

## Assurance

ډاډ (بيمه)

د بيمې ځينې شرکتونه د insurence پر ځای د assurance اصطلاح کاروي، چې دا هم د بيمې مانا افاده کوي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره بيمې (Insurance) ته رجوع وکړئ.

## Asymmetric Information

نا انډوله معلومات

د معلوماتو هغه نا انډوله حالت چې د يوې مالي يا اقتصادي معاملې د ترسره کولو په برخه کې په معامله کې د دوه ښکېلو اړخونو ترمنځ رامنځته کيږي او يو اړخ د بل اړخ په پرتله ډېر يا کم معلومات ولري، چې له مخې يې معاملات د يوه اړخ په ډېره ګټه او د بل اړخ په لږه ګټه او يا هم زيان تماميږي ، د يادولو وړ ده، چې دا اصطلاح عموماً په ټولو بازارونو کې خو په مالي او دونډو په

بازارونو کې ډېره د پام وړ ده او د همدې ستونزې د حل لپاره وخت په وخت قوانین او مقرارت وضع کېږي

## Asymmetric Shock

نا انډوله اقتصادي ټکان

هغه غیر متراقبه پېښه، چې را منځته کېدل یې ټول اقتصاد یا د اقتصاد یو سکتور یا په سیمه کی هیوادونه تر خپل اغیز لاندې راولي او د اغیزې لاندې بیلا بیلې سیمې په بیلا بیله کچه وځپې چې دا تل د هغه هیوادونو په برخه کې صدق کوي چې یوه کرنسی یا یو ډول کاروبار پر مخ بیایي.

د بېلګې په توګه: که چېرې په نړیوال بازار کې د تېلو قېمت په ناڅاپي ډول ټیټ شي نو په پایله کې یې د تېلو صادرونکو هېوادونو اقتصاد یا هم د تېلو صنعت تر خپل اغېز لاندې راولي. او یا هم د یورو پولی واحد ته هر ډول ګواښ اروپایي هیوادونه ځپي او دا زیان د هر هیواد لپاره توپېر لري.

## Atomistic Competition

زره يي سيالي

هغه اقتصاد یا ټولنه، چې پکې کوچني کاروبارونه او آزاد تولیدي واحدونه په اکثریت کې شتون ولري او د هغوی ترمنځ د زیات شمېر له امله سخته سیالي شتون ولري چې زره یي سیالۍ ته کامله سیالي **(**perfect competition**)** هم ویل کېږي. د لا ډېرو مالاماتو لپاره کاملې سیالي (perfect competition) ته رجوع وکړئ.

## Auction

مزايده/بولي

هغه ځای، چې پلورونکي او پېرودونکي پکې د توکو او خدمتونو (معمولاً د مالي وسایلو او کرنیزو تولیداتو) د قیمت د ټاکلو په اړه بحث کوي. او یا هم په بل عبارت: هغه مناقشوي بازار، چې د پلور لپاره پکې بولي ترسره کېږي. یا هم د توکو د پلور هغه روش چې د ډېرو سوداګرو د وړاندیزونو له منځه توکي په هغه کس پلورل کېږي چې د پېر تر ټولو لوړ نرخ یې وړاندې کړی وي

## Audit
تفتيش

په محاسبه کې د تفتيش يا کنترول په مانا ده او د يو کاروبار ټول مالي راپورونه او محاسبوي کتابونه د ارزښت او د محاسبې نافذو قوانيونو له مخې د ثبت او راپور صحت کنترولوي.

## Autarchy
آترکي يا سوداګريزه انزوا (پرته له سوداګرۍ حالت)

هغه نظريه او حالت، چې له مخې يې هيواد په خپل ځان اتکا لري او له نورو هېوادونو سره د توکو او خدمتونو راکړه ورکړه (سوداګري) ترسره نکړي، د نړيوالې سوداګرۍ په مباحثو کې دغه اصطلاح د ازادې سوداګرۍ سره د بند اقتصاد د پرتلې لپاره کارول کېږي. چې د اترکي (Autarky) او پر ځان بسيا ملت (self sufficient Nation) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Autonomous
ازاد يا خپلواک

په اقتصاد کې د خپلواک متحول په مفهوم کارول کېږي يانې په يوه متغير کې تغير په بل متغيره کې په تغير او يا علت پورې نه وي تړلی بلکې په هر متغير کې تغير په خپلواک ډول ترسره کېږي.

## Autonomous Consumption
خپلواک استهلاک

د کورنيو هغه استهلاکي لګښتونه، چې په عوايدو يا توليداتو (په ځانګړي ډول ملي عايد او نا خالص داخلي توليد يا د تصرف وړ شخصي عوايد) پورې تړلي نه وي او حتی که د کورنيو عوايد هېڅ شتون هم ونه لري بيا هم دا ډول لګښتونه ترسره کېږي د بېلګې په توګه: د کورنيو له لوري د خوراکي توکو، لباس او داسې نور لګښتونه.

## Autonomous Expenditure
## خپلواک لګښت

دا اصطلاح د ملی اقتصاد په مباحثو کې ډېره کارول کیږي. هغه لګښتونه په برکې نیسي چې په ملي عاید او یا نا خالص داخلي تولید پورې تړلي نه وي او حتی که ملي عاید او یا نا خالص داخلي تولید شتون هم ونه لري بیا هم دا ډول لګښتونه ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: هغه لګښتونه، چې د بهرنیو مرستو په مټ ترسره کېږي.

## Autonomous Government Purchase
## خپلواکه دولتي پېرودنه

د دولتي لګښت هغه بڼه ، چې په عواید او یا تولیداتو ( په ځانګړي ډول سره په ملي عاید او یا نا خالص داخلي تولید ) پورې تړلي نه وي او حتی که ملي عاید او یا نا خالص داخلي تولید کې هیڅ تغیرهم شتون هم ونه لري؛ نو بیا هم دا ډول لګښتونه ترسره کېږي. د بېلګي په توګه: د دفاعي وړتیا د لوړولو په موخه د وسلو پېرودل.

## Autonomous Investment
## خپلواکه پانګه اچونه

هغه کاروباري پانګونه، چې په عوایدو او تولیداتو (په ځانګړي ډول سره په ملي عاید او نا خالص داخلي تولید) پورې تړلي نه وي او په خپلواک ډول د پانګونې لګښتونه ترسره کېږي. لکه د دولت انکشافي زیربنایي پروژې چې شاید له بودجې یا بهرني پور څخه تمویل شي.

## Autonomous Net Export
## خپلواک خالص صادرات

د صادراتي سکتور په وسیله هغه خالص صادرات، چې په عوایدو او یا تولیداتو (په ځانګړي ډول ملي عاید او نا خالص داخلي تولید) پورې تړلي نه وي او حتی که ملي عاید او نا خالص داخلي تولید کې کوم تغیر شتون هم ونه لري بیا هم دا ډول صادرات ترسره کېږي. لکه له مخکې قرارداد شوو توکو صادارات یا د استخراجي موادو صادارت.

## Autonomous Saving

خپلواکه سپما

د کورنیو له عوایدو څخه سپما، چې په عوایدو او تولیداتو پورې تړلې نه وي او حتی که د کورنیو عواید شتون هم ونه لري بیا هم دا ډول سپما ترسره کېږي.

## Autonomous Variable

خپلواک متحول

په اقتصاد کې خپلواک متحول هغه متحول دی، چې له نورو متحولینو سره نیغ په نیغه داسې اړیکه نه لري، چې په یوه کې تغیر د بل له امله رامنځته شي. په احصایه کې هغه متحول عوامل، چې قسماً په غیر اقتصادي عواملو پورې تړلي وي. د بېلگې په توگه: د اقتصادي فعالیتونو په برخه کې هغه تغیرات، چې د سیاسي، ټولنیزو یا د وګړو د افکارو له مخې رامنځته کېږي.

## Average

اوسط

په احصائیه کې، د اعدادو په یوه معلومه سلسله کې هغه عدد، چې د یو ګروپ اعدادو د خلاصه کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. اوسط یا منځنی ارزښت د خپلو اړونده سلسلو استازیتوب کوي. او په احصائیه کې یې درې عام ډولونه عبارت دي له:

- Median: د اعدادو په هغه سلسله کې، چې د ارزښت له مخې ترتیب شوي وي د موقعیت له مخې له منځني عدد څخه عبارت دی.
- Mode: د اعدادو په یوه سلسله کې هغه عدد، چې تر ټولو ډېر تکرار شوی وي.
- Mean: هغه عدد، چې د اعدادو په یوه سلسله کې د اعدادو په شمیر باندې د اعدادو د مجموعې له وېش څخه ترلاسه شوی وي.

د اعدادو لاندنۍ سلسله په نظر کې نیسو او له مخې یې درې واړه اوسطونه په دې ډول سره ترلاسه کولای شو: ۱،۲،۲،۹،۱۲،۱۳،۱۷، چې د اعدادو په دې سلسله کې mode د دوه عدد دی، چې د نورو عددونو په پرتله ډېر تکرار شوی دی، median د ۹ عدد څخه عبارت دی، چې د سلسلې منځنې

عدد دی او mean د ۷ څخه عبارت دی، چې د اعدادو مجموعه ۵٦ او د اعدادو شمېر ۷ دی نو ۵٦/۷=۷.

## Average Cost(AC)

اوسط/متوسط لګښت

په فې واحد توکي باندې ترسره شويو ټولو لګښتونو ته ټوليز لګښت ويل کيږي. او کله، چې د توليد ټول لګښتونه د توليد پر ټول مقدار ووېشل شي نو متوسط لګښت تر لاسه کېږي. د بېلګې په توکه که د سل متره ټوکر په توليد باندې ټول لګښت ( ټول ثابت او ټول متغير لګښت) اته زره افغانۍ فرض کړو نو د فې متر ټوکر متوسط لګښت له اتيا افغانيو څخه عبارت دی. AC = TC/Q

## Average Factor Cost (AFC)

د عامل اوسط لګښت

د توليدي وسېلې په فې واحد باندې د ترسره شوی ټوليز لګښت څخه عبارت دی او د عواملو له مخې محاسبه کېږي. کله چې د توليد عواملو ټول لګښت د توليد عواملو په مجموعه باندې ووېشل شی نو د عامل اوسط لګښت ( AFC) تر لاسه کېږي.

## Average Fixed Cost(AFC)

متوسط ثابت لګښت

په فې واحد توليد باندې د تر سره شوی ثابت لګښت له اندازې څخه عبارت دی. او کله، چې يوائې ټول ثابت لګښتونه د توليد پر مقدار ووېشل شي نو متوسط ثابت لګښت تر لاسه کېږي. د بېلګې په توګه: که د سل متر ټوکر په توليد باندې ټول ثابت لګښتونه درې زره افغانۍ وي نو د فې واحد ټوکر متوسط ثابت لګښت له دېرشو افغانيو څخه عبارت دی. AFC= TFC/TQ

## Average Product (AP) and Marginal Product (MP)

اوسط توليد او نهايي توليد

مجموعی توليد تقسيم پر ټولو توليدي عواملو د فی واحد توليدي عامل له اوسط توليد(AP) څخه عبارت ده. همدا راز د هر اضافی واحد توليدي عامل د کارولو په پايله کې ترلاسه کيدونکی توليد د

نهايي يا اضافي توليد (MP) څخه عبارت دي. د متوسط توليد او نهايي توليد ترمنځ تړاو داسې واضح کيداى شي، چې: د متوسط توليد اندازه د نهايي توليد او متوسط توليد په پرتلې باندې تکيه لري دا په دې مانا که چېرې نهايي توليد د متوسط توليد څخه کم شي نو متوسط توليد په کميدو پيل کوي او که چېرې نهايي توليد د متوسط توليد څخه ډېر وي نو متوسط توليد په ډېرېدو پيل کوي او بالاخره که نهايي توليد د متوسط توليد سره مساوي شي نو په متوسط توليد کې هيڅ تغير نه رامنځته کېږي او يا هم دا چې ثابت پاتې کېږي.

## Average Product/Average Physical Product

## اوسط توليد/اوسط فزيکي توليد

که چېرې د توليد نور ټول عوامل ثابت وګڼو، نو د توليد د يو متغير عامل (په ځانګړي ډول کارګر) د يو واحد د استعمال په پايله کې د توليد شويو توکو او خدمتونو متوسطې اندازې ته متوسط توليد يا متوسط فزيکي توليد ويل کېږي. او همدارنګه کله، چې ټوليز توليد د توليد په متغيره عواملو باندې وويشل شي نو متوسط توليد يا متوسط فزيکي توليد تر لاسه کېږي.

## Average Propensity to Consume

## لګښت لپاره متوسط ميلان

د کورنيو د استهلاکي لګښتونو او د تصرف وړ عوايدو (Disposable Income) ترمنځ د تناسب څخه عبارت دی. په دې مانا چې د لګښت متوسط ميلان هغه متوسط مبلغ ده چې کورنۍ يې د خپلو استهلاکي لګښتونو لپاره د خپلو عوايدو څخه بېلوي. او کله، چې د کورنيو لګښت د هغوی پر عوايدو وويشل شی نو لګښت ته متوسط ميلان اندازه ترلاسه کېږي ياني د عايد مصرفيدونکي برخي سلنه د ټول عايد په تناسب. په پورته فورمول کې APC لګښت لپاره متوسط ميلان ، **C** مصرف ، Y عايد او T ماليه ده . معمولاً دا مفهوم د تصرف وړ عوايدو (Disposable Income) او د ملي عايد هغه نسبت يا اندازه ښکاره کوي، چې د کورنيو د استهلاکي لګښتونو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي

$$APC = \frac{C}{Y - T}$$

## Average Propensity to Save

### د سپما لپاره متوسط میلان

د کورنیو د تصرف وړ عوایدو (Disposable Income) او سپما ترمنځ نسبت ته د سپما لپاره متوسط میلان ویل کېږي او هغه اوسط مبلغ ښکاره کوي، چې کورنۍ یې د خپلو عوایدو څخه د سپما په موخه بېلوي او کله چې د کورنیو سپما د هغوی پر عوایدو ووېشل شي نو سپما ته متوسط میلان ترلاسه کېږي.

## Average Revenue (AR)

### متوسط عواید

د پلورل شویو تولیداتو د فی واحد تولید د پلور څخه تر لاسه شوی نا خالص عوایدو ته متوسط عواید ویل کېږي. او کله، چې د تولیداتو د پلور څخه ترلاسه شوي عواید د پلورل شویو تولیداتو په مقدار باندې ووېشل شي نو متوسط عواید تر لاسه کېږي. **AR = TR/TQ**

## Average Revenue(AR) and Marginal Revenue (MR)

### متوسط عاید او نهایي عاید

د بازار او پلور په برخه کې ټولیز پلور تقسیم پر د خرڅو شویو توکو شمېر څخه اوسط عاید (AR) ترلاسه کیږي په دا سې حال کې چې د هر وروستي خرڅېدونکي واحد څخه ترلاسه کیدونکي عاید ته نهایي یا اضافي عاید (MR) ویل کېږي. د متوسط عوایدو او نهایي عوایدو د اندازې ترمنځ تړاو په دې ډول واضح کولای شو، چې: د بشپړه سیالي (perfect competition) په بازار کې AR=MR وي؛ خو په انحصاري (Monopoly)، اولګوپولي(Oligopoly) او انحصاري سیالي(Monopolistic competition) په بازار کې MR<AR وی.

## Average Revenue per User

### له هراستعمالوونکو څخه اوسط عاید

په مخابراتي او ټیلي کمونیکشن برخه کې کمپني معمولا خپلو مشتریا نو ته د خدمتونو په وړاندې د هر پېرودونکی پر سر ترلاسه کیدونکي عوایدو له محاسبې سره علاقمند وي، چې د دې موخې

لپاره ټول ترلاسه کېدونکي عواید په ټولو استعمالوونکو له ویشلو څخه له هر استعمالونکي څخه متوسط عواید ترلاسه کېږي.

## Average Revenue Product
### د تولید اوسط عاید

د تولید اوسط عاید د عواملو د مولدیت لپاره یو مقیاس دي کله، چې د تولید نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي نو د تولید د یو متغیره عامل د استعمال په پایله کې ترلاسه شوي ټول عاید ته ټولیز عاید ویل کیږي او کله، چې ټولیز عواید د تولید په متغیره عواملو ووېشل شي؛ نو د تولید اوسط عاید ( Average Revenue Product**)**تر لاسه کېږي.

## Average Tax Rate
### د مالیې منځنۍ کچه

د مالیې په بنه د تادیه کېدونکي مبلغ نرخ د مالیه کیدونکي مبلغ په پرتله چې د مالیې په ډول تادیه کېږي. که د سلنې په بنه وښودل شی نو کله، چې د مالیې په بنه ټول تر لاسه شوی مبلغ د مالیې پر قاعده ووېشل شي نو د مالیې متوسطه کچه تر لاسه کېږي.

د بېلګې په توګه: اتل پنځوس زره افغانۍ میاشتني عواید لري او پنځه زره افغاني د میاشتې مالیه ورکوي؛ نو د مالیې متوسطه کچه د لس سلنې څخه عبارت دی. د مالیي له نهایِي کچي ( Marginal Tax Rate) سره يې پرتله کړئ.

## Average Total Cost (ATC)
### ټولیز اوسط لګښت

په یو واحد توکي باندې د ټولیزو تر سره شویو لګښتونو له اوسط څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: متوسط ټولیز لګښت (ATC**)** د متوسط ثابت لګښتونو (Average Fixed Cost) او متوسط متغیره لګښتونو (Average Variable Cost) د مجموعی څخه عبارت دي یعنې: (ATC=AFC+AVC**)** او د تولید په مقدار باندې د تولید د لګښت د وېش څخه تر لاسه کېږي.

## Average Variable Cost (AVC)

### متوسط متغير لګښت

په في واحد توکي باندې د ترسره شويو توليزو متغيره لګښتونو څخه عبارت دی او کله، چې ټول متغيره لګښتونه د توليد په مقدار وويشل شي؛ نو متوسط متغيره لګښت ترلاسه کيږي.

د بېلګې په توګه: که د سل متره ټوکر په توليد باندې ټول متغيره لګښتونه پنځه زره افغانۍ وي؛ نو په يو متر ټوکر باندې متوسط متغيره لګښت پنځوس افغانۍ څخه عبارت دی.

## Average Variable Product

### اوسط متغير توليد

که چېرې د توليد نور ټول عوامل ثابت وګڼو؛ نو د توليد د يو متغير عامل د استعمال په پايله کې د تر لاسه شويو ټولو توليداتو اندازې ته متوسط متغير توليد ويل کېږي. او کله، چې ټول توليد د توليد په متغيره عواملو وويشل شي؛ نو متوسط متغيره توليد تر لاسه کېږي.

## Axiom

### مسلم حقايق (فرضيې)

هغه بنسټيزې فرضيې يا شرطونه، چې د يوې تيوري بنسټ جوړوي لکه شخصي نظرونه، سياسي نظرونه يا کلتوري ارزښتونه، چې د يوې تيورى بنسټ جوړوي.

# B

## Backward Countries

وروسته پاتې هيوادونه

هغه هېوادونه، چې د وګړو د ژوند سطحه يې ټيټه، د توليد فن يې په لومړنيو او وروسته پاتې وسايلو ولاړ وي او کاروبارونه او سوداګري هم پکې ډېره وروسته پاتې او ساده بڼه لري، چې د وروسته پاتې هېوادونو او د درېيمې نړۍ هېوادونو اصطلاح هم کارول کېږي.

## Baddebt

مشکوک/ بد پور

هغه پور ته وايي چې ترلاسه کېدل يې په شک کې وي او يا هم د بيا ترلاسه کېدو وړ نه وی.

## Balance

بيلانس

په اقتصاد او محاسبه کې په ځانګړو ماناوو کارول کېږي. په ساده لغوي مفهوم سره ترازو ته ويل کېږي؛ خو په محاسبه کې د يو کاروبار د يوې معلومې دورې ټولو مالي معاملاتو لنډيز د يو راپور په ډول وړاندې کوي، چې ښي اړخ ته يې د پانګونې سرچينې او چپ خوا ته يې شتمني يا د پانګې په کار اچول شوې بڼه ښودل کېږي. په نړيوال اقتصاد کې معمولاً د تادياتو بيلانس د سوداګرۍ بيلانس اونورو بڼو باندې ځانګړی مفهوم لري.

## Balance Of Payment (BOP)

د تادياتو بيلانس

د يو کال په اوږدو کې له نورو هېوادونو سره د يو هېواد د ټولو اقتصادي او مالي راکړو ورکړو حساب ته د تادياتو بيلانس ويل کېږي چې د دغو راکړو ورکړو ثبت د تادياتو په بيلانس کې ترسره کېږي چې معمولاً په دوه لويو عمومي برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: جاري حساب (Current Account)، چې د وارداتو، صادراتو، خدمتونو او انتقالاتو په وړاندې تادیات له دواړو اړخونو (هېوادونو) په بر کې نیسي.
۲: د پانګې حساب (Capital Account)، چې د مالي او فزیکي شتمنیو په وړاندې تادیات له دواړو اړخونو (هېوادونو) په بر کې نیسي.

## Balance of Payment Deficit

### د تادیاتو د بیلانس کسر

کله چې د یو کال په اوږدو کې د اقتصادي او مالي معاملاتو په وړاندې د یو هېواد تادیات نورو هېوادونو ته نظر د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر وي نو د تادیاتو د بېلانس دغه ډول د تادیاتو د بېلانس کسر په نوم یادېږي. او یا هم په بل عبارت: د یو هېواد له لوري نورو هېوادونو ته ډېر تادیات ترسره کېږي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته لږ تادیات ترسره کېږي چې ځینې وخت ورته د تادیاتو غیر مساعد بیلانس **(**Unfavorable Balance Of Payment**)** اصطلاح هم کارول کېږي. د تادیاتو د بیلانس مازاد **(**Balance Of Payment Surplus**)** سره یې پرتله کړئ.

## Balance of Payment Surplus

### د تادیاتو د بیلانس مازاد

کله چې د یو کال په اوږدو کې د اقتصادي او مالي راکړو ورکړو په وړاندې د یو هېواد تادیات نورو هېوادونو ته نظر د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته کم وي نو د تادیاتو د بیلانس دغه ډول د تادیاتو د بېلانس مازاد په نوم یادېږي. او یا هم په بل عبارت: یو هېواد له لوري نورو هېوادونو ته کم تادیات ترسره کېږي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر تادیات ترسره کېږي، چې ځینې وخت ورته د تادیاتو مساعد بیلانس (Favorable Balance of Payment) اصطلاح هم کارول کېږي. د تادیاتو بیلانس کسر **(**Balance of Payment Deficit**)** سره یې پرتله کړئ.

## Balance of Service

## د خدمتونو بيلانس

د تادياتو بېلانس د جاري حساب له دوه برخو يوه برخه ده (بله برخه يې د سوداګرۍ بېلانس دی)، چې د هېواد د خدمتونو د صادراتو په وړاندې رسيدات او د خدمتونو د وارداتو پر وړاندې تاديات په بر کې نيسي.

## Balance of Trade

## د سوداګرۍ بيلانس

د تادياتو د بېلانس د جاري حساب له دوو برخو يوه برخه د سوداګرۍ بيلانس ده (بله برخه يې د خدمتونو بېلانس دی)، چې د يو کال په اوږدو کې د يو هېواد د صادراتو او وارداتو ارزښت پکې ليکل کېږي.

## Balance of Trade Deficit

## د سوداګرۍ د بيلانس کسر

د يو هېواد د سوداګرۍ بېلانس د کسر بڼه هغه حالت دی کله چې د يو کال په اوږدو کې د صادراتو ارزښت د وارداتو ارزښت په پرتله کم وي؛ نو په دې توګه نوموړی هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې د کسر سره مخ وي ځکه، چې په بهرنۍ سوداګرۍ کې نورو هېوادونو ته ډېر تاديات ترسره کوي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته کم تاديات ترسره کېږي،چې ځينې وخت ورته د سوداګرۍ غير مساعد بېلانس (Unfavorable Balance of Trade) اصطلاح هم کارول کېږي. د سوداګرۍ بېلانس مازاد (Balance of Trade surplus) سره يې پرتله کړئ.

## BalanceofTradeSurplus

## د سوداګرۍ د بيلانس مازاد

د يو هېواد د سوداګرۍ بېلانس مازاد هغه حالت دی کله چې د يو کال په اوږدو کې د صادراتو ارزښت د وارداتو د ارزښت په پرتله ډېر وي؛ نو په دې توګه نوموړی هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې د مازاد درلودونکی دی ځکه، چې نوموړی هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې نورو هېوادونو ته کم تاديات ترسره کوي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر تاديات ترسره کېږي،

چې ځيني وخت ورته د سوداګرۍ مساعد بېلانس (Favorable Balance of Trade) اصطلاح هم کارول کېږي د سوداګرۍ بېلانس کسر **(**balance of trade deficit**)** سره يې پرتله کړئ.

## Balance Sheet
### د بيلانس پاڼه

يو مالي صورت حساب دی چې په يوه ټاکلې مالي دوره کې د يو کاروباري سازمان د پانګې، شتمنيو او پورونو اندازه په ګوته کوي. يا دا، چې بېلانس شيټ د يو کاوباري سازمان مالي حالت څرګندوي، چې نوموړی سازمان څومره پانګه، شتمني او پورونه لري؟ او آيا کاروبار يې په ښه ډول پرمخ ځي او که څنګه؟ او اساساً شتمني پکې د پورونو او پانګې سره مساوي وي، چې بېلانس شيټ د يو کاروباري سازمان له دوو مهمو مالي صورت حسابونو څخه يو دی د کاروباري سازمان دويم مالي صورت حساب د عوايدو صورت حساب (Income Statement**)** دی چې د ګټې او تاوان حساب **(**Profit and Loss Account) هم ورته ويل کېږي.

## Balanced Budget
### متوازنه بودجه

د يو نهاد د بودجې هغه حالت، چې په يو معلوم وخت (معمولاً يو مالي کال) کې يې تخميني عوايد او لګښتونه په تعادل يا توازن کې قرار ولري. دا په دې مانا، چې تخميني عوايد او تخميني لګښتونه سره مساوي وي، چې معمولاً په نړيواله کچه ډېر کم تر سترګو کېږي. د بودجې مازاد ( Budget**)** Surplus او بودجې کسر (Budget Deficit) سره يې پرتله کړئ.

## Balanced Budget Multiplier
### د متعادلې/متوازنې بودجې ضريب

هغه مقياس (نسبت /ضريب) ده چې په ټوليز توليد يا نا خالص داخلي توليد (GDP**)** کې تغير چې په دولتي لګښتونو کې د برابر تغيرد ماليې په اندازه کې د تغير له مخې رامنځته کېږي ښکاره کوي، چې په دې صورت کې د ضريب قيمت يو او په دې توګه د دولت په بودجه کې کسر او يا مازاد نه رامنځته کېږي.

## Balanced Growth

## متوازنه وده

د اقتصادي ودې هغه ډول چې په اقتصاد کې په ټولو سکتورونو او فعالیتونو کې په متناسب ډول ترسره کېږي یا هم د اقتصادي ودې هغه حالت چې د هېواد په ټولو سیمو کې په متوازن ډول ترسره کېږي. له غیر متوازنې ودې (unbalanced growth) سره یې پرتله کړئ.

## Balanced Trade

## متوازنه سوداګرۍ

د بهرنۍ سوداګرۍ هغه حالت چې د وارداتو او صادراتو ارزښت سره مساوي وي.

## Bank

## بانک

بانک هغې مالي اداري ته وايي، چې د خلکو امانتونه مني،پورونه ورکوي او د هېواد د پیسو یوه ځانګړې برخه تر اغېزې لاندې راولي. بانکونه د خپلو مالي دندو له پلوه په بېلابېلو نومونو نومول کېږي او د خپلې کاري ساحې له مخې تعریفېږي لکه:

۱: مرکزي بانک (Central bank)

۲: صعنتي بانک (Industrial bank)

۳: سوداګریز بانک (Commercial bank)

۳: نړېوال بانک (World bank)

٤: د آسیا پرمختیايي بانک (Asian development bank)

٥: د تصفیې نړېوال بانک (Bank for international settlement)

٦: د افریقا پرمختیايي بانک (African development bank)

۷: اسلامي پرمختیايي بانک (Islamic development bank)

۸: د اروپايي ټولنې مرکزي بانک (European Central bank)

د مختلفو بانکو او د هغوی د دندو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو بانکونو ته هم رجوع وکړئ.

## Bank Commission

### بانکي کميشن

هغه مبلغ، چې د بانکي خدمتونو د ترسره کولو په وړاندې د مشتريانو لخوا د بانک ته تاديه کېږي.

## Bank Failure

### د بانک پاتې راتلل

د بانک پاتې راتلل هغه حالت بيانوي کله، چې په يو معلوم وخت کې د بانک پورونه د بانک د شتمنيو څخه ډېر وي او پدې توګه بانک له خپل فعاليت څخه بهر کېدو ته اړ شي؛ نو په دې حالت کې د نوموړي بانک فعاليتونه په موقت ډول سره د هېواد مرکزي بانک په لاس کې اخلي يا هم کېدای شي، چې نوموړی بانک د يو بل بانک له لوري وپېرل شي يا ورسره مدغم شي څو خپل فعاليت له سره پيل کړي.

## Bank for International Settlement(BIS)

### د تصفيې نړيوال بانک

يو نړيوال مالي نهاد دی، چې د نورو هېوادونو مرکزي بانکونو او مالي نهادونو څخه جوړ او د هغوی لپاره خدمتونه ترسره کوي ترڅو له هغوي سره د پولی او مالي ثبات په رامنځته کولو کې مرسته وکړي نوموړی مالي نهاد په ۱۹۳۰ ميلادي کال کې تأسيس شوی، چې په نړيواله سطحه تر ټولو پخوانی نړيوال مالي نهاد ګڼل کېږي، مرکزي دفتر يې د سويس هېواد په **Basel** ښار کې موقعيت لري، دوه نمايندګي لري، چې يوه يې په هانګ کانګ کې او بله په مکسيکو کې دی. نوموړي بانک ته د مرکزي بانکونو مرکزي بانک(Central bank of Central banks) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Bank Note

### بانکنوټ

يو ډول کاغذي پيسې چې د هيوادونو رسمي کرنسي ګڼل کيږي، او معمولاً مرکزي بانک يې حامل ته د هغه د مطالبې په وخت کې د ټاکلي مبلغ د تاديې وعده ورکوي.

## Bank Panic
## بانکي وارخطايي

په يو هېواد کې د يو بانک په ناکامېدو سره د خلکو سره دا اندېښنې، چې کېداى شي نور بانکونه هم له ورته سرنوشت سره مخ شي؛ نو که چېرې دولت په مالي برخه کې اقدامات ترسره نه کړي؛ نو د خلکو دا اندېښنې کېداى شي، چې د نورو بانکونو د ناکامي لامل هم وګرځي او په پايله کې خلک په بانکونو باندې د خپلو امانتونو د بېرته راوېستلو لپاره هجوم ورورې، چې د مالي بحران بڼه نيسي چې د بانکي وارخطايۍ په نوم يادېږي.

## Bank Reserve
## بانکي ذخيره

هغه مبلغ، چې بانکونه يې د خپلو ورځنيو سوداګريزو راکړو ورکړو لکه د چکونو تاديه، مشتريانو ته د پيسو ورکړه يا د نورو مالي نهادونو ترمنځ د راکړو ورکړو لپاره د زېرمې په ډول ساتي. د يادونې وړ ده، چې ټول سوداګريز بانکونه د مرکزي بانک له خوا په معلومه زېرمه يا ريزف باندې د قوانينو له مخې مکلفوي.

## Bank Run
## بينک رن (پر بانک هجومي منډه)

هغه حالت، چې په نسبي ډول سره له معمول څخه د بانک ډېر مشتريان په يو ځل له بانک څخه د خپلو پيسو د اېستلو هڅه کوي (معمولاً دا ډول حالت په لنډ مهال لکه په يوه يا څو ورځې په برکې نيسي) او پر بانک هجوم وروړي. او دا حالت معمولاً هغه وخت رامنځ ته کېږي، چې خلک پر مالي سيستم خپل باور له لاسه ورکړي يا دا، چې هېواد د بحراني کېدو په لوري روان وي.

## Bankruptcy
## ديوالي کېدل (افلاس )

کله، چې د يو بانک پورونه د نوموړي بانک له شتمنيو څخه ډېر وي او په قانوني ډول يې د دېوالي کېدو اعلان وشي او يا هم کله، چې يو بانک د خپلو پورونو د تاديه کولو توان ونه لري او په قانوني

ډول سره يې د دېوالي کيدو اعلان وشي. د پرداخت وړتيا (**solvency**) او له تنګ لاسي يا ورشکتګي (insolvency) سره يې پرتله کړئ.

## Bar Chart
## بار چارټ

د اعدادو د ګرافيکي ښودنې يو ډول دی، چې په عمودي يا افقي ډول سره د معلوماتو د ارايه کولو په موخه استعمالېږي.

## Barrier to Entry
## د ننوتلو په وړاندې خنډونه

هغو قانوني، دولتي، ټکنالوژيکي يا اقتصادي خنډونو ته وايي، چې بازار ته د نورو کاروبارونو او يا شرکتونو د دخول مخه نيسي.

د بېلګې په توګه: يو کاروبار په يو توکي يا يو خدمت د توليد په برخه کې نوښت رامنځ ته کوي؛ نو دولت نورو کاروبارونو ته د قانون له مخې د دې اجازه نه ورکوي چې همدغه ډول توکي يا خدمت توليد کړي څکه، چې نوښت يې بل کاروبار کړی او تر معلوم وخت پوري يې نوموړی کاروبار د امتياز حق لري چې دې ته قانوني موانع ويل کېږي لکه د تکثر حق (**Copy Right**).

## Barrier to Exit
## د وتلو په وړاندې خنډونه

هغه موانع او خنډونه دي، چې له امله يې يو کاروباري کمپني نشي کولی له بازار څخه ووځي، په دې مانا، چې له بازار څخه د وتلو لګښتونه دومره زيات وي، چې کمپنی نشي کولی خپل کاروبار بند کړي.

## Barriers to Trade
## سوداګريز خنډونه

هر هغه عمل چې د هېوادونو ترمنځ د ازادې سوداګرۍ مخه نيسي سوداګريز خنډونه ګڼل کېږي لکه تعرفه، سهميه ټاکل او نور سوداګريز محدوديتونه.

## Barter Economy

بارټر اقتصاد

هغه اقتصاد، چې پکې د توکو او خدمتونو تبادله په مستقیم ډول سره د توکو او خدمتونو په وړاندې ترسره کېږي پرته له دې چې د توکو او خدمتونو په تبادله کې پیسې د تادیې د وسېلې رول ولوبوي. د د لا ډېرو معلوماتو لپاره بارټر سېستم ته رجوع وکړئ. له پولي اقتصاد (Monetary Economy) سره یې پرتله کړئ.

## Barter System

بارټر سیستم

هغه سېستم، چې توکي او خدمتونه پکې په مستقیم ډول سره د توکو او خدمتونو په وړاندې تبادله کېږي په دې مانا، چې د توکو او خدمتونو په تبادله کې پیسې د تبادلې وسیلې په توګه دنده نه ترسره کوي. دا سیستم په نړۍ کې هغه وخت شتون درلوده، چې پیسې نه وې رامنځته شوې. بارټر سیستم لاندنۍ ځانګړتیاوې لري:

۱: د متقابلې اړتیا شتون: په دې مانا، چې که یو کس جوارو ته اړتیا ولري او غنم ورسره وي؛ نو باید یو داسې کس پیدا کړي، چې هغه غنمو ته اړتیا ولري او جوار ورسره وي تر څو دواړو ترمنځ د توکو تبادله ترسره شي.

۲: د ډېر وخت لپاره د ارزښت نه زیرمه کېدل: په دې مانا، چې توکي لکه د پیسو په ډول د ډېر وخت لپاره نشي ذخیره کېدای چې په راتلونکي کې د نورو توکو او یا خدمتونو د تبادلې لپاره ترې ګټه واخیستل شي.

۳: د ارزښت د اندازه ګیري لپاره د واحدې وسېلې نه شتون : په بارټر سېستم کې د توکو او خدمتونو د ارزښت د معلومولو لپاره واحده وسیله شتون نلري بلکې د متقابل رضایت په شتون کې یو توکي د بل توکي په وړاندې تبادله کېږي.

٤: د راتلونکي لپاره د تادیاتو یوې واحدې وسیلې نه شتون : چون په بارټر سیستم کې د تادیې واحده وسیله شتون نلري؛ نو راتلونکي تادیات، چې د پور په بڼه وي هم له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي.

۵: د يوې کاملې او اړينې معاملې د ترسره کولو لپاره په ډېره اندازه سره د توکو او خدمتونو شتون: په دې مانا، چې که يو کس يو توکي او يا خدمت ته بېړنۍ اړتيا ولري؛ نو د نوموړي توکي او يا خدمت د تر لاسه کولو په موخه بايد نوموړي سره په ډېره اندازه سره توکي شتون ولري تر څو هغه کس، چې د نوموړي کس د اړتيا وړ توکي او خدمتونه لري؛ نو ، چې هر توکي ته د مقابل لوري اړتيا وي بايد ورسره شتون ولري تر څو معامله تر سره شي.

## Baserate

د اساس /نسبت/نرخ /سطحه

په محاسبه کې : هغه بنسټيزه تاديه (مزد ، چارج) ده چې له هغه سره نوره لګښتونه لکه فيس يا اضافه کاري او نور ورعلاوه کيږي. په احصائيه او احتمالاتو کې هغه مخکيني احتمال ته وايي، چې په راتلونکي باندې مشروط نه وي.

د بېلګې په ډول کله، چې داسې حالت وي، چې ديوې سيمې د نفوسو يوه سلنه يې بې سواده دی او ۹۹ سلنه نور باسواد نه لري؛ نو دغه يوه سلنه بې سواده وګڼي له Baserate څخه عبارت ده؟

## Basel Committee

د بازل کمېټه

بازل په سويس کې د يو ښار نوم دی او دا کمېټه په ۱۹۸۸ ميلادي کال کې رامنځته شوېده، مرکزي دفتر يې په سويس کې دی او په نړيواله کچه د بانکونو د نظارت او کړنو لپاره مقررات وضع کوي.

## Basis Point

بيس نقطه

يوځانګړی مقياس دی، چې يو واحد يې د يو فيصد سلمې برخې سره مساوي دی او يا هم دا چې، د تبادلې يا د سود په نرخ کې د يو پر لس زرمې برخې له مخې رامنځته شوی تغير په ګوته کوي.

د بېلګې په توګه: که د سود نرخ د ۲,۵۷ ٪ څخه ۳,۵۷٪ ته لوړوالی وکړي؛ نو د سود نرخ د يو فيصد يا د ۱۰۰base point په اندازه لوړ شوی دی(1%=100Bp).

## Bear

بیئر

د ونډو په بازار کې: هغه کس، یا محتکر پانګوال چې د ونډو د قیمت د ښکته کېدو وړاندوینه کوي او په دې هیله، چې په راتلونکې کې ونډې په ارزان قیمت سره وپېرې په اوسني وخت کې یې په پلور اقدام کوي. له بول (bull) سره یې پرتله کړئ.

## Bear Market

بیر بازار

د ونډو په بازار کې هغه حالت، چې د یوې ونډې قیمت په عمومي ډول سره ټیټېږي او په بازار کې ډېری برخه اخېستونکې داسې انګیري، چې دا حالت (د ونډه د قیمت ټیټېدل) به همداسې دوام ولري او تر شلو فیصدو پورې رکود زغمي. معمولاً دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي، چې په اقتصاد کې رکود یا ډېره ورو وده شتون ولري او دا حالت معمولاً اوږد مهال لکه میاشتې یا کلونه په بر کې نیسي. له بول بازار (Bull Market) سره یې پرتله کړئ.

## Bearer

حامل

د بانکوالۍ په اصطلاح کې هغه کس، چې بانک ته چک د نقدولو په موخه وړي د چک حامل ورته ویل کېږي.

## Behavioral Economics

د کردار/سلوک اقتصاد

د اقتصاد هغې برخې ته وایي، چې په عمل کې د وګړو د اقتصادي پرېکړو په څېړلو او د خلکو په سلوک باندې تمرکز لري. لکه د سپما، لګښت او داسې نورو پرېکړو څېړل اوسمهال په اقتصاد او کاروبار کې د سلوک څېړنه ډېر اهمیت لري.

## Beneficiary
## ګټه اخیستونکی

هغه وګړي، چې له یوې پروژې څخه ګټه پورته کوي. د بېلګې په توګه: یوه خیریه مؤسسه په یوه کلي کې یو کوهی کېندي؛ نو د کلي ټول وګړي چې له کوهي څخه اوبه ترلاسه کوي د ګټه اخیستونکو په نوم یادېږي.

## Benefit Principle
## د ګټې اصل

د مالیې هغه ډول، چې له مخې یې هغه توکي او یا خدمتونه، چې د مالیو له لارې تمویلیږي خلک ترې د قانون له مخې د ګټې اخېستنې حق ولري. د بېلګې په توګه: دولتي پوهنتونونه، لویې لارې او داسې نور.

## Benefit-Cost Analysis
## د ګټې او لګښت څېړنه

هغه تخنیکي څېړنه چې له مخې یې د یو عمل او یا کار په وسیله رامنځته شوی ګټورتوب د هغه د فرصتي لګښتونو سره پرتله کېږي او د ترسره کولو لپاره یې په همدې بنسټ پریکړه کیږي. دا په دې مانا، چې: که د یو تولید او یا عمل څخه تر لاسه شوی ګټورتوب د نوموړي تولید او یا عمل د فرصتي لګښتونو څخه ډېر وي نو تولید او یا عمل اغېزمن دی او باید ادامه پیدا کړي او برعکس یې تولید یا عمل غیر موثر ګڼل کېږي.

## Benefit-Cost Ratio
## د لګښت- ګټورتوب نسبت

د توکو د في واحد له پلور څخه ترلاسه شوې ګټې او د نوموړي توکي د تولید د لګښتونو تر منځ نسبت ته د لګښت- ګټورتوب نسبت ویل کېږي او کله چې د یو توکي د پلور څخه تر لاسه شوې ګټه په نوموړي توکي باندې ترسره شوي لګښت باندې ووېشل شي نو د لګښت او ګټورتوب نسبت تر لاسه

کېږي او که، پایله یې له یو څخه لویه وي؛ نو د توکي تولید ګټور دی. ځینې وخت ورته د ګټورتوب- لګښت نسبت (Cost-Benefit Ratio) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Benefit-Received Principle of Taxation
د مالیاتو لپاره د حاصله ګټې اصل

د دولت له لوري د مالیې ټاکلو د دې قاعدې له مخې مالیه باید دولت د خدمتونو څخه د ګټه اخیستو د تناسب له مخې وټاکل شي.

د بېلګې په توګه: د ښاري او کلیو د اوسېدونکو ترمنځ د مالیې ټاکلو په برخه کې باید توپیر شتون ولري دا په دې مانا، چې هغه وګړي، چې په ښاري سیمو کې ژوند کوي؛ نو د دولت له ډېرو خدمتونو څخه ګټه پورته کوي نظر هغه وګړو ته، چې په کلیوالو سیمو کې ژوند لري؛ نو په دې توګه باید په ښاري وګړي باندې د کلیوالو وګړو په پرتله د مالیې اندازه لوړه وي. چې د Compensatory principle of taxation اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د پرداخت د وړتیا له مخې د مالیې ټاکلو اصل (Ability to pay principle of taxation) سره یې پرتله کړئ.

## Better Business Bureau(BBB)
د ښه کاروبار دفتر

د کاروبارونو او سازمانونو هغه ټولنه، چې په ټولنه کې د خپلو مشتریانو د ساتلو او په اقتصاد کې د غیر اخلاقي او غیر قانوني راکړو ورکړو د نه ترسره کېدو په وړاندې هڅه کوي.

## Big Business
لوی کاروبار

لوی کاروبارونه معمولاً هغه کاروبارونو ته ویل کېږي، چې لاندنۍ ځانګړتیاوې ولري:

۱: په هېواد کې د ځانګړي تولید لوی مقدار تولیدوي.
۲: په هېواد کې د منابعو او وسایلو لویه برخه په خپل واک کې ولري.
۳: په بازار کې د توکو د قېمت د کنترول په برخه کې ډېره ونډه ولري.

له کوچني کاروبار (small business) سره يي پرتله کړئ.

## Bilateralagreement

دوه اړخيزه هوکړه

په سوداګرۍ کې هغه هوکړه ليک چې د نړيوالې سوداګرۍ په برخه کې ترې ګټه اخېستل کېږي او په پايله کې يې د هوکړه ليک دواړه اړخونه تر خپلې اغېزې لاندې راولي.

د بېلګې په توګه: افغانستان او پاکستان د سېمنټو په برخه کې دوه اړخيز هوکړه ليک ته داخلېږي او دواړه هېوادونه داسې هوکړه ليک ترسره کوي، چې تر معلوم وخت پورې به د نورو هېوادونو سره د سېمنټو سوداګري نه ترسره کوي.

## Bilateral Monopoly

دوه اړخيز انحصار

کله، چې په بازار کې يوازې يو پېرودونکی او يو پلورونکی د يو توکي او يا خدمت په برخه کې دوه اړخيز هوکړه ليک ته داخل شي.

د بېلګې په توګه: د پلخمري د سېمنټو فابرېکه له يو سوداګر سره دوه اړخيز هوکړه ليک ته داخلېږي، چې د پلخمري د سېمنټو فابرېکه به خپل سېمنټ يوازې په نوموړي سوداګر پلوري او نوموړی سوداګر هم د نورو فابرېکو څخه د سېمنټو د رانېولو حق نه لري او په دې توګه به يوازې د پلخمري سېمنټ پېري نو پدې توګه دوه اړخيزه انحصار رامنځته کېږي.

## Bimetallism

دوه فلزيتوب

هغه پولي سېستم، چې پولي واحد پکې د قانون له مخې په دوه فلزاتو( لکه طلا او نقره) کې شتون ولري او دواړه پولي واحدونه د قانون له مخې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو په پېر او پلور کې د چلښت او منلو وړ وي.

## Birth Rate
### د زیږون کچه

د یو هېواد په نفوسو کې په هرو زرو نفرو کې په کال کې د نوو پیدا شویو ماشومانو اندازه په ګوته کوي.

د بېلګې په توګه: په ۲۰۰٦ میلادي کال کې په افغانستان کې د ماشومانو د زېږون کچه ٤٧ پر ۱۰۰۰ ښودل شوی دی. دا په دې مانا، چې: په افغانستان کې هر کال په هرو ۱۰۰۰ نفرو باندې ٤٧ نوي پیدا شوي ماشومان هم ور زیاتېږي. د مړینې له کچې (death rate) سره یې پرتله کړئ.

## Blackeonomy
### تور اقتصاد

هغه اقتصاد چې په کې غیر قانوني او ممنوع تولیدات پلور ته وړاندې کېږي او له همدې امله دغه ډول اقتصادي فعالیتونه په غیر رسمي ډول ترسره کېږي د لا ډېرو مالوماتو لپاره پټ اقتصاد (Underground economy) ته هم رجوع وکړئ.

## Black Market
### تور بازار

هغه غیر قانوني بازار، چې پکې توکي او خدمتونه له قانوني ټاکل شوي اعظمي قېمت څخه په لوړ پلورل کېږي معمولاً هغه وخت کله، چې دولت د یو توکي او یا خدمت لپاره اعظمي قېمت ( Price Ceiling) وټاکي خو ځینې پلورونکي یې په ځینو ځایونو کې لدې اعظمي قېمت څخه لوړ پلوري.
د بیلګې په توګه: د افغانستان دولت په کابل کې د یو لېټر ډېزلو اعظمي قېمت (Price Ceiling)٥٠ افغانۍ ټاکي؛ خو د تېلو پلورونکو یوه ډله یې په پټه د ٥٠ افغانیو څخه په لوړ قېمت پلوري.

## Black Pricing
### تور قېمت اېښودنه

د قېمت دویمه درجه توپیر/تبیعض (second degree price discrimination) ته رجوع وکړئ.

## Blocked Currency

### بهر ته غیر انتقالي پیسې

هغه پیسې چې د دولت له لوري يې په بهر ته انتقال باندې بنديز لګول شوی وي.

## Bond

### بانډ

د پور اخېستلو اوږد مهاله سند دی، چېمعمولاً دولت او يا ځینې لوی کاروبارونه يې د خپلې اړتیا وړ پیسو د تر لاسه کولو په موخه نشروي، چې په بانډ کې پور اخېستونکی پور ورکونکي ته د ربحې کچه، چې معمولاً ثابت وي د بانډ د سر رسید د پوره کېدو له اصلي مبلغ سره یو ځای تادیه کوي. بانډ معمولاً د لسو کلونو او يا ډېر وخت لپاره نشرېږي. د بېلګې په توګه: د افغانستان دولت یو بانډ، چې قېمت يې سل میلیونه افغانۍ وي او د ربحې کچه يې ٪۵ وي د لسو کلونو لپاره نشروي، چې د لس کلونو په پوره کېدوه سره دولت د نوموړي بانډ پېرودونکي ته سل میلیونه افغانۍ او د هر کال ٪۵ ربحه تادیه کوي. د خزانې بِل (treasury bill) سره يې پرتله کړئ.

## Bonus

### بونس/ بخششي

له معلومې او معمولې اندازې اضافه تادیه چې د انعام یو ډول ترسره کېږي. مثلاً یو کس ته د هغه د خدمتونو په وړاندې د مزد او معاش برسېره اضافي تادیه چې معمولاً د پیسو په ډول ترسره کېږي.

## Boom

### بوم (اقتصادي لوړتیا مرحله)

په اقتصاد کې په چټک ډول د توکو او خدمتونو په قیمتونو کې لوړوالی او په کاروباري کړنو کې د پراختیا رامنځته کېدل یا دا، چې: اوږد مهاله اقتصادي ودې ته (boom) ویل کېږي.

## Boom & Bust

رونق او نزول (لوړتیا او ځوړتیا)

اوږد مهاله اقتصادي ودې ته Boomاو نزول ته Bust ویل کېږي. په بوم حالت کې اقتصاد د نوسان له سختو شرایطو راوتلی وی او تقریباً د کامل استخدام حالت ته یا رسیدلی او یاهم نزدې وی او د بوسټ حالت یې معکوس ده.

## Boom Market

ګرم بازار

هغه بازار چې د عرضې په پرتله په کې تقاضا زیاته وي او له دې امله د قیمتونو لوړوالی محسوسېږي.

## Bounty

بسپنه

هغه مبلغ، چې د دولت له لوري ځینو صنایعو ته د هغوی د هڅونې، تقویې یا د صادراتو د ډېروالي په موخه تادیه کېږي. چې ځینې وخت ورته د سبسایدي او صادراتي جایزې **(**Export Bounty**)** اصطلاحات هم کارول کیږي.

## Bourse

بورس

بورس یوه فرانسوي اصطلاح ده، او دا اصطلاح په اروپا کې مالي بازارونو ته ډېره کارول کېږي؛ خو په امریکا او داسې نورو پرمختللو هېوادونو کې د ونډو تبادلې بازار (stock exchange**)** او د توکو تبادلي بازار (commodity exchange) په نوم یادېږي.

## Boycott

پرېکون

په اقتصاد کې هغه سازماندهي شوې هڅې دي، چې د پېرودونکو د یوې ډلې له لوري د پلورونکي او یا تولیدونکي د یو ځانګړي توکي او یا خدمت په وړاندې، چې د پلور لپاره یې وړاندې کوي د نه پیرلو لپاره ترسره کېږي.

د بېلګې په توګه: د يو توکي يا خدمت د توليدونکي له لوري د يوې ټولنې ارزښتونه په پام کې نه نېول او توليد ترسره کول لکه د بوټانو او څپلکو جوړولو هغه شرکت، چې په بوټونو او څپلکو يې د الله جل جلاله او محمد صل الله عليه وسلم نومونه ليکل شوي وو د نړۍ ټولو مسلمانانو له لوري يې د پېرودلو سره پرېکون وشو.

## Brain Drain

د مغزونو تېښته

له نېستمنو او وروسته پاتې هېوادونو څخه د پوهو او مجربو وګړو تېښتې او نورو هېوادو کې مېشت کېدلو ته د مغزونو تېښته ويل کېږي.

## Brand

سوداګريزه نښه

د يو توکي يا خدمت يو ځانګړی نوم، کلمه، سمبول او يا نورو پېژندونکو ځانګړتياوو استعمال، چې د مستهلکينو او مشترياتو لپاره د پېژندنې وړ وي تر څو يې په پلور کې ډېروالی رامنځته شي.

او يا هم په بل عبارت: هغه نوم، کلمه، سمبول او يا نورې ځانګړتياوې، چې له مخې يې توليد پېژندل کېږي او په مرسته يې د نورو ورته توليداتو څخه د يوې توليدي شرکت توليدات بيلېږي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د سپين غر غوړي، چې برانډ يې هم همدا نوم او په واورو پټ غر دی. او يو ښه برانډ بايد لاندنۍ ځانګړتياوې ولري. د پېژندلو وړ، واضح، له مانا ډک او ټولنې ته د منلو وړ وي.

## Brand Equity

د برانډ قدرت/ارزښت

د يو سوداګريز توکي يا خدمت هغه ذاتي ارزښت، چې په بازار کې يې د وخت په تېرېدو ترلاسه کړی وي. او د خلکو له لوري په پراخ ډول سره پېژندل شوی او منل شوی وي چې همدا شرکت کولی شي تر نورو لوړ قېمت وضع کړي.

## Brand Loyalty

### د برانډ لپاره وفاداري

په بازار کې د یو توکي یا خدمت د پیرودلو لپاره د مشتریانو او مستهلکینو ترجیح وفاداري او یا مثبت رویې ته د برانډ لپاره وفاداري (Brand Loyalty) ویل کیږي. د بېلګې په توګه: یو کس سپین غر غوړیو پېرلو او ګټه اخېستلو ته لدې امله ترجیح ورکوي، چې د افغانستان تولید دی او کیفیت یې هم لوړ او قیمت یې مناسب دی.

## Brand Name

### برانډ/سوداګریز نوم

د یو توکي او یا خدمت د برانډ هغه برخه، چې لوستل کیږي لکه سپین غر غوړي، چې هم د سپین غر غوړیو نوم او هم یې د برانډ یوه برخه دی.

## Brand Preference

### د برانډ لپاره ترجیحات

هغه مبلغ، چې یو پیرودونکی او یا مستهلک یې د یو توکي او یا خدمت برانډ ته د وفادارۍ او یا ترجیح ورکولو له وجې تادیه کوي. د بېلګې په توګه: که د سپین غر غوړیو قیمت د نورو غوړیو په پرتله لوړ هم شي؛ نو بیا یې هم یو کس پیري.

## Brand Recognition

### د برانډ پېژندنه یا شهرت

له یوې سوداګریزې نښې څخه د پیرودونکو خبرتیا او منلو ته د برانډ پیژندنه ویل کیږي، چې د دې نښې لاندې تولیدات د پیرودونکی لپاره د پیرودنې پر مهال د یوه اختیار په شکل منل کیږي او د پیرودولو په اړه یې فکر کوي. او یا هم هغه برانډ چې په بازار کې یو ځانګړی او پیژندل شوی نوم ولري

## Breakage

د زیانمن شویو توکو تاوان

هغه مبلغ چې د توکو د لیږد په وخت کې د توکو په وړاندې رامنځته شوي زیان د جبران په وړاندې تادیه کېږي.

## Breakeven Point

د تساوي نکته

د تولید هغه مقدار یا هغه نکته ده، چې پکې ټولیز عواید په توکي باندې د ترسره شویو لګښتونو سره مساوي وي.او په ګراف کې په هغه نقطه کې رامنځته کېږي، چېرته، چې د ټولیزې ګټې منحني د ټولیز لګښت د منحني سره قطع کړي یا کله، چې د متوسط ټولیز لګښت منحنی د متوسطو عوایدو منحني سره قطع کړي.

## Brettonwoods

بریټن ووډز

له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته په ۱۹۴۴ میلادي کال کې د امریکا د متحده ایالاتو د Bretton woods په ښار کې یو نړیوال کنفرانس راوغوښتل شو څو په نړیواله کچه د پولي سیسټم لپاره یوه خاکه جوړه کړي د دې ناستې په پایله کې نړیوال بانک(world bank) او نړیوال وجهي صندوق (international monetary fund) رامنځته شول او پرېکړه وشوه، چې د نړیوال وجهي صندوق د غړو هېوادونو د پولي واحدونو ترمنځ د تبادلې نرخ باید د ډالر له مخې ثابت وټاکل شي او هر هېواد کولای، چې خپل ډالر په طلا تبدیل کړي؛ خو په ۱۹۷۱ میلادي کال کې د ویتنام جنګ او اقتصادي حالت خرابوالی د امرېکا د متحده آیالاتو د وخت ولسمشر Richard Nixon اړ کړ، چې په طلا باندې د ډالرو تبادلې دا سیسټم له منځه یوسي.

## Broad Market

پراخ بازار

د ونډو په اصطلاح کې: د ونډو د پېر او پلور هغه دوره، چې د ونډ پېر او پلور په کې په لویه کچه سره ترسره کېږي.

## Broker

دلال يا صراف

هغه کس، چې په بازار کې عرضه کوونکي او تقاضا کوونکي د توکو او خدمتونو د معاملې د ترسره کولو لپاره يو ځای کوي او په وړاندې يې حق الزحمه اخلي. له دلال (Dealer) سره يې پرتله کړئ.

## Brokerage

دلالي

هغه مبلغ، چې دلال ته د هغه د خدمتونو په وړاندې تاديه کېږي، چې ځينې وخت د سلنې له مخې او ځينې وخت هم په ثابت ډول تاديه کېږي.

## Bubble

ببل (حباب)

له اصلي قېمت څخه د يو توکي يا هم شتمنۍ قېمت څو ځله لوړېدلو ته ببل يا پوکانه **(Bubble)** وايي کېږي. دا اصطلاح د ونډو په بازارونو کې ډېره معمول ده، چې ښه بېلګه يې د ډاټ کام ببل Dot Com Bubble وه چې د انترنيتي کمپنيو د اسهامو نرخونه يو ځل ډېر لوړ او بيا ډېر زيات ښکته شول چې د بحران سبب وګرځيده.

## Budget

بودجه

د يو مالي کال لپاره د يو نهاد د عوايدو او لګښتونو تخمين څخه عبارت دی او بودجه له دريو حالتونو څخه يو حالت اختياروي:

۱: متوازنه بوجه **(**Balanced Budget**)**.

۲: د بودجې کسر **(**Budget Deficit**)**.

۳:د بودجې مازاد **(**Budget Surplus**)**.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Budget Constraint
## د بودجې محدودیت

د بودجې محدودیت د عاید له سطحې سره یا د دوه مختلفو توکو متبادل ترکیب، چې په یو معلوم قیمت او د عاید په معلومې سطحې سره د اخیستلو وړ وي. د بودجې کرښه (Budget Line) اصطلاح هم ورته هم کارول کېږي.او د مستهلکینو د تقاضا په تحلیل (د بې توپیره منحني په بڼه) کې ترې ګټه اخیستل کېږي.

## Budget Deficit
## د بودجې کسر

د یو مالي کال په اوږدو کې د یو نهاد د بودجې هغه حالت، چې د تخمیني عوایدو په پرتله یې د تخمیني لګښتونو اندازه ډېره وي؛ نو دې حالت ته د بودجې کسر ویل کېږي. د بودجې مازاد ( Budget Surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Budget Proportion
## د بودجې تناسب

د ارتجاعیت د ټاکونکو عواملو (Elasticity Determinants) څخه یو دی دوه نور عوامل یې عبارت دي له:

۱: د متبادلو توکو شتون (substitute Availibility)

۲: معلوم وخت (Time period)

او د ارتجاعیت د ټاکونکی دې عامل له مخې ویل کېږي چې: د هغه توکي ارتجاعیت نسبتاً زیات وي، چې زیاته بودجه ورته ځانګړې شوې وي.

## Budget Line
## د بودجې کرښه

د بودجې محدودیت **(**Budget constraint**)** ته رجوع وکړئ.

## Budget Surplus
## د بودجې مازاد

د یو مالي کال په اوږدو کې د یو نهاد د بودجې هغه حالت، چې د تخمیني لګښتونو په پرتله د تخمیني عوایدو اندازه ډېره وي؛ نو د بودجې دغه حالت ته د بودجې مازاد ویل کېږي. د بودجې کسر(Budget Deficit**)** سره یې پرتله کړئ.

## Buffer Stock
## د موادو احتیاطي زېرمه

د توکو زېرمه چې په بېړنیو او یا هم هغو حالاتو کې چې د لومړنیو موادو عرضه له ستونزو سره مخ شي ترېنه ګټه اخیستل کېږي.

## Building Cycle
## د ساختمان دوران

هغه تکراري زمان، چې د کورونو جوړولو او پلور کاروبار پکې په اول وخت کې په ډېرېدو وي او وروسته د کساد یا کمېدو سره مخ شي (چې د کورونو جوړولو لپاره د بانکونو له لوري د پور ورکړه تر اغېز لاندې راولي). د ساختمان یو بشپړ دوران معمولاً د ۱۵-۲۰ کلونو پورې وخت په برکې نیسي.

## Bulk Pricing
## توک یا ګروپي قېمت اېښودنه

د قېمت د توپیر/تبعیض **(**price discrimination**)**هغه ډول، چې پلورونکی د توکو په مختلف مقدار پلورلو باندې مختلف قېمتونه وضع کوي، چې د قېمت دویمه درجه توپیر/تبعیض (second degree price discrimination**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د لا ډېرو

معلوماتو لپاره د قیمت لومړۍ/دریمه درجه توپیر/تبعیض first/third degree price discrimination ته هم رجوع وکړئ.

## Bull

بول

د ونډو په بازار کې: هغه پانګه وال، چې د ونډو د قیمت د لوړېدو وړاندوینه کوي او په دې ډول د ونډو په پیرودلو لاس پورې کوي څو په راتلونکې کې یې د قیمت د لوړوالي څخه ډېره ګټه ترلاسه کړي. له بییر (bear) سره یې پرتله کړئ.

## Bull Market

بول یا لوړېدونکی بازار

د ونډو په بازار کې هغه حالت، چې د ونډو قیمت پکې په عمومي ډول سره د لوړېدو په حال کې وي او د ونډو په بازار کې برخه اخیستونکي داسې انګېري، چې دا حالت به دوام وکړي. معمولاً دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي، چې پانګه اچونکي د اقتصادي حالت ښه والي او ګټې د ډېروالي وړاندوینه کوي. له بیر بازار (Bear Market) سره یې پرتله کړئ.

## Bullion

بولین

غیر مسکوکه طلا یا نقره، چې معمولاً د خښتې په بڼه شتون ولري او ځینې وخت تاریخي او زړو سکو ته هم دا اصطلاح کارول کېږي.

## Bureaucracy

بیورو کراسي

هغه اداري سیستم یا پروسه، چې له مخې یې سازمانونه او نهادونه خپل ورځني کارونه په پېچیده ډول د منظمو لیکلو قواعدو په تعقیبولو سره په رسمي مکتوبونو او اداري پروسیجرونو سره پر مخ بیایي او د کارونو ترسره کول پکې معلوم وخت، ډېرو لګښتونو او حوصلې ته اړتیا لري.

## Bureaucrat
بيوروکرات

هغه کس، چې په بېروکراسي اداره کې کار کوي او دفتري تګلارې پلې کوي.

## Business
کاروبار

هغه نهاد، سازمان یا هم اداره، چې د ګټې د ترلاسه کولو په موخه د توکو او خدمتونو د تولید او عرضې لپاره د تولید منابع سره یو ځای کوي. کاروبار ښايي ځینې وخت د (Firm) په شکل وجود ولري. د یو کاروباري سازمان درې عمده ډولونه د ملکیت له پلوه عبارت دی له :

۱: انفرادي کاروبار (Sole Proprietorship) او یا هم **(proprietorship)**

۲: تضامني یا غیر تضامي شرکت **(Partnership).**

۳: سهامي شرکت **(Corporation).**

د کاروبار په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Business Cycle
اقتصادی دوران (کاروباری دوران)

دا اصطلاح د اقتصادی دوران (Economic Cycle) سره په مترادف ډول استعمالیږی او له همدی امله په دی لیکنه کی دواړه اصطلاحات د مفهوم له پلوه په مترادف ډول استعمال شوی. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د friedrich په نوم یو استرالیايي اقتصاد پوه له خوا په ۱۹۷٤ میلادي کال کې وڅېړل شوه، چې د همدې څېړنې له امله ورته د نوبل جایزه ورکړل شوه. کاروباری دوران په نا خالص داخلي تولید (GDP) کې متداوم پراختیا او یا کموالی رامنځته کېدل په ګوته کوي، چې یو مکمل کاروباري دوران یا دایرې معمولاً له دریو کلونو تر پنځو کلونو پورې وخت په برکې نیسي؛ خو ځینې وخت کېدای شي، چې لس او یا له لسو کلونو څخه ډېر وخت هم په بر کې ونیسي. یو کاروباري دوران یا دایره څلور مرحلې لري چې عبارت دي له:

۱: اقتصادي رونق**(expanstion)**

۲: څوکه **(Peak)**

۳: کساد (Contraction)

٤: (Trough)

د اقتصادی دوران په مختلفو مراحلو کې شاخصونه او اندیکاتورونه د اقتصادی دوران د بېلابېلو مراحلو وړاندوینه ګڼل کیږی. د بیلګی په توګه:

- Leading دا د اقتصاد دتغیراتو څخه د مخه تغیر خوري لکه د ونډو په بازار کې د قیمتونو کچه.
- Coincident، دا د اقتصادي نوساناتو او تغیراتو سره یو ځای تغیر خوري او اوسني حالت څرګندونه کوي لکه د نا خالص داخلي تولید کچه.
- Lagging، چې د ټول اقتصاد د تغیر څخه وروسته تغیر خوري لکه استخدام کچه.

دا اندیکاتورونه یا شاخصونه د کاروباري دایرې د رونق (Expansion) او کساد (Contraction) د مرحلو څخه مخکې د څو میاشتو لپاره پورته او ښکته خوا ته حرکت ته میلان لري. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د یا د کاروباري دوران یا دایرې مرحلو Business Cycle Phases ته رجوع وکړئ.

## Business Cycle Indicator

### د کاروباري دوران انډیکېټور

د اقتصادي احصائیو هغه طبقه بندي، چې د کاروباري دوران یا دایرې د انبساط (Expansion) او انقباظ (Contraction) د مرحلو په اړه ګټور معلومات ارایه کوي او دغه احصائیه په دریو ګروپونو وېشل کېږي، چې د کاروباري دایرې یا دوران د اندازه کولو لپاره تر ټولو غوره او ډېره استعمالېدونکې اندازه ګیری(Business Cycle Measurement) عبارت دی له:

- د واقعي ناخالص داخلي تولید د ودې سطحه(Real gross GDP Rate)
- د وزګارتیا سطحه (Unemployment Rate)
- د انفلاسیون سطحه (Inflation Rate)
- د لا ډېروم مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Business Cycle Phases

### د کاروباري دوران مرحلې

د کاروباري دایرې یا دوران مرحلې معمولاً په دوه مرحلو وېشل کېږي(خو ځینې اقتصاد پوهان د رونق څخه کساد ته او د کساد نه رونق ته د اقتصاد داخلېدل هم بیلا بیلې مرحلې بولي او په دې ډول وايي، چې کاروباري دایرې یا دوران څلور مرحلې لري)، چې عبارت دي له:

۱: د اقتصادي رونق مرحله (Expansion): د کاروباري دایرې یا دوران له هغه مرحلې څخه عبارت دی، چې پکې اقتصادي کړنې د ډېرېدو، د وزګارتیا کچه په کمیدو او اقتصادي وده د ډېرېدو په حال کې وي.

۲: د اقتصادي کساد مرحله (Contraction): له هغې مرحلې څخه عبارت دی، چې پکې اقتصادي کړنو د کمېدو،د وزګارتیا کچه د لوړېدو او اقتصادي وده د کمیدو په حال کې وي. چې دا دوه مرحلې بیا په خپل وار سره یو بل ته د انتقال له مخې په دوه برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: څوکه **(**Peak**)**: د رونق **(**Expansion**)** مرحلې څخه د کساد **(**contraction**)** مرحلې ته د کاروباري دوران انتقال د څوکې مرحلې څخه عبارت دی.

۲: **(**Trough**)**: او د کساد (Contraction) د مرحلې نه د رونق (Expansion) مرحلې ته د کاروباري دایرې یا دوران انتقال ته د Trough مرحلې څخه عبارت دی. داقتصادي رونق د مرحلې لومړی برخه د (Recovery**)** په نوم یادېږي او کساد مرحلې ته د (**r**ecession**)** اصطلاح هم کارول کېږي.

## Business Inventory

### کاروباری ګودام

د نهایي توکو ، نیمه کاره یا خامو موادو او داسې نور وسایلو ګودام، چې کاروبارونه یې له ځان سره ولري او د ګټې موخو په خاطر ترې ګټه اخېستل کېږي لکه :د تولید په مقدار کې د کموالي په حالت کې یې د عرضې د ځواک په توګه یا په پلور کې د زیان له منځه وړلو په موخه د ذخېرې په توګه ترې ګټه اخېستل.

## Business Plan

کاروباري پلان

یو سنجول شوی رسمي کاروباری تګلاره ده چی د کاروبار د کړنو پېژندنه کوي،چی کاروبار څه وکړی؟ او څنګه یې ترسره کړی؟. د کاروبار د لیدلوری سره سم راتلونکې دندې اوموخې بیانوي او د کاروبار د راتلونکي په اړه روښانه تګلارې او مالی بودجه په برکې نیسي، چې د کاروبار د ادامې وسیله ګڼل کېږي.

## Business Sector

کاروباری سکتور

د کُلي اقتصاد په څېړنه کې کاروباري سکتور یا سازمان د کلي اقتصاد د څلورو عمده سکتورونو څخه یو دی د کلي اقتصاد درې نور سکتورونه عبارت دي:

۱: د کورنیو سکتور (Household Sector)

۲: دولتي یا عامه سکتور (public Sector)

۳: بهرنی سکتور (Foreign sectoe)

او معمولاُ په دی سکتورکی په عامه کاروباري اصطلاح هغه سازمانونه او ادارې شاملې دي، چې د ګټې ترلاسه کولو په موخه رامنځ ته شوې وي او په اقتصاد کې د پېرودونکو او مستهلکینو د اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو په موخه وسایل او منابع د تولید لپاره په کار اچوي.

## Business Transfer Payment

کاروباري انتقالي تادیات

د کاروبارونو له لوري مشتریانو ته هغه تادیات، چې د تولید د پېر په وخت کې ظاهراً په وړیا ډول ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: مشتریانو ته د ځینو تولیداتو د پېر په وخت کې د ځینو ډالیو ورکول.

## Buyer's Expectation

د پېرودونکو توقع

هغه توقعات او وړاندوینې، چې مشتریان یې له بازار څخه لري یا هم پالیسي جوړوونکي چې دا توقعات پیشبیني کوي او د همدغو توقعاتو پر بنسټ د راتلونکي لپاره پرېکړې کوي.

## Buyer’s Market
## د پېرودونکو بازار

په سيالیز بازار کې هغه غیر متوازن حالت، چې پېرودونکي پکې د قېمت په راښکته کولو کې د کنترول او فشار راوړلو توان ولري او معمولاً په دې بازارکی قېمت ښکته وي. او یا هم دا، چې په بازار کې مازاد (surplus) شتون ولري خو دا په دې مانا نه دی چې په بازار کې د تقاضا کوونکو ترمنځ د سیالۍ کموالی شتون لري بلکې د پیرودونکو بازار هغه سیالیزي بازار ته وايي، چې په مؤقتي توګه د تقاضا د مقدار او د عرضې د مقدار ترمنځ دا ډول غیر متوازن حالت رامنځته شي. د پلورونکو بازار (seller’smarket) سره يې پرتله کړئ.

## Buyer’s Monopoly
## د پېرودونکو انحصار

په بازار کې هغه حالت چې د یو ځانګړي توکي عرضه کوونکي ډېر خو تقاضا کوونکی یوازې یو کس وي نو د نوموړي توکي په وړاندې پېرودونکی د انحصار درلودونکی دي. چې د مونوپسوني (monopsony) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Buyer’s Remorse
## د پېرودونکي پښيماني

هغه حالت کله، چې یو پېرودونکی یو تولید وپيري او بیا ورته د نوموړي تولید د پیر په اړه شک پیدا شي، چې آیا نوموړي ددي تولید د پیر پرېکړه پر ځای وه او کنه؟ دا حالت معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي، چې د تولید قېمت لوړ وي او په دې ډول يې پېرودونکي ته د پیرودلو په اړه شک پیدا کېږي او په پیرودلو يې پیښمانه کیږی. چي دی حالت ته ځینی وخت د ذهني توپیر یا اختلاف (Cognitive Dissonance) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Buyer’s Surplus

### د پېرودونکي مازاد

د پېرودونکي لپاره د قېمت هغه توپیر، چې د پیر د واقعي قېمت او د مشتري لخوا د توکي لپاره متوقعه د پیر د قېمت ترمنځ شتون ولري. یا په تخنیکي لحاظ د بازار د قیمت د کربښې څخه پورته او د تقاضا د کربښې ترمنځ ارزښت ته مازاد وایې چې په پیسو اندازه کیدلی شي.

د بېلګې په توګه: که د یو توکي د پیر واقعي قېمت په بازار کې ۲۰ افغانۍ وي او پیرودونکی یې د لزوم په حالت کې په ۴۰ افغانۍ د نوموړي توکي پیرودلو ته حاضر وي خو توکی له واقعي قېمت څخه په کم قېمت (۱۵) افغانۍ وپیري نو په دې حالت کې ۵ افغانۍ د پیرودونکي له مازاد څخه عبارت دی. د پلورونکي مازاد (Seller’s Surplus) سره یې پرتله کړئ.

## By-Product

### متمم تولید

دوه یا ډېر توکي چې په عین وخت کې یو ځای او له یوې منبع څخه تولیدېږي او د یو توکي تولید په اتوماتیک ډول سره د بل توکي تولید رامنځته کوي. که ځینې وخت حتی د دویم تولید غوښتنه شتون هم ونه لري بیا یې هم تولید ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: د ارې په وسیله د تختې جوړولو په وخت کې د تختې ترڅنګ د ارې د بورو تولید. متمم تولید ته ځینې وخت د ګډ تولید Joint Product او تکمیلونکي تولید (Complement Product) اصطلاحات هم کارول کېږي.

# C

## C

د انګلیسي د سي توری

د کلي اقتصاد په مطالعه کې د استهلاک (Consumption) په مفهوم کارول کېږي او د ټولیزو لګښتونو په مساوات کې د کورنۍسکتور د استهلاکي لګښتونو لپاره معیاري مخفف دی یعنې: AE=C+I+G+(X-M)، چې په دې مساوات کې:

۱: **AE** ټولیز لګښتونه **(**Aggregate Expenditure**)**

۲: **C** د کورنیو سکتور استهلاکي لګښتونه (Consumption Expenditure)

۳: **I** د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه **(**Investment Expenditures**)**

٤: **G** دولتي لګښتونه **(**Government Expenditures**)**

۵: **(**X-M**)** خالص صادرات**(**Net export**)** چې X د صادراتو یا Export او M د وارداتو او یا Importڅخه استازیتوب کوي.

## Call Back Pay

فوق العاده تادیه

کله چې د یو شرکت کارکونکي په رسمي ډول رخصت شوي وي؛ خو د شرکت مسئولین د یو بیړني او اړین کار د ترسره کولو لپاره د شرکت ځینې کارکونکې راوغواړي نو پر دې ډول ورته د مزد او معاش علاوه یوه ځانګړې او فوق العاده تادیه ترسره کړي چې دغه تادیه د بېړنۍ حق الزحمې یا فوق العاده تادیې په نوم یادېږي.

## Call Loan

د غوښتنې وړ پور

هغه پور، چې د داین د غوښتنې په وخت کې باید تصفیه شي یعنې دا، چې وخت یې ټاکلی نه وي (کله نا کله یې وخت ټاکلی وي) بلکې هر وخت، چې یې داین د تصفیې غوښتنه وکړي؛ نو باید بغیر له قید او شرط څخه تصفیه شي.

## Cambridge Equation
## د کیمریج مساوات

د پیسو د مقدار او د هغوی د ارزښت په اړه دوه نظرېي شتون لري چی یوه یې د فیشر د پیسو د مقدار تیوري(Quantity Theory of money) ده او بله یې د کیمریج مساوات ده. او په پولي نظریاتو کې د نقده بیلانس معادلې ته د کېمبرېج مساوات ویل کېږي.

یعنې: M=kPY، چې په دې مساوات کې P د کاروبار د معاملاتو د قېمت وسطي سطح، M د پیسو مقدار، Y حقیقي ملي عاید او K د عوامو له خوا د سیالو (نقدو) شتمنیو ته د خلکو غوښتنه ده. د نقده بېلانس مساوات (Cash balance equation)اصطلاح ورته هم کارول کېږي او لنډ مفهوم یې دا ده چې د پیسو ارزښت په یو معلوم وخت کې نقدو پیسو ته په تقاضا او عرضې پورې تړاو لري.

## CAMEL
## کیمل

نوموړې اصطلاح له پنځه بېلا بېلو اصطلاحاتو څخه د مخفف په توګه جوړه شوې چې د سوداګریزو بانکونو په بررسۍ کې ترېنه ګټه اخېستل کېږي او دا پنځه اصطلاحات عبارت دي له:

۱: د پانګې بسنه (capital adequacy)
۲: د پانګې کفایت (asset quality)
۳: مدیریت (management)
٤: عاید (earning)
٥: سیالیت (liquidity)

لا ډېرو مالاماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته رجوع وکړئ.

## Cannibalise ( Cannibalization)

معاوض (ځاینیوونکی)

په دې مانا، چې د نوښت په پایله کې په بازار کې یو موجود توکي د نوي توکي په وسیله له منځه ځي یا دا، چې تر ډېره خپل ارزښت له لاسه ورکوي. د بېلګې په توګه: د ډیجیټل عکاسۍ په رامنځته کیدو سره د عکس اخیستنې د فلمونو بازار په تدریجي ډول نږدې له منځه تللی. همدا راز دا اصطلاح په ټوله کې په هغه حالت کې کارول کېږي چې د یوه سوداګریز برانډ د ډېر زیات پلور په پایله کې یو بل برانډ خپل پلور او د بازارونډه له لاسه ورکړي.

## Canons of Taxation

د مالیې اېښودنې اصول

د یو معقول مالي سیاست بنسټیزو قواعدو او اصولو څخه عبارت دی چې دغه اصول په لاندې ډول دي:

- مالیه باید ټاکلې بڼه ولري.
- مالیه باید په هغه وخت او زمان کې راټوله شي چې د راټولولو لپاره یې لازم وي یعنې دا چې د مالیې راټولول پکې آسان وي.
- مالیه باید د مالیه ورکوونکو د عوایدو په تناسب وټاکل شي.
- د مالیې د راټولولو لګښتونه باید د امکان ترحده کم اوسي.

چې پورتني څلور قواعد په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

۱: اطمینان ۲: سهولت ۳: عدالت او ٤: سپما (په لګښتونو کې).

## Capital

پانګه

پانګه په اقتصاد کې د تولید د څلورو عمده عواملو څخه یو دی د تولید درې نور عمده عوامل عبارت دي له:

۱: ځمکه (Land)

۲: کار/کارګر (Labor)

۳: کارفرما/متصدي (Entrepreneur)

او پانګه هغه مبلغ یا وسایلو ته وایي چې د تولید د پروسې د تمویل او پرمخ بیولو په موخه کارول کېږي لکه پیسې. خو په محاسبه کې پانګه هغه مبلغ ته ویل کېږي چې د کاروبار د کارفرما له لوري د کاروبار د پرمخ بېویلو لپاره د کاروبار په واک کې ورکول کېږي.

## Capital Account

## د پانګې حساب

د تادیاتو بیلانس له دوه عمده برخو څخه یو یې د پانګو حساب ده (د تادیاتو د بیلانس بله عمده برخه له جاري حساب (Current Account) څخه عبارت دی، چې د یو کال په اوږدو کې له نورو هېوادونو سره د یو هېواد د ټولو مالي او فزیکي شتمنیو راکړه ورکړه پکې په ثبت رسول کېږي. او دوه برخې لري، چې په یوه برخه کې یې د هېواد له لوري د نورو هېوادونو څخه پیرودل شوې مالي او فزیکي شتمنۍ ثبتېږي او په بله برخه کې یې د بهرنیانو له لوري د نوموړي هېواد پېرودل شوې مالي او فزیکي شتمنیو ثبت ترسره کېږي.

## Capital Adequacy Ratio

## د پانګې د بسیا نسبت

د بانک د پانګې نسبت نظر د بانک شتمنۍ ته چې د قانون له مخې باید د ټاکل شوي حد اقل اندازې څخه کمه نه وي.

## Capital Accumulation

## د پانګې را غونډېدل

راغونډېدل (accumulation) ته رجوع وکړئ.

## Capital Depreciation
## د پانګې استهلاک

د وخت په تېرېدو يا د کوم بل عامل له امله د پانګې په ارزښت کې کموالي ته د پانګې استهلاک ويل کېږي چې په محاسبه کې ډېر کارول کېږي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره استهلاک **(**depreciation**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Capital Flight
## د پانګې تېښته

په چټکۍ سره له يو هېواد څخه د پانګې وتلو ته د پانګې تېښته ويل کېږي، دا حالت معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي، چې پانګه اچوونکي د هېواد په اقتصاد باندې خپل اعتماد له لاسه ورکړي يا دا چې په نورو هېوادونو کې د ډېرې ګټې ترلاسه کولو فرصت شتون ولري.

## Capital Flow
## د پانګې جريان

له يو سکتور څخه بل سکتور ته او يا هم له يو هېواد څخه بل هېواد ته د پانګې لېږد ته د پانګې جريان ويل کېږي چې دا جريان دوه برخې په برکې نيسي چې عبارت دي له:

۱: له بهر څخه د پانګې جريان **(**Capital Inflow**)**: هغه پانګه چې له نورو هېوادونو څخه هېواد ته جريان مومي

۲: بهر ته د پانګې جريان **(**Capital out Flow**)**: هغه پانګه چې له هېواد څخه بهر ته جريان مومي.

## Capital Formation
## د پانګې جوړښت

په يو اقتصاد کې د پانګې جوړښت يا له ښوا څخه زياتوالي څخه عبارت دی چې په بېلابېلو ډولونو ترسره کېږي. لکه د سپما له لارې، يا په فزيکي ډول د پانګې زياتيدل د هېواد په کچه او يا هم له مختلفو لارو لکه د بهرنۍ پانګونې يا پورونو له لارې د پانګې زيادښت.

## Capital Gain

### له پانګې څخه ګټه

د یوې سرمایوي پانګې د پلور څخه ترلاسه شوې ګټې څخه عبارت دی چې د مالي پانګونې په پایله کې رامنځته کیږی، لکه د ونډې له پلور څخه ترلاسه شوې ګټه.

## Capital GainTax

### د پانګې پر ګټه مالیه

د مالیې هغه اندازه، چې د یوې پانګې د پلور د قېمت او د هغې د پیر د اصلي قېمت ترمنځ په توپیر باندې اخېستل کېږي.

## Capital Goods

### پانګه ایز توکي

هغه توکي چې مخکې تولید شوي وي او د نورو توکو او خدمتونو د تولید په پروسه کې د تولید د عامل په توګه برخه اخلي لکه ماشین آلات، تجهیزات او داسې نور.

همدا راز کېدای شی چې له پانګه ایزو توکو څخه یوازې د خدمتونو د تولید او عاید د ترلاسه کولو لپاره ګټه واخېستل شي. له استهلاکي توکو (Consumption Goods) سره یې پرتله کړئ

## Capital Intensive

### سرمایه بر

هغه تولید، چې پکې د نورو تولیدی عواملو په پرتله ډېرې پانګې استعمال ته اړتیا لېدل کېږي لکه د طیارو یا د بېړیو تولید. او یا هم په بل عبارت: هغه تولید چې په هغه کې د پانګې د استعمال ونډه نظر بل تولیدي عامل ته ډېره وي سرمایه بر تولید یا توکی بلل کېږي. له کار بر Labor intensiveسره یې پرتله کړئ.

## Capital Investment

### سرمایوي پانګونه

د استهلاکي توکو د تولید په موخه د سرمایوی توکو کاروبار او ګټې اخېستنې ته سرمایوي پانګونه ویل کېږي. او یا هم هغه بانګه اچونه چې په ماشین آلاتو باندې ترسره کېږي.

## Capital-Labor Ratio

### د پانګې او کار نسبت

دا نسبتي جمله د توکو او یا خدمتونو په تولید کې د کارګرې قوې او پانګې ترمنځ نسبت په ګوته کوي چې په یوه تولیدی پروسه کې د پانګې نسبت ډېر دی او که د کارګرې قوې؟. د لا ډېرو مالوماتو لپاره سرمایه بر/کار بر (capital/labor intensive) ته رجوع وکړئ.

## Capital Market

### د پانګې بازار

هغه مالي بازار چې پکې د اوږد مهاله مالي وسایلو لکه باند، ونډو او نورو راکړه ورکړه ترسره کېږي څو کاروباري نهادونه ترې د خپلې اړتیا پانګه ترلاسه کړي. د پیسو بازار (Money Market) سره یې پرتله کړئ. د یادولو وړ ده، چې د مالي بازار دوه بنې د مهال له پلوه سره بیلیږي په دې مانا، چې د پانګې بازار (Capital Market) کې د اوږده مهال د تمویل معاملات ترسره کېږي او په (Money Market) کې د لنډ مهال.

## Capital Paid

### پرداخت شوې پانګه

Paid in Capital ته رجوع وکړئ

## Capital Structure
## د پانګې جوړښت

د يو کاروبار يا شرکت د پوروونو او د خالصې شتمنۍ د تمويل ترکيب څخه عبارت دی. دا په دې مانا چې: د شرکت د پانګې څومره برخه له پوروونو او څومره يې د شرکت د مالکينو له شتمنيو څخه تمويل شوې ده، چې د (gearing) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Capitalism
## کپيټليزم (پانګوال اقتصادي نظام)

هغه اقتصادي سيستم دی چې د توليد په وسايلو خصوصي ملکيت، فردي اقتصادي آزادي، سيالي، په بازار کې د عرضې او تقاضا په وسيله د قېمت ټاکل او داسې نورو ځانګړتياو ولاړ وي او پانګه په اقتصاد کې بنسټيز رول لوبوي. له سوسياليزم (Socialism) سره يې پرتله کړئ.

## Cardinal
## کارډينل

په عامه اصطلاح هغه اندازه ګيري چې په کمي (عددي) ډول سره ترسره کېږي لکه،۱،۲،۳،٤،٥ او داسې نور، چې د لوړوالي، وزن، اوږدوالي او داسې نورو اندازه ګيريو په موخه ترې ګټه اخيستل کېږي لکه پنځه کيلو غوښه، ۱۲ متره ټوکر۲,۳ متره لوړ چت او داسې نور. په اقتصادي بحثونو کې د افادې (Utility) او د بېکارۍ کچه، انفلاسيون او داسې نورو اقتصادي پديدو د څېړنو په برخه کې ترې ګټه اخيستل کېږي. له ترتيبي (Ordinal) سره يې پرتله کړئ.

## Cardinal Utility
## عددي افاده

د توکو او خدمتونو له استهلاک څخه د ترلاسه شوي ګټورتوب يا افادې (utility) يا رضايت عددي بڼې څخه عبارت دی چې د مطلق اندازه ګيري له مخې اندازه کېږي، معمولاً په واقعي نړۍ کې تر اوسه په دې بڼه کومه عملي بېلګه شتون نه لري. له ترتيبي افادې (ordinal utility) اصطلاح سره يې پرتله کړئ.

## Caribbean Community Caricom

## د کیرابین ټولنه

یو سیمه ییز سازمان دی چې په ۱۹۷۵میلادي کال کې د باربېوس، جامیکا، ګیانا او ټرینیډاډ او ټوبیکو له لوري تأسیس شوی دی او په اوسني وخت کې ۱۵ غړي هېوادونه لري، چې ځینې یې د کارابین د سیمې او ځینې نور یې بیا غیر کارابین هېوادونه دي، چې د نظارت کوونکو دنده پرغاړه لري. د دې سیمه ایز سازمان موخې عبارت دي له: د کار او ژوند پرمختللي معیارونه ترلاسه کول، له نورو هېوادونو سره اقتصادي اړیکو ته پراختیا ورکول، اقتصادي ودې ته ډېروالی ورکول او داسې نور.

## Cartel

## کارتل

په یو ډول او ورته صنایعو کې د هېوادونو او یا کاروبارونو ترمنځ له هغه رسمي (یا غیر رسمي او حتی ځینې وخت ممنوعه) هوکړه لیک څخه عبارت دی چې په بازار کې په قېمت باندې کنټرول ترلاسه کولو په موخه عقد کېږي څو قېمتونه د امکان تر حده لوړ وساتي. د بېلګې په توګه: د تېلو صادرونکو هېوادونو سازمان (OPEC)، چې په خپل منځ کې همدا ډول هوکړه لیک لري.

## Cash

## نقده

په عام ډول نقدو پیسو ته وایي. خو په یو هېواد کې د عرضه شویو پیسو هغه برخه چې د کاغذي پیسو او یا سکو په ډول شتون لري یا هغه مبلغ چې کاروبارونه یې په لاس کې لري. نقده پیسې په دوو برخو وېشل کېږي چې عبارت دي له:

- په دوران کې پیسې (CashIn Circulation): هغه پیسې، چې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قېمتونو د تادیې په موخه ترینه ګټه اخېستل کېږي.
- له بانکونو سره شته پیسې (Vault Cash): هغه پیسې، چې له بانکونه سره شتون ولري.

## Cash Balance Equation

## د نقده بېلانس مساوات

د کیمبریج مساوات(cambrage Equation) ته رجوع وکړئ.

## Cash Book

## د نقدي كتاب

هغه كتاب يا كتابچه چې د يو كاروبار يا شركت ټولې نقده راكړې وركړې پكې ليكل كېږي.

## Cashier

## صراف

Teller ته رجوع وكړئ.

## Cash Flow

## نقده جريان

د كاروباري سازمان د ټولو نقده راكړو وركړو حساب ته د نقده جريان ويل كېږي. چې دوه برخې په بركې نيسي چې عبارت دي له:

۱: كاروبار ته راتلونكې نقده پيسې (**Cash Inflow**): هغه پيسې چې په نقده ډول د كاروبار د كړنو په پايله كې كاروبار ته جريان مومي.
۲: له كاروبار څخه تلونكې نقده پيسې (**Cash out Flow**): هغه پيسې چې په نقده ډول له كاروبار څخه تلونكې وي،

## Causation

## د علت او معلول اړيكه

هغه حالت، چې پكې د يوې پېښې رامنځته كېدل د بلې پېښې رامنځته كېدول لامل وګرځي. د بېلګې په توګه: په اقتصاد كې د توليد په اندازه كې د كموالي راتلو له امله د وزګارتيا كچه هم لوړېږي. له خپلمنځي تړاو (Correlation) سره يې پرتله كړئ.

## Cause and Effect
## علت او معلول/تاثير

هغه مفکوره چې وايي: په نړۍ کې هره پېښه د هغې نه مخکې رامنځ ته شوې پېښې پايله ده او علمي موخه يې داده څو د دې دواړو پېښو ترمنځ اړيکې وڅېړل شي او د اړتيا په مهال يې د تکرار مخه ونېول شي.

## Central Bank
## مرکزي بانک

په هېواد کې د بانکونو په ډکر کې هغه صلاحيت لرونکی او د قانون له مخې خپلواک مرکزي بنسټ دی، چې د پيسو د سالمې عرضې، د پولي سياست د رهبري کولو او مالي او پولی ثبات رامنځ ته کولو او ساتلو مسووليت په غاړه لري، مرکزي بانک يوه عامه اداره ده او د پيسو په چاپ او عرضه کې انحصاري صلاحيت لري. د افغانستان مرکزي بانک د افغانستان بانک (Da Afghanistan Bank) دی.

## Central Bank of Central Banks
## د مرکزي بانکونو مرکزي بانک

د تصفيې نړېوال بانک (Bank for international settlement) ته رجوع وکړئ.

## Central Planning
## مرکزي پلان جوړونه

په يو اقتصاد کې د دولت له لوري د هغه پراخه کنترول سيستم دی چې د توليد سازماندهي او د هغې د تخصيص پرېکړه هم په برکې نيسي، چې په ۱۹۵۰ کال څخه وروسته د څو لسيزو لپاره په پخواني شوروي اتحاد او ځينو نورو هېوادونو کې د کمونسيتي او سوسياليستي اقتصادي سيستم په پرمخ بيولو کې يې رغنده رول لوباوه، چې د اقتصاد د څلورو بنسټيزو پوښتنو يعنې:

۱: څه شی توليد شي؟ (What to produce?)

۲: څنګه توليد شي؟ (How to produce?)

۳: چا لپاره تولید شي؟ (For whom to produce?)

٤: په څومره اندازه تولید شی؟ (How much to produce?)

ته د ځواب ورکولو او منابعو د ځانګړي کولو یو مشهور مرکزي مېتود يې په بر کې نیوه، د دې سیستم پلویان باور لري چې خصوصي ملکیت او د بازار ازادي ښې پايلې نه لري او دې دواړو ته اجازه هم نه ورکوي پدې سېستم کې د هر ډول تولید لپاره د دولت له لوري مرکزي پلان جوړېږي، چې کوم توکي او یا خدمت، د چا لپاره، په څومره اندازه او بالآخره څنګه تولید شي؟.

## Centralization

مرکزیتوب

مرکزي یا متمرکز سیستم یوه اداري اصطلاح ده او هغه ډول سازماني او اداري جوړښت ده چې د چارو واګې او واکونه د مرکز سره وي او د ټيټې کچې چارواکي د پریکړو حق یا کم او یا يې هم نه لري. له غیر مرکزي (decentralization) سره يې پرتله کړئ.

## Ceteris Paribus

سیټېریس پارابوس (که نور هرڅه ثابت وګڼل وي)

یوه لاتیني اصطلاح ده چې مفهوم يې ده : که (نور ټول عوامل ثابت وګنل شي). له دې اصطلاح څخه معمولاً په اقتصاد کې په فرضیو کې ډېره ګټه اخېستل کېږي.

د بېلګې په توګه: د پیسو په مقداري نظریه (quantity theory of money) کې یوه فرضیه، چې وايي: که چېرې نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي؛ نو په اقتصاد کې د پیسو مقدار په دوه چنده کېدو سره د توکو او خدمتونو قیمتونه هم دوه چنده کېږي او د پیسو مقدار په نیمايي کېدو سره د توکو او خدمتونو قیمتونه هم نیمايي کېږي.

## Chamber of Commerce/Trade

د سوداګرۍ خونه /اطاق تجارت

د عمده پلورونکو سوداګرو د یو مرکب سازمان هغه جوړښت دی چې د صنفي ټولنې د ګډو موخو د ترلاسه کولو په موخه رامنځته کېږي. او یا هم دا چې: د سوداګرو او صنعتکارانو سیمه ایزه ټولنه

ده، چې په سیمه کې د کاروبار او سوداګرۍ د شرایطو د ښه والي لپاره کار کوي او له خپل منځ څخه په منتخب ډول مدیره هیت او مشر ټاکي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د سوداګرۍ او صنایعو خونه (chamber of commerce and industries) چې همدا دندې پرمخ وړي.

## Channel of Distribution
## د ویش چینل

هغه بېلا بېلې شیوې او لارې چارې چې په مرسته یې د تولیدونکو څخه مستهلکینو ته د توکې رسول کېږي.

## Cheap Money
## ارزانه پیسې

دا اصطلاح په اقتصاد کې هغه حالت افاده کوي، کله چې د توکو او خدمتونو عمومي سطح لوړه شوي وي او پیسو خپل پخوانی ارزښت له لاسه ورکړی وي او په دې توګه د پخوا په پرتله یوه اندازه کم توکي د نسبتاً ډېرو پیسو په وسیله ترلاسه کېږي؛ نو په دې توګه داسې فکر کېږي، چې پیسې د توکو او خدمتونو په پرتله ارزانه شوي دي. له ګرانو پیسو (dear Money) سره یې پرتله کړئ.

## Check/Cheque
## چک

د بانک د یو مشتري له لوري د بانک په نوم هغه بې شرطه سند دی، چې له مخې یې د سند وروړنکي ته معلوم مبلغ د هغه د غوښتنې په وخت کې تادیه کېږي او معمولاً په درې ډوله دی، چې عبارت دي له:

- حامل چک (Bearer Cheaque): له هغه چک څخه عبارت دی چې هر کس، چې یې بانک ته وړاندې کړي نقدولی شي.
- د شخص په نوم چک (Order Cheaque): له هغه چک څخه عبارت دی چې لیکونکی یې مالي ادارې یا بانک ته د تادیې امر کوي او د چک لرونکی لیکلی مبلغ

ترلاسه کولی شي. د چک لرونکی کولی شي، چې نوموړی چک بل چا ته د چک په شا د لیکنې **(**Endorsement**)**په وسیله انتقال کړي.

- کراس چک **(**Crossed Cheaque**)**: له هغه چک څخه عبارت دی چې په نقده ډول د بانک له خوا نه تادیه کېږي بلکې یواځې له یو حساب څخه بل حساب ته پیسې انتقالولی شي.

## Circular Flow
## دایروي جریان

د لوی او کوچني اقتصاد په مباحثو کې د مشتریانو او تولیدوونکو ترمنځ د تولید، عاید او منابعو دایمي او دوراني حرکت او اقتصادي جریان ته دایروي جریان ویل کېږي.

## Civilian Labor Force
## د کار ملکي قوه

په هېواد کې ټول هغه ملکي وګړي، چې د کار کولو قانوني عمر یې پوره کړی وي (لکه په افغانستان کې اتلس کلنې) د کار کولو اراده او وړتیا ولري په کار ګمارل شوي وي یا د کار په لټه کې وي د هیواد د کار ملکي قوه بلل کیږي. چې معمولاُ د کارګرې قوې **(**Labor Force**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Classical Economics
## کلاسیک اقتصاد (نظریاتي مکتب)

هغه اقتصادي نظریات، چې د ادم سمیت له نظریاتو څخه سرچینه اخلي او زیاتوي چې**:** په بازار باندې د دولت له لوري د کنترول نه شتون د ملي تولید د پراختیا او د کامل استخدام رامنځته کېدو ساتنه کوي او په دې توګه د تولید له وسایلو څخه په اغېزمن ډول ګټه اخېستل کېږي همدارنګه په ټولنه کې د انفرادي وګړو له لوري د شخصي ګټو تعقیب په نهایت کې د ټولنیزې رفاه لامل ګرځي. د کلاسیک اقتصادي درې بنسټیزې فرضیې عبارت دي له :

- ارتجاعي قیمتونه (Flexible Prices)
- د سي قانون (Says Law)

- د سپما او پانګه اچونې مساوات (Saving Investment Equality)

کلاسیک اقتصادي نظریاتو مکتب د ادم سمېت، ډېوېډ رېکارډو او رابرت مالتوس په نظریاتو ولاړ دی او په اقتصادي آزادۍ، بشپړ سیالي او د بشپړ سیالۍ په تعادل باندې اعتقاد لري.

## Classical School
## کلاسیک مکتب

د معاصر اقتصاد لومړنی نظریاتي مکتب ده، چې بنسټ اېښودونکي يې ادم سميت، ریکاردو، مالتوس او جان ستوارت میل دي. د دوی په نظر پرانیستی/آزاد بازار په خپله پرته له مداخلې د نه ليدونکي لاس (Invisible Hands) په وسیله تعادل ته رسيږي. نورې مهمې فرضيې يې عبارت دي له: ارتجاعي قيمتونه او بل دا چې ، چې عرضه په خپله ځانته تقاضا پيداکوي.

## Closed Corporation
## تړلی یا محدود سهامي شرکت

هغه سهامي شرکت، چې د ونډو پېر او پلور يې په محدودو وګړو پورې تړلي او معمولاً په مالي بازار کې نه ترسره کېږي. او یا هم په بل عبارت: د ونډو پېر او پلور یوازې د شرکت ونډه والو ترمنځ ترسره کېږي.

## Closed Economy
## تړلی اقتصاد

د يو هېواد د اقتصاد هغه سېستم ، چې بهرنۍ سوداګرۍ ته يا اجازه نه ورکوي يا ډېره کمه اجازه ورکوي او په دې توګه پرته لدې، چې له نورو هېوادونو سره د توکو او خدمتونو تبادله ترسره کړي خپلې داخلې ستونزې په خپله رفع کول غواړي.، چې دا سېستم په شمالي کوريا کې عملاً اوس هم شتون لری. له پرانیستي اقتصاد (Open Economy) سره يې پرتله کړئ.

## Closing Price
### وروستۍ قیمت

د ونډو په بازار کې: د ونډو هغه قیمت، چې له مخې یې په یوه ټاکلې ورځ وروستۍ ونډه پلورل شوې وي.

## Closed Shop
### تړلې استخدام

هغه هوکړه لیک، چې له مخې یې کاروبارونه یوازې دا اجازه لري، چې یوازې د کارګرانو د اتحادیې غړي استخدام کړي او په دې وسیله د کارګرانو ټولنه غواړي، چې په بازار کې د استخدام په برخه کې خپل کنترول وساتي، چې دا ډول هوکړه لیک په نړۍ کې تقریباً له منځه تللی دی. له آزاد استخدام (open shop) سره یې پرتله کړئ.

## Coase Theorem
### د کووز تیوریکي قضیه

هغه نظریاتي ترکیب، چې د رونالډ کوز له لوري رامنځته شوی او وایي، چې: د چاپېریال الودګي یا کثافت د تولیدونکو او له هغه څخه د متاثره شویو ډلو ترمنځ د خبرو اترو په وسیله کنترولیدی شي. دا په دې مانا، چې: د متاثره شویو ډلو له لوري د تولیدوونکو سره د خبرو اترو له لارې د الودګي او کثافت ستونزه په حقوقي او اقتصادي بڼه هوارېدای شی.

## Cobweb Theorem
### د کبویب (د عنکبوت د ځالې) قضیه

د دې نظر یې له مخې په بازار کې د ځینو توکو (معمولاً د کرنیزو توکو) قیمتونه د فصل د تغیراتو له امله د تعادل په نقطه کې قرار نه نیسي بلکې د تعادل د نقطې په شا او خوا را څرخېږي؛ او په دې توګه که د دې ډول توکو د قیمت د خط سیر ګراف رسم شي؛ نو د عنکبوت د تار بڼه غوره کوي.

## Coefficient of Elasticity

د ارتجاعیت ضریب

هغه عددي اندازه ګیري، چې په یوه متغیر کی هر تغیر یا عمل په وړاندې د بل متغیر د تغیر یا عکس العمل اندازه ښکاره کوي، چې تر ټولو مشهور ډولونه یې عبارت دي له:

- د تقاضا د قېمت ارتجاعیت(Income elasticity of demand)
- د عرضې د قېمت ارتجاعیت دي(price elasticity of supply).

د یادونې وړ دوه نور ډولونه یې عبارت دي له:

- د تقاضا د عوایدو ارتجاعیت (Income Elasticity of Demand)
- د تقاضا متقاطع ارتجاعیت (Cross Elasticity of Demand)

د ارتجاعیت په اړه د لا ډېرو مالوماتو پاره ذکر شوو ډولونو او ارتجاعیت (Elasticity) ته هم رجوع وکړئ.

## Cognitive Dissonance

ذهني اختلاف

کله، چې یو پېرودونکی یو تولید واخلي او بیا ورته د نوموړي تولید پیرودلو په اړه شک پیدا شي، چې آیا نوموړي ددي تولید د اخېستلو پرېکړه پر ځای وه او کنه؟ او دا حالت معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي، چې د تولید قېمت لوړ وي او پېرودونکي ته یې په پیرلو کې شک پیدا شي. د پیرودونکي پښېمانیتا ( Buyers Remorse) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Coincident Economic Indicator

همزمان/اتفاق اقتصادي اندیکاتور/شاخص

د کاروبارې دایرې/دوران انډیکیټور(Business Cycle Indicator) د دریو احصایو څخه یوه ده دوه نور یې عبارت دي له:

١: (Leading Economic Indicator)

٢: (Lagging Economic Indicator)

دغه شاخص یا اندیکېټور د کاروباري دایرې یا دوران د رونق (Expansion) او کساد (Contraction) د مرحلو سره یو ځای او په یو وخت پورته او ښکته خوا ته میلان پیدا کوي چې له همدې امله اتفاق اندیکاتور بلل کیږی، چې د کساد (Contraction) د مرحلې په پیل سره نزول کوي او د رونق (Expansion) د مرحلې په پیل سره صعود بڼه غوره کوي. لکه د ملي عاید سطحه.

## Coins

## سِکې

د یو هېواد د نشر شویو پیسو هغه ډول، چې د فلز په شکل نشر شوي وي یا دا، چې: د فلز یوه برخه یا د فلزاتو مرکبات، چې د ځینو علاماتو او شکلونو له مخې ځانګړی شوی وي، د دولت له لوري يې ضرب وهل شوي وي او په اقتصاد کې د قانوني پیسو په بڼه نشر شوي وي. لکه په افغانستان کې فلزي یوه، دوه او پنځه افغانۍ.

## Collateral

## ضمان/ضمانت

عاید، مال، جایداد یا کوم بل قېمتي توکي یا شتمني، چې پور اخېستونکی يې پور ورکونکي ته د پور د تصفيې د ضمانت په توګه ږدي.

## Collective Bargaining

## ډله ايزه چانه وهل

د کاروبارونو او د کارګرانو د ټولنو ترمنځ د خبرو اترو هغه پروسه، چې موخه يې د کارګرانو د مزد، کار ساعتونو، د پرمختګ شرایطو، امتیازاتو او داسې نورو اړوند مسایلو باندې یو دوه اړخيز هوکړه لیک رامنځته کول او له مخې يې د کارګرانو د ټولنې غړي په کاروبار کې په دنده ګمارل وي؟ او هغه هوکړه لیک، چې د ډله ایزه چانه وهلو په پایله کې رامنځته کېږي د ډله ایزه چانه وهلو هوکړه لیک (Collective Bargaining Agreement) په نوم یادېږي، چې د کاروبارونو او د کارګرانو د ټولنې ترمنځ د یو رسمي هوکړه لیک بڼه غوره کوي.

## Collectivism

ډله ایز توب

په پراخه توګه په ټولنیزه ، سیاسی او اقتصادي برخو کې په بېلابېلوماناګانو کارول کیږی، خو په اقتصاد کې هغه تیوري، چې په اقتصاد کې په ټولو تولیدي وسایلو باندې د مشترک ملکیت څخه ملاتړ کوي ډله ایز توب ګڼل کیږي، چې وګړو ته د کور، البسه، غذايي موادو او داسې نور اړینو توکو د ملکیت لرلو اجازه ورکوي. همدا راز په کلتوري لحاظ هم هغه ټولنې، چې خلک یې دکورنې په بنه ژوند کوي او په کورنۍ کې د هر غړي پرېکړه (اقتصادي پرېکړه) د کورنۍ د نورو غړو یا د کورنۍ د مشر تر اغیزې لاندې وي د ډله ایز توب د ځانګړتیاو لرونکې ټولنې په نوم پیژندل کیږی.

## Collusion

دسیسه جوړول (ایتلاف)

معمولاً هغه پټ هوکړه لیک، چې د سیالو کاروبارونو (معمولاً د اولیګوپولي کاروبارونو) له لوري په دې موخه عقد کېږي، څو په بازار کې کنترول وساتي، قېمتونه لوړ کړي، لږ تولید وکړي او لوړ قېمت وټاکي او په دې توګه ډېره ګټه تر لاسه کړي، چې دا ډول هوکړه لیک تقریباً په ټولو هېوادونو کې منع ګرځول شوی دی.

## Command Economy

دستوري اقتصاد

هغه اقتصاد چې د دولت تر پوره کنترول لاندې وی ، او د اقتصاد څلورو بنسټيزو پوښتنو یعنې:

۱: څه شی تولید شي؟ (What to produce?)

۲: څنګه تولید شي؟ (How to produce?)

۳: د چا لپاره تولید شي؟ (For Whom to produce?)

۳: په څومره اندازه تولید شي؟ How much to produce?)

ته د ځواب ورکولو لپاره د منابعو په ځانګړي کولو باندې دولت له خپل ځواک او کنترول څخه ګټه اخلي.چې په ۲۰ میلادي پیړۍ کې یې دوه تر ټول لوی او د یادونې وړ اقتصاد د چین او پخواني شوروی اتحاد وو، چې پکې کمیونیستي او سوسیالیستي اقتصادي سیستم شتون درلوده.

## Commerce
## سوداګري

معمولاً په لویه پیمانه د توکو او یا امتعو پېر او پلور ته (commerce) ویل کېږي، چې دا د سوداګرۍ نسبتاً پراخه مفهوم ارایه کوي، چې دا نه یواځې د توکو پېر او پلور بلکې له تولیدوونکو څخه تر مستهلکینو پورې د توکو د رسولو ټوله پروسه هم په بر کې نیسي.

## Commercial Bank
## سوداګریز بانک

هغه بانک ته ویل کېږي چې امانتونه قبلوي، کاروباري پورونه ورکوي او په خپله هم پانګونه کوي. یا سوداګریز بانک چې عمده دنده یې د مشتریانو د امانتونو منل او کاروبارونو ته د پورونو ورکړه جوړوي او معمولاً ځینې نورې دندې لکه د پیسو انتقال، د بانکي تضمینونو ترسره کول او داسې نورې هم ترسره کوي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د افغان ملي بانک، پښتني بانک، غضنفر بانک، نوی کابل بانک، او داسې نور سوداګریز بانکونه.

## Commercial Paper
## سوداګریزه پاڼه

هغه معلوم مهاله، بهاداره مالي سند یا تحریري وعده، چې د کاروبارونو له لوري په دې موخه نشرېږي تر څو د خپلې اړتیا وړ پانګه ترلاسه کړي، چې د ربحې یوه معلومه اندازه پرې تادیه کېږي او معمولاً د یو کال او یا لږ وخت لپاره نشرېږي لکه یوه، دوه یا درې میاشتې او یا ډېر وخت تر یو کال پورې. معمولاً د هغو کاروبارونو له لوري نشرېږي چې ډېر لوی وي، ګټه یې ډېره وي او ډېر با ثباته وي.

## Commodity

## توکی/امتعه

یو منقول اقتصادي توکي ته وايي يا دا چې: يو متجانس توليد، چې معمولاً په فزيکي بڼه شتون ولري لکه تيل، سلور، کتابچه او داسې نور، چې معمولاً ورته د (goods) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Commodity Exchange

## د توکو تبادله (بازار)

هغه بازار، چې پکې د امتعو او توکو (لکه غنم، کاټن، بوره، تېل، ګاز، طلا، سپين زر او داسې نورو) د ملکيت لېږد ترسره کېږي او دا ليږد په دوه بنسټيزو ډولونو سره ترسره کېږي چې عبارت دي له:

- په سملاسي ډول د توکي ليږد: چې په نقده بازار (Spot market) کې ترسره کېږي.
- په راتلونکي وخت کې د توکي لېږد: چې د راتلونکي بيعې (Futures) په مرسته صورت نيسي.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Commodity Money

## جنسي پيسې

هغه پيسې، چې دواړه ډوله (هم تبادلوي او هم استعمال) ارزښت ولري لکه سره زر، چې د يوې امتعې په توګه هم په خپله ذاتي ارزښت لري او هم د زيوراتو په بڼه کارول کيدی شي همدا راز د تبادلې د وسيلې په ډول هم کارول کيدلی شي.

## Common Market

## ګډ بازار

د دوه او يا ډېرو هېوادونو ترمنځ هغه هوکړه ليک، چې له مخې يې د نوموړو هېوادونو ترمنځ سوداګريز خنډونه له منځه وړل کېږي او د نوموړو هېوادونو ترمنځ د منابعو انتقال ته په آزادانه ډول د حرکت اجازه ورکوي او له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ عامه سياست پرمخ وړي. لکه ګمرکي ټولنه، اقتصادي ټولنه او د ازادې سوداګرۍ ټولنې ترټولو ښه بېلګه يې د اروپا ګډ بازار دی.

## Common Property Goods
### د ګډ ملکیت توکي

هغه توکي، چې د ټولنې ټول وګړي ترې د یو شان ګټې اخیستنې حق ولري،هغه څوک چې په وړاندې یې قیمت نه تادیه کوي نو له ګټه اخیستنې څخه یې محرومول ستونزمن او یا هم نا ممکن دی؛ لکه بحرونه، یا عامه پارک. دا د عامه توکو یو ډول ده او د بازارله لارې ددې ډول توکو یې عرضه ستونزې لري له همدې امله حکومت د دغه ډول توکو وړاندې فیس یا مالیه اخلي.

## Common Stocks
### عادي ونډې

د ونډو د دوه ډولونو څخه یو دي (د ونډو بل ډول له ترجیحي/امتیازي ونډې **(**Preffer Stock**)** څخه عبارت دی) او په سهامي شرکت کې د ونډو مالکیت څخه عبارت دی چې د شرکت په شتمنیو باندې د قانوني حق او ونډه لرونکي وي. چې ترجیحي/امتیازي ونډه **(**Preffer Stock**)** د سهامي شرکت په خالصو شتمنیو باندې لومړنی او عادي ونډه **(**Common Stock**)** دویمه قانوني دعوه لرونکي وي په دې مانا، چې په قانوني دعوه کې ترجیحي ونډو ته د اولیت حق ورکول کېږي. د بېلګې په توګه: د کاروبار د انحلال په وخت کې اول حق ترجیحي/امتیازي ونډې ته ورکول کېږي.

## Common-wealth Nations
### د کامنویلتې/مشترک المنافع هیوادونو سازمان

نوموړی سازمان په ۱۹٦٥ میلادي کال کې تأسیس شوی او ٥٣ پرمختیایي او پرمختللي هېوادونه یې غړیتوب لري او موخه یې د غړو هېوادونو ترمنځ د هر اړخیزه مرستو رامنځته کول، د مشورو ډېروالی، ډېموکراسي ته وده ورکول، د سولې رامنځته کولو لپاره کار کول، ښه حکومتوالي او د غربت له منځه وړل دي او د دې سازمان مرکزي دفتر په لندن کې دی.

## Company

## کمپني/ شرکت

معمولاً د یو کس نه د ډېرو کسانو په وسیله رامنخته شوی هغه کاروباري سازمان، چې د توکو او خدمتونو د تولید په منظور د تولید عوامل سره یو ځای کوي. ځینې وخت شرکت ته د تصدۍ (Firm)، کاروبار (Business) او تشبث (Enterprise) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Comparable Worth

## پرتله ایز ارزښت

هغه آند، چې وايي: د مختلفو دندو د ترسره کولو لپاره، چې د پرتلې وړ؛ خو نه یو شان مهارت ته اړتیا وي؛ نو باید، چې ورته یو شان مزد ورکړل شي څو د کارګرانو ترمنځ تبعیض/توپیر طبقه بندي له منځه لاړه شي لکه د ښځې او نر په استخدام کې، چې اکثره وخت د اجورې توپیر رامنځته کېږي.

## Comparative Advantage

## نسبي مزیت

په پرتله ایز ډول په کم لګښت د یو توکي په پرتله د بل توکي د ښه او اقتصادي تولید وړتیا ته نسبي مزیت ویل کېږي معمولاً د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې لدې اصطلاح څخه ډېره ګټه پورته کېږي. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د ډېوېډ رېکاردو له لوري وکارول شوه او واضح کوي، چې هېوادونه د نسبي مزیت په پایله کې د توکو او خدمتونو په تولید کې تخصص پیدا کوي او بالاخره کولای شي، چې تخصصی تولید او سوداګرۍ په پایله کې ډېره ګټه ترلاسه کړي. له مطلق مزیت (absolute advantage) سره یې پرتله کړئ.

## Compensating Wage

## جبراني مزد

په مختلفو بازارونو او سیمو کې مختلفو کارګرانو ته د شرایطو په پام کې نیولو سره د مختلف مزد ورکړه، چې د کار په شرایطو پورې تړلې وي او د کارګرانو تولیدي وړتیا په پام کې نېولو سره ترسره کېږي لکه د کار خطر، د ښوونې او روزنې کچه، د کار موقعیت او داسې نورو له مخې.

د بېلګې په توګه: د يو پانګه وال د يو کار موقعيت په نسبتاً ناامنه او د بل عين کار موقعيت په نسبتاً ارامه سيمه کې وي چې د منطق له مخې په نا امنه سيمه کې کارکونکي ته د ارامه سيمه کې د کارکونکي په پرتله ډېر مزد د جبران په ډول ورکول کېږي.

## Compensatory Duty/Tariff
## جبراني تعرفه/ګمرکي محصول

د تعرفې وضع کولو هغه ډول چې د يو ځانګړي هېواد څخه په وارداتي توکو باندې د بالمثل ډول سره ترسره کېږي ترڅو د مقابل هيواد عمل جبران شي

## Compensatory Principle of Taxation
## د ماليې معاوضتي اصل

د مالياتو لپاره د حاصله ګټې اصل **(**Benefit-Recieved Principle of Taxation**)** ته رجوع وکړئ.

## Competition
## سيالي

په بازارونو کې د سالمې سيالۍ هغه قانوني عمل او يا کړنې، چې د دوه او يا ډېرو سيالو کاروبارونو ترمنځ، چې يو شان توکي يا خدمتونه عرضه کوي او يا ورته تقاضا لري د يو بل په وړاندې يې ترسره کيږي لکه اعلانات، د توليد د کيفيت ښه کول، د قېمت راټيټول او داسې نور، چې د عين توليد لپاره وي او معمولاً په دوه ډولونو سره ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

۱: د څو سيالو کاروبارونو ترمنځ سيالي (Competition Among a Few**)**

۲: د ډېرو کاروبارونو ترمنځ سيالي (Competition Among Many).

د يادولو وړ ده، چې سيالي د اقتصاد له بنسټيزو مباحثو څخه ده او په بيلابيلو بڼو ترسترګو کېږي لکه د توليدوونکو ترمنځ سيالي، د تقاضا کوونکو ترمنځ سيالي.

## Competition Among a Few

### د لږو ترمنځ سيالي

د کم شمېر پلورونکو او پيرودونکو ترمنځ سيالي، چې هر يو ( پلورونکی او پيرودونکی ) په بازار کې د قيمت په ټاکلو تر ډېر کم حد کنترول ولري. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د مخابراتي شرکتونو ترمنځ سيالي.

## Competition Among Many

### د ډېرو ترمنځ سيالي

په بازار کې د ډېرو پلورونکو او پيرودونکو ترمنځ د سيالي شتون، چې هېڅ يو يې هم د قيمت د کنترول وړتيا ونه لري. دا ډول سيالي د کاملې سيالۍ (perfect competition) په بازار کې لېدل کېږي.

## Competitive Forces

### سياليز ځواکونه

د بازار په چاپېريال کې هغه ځواکونه، چې د مشتريانو ترمنځ د سيالي او د نورو توليدوونکيو سره د سيالۍ له مخې رامنځته کېږي.

## Competitive Market

### سياليز بازار

هغه بازار، چې په لوی شمير عرضه کونکي او تقاضا کونکي د يو بل پر وړاندې د عين توکي او يا خدمت د پلور يا پير په برخه کې سيالي کوي او هېڅ يو يې هم په يوازې توګه په بازار کې د قېمت په ټاکنه باندې د کنترول ترلاسه کولو وړتيا ونه لري.

## Complement in Consumption

### په استهلاک کې تکميلوونکي

يو يا ډېر توکي، چې په استهلاک کې يو د بل تکميلونکي وي او په ګډه د غوښتنو او اړتياو د رفع کېدو لامل وګرځي لکه موټر او تيل.

## Complement in Production
## په تولید کې تکمیلوونکي

دوه یا ډېر توکي، چې د عین وسایلو څخه د ګټه اخېستنې په پایله کې په ګډه تولیدېږي او د یو توکي تولید په اتوماتیک ډول د بل توکي د تولید لامل ګرځي لکه د لرګي څخه د تختې جوړولو په وخت کې د لرګي بور هم تولیدېږي.

## Complement Product
## په تولید کې تکمیلونکی

متمم تولید **(**by-product**)** ته رجوع وکړئ

## Complementary Goods
## تکمیلوونکي توکي

دوه یا ډېر توکي، چې یوه توکي ته په تقاضا کې تغیر بل توکي ته هم په تقاضا کې د تغیر لامل ګرځي یا دا، چې: دوه یا ډېر توکي، چې یو د بل په نه شتون کې نشي استعمالیدی لکه کمپوټر او د کمپیوټر سافټ ویر.

## Compound Interest
## مرکبه ربح

د ربحې له دوه ډولونو څخه یو دی (بل ډول یې ساده ربح (Simple Interest) ده). دا د ربحې هغه ډول دی، چې پر اصلي مبلغ او د نه تادیه شوي ربحې په اندازه باندې په مکرر ډول زیاتېږي یا دا، چې: په اصل مبلغ د ربحې تادیه او پر ربحې بیا هم د ربحې تادیه کولو ته مرکبه ربح ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: د بانک یو مشتري په بانک کې د سلو افغانیو د سپما یو حساب لري، چې بانک ورته ٪۵ ربحه تادیه کوي؛ نو که د ربحې ډول ساده ربحه په ډول وي نو بیا د کال په پای کې ورته ۱۰۵ افغانۍ تادیه کوي خو که د ربحې د تادیې شکل یې مرکبه ربحه وي نو بیا مشتري ته د کال پای کې ۱۲,۱۰۵ افغانۍ تادیه کوي، چې دا اضافي ۱۲,۰ افغانۍ په ربحه باندې د ربحې د تادیې څخه ترلاسه شوي دي.

## Conciliation

### پخلاینه یا روغه

د دوه کاروبارونو او یا شرکتونو ترمنځ د یوې شخړې د حل په موخه د یوې دریمې ناپیلې ډلې مداخلې ته (Conciliation) ویل کېږي، چې ځیني وخت ورته د منځګړیتوب (Medition) اصطلاح هم کارول کېږي. چون دریمه ډله د قانون له لارې د شخړې د حل په موخه نه داخلېږي؛ نو لدې امله یې پرېکړه د شخړې اړخونه د پرېکړې په عملي کولو مکلفې ندي.

## Conditional Sale

### مشروط پلور

مزدوج پلور **(**Tie in Sale**)** ته رجوع وکړئ.

## Confidence Index

### د باور شاخص

دا شاخص په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې د مستهلکینو د ترلاسه شوي رضایت اندازه په ګوته کوي. او یا هم په بل عبارت: د توکو او خدمتونو د استهلاک څخه مستهلکینو د رضایت اندازه څومره ده؟ او معمولاً د یوې سروې په ډول سره ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: په سروې کې لاندې پوښتنې مطرح کېږي:

۱: آیا د مستهلکینو له لوري د تولید استعمال د تېر کال په پرتله سږ کال ښه دی؟
۲: آیا مستهلکین د نورو توکو له پیرودلو سره علاقه لري؟
۳:آیا د نوي تولید څخه مستهلکین رضایت لري؟

او داسې نورو پوښتنو مطرح کول، چې د دې ډول پوښتنو ځوابونه په معیاري ډول سره په پنځو مقداری برخو ویشل کیږي چې عبارت دي له :

۱: بېخي ناراضه ۲: ناراضه ۳: بې توپېره ٤: راضي ٥: ډېر راضي.

## Conglomerate Merger
## کنګلومیریټ ادغام

د کاروبارونو د ادغام له دریو ډولونو څخه یو دی دوه نور ډولونه یې عبارت دي له:

۱: افقي ادغام (horizontal merger)

۲: عمودي ادغام ( vertical merger)

او د ادغام هغه ډول دې چې له مخې په مطلق ډول سره دوه جلا کاروبارونه د یو واحد ملکیت لاندې راځي. د بېلګې په توګه: د لوبو د وسایلو یو تولیدونکی کاروبار د اوبو د تصفیې کاروبار سره یو ځای کېږي او دواړه کاروبارونه تر یو واحد ملکیت لاندې راځي. د ادغام په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د ادغام ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Constant Cost
## ثابت لګښت

ثابت لګښت د توکی تمام شد له هغه لګښت څخه عبارت دی چې د في واحد توکي د تولید په ډېرېدو یا کمیدو پورې تړلی نه وي.

د بېلګې په توګه: د لاسي صنایعو تولیدونکی، چې په انفرادي ډول کار کوي او پدې ډول یې د پیل څخه تر پایه د تمام شد لګښت ثابت وي او د تولید د مقدار په زیاتیدو او کمیدو سره لګښتونه تغیر نه کوی. له زیاتیدونکي/صعودي لګښت (Increasing Cost) او کمیدونکي/نزولي لګښت (decreasing cost) سره یې پرتله کړئ.

## Constant Gross Domestic Product (GDP)
## ثابت نا خالص داخلي تولید

په یو معلوم وخت (معمولاً د یو کال په اوږدو) کې په هېواد کې د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی، چې په ثابتو قیمتونو سره اندازه شوی وي. چې ځینې وخت ورته د واقعي نا خالص داخلي تولید (Real GDP) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Constant Return to Scale

### د مقیاس په نسبت متناسب پیداوار

په اوږد مهال کې د تولید په وسایلو کې په معلومه اندازه ډېروالی، چې د تولید په اندازه کې هم په متناسب ډول سره د ډېروالي سره مل وي. او یا هم په بل عبارت: که د تولید عوامل دوه چنده شي نو په پایله کې د تولید مقدار هم دوه چنده کېږي.

د بېلګې په توګه: یو شرکت په خپلو ټولو تولیدي وسایلو لکه کارګر، پانګه او داسې نورو کې لس سلنه ډېروالی راولي او په پایله کې یې د تولید په اندازه کې هم لس سلنه ډېروالی رامنځته شي. چې دا ډول ډېروالی د مقیاس په نسبت متناسب پیداوار ګڼل کېږي.

د دې اصطلاح نورې بنې عبارت دي له:

۱: د مقیاس په وړاندې زیاتیدونکی/صعودي پیداوار ( Increasing Returen to Scale)
۲: د مقیاس په وړاندې کمیدونکی/نزولي پیداوار (DecreasingReturn to Scale)
د مقیاس په وړاندې د پیداوار په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ

## Consumer Behavior

### د مستهلک سلوک

هغه عمل (سلوک او رویه) چې د مستهلکینو له لوري د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې په موخه معمولاً په بازار کې ترسره کېږي.

دا په دې مانا چې: د دې سلوک د مطالعې په پایله کې معلومیږي چې مستهلکین کوم ډول تولید سره ډېره علاقه لري؟ مستهلکین قېمت ته او که کیفیت ته ترجېح ورکوي؟ او داسې نور، چې په دې توګه تولیدونکو ته د مستهلکینو خوښه منعکس کېږي او تولیدونکي د مستهلکینو د خوښې سره سم توکي او خدمتونه عرضه کوي او د مستهلک سلوک د جزوي اقتصاد او بازار موندنې ډېر اړین موضوعات جوړوي.

## ConsumerConfidence
## د مستهلک باور

هغه شاخص دی چې معمولاً د یو هېواد د اقتصاد په اوسني او راتلونکي حالت باندې د ټولنې (مستهلکینو) د اطمینان څرګندونه کوي. دا په دې مانا چې: که مستهلکین د اقتصاد په اوسني حالت کې خوښ وي او راتلونکي ته خوشبین وي؛ نو اقتصاد معمولاً د رونق په مرحله کې قرار لري؛ خو برعکس که مستهلکین د اقتصاد په اوسني حالت څخه ناراضه وي او په راتلونکي باندې هم اطمینان ونه لري؛ نو اقتصاد د کساد مرحلې په لورې حرکت کوي او د مستهلکینو د اطمینان سنجش معمولاً د یوې سروې په وسیله وخت په وخت ترسره کېږي.

## Consumer Deficit
## د مستهلک کسر

هغه رضایت او تسکین، چې مستهلکین یې د توکو او خدمتونو له استهلاک څخه ترلاسه کوي د هغوی لپاره د تادیه شوي قیمت څخه کم وي. د مستهلک مازاد (Consumer Surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Consumer Equilibrium
## د مستهلک تعادل

هغه حالت چې مستهلک د تادیې په وړاندې اضافه یا کم فرصتي لګښتونه ونلري په دې مانا، چې د یو توکي په پیرودلو باندې لس افغانۍ لګښت راغلی وي نو که دا لس افغانۍ د یو بل توکي په پیرودلو باندې لګښت سره پرتله شي نو که فرصتي ګټورتوب د دواړو توکو مساوي وي؛ نو مستهلک په تعادل کې قرار لري.

دا په دې مانا، چې: کله، چې پېرودونکی اراده ولري، چې په بازار کې یو توکي د بل توکي په وړاندې تبادله کړي؛ نو په حقیقت کې په بازار کې د دوه توکیو د تبادلې وړتیا سره یو شان ده او مستهلک له دواړو څخه عین رضایت ترلاسه کوي.

## ConsumerPriceIndex(CPI)

## د مستهلکینو د قیمت شاخص

د مستهلکینو (معمولاً د ښاري مستهلکینو) له لوري د ورځني استعمال لپاره د پېرودل کیدونکیو توکو او خدمتونو(د یوې بستې یا کڅوړې ) د قیمت د شاخص څخه عبارت دی، چې معمولاً په پرمختللو هېوادونو کې د قیمتونو د کچې او د انفلاسیون کچې د اندازه ګیري په موخه د یوې سروې په ډول تقریباً هره میاشت سنجول کیږي.

## ConsumerSovereignty

## د مستهلک سلطه/ولکه

هغه تصور او آند، چې وایي: مستهلکین د بازار پادشاهان دي دا ځکه، چې په نهایت کې همدا مستهلکین دي، چې د محدوده منابعو څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې د تولید شویو توکو او خدمتونو د استهلاک په اړه پرېکړه کوي او که چېرې مستهلکین د تولیدوونکیو له لوري د تولید شویو توکو او خدمتونو په استهلاک لاس پورې نه کړي؛ نو تولیدونکي نشي کولای چې د توکو او خدمتونو تولید ته ادامه ورکړي او په دې ډول اړ دي، چې د خپلو کاروبارونو دروازې وتړي.

## ConsumerSurplus

## د مستهلک مازاد

هغه حالت ده چې په هغه کې د مستهلکینو رضایت او تسکین، چې هغوی یې د توکو او خدمتونو د استهلاک څخه ترلاسه کوي د هغوی لپاره د تادیه شوي قیمت څخه ډېر وي.

دا په دې مانا، چې: مستهلک، چې د توکو او یا خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره کوم مبلغ تادیه کوي نو د توکو او خدمتونو له استهلاک څخه د هغې په پرتله ډېر رضایت ترلاسه کړي، چې دا د هر مستهلکی خواهش هم وي. یا دا، چې: د یو توکي د پلور د واقعي قیمت او د هغه قیمت ترمنځ توپیر، چې پېرودونکی یې د تادیې اراده او وړتیا ولري. په تخنیکي لحاظ په ګراف کې د تقاضا له منحني لاندې او د قیمت له کرښې پورته ساحې څخه عبارت ده. د مستهلک کسر ( Consumer Deficit**)** سره یې پرتله کړئ.

## Consumers
## لګښتوونکي یا مستهلکین

هغه وګړي، چې د خپلو اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو لپاره د توکو او خدمتونو په استهلاک کې ښکېل وی. او یا هم په بل عبارت: د ټولنې هغه وګړي، چې تولید شوي توکي او خدمتونه په نهایت کې هغوی مصرفوي.

## Consumption
## استهلاک

په عام ډول د اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو له استهلاک او ګټه اخېستنې څخه عبارت دی،او په ملي اقتصاد کې په نا خالص داخلي تولید (GDP) باندې د کورنیو له لوري د لګښت یوه برخه جوړوي.

په نا خالص داخلي تولید باندې د لګښتونو درې نورې برخې عبارت دي له:

۱: د کاروبارونو په وسیله پانګونه (Investment Expenditures)

۲: دولتي لګښتونه (Government Expenditures)

۳: خالص صادرات (Net export)

په ملي اقتصاد کې د ټولیزو لګښتونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو برخو ته هم رجوع وکړئ.

## Consumption Expenditure
## نهایي/استهلاکي لګښت

د لوی/کلي اقتصاد په بحث کې، په نا خالص داخلي تولید (GDP) باندې د کورنیو له لوري ترسره شوي او یا ترسره کېدونکو لګښتونو لپاره یو عامه اصطلاح ده. دغه لګښتونه په دریو ډلو ویشل کېږي Durable، Nondurable او Services .

## Consumption Function(CF)
### د استهلاک تابع

یوه ریاضیکې تابع ده، چې د مستهلکینو د لګښت بڼه توضیح کوي، چې په لومړي ځل د کینز له خوا وړاندې شوه اوسمهال په اقتصاد کې د ټولیز لګښت د سنجش لپاره هم ورځخه ګټه اخیستل کېږي. په دې ریاضیکې تابع کې د کورنیو د عوایدو او د هغوی د لګښتونو ترمنځ مثبته او مستقیمه اړیکه شتون لري. دا په دې مانا، چې: د عاید په زیاتیدو لګښت هم زیاتیږي. په ګراف کې په خپله د تابع منحني (C) د کورنیو لګښت په مانا، $c_0$د مستقل لګښت په مانا، د منحني میل یا ضریب ($C_1$) مستهلکینو له لوري لګښت ته د تمایل اندازه او($Y^d$) لګښت وړ عاید اندازه ښيي.

$$C = c_0 + c_1 Y^d$$

## Consumption Goods
### استهلاکي توکي

هغه توکي، چې د استعمال په پایله کې یې په فوري ډول سره د اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو لپاره تسکین او یا رضایت رامنځته کېږي یا هغه توکي، چې د نهایي استهلاک په موخه تولید شوي وي لکه غوړي، بوره، وړه او داسې نور. له سرمایوي توکو (Capital Goods) سره یې پرتله کړئ.

## Consumption Income Relation
### د استهلاک او عاید اړیکه

د یو اقتصادي واحد (معمولاً کورنیو) د عوایدو او استهلاکي لګښتونو ترمنځ ریاضیکي اړیکې څخه عبارت دی. دا اړیکه دا ښکاره کوي چې: کورنۍ د خپلو عوایدو څومره برخه په استهلاکي لګښتونو مصرفوي؟ او څومره برخه یې د سپما په موخه کاروي؟ چې معمولاً د استهلاک جدول (Consumption Schedule) په مرسته ښودل کېږي.

## Consumption Tax

پرلګښت/استهلاک مالیه

د مستهلکینو له لوري د استهلاکي توکو په پیرودلو باندې تادیه کېدونکې مالیې ته د استهلاک مالیه ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: پر پلور مالیه(Sales Tax) دا په دې مانا، چې: که یوه کېلو غوښه ۲۰۰ افغانۍ قېمت ولري او ۲٪ مالیه تادیه کېږي؛ نو که، چې یو کس یوه کېلو غوښه پیري نو ۲۰٤ افغانۍ تادیه کوي، چې دا ٤ افغانۍ اضافي تادیه د استهلاک له مالیې څخه عبارت دي

## Contagion

سرایت

له یو هېواد څخه بل هېواد ته د اقتصادي ستونزو یا بحران سرایت څخه عبارت دی. یا دا، چې: په یو هېواد کې اقتصادي ستونزې په بل هېواد کې د اقتصادي ستونزو د رامنځته کېدو لامل وګرځي. د بېلګې په توګه: په یونان کې اقتصادي بحران ټولې اروپايي ټولنې ته په غزیدو ټوله اروپائي ټولنه له ستونزو سره مخامخ کړه.

## Contestable Market

د سیالۍ وړ بازار

هغه بازار، چې پکې د تولیدوونکو په چټک ننوتلو او یا وتلو په وړاندې په کمه اندازه خنډونه شتون ولري. په دې مانا، چې: که چېرې د توکي قېمت په توکي باندې ترسره شوي لګښت څخه لوړ وي؛ نو تولیدونکي په آساني سره بازار ته داخلیږي. او که د توکي قېمت په توکي باندې ترسره شوي لګښت څخه کم وي نو تولیدونکي په آساني سره له بازار څخه خارجېږي یعنې دا چې: په عرضه کې کموالی راولي یا بالکل عرضه نه ترسره کوي او په حقیقت کی دغه بازار د سیالۍ لپاره وړ بازار وی.

## Contingency Fund
احتیاطي فنډ

هغه فنډ (مالی منابع) چې د ممکنه ناوړو پیښو پر وړاندې د ګټه اخېستو او جبران په موخه ساتل کېږي.

## Contraction
کساد (انقباض)

کساد د کاروباري دایرې یا دوران له دوه بنسټیزو مرحلو څخه یوه ده (د کاروباري دایرې یا دوران بله مرحله د اقتصادي رونق (Expansion) له مرحلې څخه عبارت دی) او له هغې مرحلې څخه عبارت دی، چې په اقتصاد کې اقتصادي کړنې په یو معلوم وخت کې د کمېدو او د بېکارۍ کچه د لوړېدو په حال کې وي، چې د کاروباري دایرې یا دوران دغه مرحلې ته ځینې وخت د (Recession) مرحله هم ویل کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د کاروباري دایرې یا دوران مرحلو (Business Cycle phases) ته هم رجوع وکړئ.

## Contractionary Fiscal Policy
انقباضي مالي سیاست

د اقتصادي سیاستونو له ډلې یو مهم اقتصادي سیاست ده چې د حکومت له خوا د اقتصادي موخو لپاره په لاره اچول کیږي. انقباضی مالي سیاست په دولتي لګښتونو کې د کموالي یا د مالیې په اندازه کې د ډېروالي او یا هم له دواړو مترادفو لارو داقتصادي ثبات لپاره کارول کیږی ، چې ډېری وخت د کاروبارې دایرې یا دوران د رونق په مرحله کې د هغه ستونزو له منځه وړلو په موخه، چې د انفلاسیون لامل ګرځي په لاره اچول کیږي. له انقباضي پولي سیاست ( Contractionary Monetary Policy) سره یې پرتله کړئ.

## Contractionary Gap
انقباضي خلاء/تشه

هغه تشه یا خلا او یا هم توپیر، چې په اقتصاد کې په لنډه موده کې حقیقي تولید تعادل او د کامل استخدام په مهال د حقیقي تعادلي تولید ترمنځ وجود لري په داسې ډول، چې د لنډ مهال تعادلي تولید

له کامل استخدام تعادلي حقیقي تولید څخه کم وي. چې دا په اقتصاد کې د کساد(**contraction**) مرحلې یوه برخه جوړوي.

## Contractionary Monetary Policy

## انقباضي پولي سیاست

د اقتصادي ثبات د سیاستونو له ډلې هغه مهم سیاست ده چې معمولاً د مرکزي بانک له خوا طرح او تطبیقیږي، چې له مخې یې په اقتصاد کې د پیسو عرضه راکمېږي. او معمولاً عمده موخه یې د کاروبارې دایرې یا دوران د رونق په مرحله کې د هغه ستونزو له منځه وړل وی، چې د انفلاسیون لامل ګرځي. له انقباضي مالي سیاست (**Contractionry Fiscal Policy**) سره یې پرتله کړي.

## Contractionary Policy

## انقباضي سیاست

انقباضي سیاست یوه عمومي اصطلاح ده چې مالي او پولي دواړه اړخه په برکې نیسي. انقباضي سیاست د پولي او مالي پالیسیو ترکیب په بڼه تعریفیږي، چې له مخې یې په دولتي لګښتونو کې د کموالي یا په مالیه کې د ډېروالي (**Contractionary Fiscal Policy**) اویا هم په اقتصاد (جریان) کې د پیسو د عرضې د کموالي (**Contractionary Monetary Policy**) له لارې د ثبات رامنځته کولو په موخه په لاره اچول کیږي، چې دا سیاست د کاروباري دایرې یا دوران (**Business Cycle**) د رونق په مرحله کې د هغه ستونزو له منځه وړلو په موخه، چې د انفلاسیون لامل ګرځي کارول کیږي. او دوه عمده برخې لري چې عبارت دي له:

۱: انقباضي پولی سیاست (Contractionary Monetary Policy)

۲: انقباضي مالي سیاست (Contractionary Fiscal Policy).

د لا ډېرو مالوماتو لپاره د انقباضي سیاست ذکر شوو برخو ته هم رجوع وکړئ.

## Contributive Standard

## د ونډې معیار

د ټولنې ترمنځ د توکو او خدمتونو د تولید څخه ترلاسه شویو عوایدو د وېش له دریو معیارونو څخه یو دی دوه نور معیارونه یې عبارت دي له:

۱: د مساوات معيار (Equality Standard)

۲: د اړتياو معيار (Need Standard)

او د دې معيار له مخې د ټولنې وګړو ترمنځ د توکو او خدمتونو په توليد کې د هڅوی د ونډې اخيستنې له مخې د عوايدو ويش ترسره کېږي. لکه په واقعي نړۍ کې، چې له همدې معيار څخه ګټه اخيستل کېږي.

د بېلګې په توګه: د ښوونځي يو ښوونکی يوازې له سهار څخه تر غرمې پورې د تدريس دنده پرمخ وړي او يو بل ښوونکی له سهاره تر غرمې او بيا له ماسپښين تر ماښام پورې د تدريس دنده پرمخ وړي؛ نو بايد، چې دويم ښوونکي ته د اول ښوونکي په پرتله ډېر معاش ورکړل شي.

## Controlled Economy

## کنترول شوی اقتصاد

هغه اقتصادي نظام يا سيستم، چې په هره برخه کې يې د دولت کنترول يا نظارت شتون ولري. يعنې دا، چې: په اقتصاد کې د هر ډول توکو او خدمتونو توليد د دولت تر نظارت او کنترول لاندې ترسره کېږي.

## Convertible Money

## د تبادلې وړ پيسې

هغه پيسې، چې د يو هېواد په پولي واحد باندې د تبادلې وړ وي او يا هم دا چې: د هېواد پولي واحد په وړاندې تبادله کېدای شي. لکه د افغانيو پر وړاندې ډالر، يورو او نور. له نه بدليدونکو پيسو (Inconvertible Money) سره يې پرتله کړئ.

## Copyright

## د کاپي حق (د تکثير حق )

د دولت له لوري هغه کس يا نهاد ته (چې يو نوښت يې کړی وي او په خپل نوم يو توليد بازار ته وړاندې کړي) د ځو کلونو لپاره د يو انحصاري حق د ورکړې څخه عبارت دی او په دې توګه نور

وګړي او نهادونه يې پرته د حق لرونکي له اجازې د استعمال يا تکثير حق نلري.چې ځينې وخت ورته د امتياز حق (patent) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Core Inflation Rate
## د انفلاسيون بنيادي کچه

په اقتصاد کې د انفلاسيون هغه اوږد مهاله کچه چې معمولاً د غذايي او نفتي موادو د قيمتونو په پام کې نيولو څخه پرته محاسبه کيږي. د غذايي او نفتي موادو قېمت ځکه له دې ډول محاسبې څخه ويستل کيږي چې د دغه توکو قېمت تقريباً هره ورځ تغير خوري او د اوږد مهاله ترېند يا ميلان په شاوخوا کې ډېر انحراف لري.

## Corporate Bond
## د سهامي شرکت بانډ

هغه بانډ چې د سهامي شرکت له لوري د سرمايوي پانګه اچونې (Capital Investment) لپاره د پيسو د ترلاسه کولو په موخه نشرېږي چې د سررسيد وخت يې معمولاً پنځه يا ډېر کلونه په برکې نيسي خو ځينې وخت تر دېرشو کلونو پورې هم نشرېږي او ربحې لوړ اندازه پرې تاديه کېږي چې معمولاً د مالي بازار له لارې يې پير او پلور ترسره کېږي.

## Corporate Income Tax
## د سهامي شرکت پر عايد ماليه

هغه ماليه چې يوازې د سهامي شرکتو له ګټې اخېستل کېږي. په دې توپېر، چې: دا ډول ماليه د نورو کاروبارونو له ګټې نه اخېستل کېږي لکه تضامني شرکت (corporation) او انفرادي کاروبار (proprietorship).

خو په دې ډول ماليه اخېستنه باندې هر وخت دا نيوکه کېږي، چې له سهامي شرکت څخه دوه ځلې ماليه اخېستل کېږي يعنې يو ځل د سهامي شرکت په ګټه او بيا د سهامي شرکت د شريکانو ترمنځ په وېشل شويو عوايدو باندې د ماليې اخېستل. خو د دې ډول ماليې د ورکړې پلويان بيا دا دليل

وړاندې کوي، چې د سهامي شرکت د خپلو پورونو د تادیې په وړاندې محدودالمسئولیت دي نو په دې ډول باید چې دا ډول مالیه ورکړي.

## Corporate Profit Distribution

### د سهامي شرکت د ګټې ویش

د سهامي شرکت ګټه په دریو برخو وېشل کېږي:

- د ګټې یوه برخه د مالیې په توګه دولت ته تادیه کېږي.
- دویمه برخه یې د سهامي شرکت د پانګې د ډېروالي په موخه بېلېږي څو د راتلونکو لګښتونو او پانګه اچونو په موخه وکارول شي.
- دریمه برخه یې د سهامي شرکت د مالکینو ترمنځ د ګټې په توګه وېشل کېږي.

## Corporate Stock

### د سهامي شرکت ونډه

په سهامي شرکت کې د ملکیتونو هغه ونډه چې د شرکت له خوا نشر او د ونډوالو له خوا رانیول کیږي، دا ونډه د سهامي شرکت په شتمنیو کې د قانوني حق دعوه لرونکي وي. دغه ډول ونډې معمولاً په دوه عمده ډولونو ویشل کیږي، چې عبارت دي له:

۱: عادي یا عامه ونده (Common Stock)

۲: ترجیحي یا امتیازي ونډه (Preffer Stock)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Corporation

### سهامی شرکت

د ملکیت له مخې دا د کاروبارونو له دریو ډولونو څخه یو دی دوه نور ډولونه عبارت دي له:

۱: تضامني شرکت (Partnership)

۲:انفرادي کاروبار (Sole Proprietorship)

سهامي شرکت د ملکیتونو د ونډو له مخې رامنځته شوی وي او د مالکینو څخه جلا یو حکمي یا حقوقي کسیت ګڼل کېږي په دې مانا، چې په دې ډول کاروبار کې ونډه لرونکي د کاروبار د پورونو پر وړاندې په شخصي ډول مسئول ندي او د پورونو د تادیې په وړاندې په کاروبار کې د خپلې ونډې په اندازه مسئولیت په غاړه لري او بس.

د بېلګې په توګه: که د یو سهامي شرکت ټوله شتمني سل میلیارده افغانۍ وګڼو او ټول پورونه یې یو سل او لس میلیارده افغانۍ ته ورسېږي نو د سهامي شرکت ونډه وال د سل میلیارد افغانیو پورونو د تادیې مسئول دی او د پاتې لس میلیارده افغانیو د تادیې مسئولیت په غاړه نلري. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د کاروبار قانوني بڼو **(**Legal Types**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Correlation
## همبستګي یا خپلمنځي تړاو

په عام ډول هغه حالت چې یکې دوه او یا ډېرې پېښې تقریباً په عین وخت کې رامنځته شوي وي په احصاییه کې د دوه متحولینو د یو ځای وقوع او د هغوی د خپل منځي اړیکې په مانا دی. له علت او معلول (Causation**)** سره یې پرتله کړئ.

## Cost
## لګښت

په عام ډول هغه مقدار تادیې ته وایي چې د یو توکي/شي د ترلاسه کولو په وړاندې تادیه کیږي. خو په اقتصاد کې معمولاً د ټولو هڅو، مادي وسایلو، وخت ، منابعو او له لاسه تللو فرصتونو مالي ارزښت ده چې د یو توکي یا خدمت د تولید او عرضې لپاره په کار اچول کیږي.

## Cost Minimization
## د لګښت اصغري کول

د یو توکي په تولید باندې د امکان تر بریده د لګښت د راکمولو له پروسې څخه عبارت دی. چې د ضایعاتو، مزد او معاش او داسې نورو لګښتونو د راکمولو له لارې ترسره کېږي.

## Cost of Capital

### د پانګې لګښت

د يو کاروبار له لوري د پانګې مالک ته د پانګې د قيمت تاديې څخه عبارت دی، چې د پانګې څخه د ګټې اخيستنې په وړاندې تاديه کېږي.

## Cost of Living

### د ژوندانه لګښت

د پيسو او يا عوايدو هغه اندازه، چې د ژوند د غوښتل شوي معيار يا د ژوند لپاره د اړينو توکو او خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره بېله شوي وي. او معمولاً د مستهلک د قيمت شاخص (Consumer Price Index) په مرسته مشخص کېږي.

## Counter Cyclical Policy

### د نوسان ضد (استقرار) پاليسی

د دولت هغه سياست، چې په کاروباري دوران يا دايرې کې د نوساناتو د خنثی کولو او د وزګارتيا او انفلاسيون د کچې د لوړوالي څخه د مخنيوي په موخه جوړېږي ترڅو په اقتصاد کې توليدي کړنې ډېرې شي. چې د استقرار سياست (Stabilization Policy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Coupon Rate

### د کوپون نرخ

په مالي شتمنيو (معمولاً د ثابت عايد لرونکو مالی شتمنيو لکه بانډ) باندې له هغه کلني باز پرداخت څخه عبارت دی، چې د هغې د ارزښت د سلنې له مخې تاديه کېږي.

د بېلګې په توګه: يو بانډ، چې سل زره افغانۍ قيمت ولري د کلني باز پرداخت اندازه يې پنځه زره افغانۍ وي؛ نو د کوپون نرخ (Coupen Rate) يې له ۵٪ څخه عبارت دی.

## CPI for Urban Wage(CPI-W)

## د ښاري مزد لپاره د مستهلکینو قېمت شاخص

هغه شاخص، چې په مرسته يې د ښاري اوسېدونکو کارګرانو په وسيله ورځنی ترلاسه شوی مزد او د دفتري کارکوونکو له لوري ترلاسه شوی معاش، چې د توکو او خدمتونو په پیرودلو باندې مصرفېږي سنجول کېږي. چې دا اندازه ګېري معمولاً هره میاشت ترسره کېږي او نشرېږي چې په پرمختللو هېوادونو کې معمولاُ د کارګرانو د ټولنو له لوري نشرېږي.

## CPI Index and GDP Price Deplator

## د مستهلکینو د قيمت شاخص او د جي ډي پي ديفليټور

په اقتصاد کې د انفلاسيون د کچې او د قيمتونو د سطحې د سنجش دوه متبادلې طريقې دي، چې CPIمعمولاً میاشتنی راپور په شکل ترسره کېږي او GDP Price Deplator د قيمتونو پراخه سنجش په برکې نيسي، چې په کلني ډول وړاندې کېږي. يعنې په يوه اقتصادي دوره (تېر کال ، میاشتنی، ربعوار، او يا کلني ډول سره) کې د قيمتونو په منځنۍ کچه کې تغير او د انفلاسيون کچه څومره ده؟.

## Craft Union

## صنفي ټولنه

د کارګرانو هغه ټولنه، چې په يو صنعت کې يو شان دندو لرونکو له لوري رامنځته شوي وي که څه هم د يو کاروبار يا د يو شرکت کارکونکي نه وي او موخه يې د ټولنې د غړو د هر اړخيزه ګټو تامينول او ساتل دي.

د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د صنعت کارانو يا د سوداګرو ښځو ټولنه. چې ځينې وخت ورته سوداګريزې ټولنې (Trade Union) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Credit

## اعتبار یا پور

د توکو، خدمتونو، پیسو او یا هر بل ارزښت په تبادله کې د راتلونکې تادیې د وعدې څخه عبارت دی، چې ښې بېلګې یې کریډټ کارت، بانډ، دولتي تضمینات او داسې نور دي. همدا راز د مضاعفې محاسبې په اصطلاح کې: د یوې سوداګریزې معاملې ثبت لپاره چې دوه اړخونه ټاکل کیږي د حساب ښي لوري هم د کریډیټ په نوم یادیږي. له ډبیټ (Debit) سره یې پرتله کړئ.

## Credit Card

## کریډېټ کارډ

د تاپاتو د سیستم د یوې برخې په ډول د تادیې یوه وسیله ده، چې د بانکونو او کریډیتي ټولنو له خوا نشریږي. د کارت لرونکی کولی شي چې په مرسته یې ورځني معاملات او پیرودنه ترسره کړي په دې شرط، چې د کارت له نشرونکو سره فعال حساب ولري او له هغه چا څخه چې د توکو او یا خدمتونو پیرودنه کوي هغه ته هم دغه ډول تادیه دمنلو وړ وي.  کریډېټ کارډ د الکترونیکي ځانګړتیاو لرونکی هغه کارډ دی چې د یو بانک او یا هم د یوې با اعتباره پولي بنسټ له لوري صادر شوی وي او پلورونکي ته یې ددې امکان ورکوي څو د توکو او خدمتونو د نقده پیر پر ځای ددې کارډ په کارولو پیرودنه ترسره کړي.

## Credit Crunch

## کریډېټ کرنچ

د کرېډېټ په نشرولو او یا د پورپه ورکولو باندې د هېواد په کچه د دولت له لوري د بانکونو په وړتیا کې کموالی راوستلو ته (Credit Crunch) ویل کېږي. دا په دې مانا، چې: د سوداګریزو بانکونو له لوري د پور ورکړې په وړاندې د دولت له خوا د قوانینو او مقرراتو سختول څو په اقتصاد کې د انفلاسیون ستونزه راکمه او یا یې هم مخنیوی وشي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره انقباضي پولي سیاست (Contractionary Monetrary Policy) ته هم رجوع وکړئ.

## Credit Union
### د کرېډېټ ټولنه

د سپما هغه غیر انتفاعي بنسټ څخه عبارت دی، چې ځانګړي ډلې لکه د شرکت او یا کاروبار کارکوونکو ته په کمه ربحه ځینې بانکي خدمتونه (لکه د پور ورکول) وړاندې کوي.

## Creditor
### داین

هغه کس، هېواد یا کاروبار چې بل کس، هېواد یا کاروبار ته یې پور ورکړی وي او په راتلونکي کې ورته تادیه کېږي داین بلل کیږي. له مدیون (debtor) سره یې پرتله کړئ.

## Creditor Nation
### داین هیواد

په عام ډول پور ورکوونکي هیواد ته داین هېواد ویل کېږي. همدا راز هغه هېواد، چې د پور اندازه یې بهرنیو هېوادونو ته نظر د بهرنیانو له لوري نوموړي هېواد ته کمه وي داین هیواد بلل کېږي. او یا هم په بل عبارت: هېواد د نورو هیوادونو، کاروبارونو او مصرفونکو په وړاندې کم پوروړی وي او داسې نور هېوادونه، کاروبارونه او مصرفونکي یې ډېر پوروړي وي.

د بېلګې په ډول: که په ۱۳۹٤ کال کې افغانستان په نورو هېوادونو، کاروبارونو او مصرفونکو باندې دوه میلیارده افغانۍ پور ورلري او په افغانستان باندې د نورو هېوادونو، کاروبارونو او مصرفونکو د پور اندازه د دوه میلیارده افغانیو څخه کمه وي نو په ۱۳۹٤ کال کې افغانستان یو داین هېواد (Creditor Nation) دی. له مدیون هېواد (Debitor Nation) سره یې پرتله کړئ.

## Cross Elasticity of Demand
### د تقاضا متقاطع ارتجاعیت

د دوه یا څو توکو د تقاضا ترمنځ هغه تړلی عکس العمل لپاره یو اندازه ګیري ده، چې د یو توکي په قېمت کې تغیر په نسبي ډول د بل توکي په تقاضا کې د تغیر لامل وګرځي.

او یا په بل عبارت: د یو توکي په قیمت کې تغیر، چې د یو بل توکي په تقاضا کې د نسبي تغیر لامل وګرځي د متقاطع ارتجاعیت په مټ ښودل کیږي.

د بېلګې په توګه: که د اوړو قیمت لوړ شي؛ نو د وریږو په تقاضا کې په نسبي ډول سره ډېروالی رامنځته کېږي.، چې ځینې وخت ورته د تقاضا د قیمت متقاطع ارتجاعیت ( Cross-Price) Elasticity of Demand اصطلاح هم کارول کېږي. د ارتجاعیت په اړه لا ډېرو مالاماتو لپاره ارتجاعیت (elasticity) ته هم رجوع وکړئ.

## Crowding Out

ناهیلي کول (د تراکم سیاست)

د دولت هغه کړنې، چې په اقتصاد کې تولیدونکي ناهیلي کوي یا دا، چې د خصوصي سکتور د ځینو اقتصادي فعالیتونو د کموالي لامل ګرځي لکه: په پانګونه کې کموالی، چې یو مورد یې د دولت له خوا په پراخه کچه له بازار څخه د پور اخیستل دی او په دې توګه د سود کچه لوړېږي، چې لدې امله کاروبارونو له لوري په سرمایوي توکو کې د پانګونې مخه نیول کېږي. همدا راز ځینې وخت دولت داسې توکي یا خدمتونه تولنې ته وړاندې کړي چې هغه په حقیقت کې د خصوصي کاروبارونو لپاره یو ګټور فرصت ګڼل کیدای شي.

## Currency

کرنسي یا پولي واحد

په محدوده مانا: قانوني پیسو ته ویل کېږي؛ خو په علمي اصطلاح کې: هغه شتمني، چې د تبادلې وسیلې په توګه په عمومي ډول سره منل شوي وي کرنسي ګڼل کیږي، چې معمولاً بهرنۍ پیسې په برکې نیسي.

یا دا، چې:هغه کاغذي سند، چې د دولت د یو با صلاحیته بنسټ له لوري د پیسو په نوم نشرېږي او په هېواد کې د پیسو دنده ترسره کوي لکه په افغانستان کې افغانۍ، چې د افغانستان بانک له لوري نشریږي او سکې یې هم یوه برخه جوړوي. نوموړې اصطلاح ځینې وخت یوازې د بهرنیو پیسو په وړاندې کارول کېږي.

## Currency Appreciation
## د پولي واحد د ارزښت زياتيدنه

د نورو هېوادونو د پولي واحدونو په وړاندې د يو هېواد د پولي واحد ارزښت زياتيدلو ته **(**Currency appreciation**)** ويل کېږي او يا هم دا چې: د هېواد په پولي واحد کې د توکو او خدمتونو د پير په ځواک او وړتيا کې رياتوالي ته د کرنسۍ د ارزښت زياتيدل ويل کېږي.

د بېلګې په توګه: د يو هېواد د اقتصادي ودې چټک زياتوالی له امله د پولي واحد په ارزښت کې هم لوړوالی رامنځته کېږي. خو د کرنسۍ د ارزښت زياتيدل معمولاً په قصدي ډول ترسره کېږي. د پولي واحد د ارزښت تنزيل **(**Currency depreciation**)** سره يې پرتله کړئ.

## Currency Board
## کرنسی بورډ

هغه مديره هيت يا مالي چارواکي چې دنده يې د يو هېواد پولي ارزښت د نورو هېوادونو د پيسو د تبادلې کچې په وړاندې ثابت ساتل دي لکه د تبادلې ثابته کچه رامنځته کول.

## Currency Depreciation
## د کرنسي د ارزښت تنزيل

د هېواد په پولي واحد کې د توکو او خدمتونو د پيرودول په وړتيا کې کموالی ته د کرنسۍ د ارزښت تنزيل (Currency Depreciation) ويل کېږي، همدا راز د نورو هېوادونو د پيسو په وړاندې د هېواد د پولي واحد ارزښت کميدلو ته هم نوموړې اصطلاح کارول کېږي. دا اصطلاح تر ډېره په نړيوال اقتصاد کې د پيسو د تبادلې د نرخ او د صادراتو د هڅونې د پاليسيو په بحثونو کې هم کارول کيږی. او معمولاً په قصدي ډول ترسره کېږي چې ښه بېلګه يې د چين هېواد دي چې معمولاً دا ډول پاليسي پرمخ وړي. د کرنسۍ د ارزښت زياتيدنې **(**Currency appreciation**)** سره يې پرتله کړئ.

## Currency Peg

### د پولي واحدثابت ساتنه

د دولت هغه سیاست، چې له مخې یې د هېواد پولي واحد د نورو هېوادونو د پیسو په وړاندې په ثابت کچه تبادله کېږي.

## Current Account

### جاري حساب

په لوی اقتصاد کې د تادیاتو د بېلانس د دوه برخو څخه یوه ده (بله برخه یې د پانګې حساب (Capital Account) دی)، چې په یو معلوم وخت (معمولاً په یو مالي کال) کې د نورو هېوادونو سره د یو هېواد ټولې سوداګریزې راکړې ورکړې (د توکو او خدمتونو صادرات او واردات) پکې ثبتېږي. جاري حساب د توکو او خدمتونو لپاره بېل شوی دی، چې د خدمتونو برخې ته یې د خدمتونو بېلانس (Balance of Service) او د توکو برخې ته یې د سوداګرۍ بېلانس (Balance of Trade) ویل کېږي. همدا راز په بانکوالي کې جاري حساب د بانکونو د حسابونو یو ډول دی، او له هغه حساب څخه عبارت دی، چې د حساب مشتري هر وخت کولای شي، چې پیسې په خپل حساب کې اضافه یا له خپل حساب څخه وباسي په دې حساب باندې د بانک له لوري معمولاً ربحه نه تادیه کېږي. د بانکي حسابونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره حساب (Account) ته هم رجوع وکړئ.

## Current Account Deficit

### د جاري حساب کسر

د یو هېواد د تادیاتو د بېلانس د جاري حساب هغه حالت، چې په یو معلوم وخت (معمولاً په یو مالي کال) کې د هېواد د توکو او خدمتونو د صادراتو ارزښت د نوموړي هېواد توکو او خدمتونو د وارداتو د ارزښت په پرتله کم وي.او یا هم په بله ژبه: د هېواد د وارداتو په وړاندې تادیات د صادراتو په وړاندې رسیداتو څخه ډېر وي.دا کسر د هېواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب د ټولو اقلامو (سوداګري ، پانګونه ، مرستې...) په مورد کې صدق کوي چې په پایله کې یې داخل ته د رسیداتو په پرتله بهر ته تادیات ډېر وي. د جاري حساب مازاد (Current Accout Surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Current Accout Surplus

### د جاري حساب مازاد

د یو هېواد د تادیاتو د بېلانس د جاري حساب هغه حالت، چې په یو معلوم وخت (معمولاً یو مالي کال) کې د هېواد د توکو او خدمتونو د صادراتو ارزښت د نوموړي هېواد توکو او خدمتونو د وارداتو د ارزښت په پرتله ډېر وي. او یا هم په بله ژبه: د هېواد د وارداتو په وړاندې تادیات د صادراتو په وړاندې د رسیداتو څخه کم وي. دا مازاد د هېواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب د ټولو اقلامو (سوداګري ، پانګونه ، مرستې...) په مورد کې صدق کوي چې په پایله کې بهر ته د تادیاتو په پرتله داخل ته رسیدات ډېر وي. د جاري حساب کسر (Current Accout Deficit) سره یې پرتله کړئ.

## Current Assets

### متغیرې شتمنۍ

معمولاُ په محاسبه کې استعمالیدونکې اصطلاح ده. او هغه شتمنیوته وایې چې د یو کال په دننه کې ترې ګټه اخېستل کېږي او بڼه یې تغیر کوي لکه خام مواد، پیسې او داسې نور. له ثابتو شتمنیو (Fixed Asset) سره یې پرتله کړئ.

## Current Gross Domestic Product(GDP)

### جاري ناخالصه داخلي تولید

په یو معلوم وخت (معمولاً یو کال) کې په هېواد کې په اوسنیو قیمتونو د نهایي تولید شویو توکو او خدمتونو پولي ارزښت څخه عبارت دی چې په جاري قېمتونو ښودل شوي او محاسبه شوی وی. چې اسمي ناخالص داخلي تولید (Nominal Gorss Domestic Produt) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له واقعي ناخالص داخلي تولید (Real GDP) سره یې پرتله کړئ.

## Current liability

### جاري/لنډ مهاله پور

د محاسبې په برخه کې: هغه پورونه، چې باید د یو کال په اوږدو کې تصفیه شي. یا دا، چې: هغه پورونه، چې د تصفیې وخت یې د یو کال نه ډېر نه وي جاري یا لنډ مهاله پور ګڼل کیږي.

## Current Yield
## جاري حاصل

د اصلي پانګې د سلنې له مخې د يوې پانګونې (معمولاً سرمايوي پانګونې ) د کلني حاصل څخه عبارت دی چې د بازار په اوسنی بيه ښودل کېږي. د بېلګې په توګه: که د يوې پانګونې لګښت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او کلني حاصل يې ۲۰۰۰۰ افغانۍ وي نو جاري حاصل (current yield) يې ٪۲۰ څخه عبارت دی.

## Custom Duty
## ګمرکي محصول

هغه ګمرکي محصول، چې پر هغو توکو اخېستل کېږي، چې له يوې سياسي حوزې يا هېواد څخه بلې سياسي حوزې يا هېواد ته لېږدول کېږي، ځينې وخت ورته يوازې د (custom) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Custom House
## ګمرک

ګمرک يا هغه ځای چې پکې پر وارداتو باندې (ندرتاً په ځينو صادراتو باندې هم) د قانون له مخې ګمرکي محصول اخېستل کېږي. په افغانستان کې ګمرک د ماليې وزارت اړونده څانګه ده چې د وارداتو او صادراتو د تعرفو عوايد تنظيموی.

## Custom Union
## ګمرکي ټولنه

د دوه يا ډېرو هېوادونو ترمنځ له هغه هوکړه ليک څخه عبارت دی، چې له مخې يې د نوموړو هېوادونو ترمنځ تر ډېره حده سوداګريز خنډونه له منځه ځي او له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ عام سياست پرمخ وړي که څه هم، چې د نوموړو هېوادونو ترمنځ د منابعو ازادانه حرکتته اجازه نه ورکوي لکه د آزادې سوداګرۍ ساحه.(Free Trade Area) ‌ ګډ بازار (Common Market)، اقتصادي ټولنې (Economic Union) او د آزادې سوداګرۍ ساحې (Free Trade Area) سره يې پرتله کړئ.

## Cutthroatcompetition

## وژونکې سيالي

د عرضه کوونکو ترمنځ هغه سيالي، چې موخه يې د مقابل لوري له منځه وړل يا له ماتي سره مخ کول وي؛ خو په پايله کې يې سيال لوري له ډېرو زيانونو سره مخ کېږي. او يا هم په بل عبارت: د دې ډول سيالي په پايله کې بنکيل اړخونه د ډېرو زيانونو او تاوانونو سره مخ کېږي.

# D

## Data (datum)

ډاټا

هغه ترلاسه شوي لومړني مالومات، چې پروسس شوي نه وي ډاټا ګڼل کيږی. دا په دې مانا، چې: د تجزيې، څېړنه او داسې نورې پروسې پرې نه وي ترسره شوي.

او يا هم دا، چې: هغه عناصر او حقايق، چې د اقتصادي موضوعاتو په څېړنه کې ترې ګټه اخېستل کېږي او له مخې يې نور عناصر اندازه کېږي. چې ځينې وخت ورته د خامو مالوماتو(چې لا ترې استفاده نه وي شوې او د استفادې لپاره چمتو هم نه وې ) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Defacto

بالفعل يا عملاُ

هغه شرکت يا کاروبارته وايي چې قانوني جواز يې نه وي ترلاسه کړي خو عملاُ يا بالفعل خپل کاروبار ته ادامه ورکوي

## Dead Weight Cost/Loss

له منځه تللی مؤثريت/سوکالي

هغه اقتصادي عدم مؤثريت چې په بازار کې د عرضې او تقاضا د تغيراتو يا نورو مداخلو په پايله کې رامنځته کيږي او اړونده ټولنې ته يې په ټوليز ډول اقتصادي زيان ورسيږي.

او يا هم په بل عبارت: کله، چې د بازار په جوړښت کې تغير رامنځته کېږي؛ نو د بازار د نوو شرايطو له مخې له بازار څخه د مشتريانو او توليدونکو دواړو د ټولې سوکالی او يا هم مازاد اندازه ( Total Welfare/Surplus کې توپير رامنځته کېږي نو که وروستی جوړښت په ټوليز ډول له پخواني څخه کمه سوکالي يا رفاه رامنځته کړي نو له منځه تللې رفاه يا سوکالي (Dead weight cost/loss) ګڼل کېږي.

## Dear Money

## ګراني پيسې

دا اصطلاح په اقتصاد کې هغه حالت افاده کوي، چې: کله، چې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قيمتونو عمومي سطح را ښکته شي؛ نو په دې حالت کې د پخوا په پرتله په کمو پيسو ډېر توکي او خدمتونه ترلاسه کېدای شي نو په دې توګه ويل کېږي، چې پيسې ګرانې شوي دي.

او يا هم په ژبه: د توکو او خدمتونو په پرتله د پيسو ارزښت ډېر شوی دی.په ځانګړي ډول دا اصطلاح د کاروبار په برخه کې هغه مهال استعمالیږی چی کله د کاروبار لپاره د تمويل او د پيسو ترلاسه کول د لوړې ربحی له امله ډېر ګران او ستونزمن وی. له آرزانه پيسو **(cheap money)** سره يې پرتله کړئ.

## Death Rate

## د مړينې کچه

د هېواد د نفوسو په هرو زرو نفرو کې د هغو وګړو اندازه، چې په يو کال کې مري. او يا هم په بل عبارت: هر کال د هېواد د نفوسو په هرو زرو نفرو کې څو وګړي مري؟، چې په ۲۰۰٦ ميلادي کال کې دا کچه په افغانستان کې ۲۰/۱۰۰۰ ښودل شوی په دې مانا، چې په هرو زرو نفرو کې شل کسان هر کال مري. د زېږون کچې **(Birth Rate)** سره يې پرتله کړئ.

## Debenture

## د پور پاڼې

هغه اعتباري پاڼې چې د شرکت د يوې ځانګړې شتمنۍ او يا هم د شرکت د ټولې شتمنۍ په وسيله تضمين شوې وي او د هغې په وسيله شرکت خپل کاروبار تمويلوی.

## Debit

## ډبيټ

د مضاعفې محاسبې په اصطلاح کې: د اړونده حساب په چپ لوري کې د يوې معاملې ثبت ته ډبټ ويل کېږي له کريډټ **(credit)** سره يې پرتله کړئ.

## Debit Card
## ډبیټ کارډ

له هغه کارډ او یا هم انلاین صلاحیت ده ، چې د کارډ لرونکی یې په وسیله خپل حساب کتنې او تعقیبولو ته لاسرسی لرلی شي. د دې کارت په وسیله پېرودونکی یوائی په حساب کې د شته شتمنۍ په اندازه معاملات ترسره کولی شی او له هغه پورته معاملاتو ته بانک یا بله مالی اداره پور نه ورکوی.

## Debitor Nation
## مدیون هیواد

هغه هېواد، چې بهرنیو هېوادونو ته نظر د بهرنیانو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر پوروړی وي. او یا هم په به بل عبارت: هېواد د نورو هیوادونو، کاروبارونو او مستهلکینو په وړاندې ډېر پوروړی وي او مقابل هېوادونه، کاروبارونه او مستهلکین یې کم پوروړی وي.

د بېلګې په ډوګه: که په ۱۳۹٤ کال کې افغانستان په نورو هېوادونو، کاروبارونو او مستهلکینو باندې دوه میلیارده افغانۍ پور ورلري او په افغانستان باندې د نورو هېوادونو کاروبارونو او مستهلکینو د پور اندازه د دوه میلیارده افغانیو څخه ډېره وي نو په ۱۳۹٤ کال کې افغانستان یو مدیون هېواد (Debitor Nation) ګڼل کېږي. له داین هېواد (Creditor Nation) سره یې پرتله کړئ.

## Debt
## پور یا قرض

هر هغه شی چې د ارزښت په اندازه یې یو کس یا بنسټ یې د بل کس یا بنسټ په وړاندې مدیون وي، چې دا پور کېدای شي، چې پیسې یا هم توکي وي. او یا هم دا چې: هغه پیسې، چې دولت، شرکتونه یا حقیقي او حقوقي وکړي یې د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو په خاطر په پور اخلي او په وړاندې یې سود تادیه کوي.

## Debt for Givness

### د پور بخښنه

ټول پور یا د پور ټاکلې برخه، چې د مختلفو دلایلو له مخې بخښل کېږي، چې معمولاً د هېوادونو ترمنځ د پور بخښل ډېر رایج دي.

## Debtor

### مدیون

هغه کس، هېواد یا کاروبار، چې له بل کس، هېواد یا کاروبار څخه پیسې د پور په توګه ترلاسه کړې وي او په راتلونکي کې یې تادیه کوي د مدیون په نامه یادېږي. له داین **(creditor)** سره یې پرتله کړئ.

## Deceased Account

### د مړ شوي شخص/راکد حساب

هغه بانکي حساب چې لرونکی یې مړ شوی وي او بانک یې د قانوني ورثه تر ټاکلو پورې تړي.

## Decentralization

### غیر مرکزیتوب

په مدیریت کې غیر مرکزي اداري جوړښت ته وایي او یا هم هغه اداري جوړښت چې د اداري اړونده واحدونو ته د امورو د ترسره کولو مسئولیت او صلاحیت سپارل شوی وی غیر متمرکز اداري سیستم بلل کېږي. له مرکزیتوب **(Centralization)** سره یې پرتله کړئ.

## Decession Making Process

### د پرېکړې کولو پروسه

د پرېکړې کولو پروسه تر ډېره یوه مدیریتي او سیکالوژیکي اصطلاح ده. خو په اقتصاد کې دا پروسه د پرېکړې کولو هغه پنځه مرحلې په برکې نیسي، چې له مخې یې مصرفونکي د توکو او خدمتونو د پیرودلو پرېکړه کوي، چې دا پنځه مرحلې عبارت دي له:

- د ستونزې پېژندنه: په دې مانا، چې د کومې اړتیا او غوښتنې د رفع کولو لپاره د توکي او یا خدمتونه پیرودل کېږي.
- په ممکنه ډول سره د مالوماتو جمع کول: په دې مانا، چې د غوښتنې او یا اړتیا د رفع کولو لپاره په بازار کې کوم ډول توکي او خدمتونه، په کوم کیفیت او قیمت سره شتون لري؟.
- د متبادلې لارې او وسیلې ټاکل ( که چیرې شتون ولري): که چیرې د یوې غوښتنې او یا اړتیا د رفع کولو لپاره متبادله وسیله شتون ولري نو د هغې وسیلې ټاکل چې ارزانه او د ښه کیفیت لرونکې وي.
- پرېکړه کول ( د توکو او خدمتونو د پیرودلو).
- د توکو او خدمتونو پیرودل.

## Decline Stage
## د نزول مرحله

د تولید د ژوند دوران (product live cycle) د څلورو مرحلو څخه وروستۍ مرحله ده، چې پدې مرحله کې په پلور او ګټه کې قوي کموالی رامنځته کېږی، او دا مرحله ځیني وخت لږ وخت او ځیني وخت ډېر وخت حتی کلونه کلونه په برکې نیسي او ځیني وخت کیدای شي چې نوموړی تولید د تل لپاره له ماتې سره مخ شي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تولید د ژوند دوران (Product Life Cycle) ته رجوع وکړئ.

## Decreasing Cost
## کمیدونکی لګښت

هغه تولیدی پروسه چی د تولید په زیاتوالی سره یې د فی واحد لګښت کمیدونکی وی او لا کمیږی. او یا هم د ټولیز تولید په ډېروالي د في واحد تولید د تمام شد په لګښت کې کموالي ته نزولي لګښت ویل کېږي، چې د متناقص تمام شد لګښت اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له زیاتیدونکي لګښت (Increasing Cost) او ثابت لګښت (Constant Cost) سره یې پرتله کړئ.

## Decreasing Marginal Return

کمیدونکی/نزولي نهایي حاصل (بهره)

په لنډ یا اوږده مهال کې د تولید د متغیره عواملو (معمولاً کارګره قوې) د هر واحد په ډېروالي سره د نوموړي متغیره عامل له نهایي یا وروستي واحد څخه ترلاسه کیدونکي تولید کي کموالي راتللو ته کمیدونکی نهایي حاصل (Decreasing Marginal Return) ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: لس کارګران په یوه تولید کې برخه اخلي او په یوه معلوم وخت کې پنځوس واحده توکي تولیدوي چې په دې توګه هر کارګر په منځني توګه پنځه واحده توکي تولیدوي، یا دا چې د هر کارګر نهایي تولید اندازه پنځه واحده دی خو اوس که چېرې د کارګرانو شمېر له لسو څخه یوولسو ته لوړ شي او د تولید اندازه د پنځوسو څخه دوه پنځوسو ته لوړه شي نو د اضافي کارګر په استخدام سره یوازي دوه واحده توکي تولید ډېر شوی دی دا په دې مانا، چې د یوولسم کارګر په استخدام سره د نوموړي په نهاي تولید کې کموال رامنځته شوی دی. له زیاتیدونکي نهایی حاصل (Increasing Marginal Return) سره یې پرتله کړئ.

## Decreasing Return to Scale

د مقدار په وړاندې کمیدونکی/نزولي حاصل

کله چې په اوږد مهال کې د یو کاروبار له لوري د تولید په عواملو کې ډېروالی راشي خو د تولید د عواملو د ډېروالي په تناسب د تولید په اندازه کې کم ډېروالی رامنځته شي نو نوموړې تولیدي پروسه د مقدار په وړاندې کمیدونکي حاصل ځانګړتیا لري.

د بېلګې په توګه: یو کاروبار خپل تولیدي عوامل لس سلنه ډېروي، چې په پایله کې یې د تولید په اندازه کې د لس سلنې څخه کم یعني نهه سلنه یا لدې څخه کم ډېروالی راشي. د مقدار په وړاندې زیاتیدونکي حاصل (Increasing Return to Scale) او د مقدار په وړاندې ثابت حاصل (Constant Returen to Scale) سره یې پرتله کړئ.

## Deed
قباله

قباله یا د ملکیت د لېږد سند له هغه قانوني تحریري سند څخه عبارت دی چې د غیر منقول ملکیت د لیږد هوکړه په برکې نیسي او دا ډول سند لاسلیک شوی، مهر شوی وي او د ملکیت پیرودونکي ته تسلیمېږي.

## Default
پاتې راتلل

د شرایطو سره سم د وګړي، دولت یا شرکتونو د پور په تادیه کې پاتې راتللو ته Default ویل کېږي.

## Default Risk
د پاتې راتللو خطر

د احتمالي خطر هغه حالت چې وایي: پور ترلاسه کونکی کېدای شي چې له هوکړه لیک سره سم ټول مبلغ او یا د ربحې یا د دوارو د بېرته تادیې توان او وړتیا ونه لري.

## Deferred Debt
موجل پور

هغه پور چې د شرکت د انحلال په وخت کې د نورو پورونو له تصفیې څخه وروسته تصفیه کېږي.

## Deferred Demand
موجله تقاضا

هغه تقاضا، چې د توکو او خدمتونو د کمښت له امله په تعویق اچول کېږي.

## Deferred Income
موجل عواید

نه ترلاسه شوي عاید (Unearned income) ته رجوع وکړئ.

## Deferred Tax
## موجله مالیه

هغه مالیه چې رامنځته شوي وي خو لا تر اوسه نه وي تادیه شوي. او یا هم هغه مالیه چې په راتلونکي کې تادیه کېږي.

## Deficit
## کسر

په بېلابېلو اقتصادي مباحثو کی د بیلانس خلاف حالت دی چی منفی حالت څرګندوی لکه د بودجې کسر، د سوداګرۍ بېلانس کسر یا د تادیاتو بېلانس کسر. له مازاد (surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Deflation
## ډیفلاسیون

په هېواد کې په عمومي ډول د قیمتونو په منځنۍ کچه کې په دوامداره ډول سره کموالی او د پیسو په ارزښت کې ډېروالي ته ډیفلاسیون ویل کېږي. له انفلاسیون (inflation) سره یې پرتله کړئ.

## Defunct Company
## منحل شوی شرکت

هغه شرکت یا کمپنۍ چې فعالیتونه یې درول شوي وي او د منحل شوي شرکت په توګه اعلان شوی وي.

## Degressive Taxation
## نزولي یا کمیدونکي مالیه

د مالیې د وضع کولو هغه ډول چې له مخې یې د عوایدو په ډېرېدو په مالیه کې هم لوړوالی رامنځته کېږي خو په مالیه کې لوړوالی په عوایدو کې د ډېروالي په پرتله کم وي.

د بېلګې په توګه: په ۱۰۰۰ افغانیو عوایدو باندې ۱٪ مالیه، په ۱۰۰۰۰ افغانیو باندې ۳٪ مالیه او په ۱۵۰۰۰ افغانیو باندې ٤٪ مالیه ټاکل. له تصاعدي مالیې (progressive taxation) او متناسبې مالیې (proportional taxation) سره یې پرتله کړئ.

## Demand

## تقاضا

په یو معلوم وخت کې په ټاکلې قیمت سره د نهایي تولید شویو توکو او خدمتونو پولي ارزښت څخه عبارت دی چې پیرودونکي یې د توکو او خدمتونو د پیرودلو اراده او وړتیا دواړه په همزمان ډول ولري. له عرضې (supply) سره یې پرتله کړئ.

## Demand Curve

## د تقاضا منحني

د تقاضا منحني د تقاضا د قیمت او د تقاضا د مقدار ترمنځ ګرافیکي تړاو په ګوته کوي، چې د دې منحني په افقي محور د تقاضا مقدار او په عمودي محور یې د قیمت اندازه ښودل کېږي. په عمومي ډول د تقاضا منحنی منفی یا نزولی میلان لری.

## Demand Deposit

## د غوښتنې وړ/عندالمطالبه امانت

هغه بانکې امانت چې پرته له زماني قید څخه په نقده تبدیلیدلی شي او د معاملاتو د ترسره کولو لپاره چمتو وي چې ځینې وخت ورته د جاري حساب (current account) اصطلاح هم کارول کېږي. له معیادِي امانت (time deposit) او سپما امانت (saving deposit) سره یې پرتله کړئ.

## Demand Determinants

## د تقاضا ټاکونکي عوامل

له هغو ټاکونکو عواملو څخه عبارت دي، چې په تقاضا کې د تغیر لامل ګرزي او د تقاضا د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت ګڼل کېږي، له دې ټاکونکو عواملو څخه په هر یوه کې تغیر راتلل د تقاضا د منحني د انتقال لامل ګرځي. د تقاضا پنځه مهم ټاکونکي عوامل عبارت دي له :

۱: عاید (Income)

۲: ترجیح (Preference)

۳: د پیرودونکو شمېر (Number of Butyers)

٤:د پیرودونکو وړاندوینه یا توقعات (Buyers Expectation)

۵: د نورو توکو قېمتونه (Other Prices)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Demand Elasticity
## د تقاضا ارتجاعیت

په یوه اړونده متغیر کې د تغیر( د بېلګې په توګه په عوایدو او یا هم د توکي په قېمت کې تغیر) په پایله کې د یو توکي په تقاضا کې رامنځته شوی تغیر ته د تقاضا حساسیت یا د تقاضا ارتجاعیت ویل کېږي چې په ځانګړی فورمول سره د سنجش وړ ده $E = \frac{\% change\ in\ quntity}{\% change\ in\ price}$.

## Demand Management Policy
## د تقاضا د مدیریت سیاست

د دولت هغه سیاست، چې په هېواد کې په ټولیزه تقاضا کې د تغیر له لارې په اقتصاد کې د ثبات رامنځته کولو په موخه جوړېږي. چې عام ډولونه یې پولي سیاست (monetary plicy) او مالي سیاست (fiscal policy) څخه عبارت دي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Demand Price
## د تقاضا قېمت

له هغه لوړ قېمت څخه عبارت دی چې پېرودونکي یې په معلوم وخت کې د معلومو توکو او خدمتونو د پیرودلو په وړاندې د تادیې اراده او وړتیا لري.

## Demand Shock
## د تقاضا ټکان

په بازار کې په ناڅاپي ډول د تعادل له منځه تلل، چې د تقاضا په ټاکونکو عواملو (Demand Determinats) کې د تغیر په پایله کې رامنځته کېږي او د تقاضا د منحني د انتقال لامل ګرځي، چې کېدای شي د تقاضا د ډېروالي او یا کموالي له امله رامنځته شي.

## Demand Side Economics
## د تقاضا د اړخ اقتصاد

هغه مالي او پولي سیاستونه چې موخه یې د تقاضا په کُلي اندازه کې د تغیر راوستلو له لارې د اقتصادي ودې هڅولوي، د دې نظر پلویان د تقاضا له لارې د پالیسیو تطبیق ډېر ګټور بولي. له عرضې اړخ اقتصاد (supply side economy) سره یې پرتله کړئ.

## Demand Space
## د تقاضا ساحه

له هغې ساحې څخه عبارت دی، چې د تقاضا په منحني او یا د تقاضا د منحني څخه ښکته قرار لري دا په دې مانا، چې:پېرودونکي د تقاضا په شتون کې هغه لوړ قیمت تادیه کوي، چې د تقاضا د قیمت څخه عبارت دی. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د تقاضا قیمت (Demand Price) ته رجوع وکړئ.

## Demand-Driven Business Cycle
## د تقاضا پر سبب اقتصادی دوران

په کاروباري دوران (business cycle) کې د بې ثباتۍ هغه حالت چې په نا خالص داخلي تولید(GDP) باندې د تقاضا په ټولیزو لګښتونو کې حداقل په یوه کې د تغیر له امله رامنځته کېږي. دا په دې مانا، چې: د کورنیو په لګښتونو، یا د کاروبارونو په پانګونه، یا دولتي لګښتونه یا په خالصو صادراتو کې د تغیر له امله رامنځته کېږي. چې په عمومي ډول سره په کاروباري دوران یا دایرې (Business Cycle) کې په لنډ مهال کې د بې ثباتۍ لامل ګرځي.

## Demerit Goods
## ناقص یا نا شایسته توکي

هغه توکي، چې دولت يې په توليد او استعمال بانديې د پاليسيو يا د ماليې د لوړوالي له لارې يا په مستقيم ډول کنترل له لارې پابندي لګوي خو په ځينو هېوادونو کې يې توليد او يا استعمال لدې امله، چې د ټولنيزو ستونزو لامل ګرځي په مطلق ډول سره بند وي.

د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د شرابو، هيروينو، چرسو او داسې نورو مضرو توکو توليد او استعمال ته، چې د قوانينو له مخې اجازه نه ورکول کېږي. له شايسته يا ګټورو توکو (Merit Goods) سره يې پرتله کړئ.

## Demographic Transition
## ډيموګرافيک بدلون

له نسبي لوړې اندازې څخه نسبي کمې اندازې ته د نفوسو د تولد او مړينې د کچې را کمولو حالت ته ډيموګرافيک بدلون (Demographic Transition) ويل کېږي.

## Demographic Variable
## ډيموګرافيک متحول

د جزوی اقتصاد او بازار موندنې په برخه کې د ټوليز نفوس هغه ځانګړتياوې، چې د توکو او خدمتونو د پلور لپاره يې بازار موندونکي د بازار د طبقه بندي په موخه استعمالوي لکه عمر، ښوونه او روزنه، توکي، علاقه او داسې نورې ځانګړتياوې.

## Demography
## ديموګرافي

په ټولنه کې د وګړو هر اړخيزې احصايوي مطالعې ته ډيموګرافي ويل کېږي لکه د نفوسو د ودې او مړينې کچه، عمر اوږدوالی، روغتيا، ښوونه او روزنې او داسې نورو مطالعه،

## Demonetize

غیر پولي کول او یا هم له رواجه اېستل

په فلزي محتوی باندې د سکو د تبدیلیدو وروسته له منځه وړل او یا هم دا چې معیاري پیسې له جریان څخه وېستلو ته غیر پولي کول وايي.له بیرته رواجول (remonitization) سره یې پرتله کړئ.

## Dependent Variable

تابع متحول

په اقتصاد کی هم لکه د ریاضی په شان د تابع متحول په ډول تعریفیږی او په ازاد متحول کې هر ډول تغیرات د اړیکې د بڼی په پام کې نېولو سره په تابع متحول کې هم تغیرات رامنځته کیږي.

## Deposit

امانت

په مالی برخه کی ډېری وخت وګړي او کاروبارونه خپلې سپما د معلومی ربحی یا نورو شرایطو په وړاندې په بانکونو او مالی اداروکی د امانت (Deposit) په بڼه ساتی چې درې عام ډولونه یې عبارت دي له:

۱: معیادي امانت (time deposit)

۲: جاري یا معاملاتي/عندالمطالبه حساب/امانت

۳: د سپما امانتونه (saving deposit)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Deposit Insurance

د امانتونو بیمه

د بانک د دېوالي کیدو په حالت کې د مشتریانو د بانکي امانتونو بیمې ته د امانتونو بیمه ویل کیږي، چې په ځینو هېوادونو کې اجباري بڼه لري او بانکونه اړ دي، څو د مشتریانو د امانتونو په وړاندې بیمه ترلاسه کړي.

## Deposit Multiplier

د امانت ضریب

هغه تغیر، چې د بانکي ریزرف یا زیرمې د کچې د زیاتیدو په پایله کې په معاملاتي امانتونو (checkable deposits) کې رامنځته کېږي او د دغه ضریب ساده ډول د مطلوبه زیرمې نسبت (required reservesratio) معکوس ده مثلاً که بانک د امانتونو څخه ۱,۰ یا لس سلنه د زیرمې په توګه وساتي نو ضریب یې له ۱۰ څخه عبارت دی.

## Depreciation

فرسایش یا استهلاک

په قېمت او یا ارزښت کې په مسلسل ډول سره د وخت په تیریدو سره کموالی راتللو ته استهلاک ویل کېږي لکه د پیسو په ارزښت کې کموالی راتلل (Currency Depreciation) یا د پانګې په ارزښت کې کموالی راتلل. همدا راز په تخنیکی برخه کې هم لکه د ماشین الاتو په ارزښت کی د وخت یا ګټه اخېستنې له امله کموالی ته استهلاک وایی. له ارزښت زیاتیدنې (Appreciation) سره یې پرتله کړئ.

## Depression

کساد

په اقتصادي کړنو کې اورږد مهاله نزول ته کساد یا تنزل ویل کېږي. کساد د اقتصادی نوساناتو(economic fluctuation) او د کاروباري دوران (Businesscycle) په بحثونو کې ډېر کارول کیږی د لا ډېرو مالوماتو لپاره کاروباري دوران (Business Cycle) ته هم رجوع وکړئ.

## Deregulation

د مقرراتو کمول

معمولاً د دولت د سیاست تطبیقوونکو ادارو لخو د کاروبارونو یا مستهلکینو په بازار کې د راکړو ورکړو په وړاندې د دولت له لوري د وضع شویو مقرراتو راکمولو او یا آسانولو ته (Deregulation) ویل کېږي.

## Derivatives

### ډرایوټیوز (مشتقات)

د مالی بازارونو معموله اصطلاح ده او له هغه مالی هوکړه لیک څخه عبارت ده، چې تر معلومو شرایطو لاندې د دواړو اړخونو مالي مسولیتونه پکې تعریفیږی، ارښت یې د مالي بازار په تغیراتو پوری مستقیماً تړاو پیدا کوی، او ددی لاندی د مالی وسایلو یو لوی ګروپ تعریفیدلای شی لکه swaps, futures, options, caps, floors, collars, forwards. د لا ډېرو مالوماتو لپاره راتلونکې بیعې (Futures) ته هم رجوع وکړئ.

## Destructive Competition

### مخربه سیالي

هغه سیالي، چې په پایله کې یې د توکو او یا خدمتونو قېمتونه تر هغه حده را ټیټیږي، چې په پایله کې یې تولیدونکي په تولید او عرضه کې له زیان سره مخ وي او نشي کولای، چې د مستهلکینو د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو لپاره د قناعت بخش تولید او عرضه ترسره کړي.

## Determinants

### ټاکونکي عوامل

په عام ډول د بنسټیزو او ټاکوونکو عواملو په مانا ده، په اقتصادي موډلونو کې په زیاته توګه هغه عوامل، چې د منحني د رسمولو ( د عرضې او یا تقاضا منحني) په وخت کې ثابت فرض کېږي او په هر یوه کې تغیر د منحني د انتقال لامل ګرځي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې ټاکونکي عوامل (Supply Determinants) او د تقاضا ټاکونکي عوامل (Demand Determinants) ته هم رجوع وکړئ.

## Devaluation

### د ارزښت تنزیل

په نړیوال اقتصاد کې د پیسو د ارزښت د تنزیل په مانا کارول کیږی یا د نورو هېوادونو د پولي واحدونو په وړاندې د یو هېواد د پولي واحد د ارزښت د راکمولو ته د پیسو په ارزښت کې کموالی

ویل کېږي، چې معمولاً په اختیاري ډول ترسره کېږي. له ارزښت زیاتیدنې (Revaluation) سره یې پرتله کړئ.

## Developed Countries

## پرمختللي هیوادونه

هغه هېوادونه چې نه یوازې د سړې سر عاید اندازه یې لوړه وي بلکې د تولید په پروسه کې د پرمختلو روشونو څخه ګټه اخلي او د ښوونې او روزنې کچه، د عمر منځنی حد او د ژوند معیار یې هم نسبتاً لوړ وي پرمختللي صنعتي هیوادونه بلل کیږی، البته دا کوم ځانګړی او مطلق معیار نلري بلکې په نسبي توګه له نورو پرمختیایي هیوادونو سره پرتله کیږي. په همدې ډول هغه هېوادونه، چې د نورو په پرتله پرمختللی اقتصاد، تکنالوژیکه او صنعتي زیربنا، لوړ ملي عاید او سړي سر عاید او د ژوندانه لوړمعیار لرونکي وي پرمختللي هېوادونه ګڼل کېږي. له پرمختیایي هېوادونو (Developing Countries) سره یې پرتله کړئ.

## Developing Countries

## پرمختیایي هیوادونه

پرمختیایي هېوادونو ته کله نا کله د لږو پرمختللو (less developed countries) اصطلاح هم کاریږی معمولاً هغو هیوادونو ته ویل کیږی چې نسبتاً لږ عاید ولري د خلکو د ژوند سطحه یې ټیټه وي او لږ پرمختللی صنعتی سکتور ولری. معمولاً دا اصطلاح د هغو هېوادونو لپاره کارېږي چې له پرمختللو هېوادونو سره یې اقتصادي او سیاسي واټن ډېر وي. له پرمختللو هېوادونو (Developed Countries) سره یې پرتله کړئ.

## Deviation

## انحراف

په عام ډول د یو ټاکلي ارزښت او یا نقطې څخه لیرې پاتې کېدل یا واټن نیولو ته انحراف ویل کېږي. په احصاییه کې دغه اصطلاح د اعدادو په یوه سلسله کې له یو معلوم ارزښت څخه د سلسلې د نورو مشاهداتو واټن په ګوته کوي او په ځانګړو فورمولونو د سنجش وړ دی.

## Diamond-Water Paradox

### د الماسو – اوبو پراډاکس (معما)

هغه نظري تناقض يا معما چې وايي: كه چېرې دا حقيقت ومنو چې د يو توكي قېمت د نوموړي توكي په ګټورتوب پورې تړلی دی؛ نو بيا ولې اوبه چې د الماسو په پرتله بشر ته مستقماً ډېرې ګټې لري د الماسو په پرتله يې قېمت ډېر کم دی؟ چې په اقتصاد کې د داسې پوښتنو په اړوند د ټوليز ګټورتوب او نهايي ګټورتوب له مخې ځواب ويل کېږي او دا په دې مانا، چې: خلک د هغو توکو په وړاندې لوړ قېمت تاديه کوي، چې نهايي ګټورتوب يې ډېر وي او هغه دا، چې اوبه که څه هم، چې په ډېره اندازه سره پيدا کېږي او ټوليز ګټورتوب يې ډېر دی؛ خو قېمت يې لدې امله د الماسو په پرتله کم دی، چې نهايي ګټورتوب **(**Marginal Utility**)** يې کمه ده او الماس که څه هم، چې ټوليز ګټورتوب **(**Total Utility**)** يې کمه ده او په لږه اندازه پيدا کېږي قېمت يې لدې امله لوړ دی، چې نهايي ګټورتوب اندازه يې ډېره ده. او يا هم دا چې د الماسو په پرتله د اوبو قېمت ځکه کم دی چې په نړۍ کې په زياته اندازه پيدا کېږي.

## Differential Duty

### توپيري محصول

له عين امتعې څخه د هغې د منبع (هېواد) په پام کې نېولو سره مختلف ګمرکي محصول اخېستنې ته تبعيضي يا توپيري ګمرکي محصول ويل کېږي چې د (preferential duty) او تعبيضي/توپيري محصول (discriminating duty) اصطلاحات ورته هم کارول کېږي.

## Differentiated

### متفاوت

په عام ډول له نورو څخه د يو شي توپير ته وايي. د اقتصاد او بازار موندنې په برخه کې يوه کاروباری ستراتيژی ده چی د سيالانو په وړاندی د سياليز مزيت د رامنځته کولو لپاره کارول کيږی او هغه توليدي تګلاره، چې له مخې يې يو کاروبار يا شرکت دوه يا ډېر (Market Mix**)** ته پرمختيا ورکوي چې په بازار کې د مختلفو طبقو خلکو د اړتياو او غوښتنو ته د سيالو کاروبارونو په نسبت لوړ خدمتونه عرضه کړی ترڅو دا توليد له نورو متفاوت احساس شي.

د بیلګې په توګه: یو کاروبار نسبت نورو ته په ځانګړې او لوړه سطحه خدمتونه په یومعلوم قیمت عرضه کوي او پېرودونکي دغه تولیدات په همدې توپیر پیژني او له دې څخه په ګټې اخیستنې ډېرې وخت تصدۍ کولی شي چې که څه هم تولیدات يې ورته هم وي؛ خو کولی شي چې په مختلفو قیمتونو يې عرضه کړي.

## Diminishing Return Stage

د کمیدونکي/نزولي حاصل (بهرې) مرحله

تولید په بېلابېلو مراحلو کې هغه مرحله ده چې د تولید د عامل نهایي یا اضافي مولدیت منفي وي یانې کله چې یو عامل اضافه کیږي؛ نو تولید نه یواځې دا چې نه زیاتیږي بلکې راکمیږي او لا کمیدونکې وي. د یادولو وړ ده، چې ددې اصطلاح مفهوم د کمیدونکي نهایي حاصل diminishing (marginal returns) له مفهوم سره توپیر لري ځکه په دې مرحله کې د هر اضافي عامل په کار اچول مثبت تولید لري؛ خو تولید يې مخ په کمیدو وي د لا ډیرو مالوماتو لپاره د تولید مرحلو(Production stages) ته هم رجوع وکړئ.

## Direct Relation

مستقیمه اړیکه

په عام ډول یوه ریاضیکي اړیکه ده چې د دوه متحویلینو ترمنځ نیغه او مستقیمه اړیکه ښيي. په اقتصاد کې هغه ریاضیکي تصور، چې وايي: که په یو تولید کې دوه متغیره په داسې ډول سره تغیر وکړي، چې په یو متغیر کې ډېروالی په بل متغیر کې د ډېروالي او کموالی يې د کموالي لامل وګرځي؛ نو دا ډول اړیکې ته مستقیمه اړیکه ویل کېږي، چې ښه بېلګه يې د عرضې منحنې دی، چې د توکو او خدمتونو په قیمت کې لوړوالي د عرضې د ډېروالي او کموالی يې د کموالي لامل ګرځي. چې ځینې وخت ورته مثبت تړاو (Positive Relation) اصطلاح هم کارول کېږي. له معکوس تړاو (Inverse Relation) او غیر مستقیم تړاو (indirect relation) سره يې پرتله کړئ.

## Direct Cost
## مستقیم لګښت

د توکو او یا هم خدمتونو د تولید په پروسه کې هغه لګښت چې په مستقیم ډول د تولید په پروسه کې شامل وي لکه کارګره قوه، خام مواد او نور لګښتونه. له غیر مستقیم لګښت (Indirect cost) سره یې پرتله کړئ.

## Direct Tax
## مستقیمه مالیه

هغه مالیه، چې په مستقیم ډول له مالیې ورکونکي څخه اخېستل کېږي یا دا چی د مالیې تادیه کوونکی او د مالیې د اصلی بار وړونکی دواړه یو کس وی لکه پر معاشاتو مالیه. له غیر مستقیمې مالیې (indirect tax) سره یې پرتله کړئ.

## Discount
## تخفیف

په عام ډول د خپل اصلي قیمت څخه د قیمت را ټیټولو ته تخفیف وایي. په مالی برخه کې هره مالي وسیله لکه بانډ یا د خزانې بل، چې د خپل اسمي ارزښت(face value) څخه په کم قیمت پلورل کېږي د تخفیف څخه عبارت دی. تخفیف معمولاً د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره رامنځته کېږي:

- د پیرودونکو په شمېر کې ډېروالی راوستل.
- په بازار کې خپل سیالان له ماتي سره مخ کول.
- یا هم دا چې کله چې په ګدام کې په ډېره اندازه سره تولید شتون ولري او کاروبار لدې وېرې، چې په راتلونکي کې د توکو او یا خدمتونو په قیمت کې کموالی رامنځته نشي تخفیف ورکوي.
- او یا هم دا چې، کله چې کاروبار پیسو ته شدیده اړتیا ولري او له نورو مالي ادارو څخه ورته د پیسو ترلاسه کول ګران او یا ډېر وخت ته اړتیا ولري نو معمولاُ له تخفییف څخه ګټه پورته کوي.

## Discount Rate

## د تخفیف نرخ

په عام ډول هغه نسبت یا فیصدی ته وایي چې د تخفیف په ډول کارول کیږي. خو په مالي بحثونو کې دا نرخ د تخفیف هغه اندازه ښکاره کوي چې د مالي شتمنيو لکه بانډ **(**bond**)**، د خزانې بل(treasuty bill**)** یا د توکو او یا خدمتونو د پلور په وخت کې شتون لري چې معمولاً د سلنې له مخې ښودل کیږي لکه ۵٪ یا ۷٪ یا نور.

## Discount Window

## د تخفیف کړکۍ (فرصت)

د مالی سیاست یوه وسیله ده، چې په مرسته یې د هېواد مرکزي بانک نورو سوداګریزو بانکونو ته د تخفیف له مخې پورونه برابروي څو په لنډه موده کې سوداګریزو بانکونو د نقدیت یا سیالیت ستونزه حل کړي.

## Discretionary Fiscal Policy

## اختیاري مالي سیاست

د انفلاسیون او وزګارتیا د کچې د راکمولو او یا هم د دواړو راکمولو او په کاروباري دوران کې د ثبات رامنځته کولو په موخه د دولت له لوري په لګښتونو، یا هم په مالیه یا په دواړو کې د تغیر د رامنځته کولو ته اختیاري مالي سیاست ویل کېږي.

## Discretionary Income

## اختیاري عاید

د مالیې له وضع کولو څخه وروسته هغه عواید، چې کورنۍ او یا کس وربانديې په لږه او یا ډېره اندازه اختیاري (Discretionary**)** کنترول ولري او د لګښت او یا سپما په موخه ترې ګټه اخلي. معمولاً د تصرف وړ عوایدو (DisposableIncome) له لارې سنجول کېږي. خو یوازینی توپیر یې دا دی چې د عاید په دی ډول کی له نا خالص عاید څخه نه یوائی مالیات بلکی ورځنی اړتیاوی هم منفی کیږی لکه د کور کرایه،خوراک، روغتیا او داسې نور.

## Discretionary Monetary Policy

## اختیاري پولي سیاست

د اقتصادی پالیسیو په برخه کی د انفلاسیون یا هم د وزګارتیا د کچې را کمولو او یا هم د دواړو راکمولو او په کاروباري دوران (business cycle) کې د ثبات رامنځته کولو په موخه د دولت له لوري په اقتصاد کې د پیسو د عرضې یا هم د سود په کچه یا په دواړو کې د صریح تغیر راوړلو او داسې نورو موخو لپاره د معلومو مقرراتو په یو انټروال کی د پالیسی جوړوونکو له خوا په اختیاري ډول وخت په وخت د اړتیا سره سم پریکړه کېږي لکه په بیلا بیلو وختونو کې د مرکزي بانک له خوا د ربحې د بیلابیلو نرخونو ټاکل چې دا پریکړې معمولاً د هماغه وخت سره سم او له عادي پالیسۍ ور ها خوا اضافي اقدامات په برکې نیسي.

## Discrimination

## توپیر یا تبعیض

لغوي مانا يې تبعیض یا توپیر ده. خو په کوچني اقتصاد کې د قیمت د توپیر په مفهوم کاریږي. د مختلفو لارو، طریقو او یا ډولونو له لارې نظر د کاروونکو او یا اخیستونکو انفرادي وړتیا ته، د قیمت یا مزد له لارې د هغوی تهدیدولو یا امتیاز ورکولو ته تبعیض ویل کېږي لکه نژاد، توکي، سیمه، مذهب او داسې نورو عواملو له مخې توپیر. چې معمولاً په دریو ډولونو ترسره کېږي چې عبارت دي له:

۱: د قیمت لومړي درجه توپیر/تعیض (first degree price discrimination)

۲: د قیمت دویمه درجه توپیر/تبعیض (Second degree price discrimination)

۳: د قیمت دریمه درجه توپیر/تبعیض (Third degree price discrimination)

د لا ډیرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Discriminatory Tariff/Duty
## تبعیضي ګمرکي تعرفه

هغه ګمرکي تعرفه چې له مخې یې د مشابه توکو څخه چې د مختلفو هېوادونو څخه واردېږي مختلف ګمرکي محصول اخېستل کېږي. چې د (differential tariff/duty) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Diseconomies of Scale
## د مقدار غیر اقتصادیت

د تولید په اندازه کې د پراخوالي راوستلو په موخه په اوږد مهال کې د تولیدونکي له لوري د تولید د ټولو عواملو ډېروالی په پایله کې یې چې د تولید په متوسطو لګښتونو کې هم ډېروالی رامنځته شي او د لګښت ډېروالی نظر تولید ته لا زیاتیدونکی وي. د مقدار اقتصادیت **(**Economies of Scale**)** سره یې پرتله کړئ.

## Disequilibrium
## عدم تعادل

په بازار کې هغه حالت، چې پکې عرضه او تقاضا یو د بل سره د تعادل په حالت کې قرار ونه لري (د تعادل خلاف حالت). یا هغه حالت چې په بازار کې کسر(Shortage**)** یا مازاد(surplus**)** شتون ولري. دا په دې مانا چې: په بازار کې د عرضې مقدار د تقاضا د مقدار یا د تقاضا مقدار د عرضې د مقدار په پرتله ډېر وي نو په بازار کې غیر متعادل حالت وجود لري. له تعادل **(**Equilibrium**)** سره یې پرتله کړئ.

## Disequilibrium Price
## د عدم تعادل قیمت

هغه قیمت، چې په بازار کې د عرضې او تقاضا د قوتونو ترمنځ د تعادل په رامنځته کولو کې پاتې راشي. او یا هم په بله ژبه: په بازار کې د عرضې او تقاضا د قوتونو ترمنځ د تعادل د قیمت څخه پرته بل هر قیمت ته د عدم تعادل قیمت ویل کېږي. له تعادلي قیمت **(**equilibrium price**)** سره یې پرتله کړئ.

## Disinflation

## د انفلاسیون کموالی

د انفلاسیون په کچه کې د کموالي راوستلو حالت ته وايي. په دې حالت کې اګر، چې قیمتونه د لوړېدو په حال کې وي؛ خو د قیمتونو د لوړوالي په سرعت کې کموالی شتون ولري.

د بېلګې په توګه: که داسې وګڼو، چې په افغانستان کې تیر کال د انفلاسیون کچه ٪۸ وو، سږ کال دا اندازه ٪۷ وي او په راتلونکي کال کې یې وړاندوینه ٪٦ وي؛ نو د دې ډول حالت شتون ته د انفلاسیون کموالی ویل کېږي.

## Disintermediation

## د منځګړي له منځه وړل

په اقتصاد کې په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د دریم یا منځګړي سوداګر له منځه وړلو ته د منځګړي له منځه وړل ویل کېږي یا هم د توزیع په چینلونو لکه عمده پلورونکي، ایجنسي او نورو کمول او بلاخره په مستقیم ډول پلور ته لاره هوارولو ته د منځګړي له منځه وړل ویل کېږي، چې ښه مثال یې انلاین پلور دی. چې له اقتصادي نظره د لګښتونو راکمولو او پیرودونکو ته په مستقیم ډول د خدمتونو له پلوه خورا ډېر اهمیت لري.

## Disinvestment

## پانګه ایستنه

د دولت یا یوي کاروباري ادارې له خوا د خپلو ځینو شتمنیو یا د کاروبار د ځینو برخو پلورلو او په نقده پیسو بدلولو پروسې څخه عبارت دی. په ځانګړي ډول په لاندې حالتونو کې:

۱: په هېواد کې په ټولې پانګې اچونې کې کموالی راتلل، چې د شته پانګې استهلاک په نویو شتمنیو کې د پانګونې په پرتله ډېر وي یا په هېواد کې د نوې پانګونې اندازه د شته پانګې د استهلاک په پرتله کمه وي.

۲: همدا راز کله چې کاروبار یا نورې اقتصادې ادارې په پانګه ایزو توکو خپله پانګونه کموي.

## Dismal Science
## د ثروت (غمجن) علم

د اقتصاد د علم متبادل (غیر ادبي) نوم دی دغې اصطلاح ته په ۱۸ او ۱۹ پیړۍ کې پرمختګ ورکړل شوی دی، چې د هغه مهال اقتصاد پوهانو داسې یو ویوونکی فکر کاوه، چې د نفوسو دوامداره وده د کارګرانو په مزد او د وګړو د ژوند کچه تر خپل اغیز لاندې راولي او تر ټولو ټیټ حد ته به یې ورسوي او پدې توګه به یوازې کاروبارونه ډېره ګټه ترلاسه کړي خو د نفوسو ډیره برخه به لا په ستونزو کې پاتې شي.

## DispersiveForce
## تیتوونکی قوت

سیالې قواوې یا هغه قوتونه، چې فعالیتونه یې یو د بل سره د لیریوالی لامل ګرځي. له هڅونکو قوتونو (AttractiveForces) سره یې پرتله کړئ.

## Disposable Income
## د ګټې اخیستنې وړ عاید

د لګښت وړ عاید یا په یو معلوم وخت (معمولاً د یو کال په جریان) کې د کورنیو ټولیز عواید، چې د لګښت یا د سپما په موخه ترینه ګټه اخیستل کیږي، چې د کورنیو پر عوایدو د مالیې او داسې نور لګښتونو د وضع کولو څخه وروسته پاتې کیږي، چې ځینې وخت ورته د شخصي عاید (personal income) اصطلاح هم کارول کیږي.

## Dissaving
## منفې سپما

د سپما متضاده اصطلاح ده او په یو معلوم وخت کې کله، چې د کورنیو لګښتونه د هغوی د تصرف وړ عوایدو (Disposable Income) په پرتله ډېر وي. د منفی سپما (Negative Saving) اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Distribution

## ویش یا توزیع

د بازار موندنې په برخه کې د پېرودونڪو لپاره د توکو او خدمتونو د پېرودلو په موخه د آسانتیاو رامنځته کولو لپاره د توکو او خدمتونو په مناسب موقعیت او وخت کې ځای پر ځای کولو ته توزیع ویل کېږي. په بازار موندنه کې دا اصطلاح کله نا کله د ځای پر ځای کولو (placement) سره په مترادف نوم هم کارول کېږي. همدا راز د توزیع موضوع د ملي اقتصاد په پالیسیو کې د عاید او د اقتصادي سرچینو د ویش په مفهوم ډېره کارول کیږي.

## Distribution Standards

## د توزیع یا ویش معیارونه

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د تولید په پایله کې د ټولنې د وګړو ترمنځ د ترلاسه شویو عوایدو د ویش څخه عبارت دی، چې درې متبادلې لارې او معیارونه یې عبارت دي له:

- په تولید کې د برخه اخیستنې په تناسب د عوایدو د ویش معیار Contribution): (Standar پدې مانا چې د وګړو ترمنځ باید عواید په تولید کې د هغوی د برخه اخیستنې په تناسب وویشل شي.
- د مساوات معیار (equity standard): له توکو او خدمتونو څخه ترلاسه شوی عاید د ټولنې وګړو ترمنځ په مساویانه ډول سره وېشل شي.
- د اړتیا معیار (Need Standard) ترلاسه شوي عواید د ټولنې وګړو ترمنځ د هغوی د اړتیاو په تناسب ووېشل شي.

## Diversitification

## تنوع او توپیرول

په سوداګریزو شتمنیو کې د پانګونې د خطر راکمولو په موخه د یو ځایي پانګونې په ځای په بېلابېلو مالي شتمنیو، سیمو او صنایعو کې د پانګې اچونې څخه عبارت دی داسې چې: په مختلفو سکتورونو او صنایعو کې پانګه په دې خاطر په کار واچول شي چې د پانګونې د احتمالي خطر په یوه برخه کې د بلې برخې له ګټې جبران او د خطر اندازه راکمه شي. په دې اړوند یو مشهور متل هم کارول کیږي

چي: یو کس باید ټولې هګۍ په یوه ټوکرۍ کې وا نه چوي (do not put all eggs in one basket) دا ځکه، چې که چېرې په یوه ټوکرۍ کې ټولې هګۍ واچوي او ټوکرۍ ترینه ولوېږي نو کیدای شي، چې په ټوکرۍ کې شته ټولې هګۍ ماتې شي؛ خو که هګۍ په بېلا بېلو ټوکریو کې واچوي نو که یوه ټوکرۍ ولوېږي او هګۍ پکې ماتې شي نو په نورو ټوکریو کې خو به هګۍ سلامتې پاتې وي او نقصان به ورته نه وي رسېدلی.

## Dividends
## د ویش وړ ګټه

د سهامي شرکت د ګټې هغه برخه، چې د شرکت پر عوایدو د مالیې له تادیه کولو وروسته د شرکت ونډه لرونکو ته وېشل کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د سهامي شرکت د ګټې ویش (Corporate Profit Distribution) ته هم رجوع وکړئ.

## Divisablility
## د ویش وړتیا

د پیسو او کریډیت په برخه کې د پیسو د څلورو عمده ځانګړتیاو څخه یوه هم د ویش وړتیا ده د پیسو درې نورې ځانګړتیاوې عبارت دي له:

۱: د دوام وړتیا (Durability)
۲: د لیږد وړتیا(Transportability)
۳: جعل نه منونکې (Non-Counterfietability)

د ویش وړتیا څخه مطلب دا ده، چې هر هغه شی، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید په وړو برخو د ویش وړتیا ولري او هره برخه یې په ټوله کې د اصلي ارزښت لرونکې وي څو د توکو او خدمتونو په تبادله کې آسانتیاوې رامنځته کړي.

د بېلګې په توګه: که لس افغانۍ په یو پنځه ګون، دوه دوه ګون او یو یوه ګون ووېشو نو په نهایت کې د دې ټولو ټولیز ارزښت بیا هم د یوه لسګون له ارزښت سره برابر دی او هغه معاملات چې له لسو افغانیو کم ارزښت لري په ښه ډول ترسره کیدلی شي.

## Division of Labor

## د کار ویش

په اقتصاد کې هغه آند، چې وايي: که چېرې د کارګرې قوې ترمنځ د توکو او خدمتونو د تولید په پروسه کې فعالیتونه ووېشل شي؛ نو کارګران خپل فعالیتونه په ښه او اغېزمن ډول سره پرمخ وړي او هم کارګرانو ته د دې موقع ورکول کېږي چې په خپل اړونده کار کې تخصص ترلاسه کړي، چې دغه موضوع ته ادم سمېت په خپل کتاب د ملتونو شتمنۍ**(**the wealth of nations**)** کې هم وضاحت ورکړی دی نوموړی وايي چې هر کارګر باید په خپل کار کې تخصص ترلاسه کړي څو د لګښتونو د کموالي او د تولید د زیاتوالي سره مرسته وکړي او دی موخې ته د رسیدلو لپاره مخکېنی شرط د کار ویش دی.

## Domestic Sector

## داخلي سکتور

د یو هېواد د پولو په دننه کې د کورنیو، کاروبارونو او دولت ترکیب، چې په تولیدي او استهلاکي کړنو کې برخه اخلي. دا سکتور معمولاً په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې د بهرني سکتور Foreign Sector په وړاندې کارول کیږي.

## Dominant Firm

## حاکمه یا مسلطه تصدي

هغه کاروبار (Firm)، چې په یو معلوم بازار کې د بازار زیاته برخه په خپله ولکه کې ولري او له لږې سیالۍ سره مخ کېږي او کولای شي، چې په بازار کې د توکو او خدمتونو په قېمت ټاکنه باندې یو څه کنټرول ولري حاکمه تصدي بلل کیږي. معمولاً دا تصدي په بازار کې د پلور له پلوه ډېره ونډه ولري. او نور کوچني کاروبارونه د نوموړي کاروبار له لوري ټاکل شوی قېمت تعقیبوي. له حاشیوي تصدي **(**fringe firm**)** سره يې پرتله کړئ.

## Dormant Account

## راکد حساب

هغه بانکي حساب چې له ډېر وخت څخه یا صفر وي او یا هم ډېر لږ امانت ولري او د معاملاتو له پلوه غیر فعال یا راکد پاتې شوی وي. ځینې وخت دغه ډول حسابونه د خلکو د یاده وتلو له امله راکد پاتې کیږي خو له اوږدې مودې وروسته معمولاً بانک کوښښ کوي څو له مشتري سره اړیکه ونیسي.

## Double Concidents of Wants

## د غوښتنو دوه اړخیزه برابري

د بارټر سېستم هغه ځانګړتیا، چې: یو کس یو توکي ولري او یو بل توکي ته هم اړتیا ولري نو باید داسې کس پیدا کړي، چې د هغه د اړتیا توکي ورسره شته وي او هم د ده سره شته توکي ته اړتیا ولري څو د توکو راکړه ورکړه ترسره شي. د بېلګې په توګه: اسلم غوړیو ته اړتیا لري او غنم ورسره دي نو باید په بازار کې داسې کس پیدا کړي، چې غوړي ولري او غنمو ته اړتیا ولري څو اسلم ته غوړي ورکړي او په وړاندې یې له اسلم څخه غنم ترلاسه کړي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره بارټر سېستم ته رجوع وکړئ.

## Double Counting

## دوه ځلې حسابول

د ملي عاید د سنجش په برخه کې د یو توکي ارزښت، چې په نا خالص داخلي تولید کې له یو نه ډېر ځله (دوه ځله) حساب شي. چې پدې ډول د ملي عاید سنجش درست ندی او د ملي عاید په سنجض کې ددې ډول حسابولو څخه باید ډډه وشي.

## Double Taxation

## دوه ځلې مالیه

هغه مالیه، چې د یو کاروبار پر ګټه باندې دوه ځله وضع کیږي لکه د سهامي شرکت پر ګټه باندې مالیه، چې یو ځل د سهامي شرکت له ګټې څخه اخیستل کیږي او بیا کله، چې د سهامي شرکت ګټه د ونډه لرونکو ترمنځ ووېشل شي د ونډه لرونکو پر عوایدو بیا هم د دولت له لوري مالیه اخیستل

کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره سهامي شرکت **(Corporation)** او د سهامي شرکت د ګټې ویش **(Corporate profit Distribution)** ته هم رجوع وکړئ.

## Doubtful Debt
## مشکوک طلب

هغه پور چې ترلاسه کول یې په قطعي ډول سره یقیني نه وي او کېدای شي چې ټولې او یا هم د یوې برخې ترلاسه کول یې په شک کې وي.

## Douply
## د عرضې دوه ګونی انحصار

په اقتصاد کې د بازار د ډولونو څخه د اولیګوپولي**(Oligopoly)** بازار هغه جوړښت، چې پکې دوه لوی تولیدونکي او یا خرڅونکي په بازار کې تقریباً عین توکي او یا خدمتونه عرضه کوي لکه په نړیوال بازار کې د طیارو جوړولو دوه لوی شرکتونه، چې عبارت دي له Boing او Airbus څخه. د تقاضا دوه ګونی انحصار (Doupsony) سره یې پرتله کړئ.

## Doupsony
## د تقاضا دوه ګونی انحصار

د اولیګوپولي بازار هغه ځانګړی جوړښت، چې پکې دوه لوی پېرودونکي په بازار کې د توکو او خدمتونو د پیرودولو برخه په خپل کنترول کې ولري. د عرضې دوه ګوني انحصار **(Douply )** سره یې پرتله کړئ.

## Down Period
## د بندیدلو دوره

د ترمیم په موخه د فابرېکې ترلو یا بندولو وخت ته د بندیدلو دوره ویل کېږي.

## Drive to Maturity
### د پوخوالي په لور ګام

د ډبليو ډبليو روستو د نظريې له مخې دا د اقتصادي ودې او پرمختګ څلورمه مرحله ده، چې د اقتصادي جهش د مرحلې څخه وروسته پيلېږي، په دې مرحله کې اقتصادي وده متداومه؛ خو تر يوه حده نوساني حالت لري او په دې مرحله کې د توليد وده د نفوسو د ودې په پرتله لوړه وي.

د اقتصادي ودې او پرمختګ څلور نورې مرحلې عبارت دي له:

۱: عنعنوي ټولنه (Traditional society)

۲: د خيزش/اوچتيدو لپاره مخکيني شرط ( Precondition for take-off)

۳: د جهش يا خيزش دوره ( Take-off)

۵: لوړې کتلې د توليد دوره (Age of high mass production)

د لا ډېرو مالوماتو لباره نوموړو دورو او اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Drived Demand
### اشتقاقي تقاضا

د توليد او يا د توليد عواملو په اړه هغه نظر، چې وايي: د توليد او د توليد عواملو لپاره تقاضا په نهايت کې د نوموړو عواملو څخه د ګټې اخېستنې په پايله کې د توليد شويو توکو او خدمتونو په تقاضا پورې تړلې ده. دا په دې مانا، چې: که چېرې د توليد عواملو څخه د ګټې اخېستنې په پايله د توليد شويو توکو او خدمتونو لپاره په بازار کې تقاضا ډېره وي؛ نو د توليد نوموړو عواملو ته به هم تقاضا ډېره وي. او يا هم په بل عبارت: هغه تقاضا، چې يو توکي ته د تقاضا د رفع کولو له امله بل توکي ته رامنځته کېږي لکه موټرو ته د تقاضا په ډېريدو سره سټېل ته هم تقاضا زياتيږي.

## Dualpay System
### د تاديې دوه ګونی سيستم

د کارګرانو د مزد د سنجش هغه مېتود، چې کله نا کله په ترانسپورتي شرکتونو کې ترې ګټه اخېستل کېږي او د دې مېتود له مخې کارګرانو ته مزد هم د ساعت او د هم د فاصلې پر بنسټ سنجول کېږي او په پايله کې يې لوړ مزد کارګرانو ته تاديه کېږي.

## Dumping
## ډمپنګ

په نړیوال بازار کې د داخلي بازار په پرتله د یو توکي او یا خدمت په ټیټ قیمت سره پلورلو ته ډمپنګ ویل کیږي او د ډمپنګ عمده موخې معمولاً په لاندې ډول ښودل شوي دي:

- تولیدونکي په دې هڅه کې وي چې په نړیوال بازار کې خپل سیالان له ماتي سره مخ کړي او بیا په خپله خوښه د توکي او یا خدمت قیمت وټاکي.
- په نړیوال بازار کې د خپلو سیالانو په ماتولو سره په بازار کې کنترول ترلاسه کړي او د ټیټ قیمت په ټاکلو سره د امکان تر حده ډیره پلور اوګټه ترلاسه کړي.
- تولیدونکي غواړي چې د بهرنې سوداګرۍ په بیلانس کې په شته کسر کې کموالی راولي او لدې لارې بهرني اسعار ترلاسه کړي.
- د ډمپنګ یوه موخه دا هم وي چې په هېواد کې داخلي تولید ته پراختیا ورکړل شي. او د کاروبارونو او صادرونکو له لوري د توکو او خدمتونو په وړاندې د ډمپنګ عمل معمولاً د دولتونو له لوري د سبسایډي په مرسته ترسره کیږي.

## Durability
## د دوام وړتیا

په صنعتي برخه کې ځینې تولیداتو ته هم دا اصطلاح کارول کې؛ خو د پیسو او کریډیت په برخه کې د پیسو د څلورو عمده ځانګړتیاو څخه یوه ده، د پیسو درې نوره ځانګړتیاوې عبارت دي له:

۱: د وېش وړتیا (Divisibility)

۲: د لېږد یا انتقال وړتیا (Transportability)

۳: جعل نه منونکی (Non-Counterfietability)

او د دوام له وړتیا څخه موخه داده چې: هر هغه شی، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید، چې د خپل فزیکي جوړښت او قانوني ارزښت ساتنې وړتیا ولري څو په هېواد کې د وګړو اعتماد ترلاسه کړای شي.

## Durable Goods
## با دوامه توکي

هغه توکي، چې د يو کال نه ډېر وخت لپاره ترېنه ګټله اخېستل کېږي لکه موټر، مېز، چوکي او داسې نور، چې د يو کال نه ډېر وخت لپاره ترې ګټه اخېستل کېدای شي. له بې دوامه توکو Non durable goods سره يې پرتله کړئ.

## Duty
## محصول (ګمرکي)

هغه ګمرکي محصول، چې پر وارداتو (ندرتاً په ځينو صادراتو) باندې اخېستل کېږي.

## Duty Free
## له محصول معاف

هغه توکي او خدمتونه، چې پر واردولو يې ګمرکي محصول نه اخېستل کېږي يا دا، چې: د ګمرکي محصول تابع نه وي همدا راز هغه توليدات هم دربر نيسي، چې له هېواد څخه دوباره صادرېږي او معمولاً په پولو او هوايي ډګرونو کې د اخيستل شوې ماليې يوه برخه دوباره ورکول کېږي.

## Dynamic Economics
## محرک ( پويا) اقتصاد

دا په اقتصاد کې د غير ثابت او متحرک حالت په مفهوم کارول کېږي. د اقتصادي نظرياتو په برخه کې د بحث وړ برخې په اقتصاد باندې د يوې پدېدې راتلونکي تاثيرات په پوره ډول متحرک او بې ثباته وي په برکې نيسي.

# E

## Earned Income
ګټل شوی عاید

هغه عواید، چې د خدمتونو د ترسره کولو یا د کومې سوداګریزې معاملې د ترسره کولو په پایله کې ګټل شوي وي پرته له دې چې ترلاسه شوی وی یا نه. له نه ترلاسه شوي عاید unearned income یا هم موجل عاید (deferred income) سره یې پرتله کړئ.

## Earned Surplus
ګټل شوی مازاد (زیادښت)

له اقتصادي کړنو څخه ترلاسه شوی ارزښت ( مبلغ) چې د شرکت د مالکینو ترمنځ نه وي ویشل شوی چې د ساتل شوي عاید ( retainedearning) اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Earning Report
د ګټې راپور

په یو معلوم وخت (معمولاً یو کال) کې د یو کاروباري، کورنۍاو یا دولتي بنسټ د عوایدو، لګښتونو او ګټې صورت حساب څخه عبارت دی.

## Easy Money
آسانه پیسې

د دولت له لوري د انبساطي پولي سیاست (ExpansionaryMonetaryPolicy) د تعقیب په پایله کې رامنځته کیدونکې په اسانه شرایطو ترلاسه کیدونکې پیسې دي چې په اقتصاد کې د زوال یا کساد د مرحلې څخه د خلاصون په موخه د اقتصادي تحرک رامنځته کولو لپاره بازار ته وړاندې کیږي، چې له مخې یې دولت په اقتصاد کې د پیسو اندازه ډېروي یا د کاروبارونو لپاره د پیسو په ترلاسه کولو کې (معمولاً د کاروبارونو له لوري د سوداګریزو بانکونو څخه د پیسو په ترلاسه کولو کې) آسانتیاوې رامنځته کوي څو کاروبارونه په خپلو پانګه اچونو کې ډېروالی راولي

او اقتصاد د کساد (Contraction) له مرحلې څخه د رونق (Expansion)مرحلې ته انتقال وکړي. او یا هم په بل عبارت: د دولت له لوري کاروبارونو ته د پیسو په ترلاسه کولو کې د اسانتیاو رامنځته کولو څخه عبارت دی څو اقتصاد د کساد له مرحلې څخه د رونق مرحلې ته انتقال ومومي.

## Econometrics

ایکانومیتریکس (اقتصاد سنجي)

په اقتصاد کې د ریاضیکي او احصائیوي میتودونو پلي کولو علم ته ایکانومتریکس وایي چې په حقیقي ژوندانه کې د اقتصادي نظریاتو د ازمایښت او د بیلا بیلو اقتصادي پدیدو د اړیکو د موندلو په موخه ترېنه ګټه اخېستل کېږي. او یا هم په بل عبارتة د اقتصادي مسایلو د څېړلو او بررسۍ په برخه کې د ریاضیکي او احصائیو پر مختللو فورمولونو څخه ګټه اخېستلو او یا په ریاضیکي ډول اقتصادي مسایلو څېړلو ته اقتصاد سنجې یا اکانومیتریکس ویل کېږي.

## Economic

اقتصاد/اقتصادي

لغوي مانا یې (اقتصادي ) ده، دا اصطلاح معمولاً د نورو اقتصادي اصطلاحاتو سره یو ځای کارول کېږي لکه:

- اقتصادي وده (EconomicGrowth)
- اقتصادي سیاست (Economic Policy)
- اقتصادي موخې (EconomicGoals)
- اقتصادي کړنې (Economic activities)

او له داسې نور اقتصادي اصطلاحاتو سره یو ځای کارول کېږي.

## EconomicActivities

اقتصادي /کړنې

ټولې هغه کړنې، چې د توکو او خدمتونو د تولید او په نهایت کې د ګټې د ترلاسه کولو په موخه ترسره کېږي او په وړاندې یې تادیه ترسره کېږي له اقتصادي کړنو عبارت دي. له غیر اقتصادي کړنو (uneconomic activities) سره یې پرتله کړئ.

## Economic Analysis

اقتصادي څېړنه

په سیستماتیک او علمي لاروړ د اقتصادي پدېدو په اړه د تحقیق او څېړنې پروسې ته اقتصادي څېړنه ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: د یوې پروژې اقتصادي څېړنه او یا هم د یوې اقتصادي ستونزې اقتصادي څېړنه. په اقتصادي څېړنو کې تر ټولو اړین عناصر اقتصادي اغېزمنتوب او د فرصتي لګښتونو هر اړخیزه څیړنه ده.

## Economic and Monetary Union

اقتصادي او پولي ټولنه

هغه ټولنه، چې د یو واحد اقتصادي او پولي سیاست د رامنځته کولو په موخه رامنځته شوې وي.:. د لا ډېرو مالوماتو لپاره اروپایي ټولنې **(**European Union**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Cost

اقتصادي لګښت

لګښتونه په بیلابیلو ډولونو او معیارونو محاسبه کېږي خو د لګښتونو اقتصادي سنجش ډېر پراخ مفهوم افاده کوي مثلاً په محاسبه کې یواځي هغه اسمي لګښتونه، چې د یوې معاملې په ډول درج کېږي په نظر کې نیول کېږي او د ګټې او تاوان حساب په همدې معیار ترتیبیږي؛ خو په اقتصاد کې پرته له اسمي لګښت فرصتي لګښتونه هم په سنجش کې مهم ځای لري. د لا ډېرو مالوماتو لپاره فرصتي لګښتونو (OpportunityCost) ته رجوع وکړئ.

## Economic Cycle

اقتصادي دروان/دایره

کاروباري دوران/دایرې **(**Business Cycle**)** ته رجوع وکړئ.

## Economicdepression
### اقتصادي رکود

د اقتصاد هغه وضعیت چې اقتصادي کړنې په کې بطي، تقاضا کمه، استخدام او پانګه اچونه په کمېدو وي چې د اقتصادي رکود **(**Slump**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Economic Efficiency
### اقتصادي اغېزمنتوب

د شته منابعو او وسایلو څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې د امکان ترحده د مستهلکینو رضایت ترلاسه کولو ته اقتصادي اغېزمنتویت ویل کېږي. یا هم دا چې: له محدوده منابعو څخه پداسې توګه ګټه پورته شي، چې د امکان ترحده د نا محدوده اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو لامل وګرځي. د اقتصادي اغېزمنتویت مفهوم تر ډېره د ممکنه پایلو ترلاسه کولو او د هر ډول ضایعاتو راکمولو په موخه کارول کېږي.

## Economic Entity
### اقتصادي بنسټ/واحد

شرکت، مؤسسه یا هر ډول سازمان چې د اقتصادي کړنو د ترسره کولو په موخه تأسیس شوي وي یو اقتصادي واحد یا بنسټ بلل کیږي.

## Economic Fluctuations
### اقتصادي نوسانات

اقتصادي نوسانات په اقتصاد کې له لنډ مهاله او اوږد مهاله اقتصادي دورانونو او مرحلو څخه عبارت دی، چې وخت په وخت تکراریږي او د اقتصاد یو بشپړ دوران کې دا ټولې مرحلې طی کوي لکه د اقتصادي رونق، رکود، کساد او نزول مرحلې. د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوساناتو (Fluctuation) ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Forces
## اقتصادي قوې

د بازار موندنې په برخه کې: د بازار په چاپېریال کې د ګڼو اغیز لرونکو قواوو څخه یوه هم اقتصادي قوه ده او په بازار کې د مستهلکینو او کاروباري سازمانونو په وسیله د پرېکړې کولو قوتونو ته اقتصادي اغیز لرونکي ځواکونه ویل کېږي. او یا هم په بل عبارت: د بازار په چاپېریال کې هغه قوتونه، چې د مستهلکینو او کاروباري سازمانونو پرېکړې تر خپل اغیز لاندې راولي. لکه د کاروباري دوران یا دایرې په مختلفو مرحلو کې د مستهلکینو او کاروبارونو پرېکړې او نور اقتصادي عوامل یا قوتونه ګڼل کیږي.

## Economic Goals
## اقتصادي موخې

اقتصادي موخې د وګړو ، کورنۍ، تصدۍاو هیواد په سطحه تعریفیدلی شي. خو د اقتصادي نظامونو په برخه کې دا په مختلط اقتصاد کې هغه موخې، چې په اقتصاد کې یې د ټولنې وګړي د ترلاسه کولو خواهش ولري او معمولاً په دوه برخو وېشل کېږي، چې عبارت دی له:

۱: کلي موخې (Macro Goals) چې عبارت دي له:

- کامل استخدام (Full Employment)
- ثبات (Stability)
- اقتصادي وده (Economic Growth)

۲: جزوي موخې (Micro Goals) چې عبارت دي له:

- تولیدي اغېزمنتوب (Economic Efficiency)

## Economic Goods

اقتصادي توکي

په اقتصاد کې د انساني اړتیاوو د رفع کولو او د رضایت او تسکین د ترلاسه کولو لپاره د توکو او خدمتونو تولید ترسره کېږي او ټول هغه توکي، چې د انساني هڅو په پایله کې تولید، د افادي لرونکي او د ګټه اخیستنې، لېږد او پلور وړ وي اقتصادي توکي ګڼل کېږي. چې د کمیابه توکو Scarce Goods اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Economic Growth

اقتصادي وده

اقتصادي وده د اقتصاد له دریو کلي موخو څخه یوه دی،د اقتصاد دوه نورې کلي موخې عبارت دي له:

۱: کامل استخدام (Full Employment)

۲: ثبات (Stability)

د اوږد مهال لپاره په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د تولید په وړتیا کې ډېروالي ته اقتصادي وده ویل کېږي د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي موخو (Economic goals) ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Imperialism

اقتصادي امپریالیزم

د یو هېواد له لوري پدې موخه د بل هېواد په ساحه او یا وګړو باندې د حاکمیت او اقتصادي نفوذ ډېرول ترڅو له موادو، بازار او یا هم له پانګې څخه یې ګټه ترلاسه کړي.

## Economic Indicators

اقتصادي اندیکیتور (شاخص)

هغه معلوماتي نښې چې له مخې یې د اقتصاد بیلابیل فعالیتونه اندازه او د هغوې زماني ترېند یا میلان معلومیږي.

د بیلګې په توګه: نا خالص داخلي تولید (GDP) د کاروباري دوران یا دایرې د رونق او کساد د مرحلو په اړه دغه معلوماتي نښې (اندیکاتورونه) د ګڼورو مالوماتو د تهیې عددي او اقتصادي احصایې څخه عبارت دی چې دغه اقتصادي احصایې په دریو لاندې برخو وېشل کېږي:

۱:نتیجوي تاخیري شاخص (Lagging Economic Indicator)

۲: اتفاقي/همزمان اقتصادي شاخص یا ( Coincident Economic Indicator)

۳: **(**Leading Economic Indicator)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Planning

## د اقتصاد پلانول

د بازار له جوړښت څخه بهر د هر ډول اقتصادي کړنو تنظیم او پلانولو ته د اقتصاد پلانول ویل کیږي. اقتصادي پلانونه په خپله یو اقتصادي جوړښت څخه عبارت دی چې له مخې یې د سرچینو تخصیص او د بازار په اړه پرېکړې ترسره کېږي او دې ډول پلانولو ته معمولاً هغه مهال په منطقي ډول اړتیا پیدا کیږي کله چې د بازار جوړښت په اعظمي ډول اقتصادي مؤثریت ته نشي رسیدلې او یو ډول مثبتې مداخلې ته لاره هواروي. لکه د عامه توکو تولید او توزیع.

## Economic Policies

## اقتصادي سیاستونه

هغه دولتي کړنې او کړنلارې، چې دې پالیسیو له مخې د اقتصادي فعالیتونو د متاثره کولو او د یو یا ډېرو اقتصادي موخو د تعقیب په موخه ترسره کېږي. اقتصادي سیاستونه په څلورو بنسټیزو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: پولي سیاست (Monetary Policy)

۲: مالي سیاست (Fiscal Policy)

۳:،تنظیموونکې سیاست (Regulatory Policy**)**

٤: قضایي سیاست (Judicial Policy)

د اقتصادي سیاستونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Profit

## اقتصادي ګټه

د کوچني او مديريتي اقتصاد په برخه کې: د يوې تصدۍ اقتصادي ګټه چې له نا خالصو عوايدو څخه د ټولو محسابوي او فرصتي لګښتونو له وضع کولو وروسته پاتې کيږي او په دې ډول د کاروبارونو د نا خالصې ګټې او ټوليزو اقتصادي لګښتونو ترمنځ توپير ته اقتصادي ګټه ويل کيږي.

## Economic Resources

## اقتصادي سرچينې

ټولې هغه سرچينې، چې د اقتصادي اړتياوو د رفع کولو لپاره ترينه ګټه اخيستل کيږي او د استعمال او خواهش په پرتله په کمه اندازه سره شتون ولري اقتصادي منابع ګڼل کيږي.

له کميابه سرچينو ( scarece resources) په نوم هم ياديږي.

## Economic Royalist

## اقتصادي سلطه غوښتونکی

يوه غير علمي او کله نا کله استهزا اميزه اصطلاح ده چې د هغو وګړو په وړاندې ترينه ګټه اخيستل کيږي چې د ډېر ثروت او عايد په درلودلو سره ځان پر نورو لوړ ګڼي.

## Economic Sanctions

## اقتصادي بنديزونه

له هغه اقتصادي ماهيت لرونکو او فشار راوړونکو اجباري تدابيرو (بنديزونو او محدوديتونو) څخه عبارت دي چې په نړيوالو چارو کې د ګډو پريکړو د تنفيذ په موخه رامنځته کيږي او يو سرکش ملت د نړيوالو قوانينو څخه متابعت په موخه مجبوروي.

## Economic Science

### د اقتصاد علم

په اقتصادي مسايلو او پديدو کې د علمي او ساينسي ميتودونو د پلي کولو علم دي لکه د بيلا بيلو تيوريګانو فرضيو او ماډلونو په مرسته د قيمتونو ، بيکارى د کچې، د بازار جوړښتونو، او کاروباري دوران يا اقتصادي نوساناتو توضيح او بيانول.

## Economic Self Sufficiency

### اقتصادي ځان بسيا

په اقتصادي لحاظ په ځان بسيا کيدلو يا خود کفايي ته وايي، او يوه سيمه يا يو هېواد چې د خپلو اړتياو او غوښتنو د رفع کولو لپاره په خپله سيمه يا هېواد کې توليد ترسره کوي او پدې توګه نه غواړي چې د نورو سيمو او يا هېوادونو سره سوداګري ترسره کړي او نه غواړي د هغوی د ټولنې غوښتنو پوره کول په نورو پورې تړلي وي.

## Economic System

### اقتصادي سيستم

اقتصادي سيستم په يوه ټولنه کې د توکو او خدمتونو د توليد، تبادلې، وېش او د منابعو د تخصيص يو سيستم دی. په دې سيستم کې ګڼې ادارې ، قوانين او مقررات ، اقتصادي بنسټونه او پېرودونکی شامل دي چې په ټوليز ډول هماغه ټولنه رامنځته کوي او دغه سيستم يې ځانګړی جوړښت جوړوي چې دغه ټول اړخونه په څه ډول له يو بل سره اړيکه ولري او د ملکيت حقوق په څه ډول د دوی ترمنځ تنظيمېږي. د اقتصادي سيستمونو بيلا بيل ډولونه عبارت دي له:

۱: اسلامي اقتصادي سيستم(Islamic economic system)

۲: سوسياليستي اقتصادي سيستم (socialism)

۳: پانګوال اقتصادي سيستم (capitalism)

٤: مختلط اقتصاد/اقتصادي سيستم (mixed economy)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Economic Thinking
### اقتصادي فکر کول

د يو عمل په هکله د اقتصادي پرنسيپونو په پام کې نيولو سره فکر او پريکړه کولو ته وايي داسې چې له مخې يې د يو عمل او کار لګښتونه د نوموړي عمل يا کار په وسيله د ترلاسه شوې ګټې سره پرتله کېږي او د اقتصادي اصولو لاندې يې په اړه وروستی پريکړه کېږي.

## Economic Union
### اقتصادي ټولنه

د دوه يا ډېرو هېوادونو ترمنځ هغه تړون، چې د نوموړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې د خنډونو له منځه وړلو او د هر اړخيزه مرستو رامنځته کولو په موخه ترسره کېږي، د نوموړو هېوادونو ترمنځ د منابعو ازاد حرکت ته اجازه ورکوي او د نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ ځانګړی سياست پرمخ وړي. لکه اروپايي ټولنه، چې يوه اقتصادي او پولي ټولنه ده.

## Economic Warfare
### اقتصادي جګړه

هغه اقتصادي کړنې چې د جګړې (اقتصادي يا سياسي جګړې) په حالت کې د دښمن د پرېشانه کولو په موخه ترسره کېږي.

د بېلګې په توګه: د يو هېواد له لوري په يوه ناپيلي هېواد کې د خامو موادو د عرضې کنترول ترلاسه کول چې له مخې يې د دښمن هېواد د سوداګري د بنديدو لامل ګرځي او پدې توګه نشي کولای چې د خپلې اړتيا وړ خام مواد په اساني سره ترلاسه کړي او په پايله کې يې د دښمن هېواد سوداګري په خپله محاصره کې راولي.

## Economics
### اقتصاد (علم)

د اقتصاد د علم په مانا ده او اقتصاد هغه ټولنيز علم دی، چې د مستهلکينو د نا محدوده اړتياوو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو د توليد لپاره د محدوده وسايلو د تخصيص مطالعه

کوي، چې د اقتصاد په دغه تعریف کې د یادونې وړ پنځه اصطلاحات یا ټکي چې په عمومي ډول اقتصاد ور څخه بحث کوي عبارت دي له:

۱: ټولنیز علم (Social science)

۲: نامحدوده اړتیاوې او غوښتنې (Unlimited needs and wants)

۳: تولید (Production)

٤: محدود وسایل (Limited Resource/means)

٥: تخصیص (Allocation)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Economies of Scope
## د تنوع اقتصادیت

د تولید هغه پروسه، چې پکې د دوه یا ډېرو توکو یو ځایي تولید آرزانه او اقتصادي تمامېږي نظر دیته، چې هر یو یې په جلا جلا ډول سره تولید شي.

## Economies of Scale
## د مقدار اقتصادیت

د تولید په اندازه کې د پراخوالي په موخه په اوږد مهال کې د تولیدونکي له لوري د تولید د ټولو عواملو ډېروالی، چې په پایله کې یې د تولید په متوسطو لګښتونو کې کموالی رامنځته شي. چې د دې لګښتونو د کموالي یو لامل دا دی، چې: په فی واحد تولید باندې د ثابت لګښتونو اندازه راکمېږي. او یا هم په بل عبارت: هغه حالت دې چې هم د تولید عوامل ډېر شي او هم د تولید د متوسطو لګښتونو په اندازه کې کموالی رامنځته شي. د مقدار عدم اقتصادیت (Disecnomomies of Scale) سره یې پرتله کړئ.

## Economist
### اقتصاد پوه

هغه کس، چې د اقتصاد په برخه کې يې لوړې زده کړې وي او د اقتصادي تيوريګانو او مسايلو په کارولو، مشورو، څېړنو او داسې نورو برخو کې په ډېره اندازه مالومات ولري او معمولاً د اقتصادي مسايلو په هر اړخيزه مطالعه او څېړنه کې هر اړخيزه مالومات ولري.

## Economize
### اقتصادي کول

د يو عمل د تر سره کولو لګښتونه د امکان تر حده راکمول او د امکان ترحده ترې ډېره ګټه ترلاسه کولو څخه عبارت دی او همدارنګه په توليد کې د امکان ترحده د ضايعاتو او عدم مؤثريت راکمول يا له منځه وړلو څخه عبارت دی.

## Economy
### اقتصاد (د يو هېواد )

معمولاً د يو هېواد ټوليز اقتصاد ته وايي او د کميابي (Scarcity) ستونزې په نښه کولو لپاره د ټولنې له لوري د توکو او خدمتونو د توليد، وېش او د ګټې اخېستنې سېستم ته (Economy) ويل کېږي، چې بنسټيزه دنده يې د استهلاک لپاره توليد، د توليد وېش او منابعو د تخصيص څخه عبارت دی. همدارنګه د يو هېواد د اقتصاد لپاره هم دا اصطلاح کارول کېږي لکه د افغانستان اقتصاد.

## Efficiency
### اغېزمنتوب

د شته منابعو او وسايلو څخه د ګټه اخېستلو په پايله کې د امکان تر حده د زيات حاصل او رضايت ترلاسه کولوته اغېزمنتوب وايي، چې دا په اقتصاد کې د پنځو اقتصادي موخو څخه يوه مهمه موخه ده په ځانګړي ډول د جزوي اقتصاد د توليد په برخه کې په تخنيکي لحاظ او د بازار د څېړنې په برخه کې عرضه کوونکو او تقاضا لرونکو ته د بازار د ګټورتوب د پرتلې په بحثونو کې کارول کېږي او يا هم دا چې د يوه اقتصادي کړنه پداسې توګه ترسره کول چې په ترسره کولو سره يې تخصيص شوې منابع ټولې مصرف نشي.

## Efficiency(Ratio)
## د اغیزمنتوب نسبت

د تولید په پروسه کې د تولید د عواملو د مقدار او د تولید د مقدار ترمنځ نسبت څخه عبارت دی.

## Efficiency Wage
## د اغیزمنتوب مزد

هغه مزد چې د بازار له نرخه لوړ وي او موخه يې د تولید د ډېروالي په موخه د کارګرانو هڅول وي.

## Efficient
## اغېزمن

د توکو او خدمتونو د تولید په موخه په هغه ډول د منابعو تخصیص، چې له شته منابعو څخه د ګټه اخیستنې په پایله کې په ممکنه اعظمي حد تولید رامنځته او د مستهلکینو رضایت تر اعظمي حده ترلاسه شي. د بېلګې په توګه: د یو توکي د پیرودلو لپاره د مستهلک هغه قیمت تادیه، چې د ورکړې اراده او وړتیا يې ولري او په داسې ډول یو توکی وپیري، چې افاده يې تر ممکنه حده لوړه وي. په دې ډول پرېکړو کې فرصتي لګښتونه هم ډېر رول لري.

## Elastic
## ارتجاعي

په عمومي ډول هغه حالت ده کله، چې په یو متغیره کې تغیر په بل متغیره کې د تغیر لامل وګرځي او په دې توګه په یو متغیره کې نسبي تغیر په بل متغیره کې له نسبي تغیره څخه ډېر وي ارتجاعي متغیر بلل کېږي. او یا هم په بل عبارت: په یو متغیره کې کم تغیر په بل متغیره کې د ډېر تغیر لامل وګرځي نو ویلای شو، چې د دوه متغیره ترمنځ ارتجاعي اړیکې ډېر عکس العمل ښودونکی شکل لري. له غیر ارتجاعی (Inelastic) سره يې پرتله کړئ.

## Elastic Demand

## ارتجاعي تقاضا

هغه حالت/تقاضا کله چې په قیمت کې په نسبي ډول سره کم تغیر، چې د تقاضا په مقدار کې په نسبي ډول سره د ډېر تغیر لامل وګرزي. دا په دې مانا، چې: د تقاضا په اندازه کې تغیر په نسبي ډول سره په قیمت کې تغیر ته عکس العمل ښودونکی شکل ولري.

د بېلګې په توګه: د یو توکي یو کیلو په بازار کې په ۱۵ افغاني پلورل کېږي او په یو معلوم وخت کې په نوموړي قیمت سره ۱۰۰ کېلو پلورل کېږي؛ خو که د دې توکي د یو واحد قیمت له ۱۵ افغانیو څخه ۱۴ افغانیو ته راکم شي (په قیمت کې یواځې یوه افغانی تغیر) خو په ذکر شوي وخت کې د توکي د پلور اندازه له ۱۰۰ کېلو څخه ۱۵۰ کېلو ته لوړه شي(د تقاضا په مقدار کې ۵۰ کیلو ګرامه تغیر)؛ نو د تقاضا دا شکل د ارتجاعي تقاضا په نوم یادېږي. له غیر ارتجاعي تقاضا (Inelastic Demand) سره یې پرتله کړئ.

## Elastic Supply

## ارتجاعي عرضه

هغه حالت/عرضه کله چې په قیمت کې په نسبي ډول کم تغیر، چې د عرضې په مقدار کې په نسبي ډول د ډېر تغیر لامل وګرځي ارتجاعي عرضه ګڼل کیږي. دا په دې مانا، چې: د عرضې په اندازه کې تغیر په نسبي ډول سره د عرضې په قیمت کې تغیر ته عکس العمل ښودونکی شکل ولري.د بېلګې په توګه: که د یو توکي یو کیلو په بازار کې ۱۵ افغاني پلورل کېږي او په یو معلوم وخت کې په نوموړي قیمت سره ۱۰۰ کېلو عرضه کېږي؛ خو که د یو کېلو قیمت له ۱۵ افغانیو څخه ۱۶ افغانیو ته لوړ شي او د عرضې اندازه له ۱۰۰ کېلو څخه ۱۵۰ کیلو ته لوړه شي؛ نو د عرضې دا شکل د ارتجاعي عرضې په نوم یادېږي. له غیر ارتجاعي عرضې (inelasticsupply) سره یې پرتله کړئ.

## Elasticity

## ارتجاعیت

په یو متغیر کې نسبي تغیر، چې په بل متغیر کې د تغیر له امله رامنځته کېږي ارتجاعیت یا د تغیر په وړاندې حساسیت ګڼل کیږي، چې بیلا بیل ډولونه لري چې عبارت دي له:

- د عرضې د قیمت ارتجاعیت (Price Elasticity of Supply)
- د تقاضا د عواید ارتجاعیت (Income Elasticity of Demand)
- د تقاضا د قیمت ارتجاعیت (PriceElasticity of Demand)
- د تقاضا متقاطع ارتجاعیت (CorssElacticity of Demand)

په لنډ ډول د یو تغیر په وړاندې حساسیت ته ارتجاعیت ویل کیږي لکه د قیمت د تغیر په وړاندې د تقاضا یا د عرضې د مقدار حساسیت. اقتصاد پوهانو له لوري په څلورو ډولونو باندې ویشل کیږي، چې عبارت دي له:

- د قیمت ارتجاعیت (Price elasticity)
- د عوایدو ارتجاعیت (Income elasticity)
- متقاطع ارتجاعیت (Cross Elasticity)
- یا متبادل ارتجاعیت Elasticity of substitution

د ارتجاعیت په اړه لا ډیرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Elasticity Alternative
### د ارتجاعیت متبادل (ډولونه)

د ارتجاعیت هغه پنځه کټه ګوري یا بیلا بیل حالتونه، چې په یوه متغیر (معمولاً د عرضې او تقاضا په مقدار کې) تغیر په یو بل متغیر کې (معمولاً د عرضې او تقاضا په قیمت کې) تغیر ته د نسبي عکس العمل سلسله جوړوي او د ارتجاعیت په ضریب پورې تړاو پیدا کوي، چې عبارت دي له:

- کامل ارتجاعي (Perfect Elastic)
- نسبي ارتجاعي (Relative Elastic)
- واحد ارتجاعي (Unit Elastic)
- نسبي غیر ارتجاعي (Relative Inelastic)
- مکمل غیر ارتجاعي (Perfectly Inelastic).

په حقیقي نړی کې له دغو ټولو ممکنه ارتجاعیتونو څخه په دوه متبادلو ډولونو خلاصه کیدلی شي، چې نسبي مفاهیم دي لکه نسبي ارتجاعي یا نسبتاً غیر ارتجاعي او دغه دواړه متبادل د تقاضا او عرضې د قیمت د ارتجاعیت لپاره د استعمال وړ دي، چې عبارت دي له :

- د تقاضا د ارتجاعیت متبادل Demand Elasticity Alternative
- د عرضې د ارتجاعیت متبادل Supply Elasticity Alternative

## Elasticity Determinanats
### د ارتجاعیت ټاکونکي عوامل

د عرضې د قیمت ارتجاعیت او د تقاضا د قیمت ارتجاعیت په محاسبه کولو کې هغه فکتورونه او عواملو څخه عبارت دي ، چې د عرضې د قیمت ارتجاعیت او د تقاضا د قیمت ارتجاعیت په عددي ارزښت باندې اغیز لري، لکه:

- د متبادل توکو او یا خدمتونو شتون .(Substitute Availibility)
- ځانګړی وخت (Time Period)
- د بودجې تناسب (budget proportion)

نو که چیرې په ذکر شویو هر یوه کې تغیر رامنځته شي؛ نو توکي مختلف ډول (هم عرضه او هم تقاضا) د قیمت ارتجاعیت اختیاروي.

## Elasticity of Substitution
### د متبادلو توکو ارتجاعیت

د متبادلو توکو ارتجاعیت څخه موخه هغه امکان ده چې د تولید په پروسه کې د تولید د یو عامل (کارګر) پر ځای د تولید بل عامل (ماشین) تعویض په څومره اساني سره ترسره کېدای شي.

## Embargo
### محدودیت (بندیز)

په عمومي ډول سره په بهرنۍ سوداګرۍ باندې د صادراتي هېواد له لوري هر ډول محدودیتونو او بندېزونو وضع کولو ته ویل کېږي. لکه نورو هېوادونو ته د ځینو توکو او خدمتونو په صادراتو باندې

محدودیتونه او یا بندیز. په بهرنۍ سوداګرۍ کې د هغو محدودیتونو برعکس، چې د وارداتي هېواد له لوري وضع کېږي لکه محصول، وارداتي محدودیت یا سوداګریز معیارونه. بلکې Embargo یوازې د صادراتي هېواد له لوري ترسره کېږي. د بېلګې په توګه: په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د تیلو صادرونکو هېوادونو له لوري د امریکا متحده آیالاتو ته د تېلو په صادراتو باندې د Embargo څخه ګټه اخېستل کېده.

## Emerging Economies

(په اقتصادي لحاظ) ظاهریدونکي اقتصادونه

په اقتصادي لحاظ نوي مطرح شوي هیوادونو ته وائي یا هغه هېوادونه چې نوی یې د اقتصادي پرمختګ په لور ګام پورته کړی وي او یا هم دا چې اقتصاد یې نوی په غوړېدا پیل کړی وي او په بالقوه ډول ښه راتلونکې ولري. دا ډول هیوادونه معمولاً پرمختیایي هیوادونو څانګړتیاوې لري خو پرمختګ یې ډېر چټک وی لکه کوریا، هانګ کانګ، مالیزیا او داسې نور هېوادونه.

## Emigration

مهاجرت

په اقتصاد کې له خپل هېواد څخه بل هېواد ته د اقتصادي کړنو د ترسره کولو په موخه د خپل هېواد پرېښودلو ته مهاجرت ویل کېږي. یا هم بهر ته د تللو په موخه (څو لوړ عاید یا د ژوندانه لوړ معیار ترلاسه کړي) د خپل هېواد پرېښودلو ته مهاجرت ویل کېږي.

## Empirical

عملي (تجربوي)

د پوهې یا علم هغه منبع، چې له عملي تجربو او مشاهداتو څخه ترلاسه کېږي یا هغه مشاهدات او حقایق، چې په عملي ژوند کې حقیقت لري او په تجربو او عملي مشاهدو ثابت شوي وي. په اقتصاد کې معمولاً د تیوري او اقتصادي موډلونو او فرضیو د ازموینې لپاره د هغوی دغه ډول عملي بڼه په تولنه کې کتل کېږي چې عملي یا تجربوي مطالعه (Empirical study) ورته ویل کېږي.

## Employed

## استخدام شوی

هغه حالت، چې پکې د تولید منابع (معمولاً کارګره قوه) د معلومو تادیاتو (مزد او معاش) په وړاندې په ښکاره ډول سره د توکو او خدمتونو په تولید کې فعالانه ونډه ولري.

## Employed Person

## استخدام شوی کس

هغه کس، چې د کار کولو اراده او وړتیا ولري او په فعاله ډول سره د توکو او خدمتونو په تولید کې برخه ولري لکه په دفتر کې کارکونکې یا په کاروبارونو کې د توکو او خدمتونو په تولید کې بوخت کارګر. له نه استخدام شوي کس **(**unemployed person**)** سره یې پرتله کړئ.

## Employers' Association

## د کارفرمایانو ټولنه

د کارفرمایانو (د کاروبارونو د مالکانو) ټولنې ته وایې، چې د خپلو ګډو موخو د پرمخ بېولو په منظور رامنځته شوې وي (تر ډېره د کارګرانو د ټولنې په وړاندې رامنځته کېږي).

## Employment

## استخدام

هغه حالت، چې پکې د تولید منابع (معمولاً کارګره قوه)، چې د کار کولو اراده او وړتیا ولري د ټاکلي تادیې (مزد او معاش) په وړاندې د توکو او خدمتونو په تولید کې عملاً په کار بوخت وي. د وګړو په هکله استخدام په یو مسلک، کاروبار، شغل او کسب کې له بوختیا څخه عبارت دی. له وزګارتیا (Unemployment**)** سره یې پرتله کړئ.

## Employment Quota
## د استخدام حد

د کاروبارونو له لوري د کارګرانو په استخدام کې د یو معلوم حد ټاکل. د بېلګې په توګه: د نفوسو د معیارونو له مخې لکه نر او ښځه، تور او سپین، داخلي کارګر او بهرني کارګر د استخدام په وړاندې حد ټاکل.

## Employment Rate
## د استخدام کچه

په هېواد کې د توکو او خدمتونو په تولید کې د استخدام شویو وګړو نسبت هغه وګړو ته، چې د کارکولو اراده او وړتیا ولري، د کار په لټه کې وي؛ خو لا تر اوسه د کار په ترلاسه کولو بریالي شوي وي. او یا هم په بل عبارت: په هېواد کې د کارګرې قوې څومره برخه د توکو او خدمتونو په تولید کې برخه لري، چې د استخدام کچې ته ځینې وخت د استخدام او نفوسو نسبت (Employment-Population Ratio) اصطلاح هم کارول کېږي. د وزګارتیا کچې (Unemployment Rate) سره یې پرتله کړئ.

## Emporium
## سوداګریز پلورنځی

هغه لویه مغازه یا کاروباري مرکز چې په کې د توکو مختلف ډولونه پلورل کېږي.

## Endogenous
## داخلي (متحول)

په اقتصادي موډلونو کې هغه متحول ته وایي چې په اقتصاد پورې تړلو هغو عواملو له مخې رامنځته کېږي چې د موډل په داخل کې د یو متغییر په ډول تعریف شوی وي.

## Endogenous Variable

### داخلي متحول

هغه متحول، چې په خپله په موډل یا فورمول کې داخل وي او د هغه تغیر د یو بهرنی عامل په وسیله رامنځته کیږي او د موډل په ټول حاصل باندې اغیزه لري لکه د ملی عاید په ترکیبي فورمول کی د دولت لګښتونه چی د دولت د پریکړې له مخې د مالي پالیسی په ډول تغیریږی. له بهرني متحول (exogenous variable) سره یې پرتله کړئ.

## Endorsement

### ظهر نویسي/شا لیک

شا لیک (indorcement) ته رجوع وکړئ.

## Engle'slaw

### د انجل قانون

د لومړي ځل لپاره دغه قانون ته په ۱۸۵۷ میلادي کال کې د یو روسي عالم (engle) له لوري پر مختګ ورکړل شو او دا قانون دا واضح کوي چې: هر څومره چې د مستهلکینو په عوایدو کې کموالی رامنځته کېږي؛ نو د عاید ډېره برخه یې په غذایي موادو مصرفیږي.

## Enterprise

### کاروباري سازمان (تشبث)

له هغه کاروباري سازمان څخه عبارت دی، چې د ټولنې د غوښتنو او اړتیاو د رفع کولو لپاره محدوده او کمیابه منابع د توکو او خدمتونو د تولید په موخه سره یو ځای کوي، او معمولاً د تصدی (Firm)، کاروبار (Business) او شرکت (Company) له اصطلاحاتو سره مترادفه کارول کېږي؛ خو تشبث کېدای شي، چې سوداګریز، غیر سوداګریز، خصوصي بڼه ولري او یا کېدای شي، چې په کلي او یا جزوي ډول د دولت تر کنترول لاندې قرار ولري.

## Entrepreneurship

### تشبث

د تولید د څلورو بنسټیزو عواملو څخه یو دی د تولید درې نور عوامل له:

۱: ځمکې **(Land)**

۲: کارګر **(labor)**

۳: پانګه **(Capital)**

او تشبث چې د متصدي یا کارفرما په غاړه وي د انساني کړنو هغه ځانګړې طبقه ده، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د ځمکې، کارګر او پانګې په یو ځای کولو کې د تاوان خطر قبلوي او ممکنه ګټه هم ترلاسه کوي څو د ټولنې اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه تولید تر سره کړي.

## EntryBarrier

### د دخول خنډونه

هغه حالت ته وایي چې د یو بازار په سیالیز چاپېریال کې د یو کاروبار له خوا یا د نورو عواملو له امله نورو کاروبارونو یا تصدیو ته داسې خنډونه شتون ولري، څو نوموړي بازار ته داخل نشي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د دخول په وړاندې خنډونو (BarriertoEntry) ته رجوع وکړئ.

## Environment

### چاپېریال

په عامه اصطلاح د یو موجود شا و خوا ټولې پدیدې د هغه لپاره چاپېریال تعریفیږي. خو په اقتصاد کې د تولید له پلوه ټول هغه طبیعي منابع، چې په ټولنه کې شتون ولري او ځکې لدې، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې ترینه ګټه واخېستل شي او یا استخراج شي او یا یې هم شکل بدلون موندلی وي شتون ولري. او یا هم دا چې: په ټولنه کې هر هغه څیز، چې د انسان د تولیدي کوښښونو په پایله کې نه وي رامنځته شوي بلکې په طبیعي ډول سره شتون ولري لکه هوا، ځمکه، اوبه او داسې نور.

## EnvironmentScanning

### د چاپېریال کتنه

په کاروباري چاپېریال کې د هغو مختلفو قوتونو په اړه د معلوماتو د راټولو پروسې څخه عبارت دی، چې د یو کاربار په راتلونکي باندې اغیزه لري لکه اقتصاد، سیاست، قانون، ټولنه، تکنالوژي، سیالي او داسې نور قوتونه.

## Equalpay

### برابره تادیه

ټولو هغه نارینه او ښځینه کارکونکو ته د یو شان مزد ورکړه چې د مشابه کارونو په ترسره کولو بوخت وي او یا هم دا چې: د هغو کارګرانو ترمنځ د مزد په ورکړه او د کار په شرایطو کې د تبعیض او توپیر نه شتون چې د یو شان کارونو په ترسره کولو کې بوخت وي.

## Equation of Exchange

### د تبادلې معادله

هغه مساوات، چې په اقتصاد کې د پیسو د عرضې، د پیسو د سرعت، د قیمتونو د کچې او واقعي تولید ترمنځ اړیکې په ګوته کوي، چې دا مساوات عبارت دی له: **M*V=P*Q** ، چې په دې مساوات کې:

۱: **M** د پیسو عرضه **(**Money Supply**)**

۲: **M′** اعتباري پیسې **(**credit money**)**

۳: **V** د پیسو سرعت **(**Velocity Of Money**)**

٤: **V′** د اعتباري پیسو سرعت **(**Velocity of Cridet Money**)**

٥: **P** د قیمتونو کچه (PriceLevel**)**

٦: **Q** د واقعي تولید اندازه (Real production**)** Quantityڅخه نمایندګي کوي

چې دا مساوات د پیسو د مقداري نظریې **(**QuantityTheoryOfMoney**)** یو کلیدي جز ګڼل کېږي، چې په اقتصاد کې د پیسو د عرضې او د قیمتونو د کچې ترمنځ وضاحت وړاندې کوي. د دې تیوري فرضیې عبارت دي له:

- کامل استخدام **(**full employment**)**
- T او V ثابت وي.
- د M او M′ ترمنځ یوه ثابته تړاو شتون ولري.
- د قیمتونو په کچه کې ډېر کم تغیر رامنځته کېږي.

## Equilibrium
### تعادل

په بازار کې هغه حالت، چې پکې متقابل قوتونه (د عرضې او تقاضا قوتونه) په مطلق ډول سره د تعادل په حالت کې قرار ولري او د تغیر لپاره کوم ذاتي میلان شتون ونه لري. په تعادل کې تعادلي قېمت ټاکل کیږي او د عرضې مقدار په همدې قېمت د تقاضا له مقدار سره مساوي وی. له عدم تعادل **(**Disequilibrium**)** سره یې پرتله کړئ.

## Equilibrium Prices
### تعادلي قېمتونه

هغه قېمتونه، چې د بازار د تعادل په حالت کې رامنځته شوي وي یا هغه قېمتونه، چې د عرضې او تقاضا د اندازې د تعادل په حالت کې رامنځته کېږی او یا هم په بازار کې توکو او خدمتونو هغه قېمت ، چې په بازار کې د عرضې او تقاضا په مقدارونو کې مازاد او یا کسر وجود ونلري او بازار کې د عرضې اندازه د تقاضا له اندازې سره برابر وي.

## Equilibrium Quantity
### تعادلي مقدار

دا هم د بازار د تعادل یوه ځانګړتیا ده. د عرضه کوونکیو او تقاضا کوونکیو ترمنځ د توکو او خدمتونو د تبادلې هغه حالت، چې په بازار کې مازاد او یا کسر شتون ونه لري داسې، چې: په بازار کې د عرضې مقدار د تقاضا د مقدار سره برابر وي.

## Equity
### مساوات / مالکیت

دا اصطلاح په اقتصاد کې په دوه ماناګانو سره کارول کېږي چې عبارت دي له:

۱: مساوات یا برابري په جزوي اقتصاد کې د بنسټیزو موخو څخه یو دی (د جزوي اقتصاد بله موخه له مؤثریت **(**Efficiency**)** څخه عبارت دی). په دې مانا، چې کله چې بازار او اقتصاد په اغېزمن ډول فعالیت وکړي نو ترلاسه شوي عواید هم باید په عادلانه ډول وویشل شي.

۲: په کاروبار کې (معمولاً په سهامي شرکت کې) د هر ونډه لرونکي د پانګې یا ملکیت د ډول او اندازې څخه عبارت دی.

## Equity Market

### د ونډو/مکیتونو بازار

هغه بازار، چې پکې د کاروبارونو د ملکیتونو پېر او پلور ترسره کېږي، چې د ونډو بازار Stock Market اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Equity Standard

### د برابرۍ معیار

د ټولنې ترمنځ د توکو او خدمتونو د تولید څخه ترلاسه شویو عوایدو د وېش له دریو معیارونو څخه یو دی دوه نور معیارونه عبارت دي له:

۱: د اړتیاو معیار **(**Needs Standard**)**

۲: او په اقتصادي کړنو کې د برخه اخستنې معیار (Contributive Standard)

او د دې معیار له مخې د ټولنې وګړو ترمنځ د توکو او خدمتونو د تولید څخه ترلاسه شوي عواید باید د ټولنې د وګړو ترمنځ په برابر ډول ووېشل شي او د ټولنې هېڅ وګړی ناراضه نه وي. یا په بل عبارت**:** د ټولنې ټول وګړي باید مساویانه سړي سر عاید ولري.

د بېلګې په توګه: که په ۱۳۹٤ میلادي کال کې د افغانستان ټول نفوس ۳۰ میلیونه وګړي او ټول عواید ۳۰۰ میلیارده افغانۍ فرض کړو؛ نو د مساوات د معیار له مخې باید هر وګړي ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ ووېشل شي، چې د عوایدو دا ډول وېش یوازې یو تصور دی او په واقعي نړۍ کې شتون نلري.

## Estate Tax

### پر جایداد مالیه

د مړ شوي کس د شتمنیو په ارزښت باندې د مالیې څخه عبارت دی، چې معمولاً په امرېکا کې شتون لري. پر میراث مالیې (Inheritance Tax) سره یې پرتله کړئ.

## Euro

### یورو

د اروپايي ټولنې د اقتصادي او پولي سياست د پر مخ بېولو يو ګډ پولي واحد او کرنسي ده، چې په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې په رسمي ډول سره په جريان کې واچول شوه او د اروپايي ټولنې د يورو زون ټول غړي هېوادونه يې په خپلو اقتصادي او مالي معاملاتو کې له نومورې پولي واحد څخه د راکړې ورکړې د وسيلې په توګه ګټه پورته کوي او په نړيواله کچه يو با ثباته پولي واحد ګڼل کېږي. د يادولو وړ ده، چې په اروپايي ټولنه کې يواځې د يورو زون هېوادونه يورو د ملي پيسو په ډول مني؛ خو نور هېوادونه که څه هم په اروپايي ټولنه کې غړيتوب لري؛ خو په يورو زون کې د نه غړيتوب له امله د يورو په ځاي خپلې ملي پيسې کاروي لکه ډنمارک او سويډن، چې د يورو په ځای خپل خپل کرون د پولي واحد په ډول کاروي.

## Euro Zone

### يورو- زون

هغه جغرافيايي سيمه، چې د اروپايي ټولنې (يو شمېر) غړي هېوادنه په برکې نيسي او ګډ اقتصادي او پولي سياست پر مخ وړي. په دې زون کې شامل هيوادونه ټول يوه ګډه کرنسي يا پولي واحد لري چې له يورو څخه عبارت دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اروپايي ټولنې (European Union) ته رجوع هم وکړئ.

## Euro Dllars

### يورو- ډالر

په اروپايي بانکونو کې د امريکا د متحده ايالاتو ډالري حسابونو ته (Eurodollars) ويل کېږي.چې معمولاً د امريکا د مرکزي ريزف د مقرراتو لاندې نه راځي.

## European Central Bank (ECB)

### د اروپايي ټولنې مرکزي بانک

د اروپايي ټولنې مرکزي بانک په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې په فعاليت پيل وکړ او د اروپا د پولي او اقتصادي ټولنې د پولي سياست نظارت او جريان ته د يورو د عرضه کولو سياست پرمخ بيولو مسئوليت په غاړه لري. دا بانک د جرمني د فرانکفورت په ښار کې موقعيت لري.

## European Currency Unit (ECU)

### اروپايي پولي واحد

دا پولي واحد، چې د يورو په نوم يادېږي په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې په رسمي ډول سره د اروپايي ټولنې د ګډ پولي واحد په توګه رامنځته شوی دی.

## European Union

### اروپايي ټولنه

اروپايي ټولنه په ۱۹۹۲ ميلادي کال کې د لسو اروپايي هېوادونو ترمنځ د يو هوکړه ليک په لاسليک کولو سره رامنځته شوې ده او په اوسني وخت کې يې غړي هېوادونه ۲۸ ته رسيږي چې ځينې يې عبارت دي له:

بيلجيم، ډنمارک، يونان، جرمني، هسپانيه، فرانسه، آيرلنډ، ايټاليه، لوګزامبورګ، هالنډ، پرتګال،چک، اطريش، هنګري، سلوواکيا، ليتوانيا، لتويا، استونيا، برېتانيه او داسې نورو د اروپايي ټولنې بنسټيزې موخې عبارت دي له:

- د غړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې د محدوديتونو را کمول يا له منځه وړل.
- د ګډ پولي واحد رامنځته کول.
- عامه نظامي او دفاعي سياست پرمخ وړل.
- او د پولي سياست مرکزي کول دي.

اروپايي ټولنه اوه اداري او حقوقي واحدونه لري چې ځينې يې عبارت دي له: د اروپا پارلمان ، اروپايي کميسيون ، د اروپا مرکزي بانک او اروپايي عدالتي محکمه.

## Excess Demand
اضافي/مازاده تقاضا

په سياليز بازار کې د عدم تعادل هغه حالت، چې د عرضې د مقدار په پرتله د تقاضا مقدار ډېر وي (اضافي تقاضا شتون لري) يا د عرضې په پرتله تقاضا ډېره وي او دغه حالت ته د کسر (Deficit) اصطلاح هم کارول کېږي. له مازادې تقاضا (Excess Supply) سره يې پرتله کړئ.

## Excess Profit
اضافي /مازاده ګټه

د ګټې هغه (له نورمال څخه اضافه ) اندازه، چې توليدونکي د توليد د زياتوالي لپاره هڅوي يا دا، چې: د ګټې هغه اندازه، چې له مخې يې توليدونکي په بازار کې د سيالۍ د زياتوالي لپاره هڅول کېږي، چې د (supernormal profit) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له نورمالې ګټې (Normal profit) سره يې پرتله کړئ.

## Excess Reserve
اضافي/مازاده ذخيره

د سوداګريزو بانکونو د زېرمې هغه اندازه، چې د مرکزي بانک له لوري د ورکړل شوي اندازې څخه ډېره وي، چې د زياتره پورونو د اجرا لپاره او د معاملاتو د ترسره کولو لپاره د کافي نقده ذخايرو د لرلو لپاره کارول کېږي.

## Excess Supply
اضافي/مازاده عرضه

په سياليز بازار کې د عدم تعادل هغه حالت، چې د تقاضا د مقدار په پرتله د عرضې مقدار ډېر وي (اضافي عرضه شتون لري) يا د تقاضا په پرتله عرضه ډېره وي او دغه حالت ته د مازاد(Surplus) اصطلاح هم کارول کېږي. له مازادې تقاضا (Excess Demand) سره يې پرتله کړئ.

## Exchange

تبادله

د يو توکي په وړاندې د بل توکي د تبادلې له پروسې څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: عرضه کوونکی د پیسو په وړاندې توکي پلوري او تقاضا کوونکی د پیسو په وړاندې توکي پيري، چې د توکو او پیسو دغه معاملې ته تبادله ویل کېږي ممکن دا تبادله پرته له پيسو (توکي په توکي) هم ترسره شي.

## Exchange Control

د تبادلې کنترول

په ځانګړي ډول د مالي راکړو ورکړو په برخه کې هېواد ته له بهر څخه د پیسو په راتګ او له هېواد څخه بهر ته د پیسو په لېږد باندې له حد ټاکلو څخه عبارت دی، چې دا ډول حد معمولاً په بحراني حالاتو کې ټاکل کېږي.

## Exchange Rate

د تبادلې نرخ

د بل هېواد د پولي واحد په وړاندې د هېواد د پولي واحد د تبادلې مقدار یا نرخ څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: د یو امریکایي ډالر په وړاندې ۵۰ افغانۍ تبادله کېږي، چې د اسعارو د تبادلې نرخ (Foreign Exchange Rate) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. او د نړیوالو اقتصادي مناسباتو په مباحثو کې معمولاً د تبادلې د نرخ د ټاکنې درې عمده سیستمونه وجود لري، چې عبارت دي له:

- د تبادلې ثابت نرخ .(Fixed exchange rate system)
- د تبادلې ارتجاعي نرخ (Flexible or floating exchange rate system)
- د تبادلې تنظیم شوی نرخ .(Managed floating rate system)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Excise Tax
## پر استهلاک مالیه

په یوه ځانګړي توکی (چې معمولاً د ټولنې وګړو لپاره یې استعمالول له ضرره ډک وي) باندې له ځانګړې مالیې څخه عبارت دی لکه په الکولو، تنباکو او داسې نورو مضره توکو باندې د مالیې ټاکل، چې معمولاً لاندنۍ موخې لري:

- د دا ډول مضرو توکو په استعمال کې کموالی رامنځته شي.
- د دولت عواید لوړ شي. ځکه، چې دولت پوهېږي، چې که په نوموړي توکي باندې د مالیې اندازه ډېره هم لوړه شي؛ نو بیا یې هم د ټولنې ځینې وګړي کاروي.

## Excludability
## ممانعت

د یو توکي او یا خدمت څخه د هغه ډله وګړو محرومول، چې د ګټې اخېستنې په وړاندې یې قېمت نه تادیه کوي. ځینې توکي او خدمتونه، چې د تولیدوونکو له لوري عرضه کېږي لکه قلم، بوټ، تکه، کمپیوټر، په خصوصي پوهنتون کې تدریس او داسې نور؛ نو عرضه کونکي کولای شي، چې د نوموړو توکو او خدمتونو له استعمال څخه هغه ډله خلک چې د استعمال په وړاندې یې قېمت نه تادیه کوي محروم کړي دا اصطلاح دعامه او خصوصي توکو په بحثونو کارول کېږي او د خصوصي توکو یو مهم خاصیت دا ده چې له مخې یې عامه توکو پېژندنه کیږي لکه دولت نشي کولای، چې د خپلو ځینو خدمتونو څخه، چې ټولنې ته یې وړاندې کوي هغه ډله وګړي، چې د استعمال په وړاندې یې قېمت نه تادیه کوي (مالیه نه تادیه کوي) له استعمال څخه محروم کړي مثلاً عامه دفاع او داسې نور خدمتونه.

## Exclusive Agreement
## ځانګړې هوکړه لیک

له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې د یو توکي د تولیدونکي او د نوموړي توکي د پیرودونکي ترمنځ عقد کېږي او د توکي پلورونکی تعهد کوي، چې په بازار کې به یوازې د همدغه تولیدونکي

توکي پلوري او تولیدونکی بیا داسې تعهد کوي، چې په عین بازار کې بل پلورونکي ته همدا توکي د پلورلو لپاره ورنکړي.

## Exclusive Summery

## ځانګړې لنډیز

د کاروبار د پلان د یوې برخې په توګه یوه ځانګړې خلاصه یا لنډیز دی یا د بازار د ټولي پلان خلاصې څخه عبارت دی، چې کاروبارونه یې په دې موخه وړاندې کوي څو د پلان لوستونکي او یا د کاروبار مشتریان په ټوله کې د کاروبار د راتلونکو پلانونو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

## Exhaustible Resources

## تمامیدونکې سرچینې

هغه طبیعي سرچینې، چې د چاپیریال د طبیعي قوتونو په وسیله پکې ډېروالی نشي راتلای لکه تیل، ګاز، سلور، طلا، د ډبرو سکاره او داسې نور.

## Exogenous Change

## بهرنۍ تغیر

په عام ډول په اقتصاد کې د غیر اقتصادي عواملو په پایله کې رامنځته شویو تغیراتو ته بهرنۍ ویل کیږي. په ځانګړې ډول هغه تغیر چې په یو اقتصادي موډل کې د نا تعریف شویو او بهرنیو متحولینو څخه رامنځته کیږي بهرنۍ تغیر بلل کیږي. له داخلي تغیر (Endogenous Change) سره یې پرتله کړئ.

## Exogenous Variable

## بهرني متغیر

هغه متحولین، چې د یو موډل یا فورمول برخه نه وي او له مادل څخه بهر وی خو د موډل په پایله اغیز لري او په دې ډول متحول کې تغیر راتلل د ماډل په حاصل باندی اغیز ولري. د لا ډېرو مالوماتو لپاره خپلواک متغیر (Independent Variable) ته هم رجوع وکړئ.

## Expansion

رونق (مرحله)

د کاروباري دوران یا دایرې د دوه بنسټیزو مرحلو څخه یوه ده بله بنسټیزه مرحله یې عبارت ده له: کساد، زوال (Contraction) څخه. او هغه مرحله ده، چې په عمومي ډول پکې په اقتصادي کړنو، د تولید په اندازه او د استخدام په کچه کې په مسلسل ډول سره ډېروالی رامنځته کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د کاروباري دوران یا دایرې مرحلو (Business Cycle Phases) ته هم رجوع وکړئ.

## Expansionary Fiscal Policy

انبساطي مالي سیاست

د اقتصادي ثبات د سیاست هغه ډول دی، چې له مخې یې دولت له مالي وسایلو څخه په ګټه اخیستنې سره په اقتصاد کې پراختیا رامنځته کوي او په دې موخه له بیلا بیلو وسایلو او لارو چارو ګټه اخلي چې ځینې یې عبارت دي له:

۱- په خپلو لګښتونو کې ډېروالی.

۲- د مالیې په اندازه کې کموالی راولي.

۳- په لګښتونو او د مالیه په اندازه کې په دواړو کې ډېروالی راولي ترڅو ځانګړو اقتصادي موخو ته ورسیږي. له انبساطي پولي سیاست (Expansionary Monetary Policy) سره یې پرتله کړئ.

## ExpansionaryGap

انبساطي تشه/خلاء

هغه خلاء یا تشه، چې په لنډ مهاله تعادلي تولید او د اوږد مهال کامل استخدام تعادلي تولید ترمنځ وجود لري، چې دې ته انفلاسیوني تشه یا توپیر(Inflationary Gap) هم وایي.

## ExpansionaryMonetaryPolicy
### انبساطي پولي سياست

د اقتصادي ثبات د سياست هغه ډول دی، چې له مخې يې دولت د پولي لارو چارو په کار اچولو سره په اقتصاد کې د پراختيا په موخه ګام اخلي لکه د پيسو عرضه ډېرول څو د کاروباري دوران يا دايره کې د زوال يا کساد د مرحلې سره تړلې ستونزې اصلاح او يا هم له منځه يوړل شي. له انبساطي مالي سياست (Expansionary Fiscal Policy) سره يې پرتله کړئ.

## Expectations
### توقعات

په اقتصاد کې د بازار په شرايطـو کې د بيلابيلو خواوو د راتلونکو توقعاتو څخه عبارت دی. چې د عرضې او تقاضا د تعين کوونکيو پنځو عواملو څخه يو مهم عامل دی، چې په تقاضا او عرضه کې د تغير لامل ګرزي، چې د عرضې او تقاضا د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت فرض کېږي او لدې پنځو عواملو څخه په هر يوه کې تغير د تقاضا د منحني د انتقال لامل ګرځي د لا ډېرو مالوماتو لپاره عرضې او تقاضا ټاکونکو عواملو (Supply/Demand Determinants) ته هم رجوع وکړئ.

## Expenditure
### لګښت

په عام ډول په اقتصادي بحثونو کې د لګښتونو په مانا ده او په محاسبه کې: په يوه دوره کې د نقده لګښت څخه عبارت دی.

## Expenditure Multiplier
### د لګښت ضريب

په نا خالص داخلي توليد (GDP) کې د تغير نسبت څخه عبارت دی، چې په ټوليزو لګښتونو (د کورنيو استهلاکي لګښتونه، د کاروبارونو له لوري د پانګونې لګښتونه، د دولتي يا عامه سکتور لګښتونه او خالص صادرات) کې د يو خود مختار تغير له مخې رامنځته کېږي.

## Expensese
لګښتونه

په محاسبه کې هغه لګښتونه، چې په تیره دوره کې ترسره شوي وي؛ خو په اوسني دوره کې یې تادیه ترسره کېږي او په اقتصادي څېړنه کې: هغه نقدي لګښتونه، چې د یو توکي او یا خدمت په تولید باندې ترسره کېږي.

## Explicit Collusion
ښکاره اتحاد

معمولاً یو پټ هوکړه لیک، چې د څو اولیګوپولي کاروبارونو یا تولیدونکي ترمنځ پدې موخه عقد کېږي څو په بازار کې د توکو په قیمت ټاکنه باندې کنترول ترلاسه کړي، قیمتونه لوړ کړي، او بالاخره په بازار کې د انحصار لرونکو په توګه را څرګند شي. دغه ډول هوکړه لیک ته د څرګند اتحاد (Overt Collusion) اصطلاح هم کارول کېږي. له پټ/ضمني اتحاد Implicit/ Tacit Collusion سره یې پرتله کړئ

## Explicit Cost
ښکاره لګښت

ټول ښکاره محاسبوي اونقده لګښتونه، چې معمولاً د کاروبار د پرمخ بېولو او معاملاتو د ترسره کولو لپاره ترسره کېږي او د پیسو تادیه پکې شامله وي او معامله په بازار کې ترسره کېږي.چې د له جیب خرچه (Out of Pocket) او د محاسبي لګښتونه (Accounting Cost) اصطلاح هم ورته کارول کېږي. له پټ لګښت (Implicit Cost) سره یې پرتله کړئ.

## Explicit Logrolling
ښکاره متقابله مرسته

په رایه ورکوونکیو کې د متقابلې مرستې له هغه ډول څخه عبارت دی، چې دوه رایې ورکونکي (د یوې اقتصادي پروژې په وړاندې) پکې په دې ډول سره راضي کېږي، چې خپلې دوه رای د یوې رای په شکل د دوه جلا پروګرامونو یا پالیسیو په موخه وکاروي سره له دې چې هر یو یې په حقیقت کې د یوې پروژې تصویب غواړي خو پرته له متقابلې مرستې دې موخې ته نشي رسیدلای.

د بېلګې په توګه: دوه جلا اقتصادي سياستونه، چې د دواړو پر وړاندې مخالفين او ملاتړي شتون ولري؛ نو ددوی ترمنځ په دې ډول سره هوکړه ليک ترسره کېږي، چې دواړه ډلې د دواړو پاليسيو په ګټه رايې وکاروي او په دې توګه دواړه پاليسۍ تصويب او عملي شي که چيري دواړه متقابله مرسته ونکړي نو شايد دواړه پاليسۍ تصويب نشي. له پټې مرستې (Implicit Logrolling) سره يې پرتله کړئ.

## Exploitation of labor

د کارګر استثمارول

د مارشال د تيوري له مخې: هغه مزد، چې د کارګر د نهايي محصول د اندازې په پرتله کم وي.

## Exploration

استخراج

له ځمکې څخه د خامو موادو لکه تېلو، ګازو، معدنياتو او داسې نورو شته څيزونو د را ويستلو څخه عبارت دی.

## Export

صادرات

هغه توليدات چې د هيواد په داخل کې توليد او د پلور لپاره بهر ته ليږل کيږي صادرات بلل کيږی. د تادياتو د بېلانس د جاري حساب د سوداګرۍ د بېلانس له دوه برخو څخه يوه ده (بله برخه يې واردات جوړوي). د بېلګې په توګه: افغانستان تازه او وچه مېوه، پوستکي او داسې نور توکي، نورو هېوادونو ته يې د پلور په موخه لېږدوي او يا صادروي.

## Export bounty

صادراتي جايزه

هغه مرسته، چې د دولت له لوري ځينو توليدوونکو ته د ځينو صادراتي توکو د تقويې په موخه ترسره کېږي څو داخلي توليدات پراختيا پيدا کړي څو په پايله کې يې د هېواد صادرات ډېر شي. معمولاً د سبسايدي (subsidy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Export Credit
صادراتي پور

هغه پور چې د صادراتو د ډېروالي په موخه ورکول کېږي.، چې معمولاً د دولت له لوري ځينو صادراتي شرکتونو ته په کمه ربحه سره تهيه کېږي.

## Export Line
د صادراتو کرښه

د صادراتو او ملي عايد (نا خالص داخلي توليد) د تولېزې کچې ترمنځ د اړيکې ګرافيکي شکل څخه عبارت دی، چې د خالصو صادراتو د کرښې د رسمولو لپاره خورا ارزښت لرونکی کرښه ده.

## Export Promotion
د صادراتو توسعه

د يو هېواد د اقتصادي پرمختګ په موخه هغه تګلاره، چې له مخې يې داخلي توليدونکي د صادراتو يا بهرنيان د نوموړي هېواد د صادراتي توکو د پېرلو او استهلاک لپاره هڅول کېږي، څو داخلي توليدونکي د سبسايډي او ځينو نورو امتيازاتو او بهرنيان د ارزانه قېمت، لوړ کيفيت او ډاليو په وسيله هڅول کيدای شي.

## Expropriation
مصادره

د قانون له مخې د دولت لوري له يو کس څخه د ملکيت حق ترلاسه کولو ته د ملکيت سلبېدل يا مصادره ويل کېږي.

## External Benefit
بهرنی نفع

هغه منفعت، چې د توکي د بازار په قېمت کې شامل نه وي يا دا، چې د تقاضا په قېمت کې شامل نه وي، چې يوه ښه بېلګه يې ښوونه او روزنه دی، چې له زده کونکو سره سره د يوې ټولنې وګړي د باسواده قشر څخه ډېر منفعت ترلاسه کوي.

## External Cost

### بهرنۍ لګښت

هغه لګښت، چې په بازار کې د عرضه کیدونکي توکي په قېمت کې شامل نه وي دا ځکه، چې د عرضې په قېمت کې شامل نه وي، چې ښه بېلګه يې د توليد په مهال د چاپيريال ککړتيا ده. سره له دې، چې د ټولنې لپاره يو ډول لګښت رامنځته کوي؛ خو توليدوونکي يې معمولاً په خپلو توليدي لګښتونو کې نه حسابوي.

## External economies

### بهرنۍ (اقتصادي) منفعت يا مزيت

هغه بهره يا ګټه، چې يو کاروبار يا توليدونکي يې د کاروبار څخه بهر د پرمختيا په پايله کې ترلاسه کوي. د بېلګې په توګه: يو کاروبار د ښار څخه ليرې موقعيت لري او ښار ته غزېدلی سرک هم خراب دی نو په دې توګه ښار ته د توليد په رسولو کې د ډېر لګښت سره مخ کېږي خو د سرک په جوړېدو سره ښار ته د توليد په رسولو کې د لګښتونو کموالي ته بهرنۍ منفعت يا ګټه ويل کېږي.

## Externalities

### بهرنۍ اغيزې

د يو اقتصادي کړنې (مثبت يا منفي) اغيز په نورو خلکو. لکه کله، چې يو کس د خپل اقتصادي فعاليت څخه ګټه پورته کوي يا يو توکی توليدوي خو له امله يې يو بل کس متضرره کېږي.

د بېلګې په توګه: د ښار په يوه برخه کې د خښتو پخولو بټۍ شتون، چې د بټۍ مالک ته د ګټې وسيله ده؛ خو د سيمې خلک بيا له ډېرو ستونزو او بيماريو سره مخ کوي، چې معالجه يې لګښتونه ايجادوي او دا لګښتونه مستقيماً د توليد نه بلکې له توليدي پروسې بهر لګښتونه دي.

د يادولو وړ ده، چې دغه اصطلاح نه يواځې نورو ته د ضرر د اغېز په ډول بلکې د ګټورو اغېزو په مفهوم هم استعماليدلی شي.

# F

## Face Value
### اسمي ارزښت

په مالي شتمنیو باندې د قانوني اسمي ارزښت څخه عبارت دي، چې د (PaperValue) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

د بېلګې په توګه: د مخابراتي شرکتونو کرېډېټ کارتونه، چې ۵۰، ۱۰۰، ۱۵۰ او داسې نور ارزښت لرونکي دي، چې همدا لیکل شوی ارزښت یې له اسمي ارزښت څخه عبارت دی او که چیرې د حساب د ډېرولو په وخت کې د پېرودونکي حساب د هغه د اسمي ارزښت څخه کم وي نو پېرونکی یې د قانوني دعوی حق لري څو پاتې ارزښت ترلاسه کړي.

## Factor /Resources Market
### عواملو/سرچینو بازار

هغه بازار، چې د تولید د عواملو (معمولاً د ځمکې، کارګر، پانګې) د تبادلې خدمتونه پکې ترسره کېږي. له مالي بازار **(**Financial market**)** او د تولید بازار **(**Product market**)** سره یې پرتله کړئ.

## Factor Accumulation
### د عواملو تجمع/راغونډېدنه

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د تولید د څلورو بنسټیزو عواملو یعنې:

۱: ځمکه **(**Land**)**

۲: کارګر **(**Labor**)**

۳: پانګه **(**Capital**)**

٤: کارفرما/متصدي**(**Enterpreneur**)**

په اندازه کې ډېروالي راوړلو او یا هم یو ځای کولو څخه عبارت دی.

## Factor Cost
### د عواملو لګښت

د تولید په عملیه کې د تولید د عواملو لپاره تادیه کېدونکي تمام شد قېمت ته د عواملو لګښت ویل کېږي.، چې کرایه ځمکې ته، معاش کارګر ته، سود پانګې ته او ګټه حکمفرما یا متصدي ته تادیه کېږي.

## Factor Demand
### عواملو ته تقاضا

د تولیدي فعالیت لرونکو (کاروبارونو) له لوري د تولید عواملو (معمولاً د ځمکې، کارګر، پانګې ) استخدام او په کار اچولو د ارادې او پیر وړتیا. ته عواملو ته تقاضا ویل کېږي.

## Factor Demand Determinants
### د عواملو د تقاضا ټاکونکي عوامل

درې عمده او بنسټیز ټاکونکي عوامل دي، چې د تولید عواملو د تقاضا د منحني انتقال لامل ګرځي، چې عبارت دي له:

۱: د تولید قېمت **(**Price**)**

۲: د تولید عواملو تولیدي وړتیا **(**Productivity**)**

۳: د نورو عواملو قېمت **(**Other prices**)**

چې په تقاضا کې یې ډېروالی د تقاضا منحني ښي خوا ته انتقال مومي او کموالی یې چپ خوا ته د انتقال لامل ګرځي.

## Factor Market
### د عواملو بازار

د سرچینو بازار **(**Resource Market**)** ته رجوع وکړئ.

## Factor Market Disequilibrium

### د عواملو د بازار عدم تعادل

د تولید د عواملو په بازار کې هغه حالت، چې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل شتون ونه لري یا دا، چې د تولید د عواملو په بازار کې مازاد او یا کسر شتون ولري. دا په دې مانا، چې: کاروبارونه د تولید ځومره عواملو ته تقاضا ولري په بازار کې یې نشي ترلاسه کولای شي یا دا، چې: په بازار کې د تولید عوامل عرضه د هغوی د تقاضا په نسبت ډېره وي.

## Factor Market Equilibrium

### د عواملو د بازار تعادل

د تولید د عواملو په بازار کې هغه حالت، چې عرضه او تقاضا د تعادل په حالت کې قرار ولري. یا دا، چې: د تولید د عواملو په بازار کې مازاد او یا کسر شتون ونه لري. دا په دې مانا، چې: کاروبارونه د تولید ځومره عواملو ته تقاضا ولري په بازار کې یې ترلاسه کولای شي.

## Factor Payment

### عواملو ته تادیه

د تولیدي کړنو په موخه د تولید عواملو (معمولاً ځمکې، کارګر، پانګې) څخه د ګټې اخیستنې په وړاندې د کرایې، مزد، ربحې او ګټې د تادیې څخه عبارت دی، چې کرایه د ځمکې په وړاندې، مزد کارګر ته، ربحه پانګې ته او ګټه متصدي ته تادیه کېږي.

## Factor Price

### د عواملو قېمت

د تولیدي کړنو په موخه د تولید عواملو ( معمولاً ځمکې، کارګر، پانګې) څخه د ګټې اخیستنې وړاندې د تادیه کېدونکي مبلغ یا قیمت څخه عبارت دی، چې کرایه د ځمکې په وړاندې، مزد کارګر ته، ربحه پانګې ته او ګټه متصدي ته تادیه کېږي.

## Factor Supply

## د عواملو عرضه

په اقتصاد کې تولیدوونکیو ته د تولید په موخه د تولید عواملو د وړاندې کولو ارادې او وړتیا د عواملو عرضې څخه عبارت دی.

## Factor Supply Determinants

## د عواملو د عرضې ټاکونکي عوامل

په بازار کې د عرضې ټاکونکي عوامل پنځه دی، چې عبارت دي له:

۱: د منابعو او عواملو قیمت **(Factor price)**

۲: تکنالوژي **(Technology)**

۳: د نورو توکو قیمتونه **(Other prices)**

٤: د پلورونکو وړاندوینه **(Sellers expectation)**

۵: د پلورونکو شمېر **(Number of sellers)**

درې نور ټاکونکي د بازار د تقاضا څخه راځرګندېږي، چې عبارت دي له:

۱: عواید **(Income)**

۲: ترجیحات **(Preference)**

۳: او د نورو توکو قیمتونه **(Other prices)**

چې د عواملو د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت فرض کېږي او په هره یوه کې تغیر د عواملو د عرضې د منحني په موقعیت کې د تغیر لامل ګرځي.

## Factors of Production
## د تولید عوامل

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو په تولید کې برخه اخېستونکي څلور بنسټيز عوامل، چې عبارت دي له:

۱: ځمکه **(**Land**)**
۲: کارګر **(**Labor**)**
۳: پانګه **(**Capital**)**
٤:متصدي/کارفرما **(**Entrepreneur**)**

چې د تولید نومورو بنسټيزو عواملو ته د منابعو او کمیابه منابعو اصطلاح هم کارول کېږي ،چې په تولید کې د برخې اخېستنې په پایله کې ځمکې ته کرایه، کارګر ته مزد، پانګې ته ربحه او متصدي یا کارفرما ته ګټه تادیه کېږي. خو ځینې اقتصاد پوهان بیا ګټه د تولید پنځم عامل بولي او وايي چې: که چېرې په تولید کې ګټه شتون ونه لري نو کېدای شي تولیدونکي له خپل کاروبار څخه لاس په سر شي.

## Factory
## کارخانه

له هغه ځای څخه عبارت دی، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د فزیکي شتمنۍ لکه ماشین الاتو، موټر، کور، تجهیزات او داسې نور پکې ځای پر ځای شوي وي.، چې دا اصطلاح ځینې وخت د کاروبار **(**Business**)** سره مترادفه هم کارول کېږي.

## Factory Price
## د تولیدونکي قیمت

Producer price ته رجوع وکړئ.

## Fall Market

### مخ په ځوړ بازار

هغه بازار چې د توکو او یا هم د ونډو قیمتونه په کې د ټیټیدو په حال کې وي.

## Fallacy

### تیروتنه/سفسطه

د یوې پالیسۍ په ارزیابي او جر و بحث کې له یوې منطقي لغزش یا سفسطي څخه عبارت دی، چې په اقتصادي څېړنه کې یې شپږ عامې نمونې عبارت دي له:

١: د اکثریت تیروتنه/سفسطه (Fallacy of mass appeal)

٢: د اتحاد تیروتنه/سفسطه (Fallacy of collusion)

٣: د ویش تیروتنه/سفسطه (Fallacy of division)

٤: د غلطې بېلګې تیروتنه/سفسطه (Fallacy of false authority)

٥: د غلط سبب تیروتنه/سفسطه (Fallacy of false cause)

٦: د شخصي تړاو تیروتنه/سفسطه (Fallacy of personal attack)

دغه ډول غلطي/سفسطې ډېرې زیانوونکې وي ځکه سره لدې، چې اشتباه او غلطي وي؛ خو په ښکاره ډول سمه او صحیح ښکاري په ځانګړې ډول هغه وخت، چې د مخورو خلکو له خوا بیانیږي.
د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Fallacy of Collusion

### د اتحاد تیروتنه/سفسطه

په بحث کې هغه منطقي لغزش/سفسطه، چې وایي: یو توکی، چې د یوې برخې لپاره ګټور دی د ټولو لپاره ګټور دی، چې دا د اقتصاد په مطالعه کې په دې مانا ده، چې یو کس، چې د اقتصاد د یوې برخې په توګه کار کوي لکه کورنۍ او کاروبارونه؛ نو په نهایت کې د ټکې اقتصاد لپاره هم کار کوي د ویش تیروتنه/سفسطې (Fallacy Of Division) سره یې پرتله کړئ

## Fallacy of Division

### د ويش تيروتنه/سفسطه

په بحث کې هغه منطقي لغزش/سفسطه، چې وايي: يو توکی، چې د ټولو لپاره ګټور وي د هغوی د يوې برخې لپاره هم ګټور دی.، چې د اقتصاد په مطالعه کې په دې مانا ده، چې: هغه څوک چې د کلي اقتصاد لپاره کار کوي په نهايت کې د اقتصاد د يوې برخې لپاره هم کار کوي لکه کورنۍ او کاروبارونه. د د اتحاد تيروتنې/سفسطې (Fallacy Of collusion) سره يې پرتله کړئ.

## Fallacy of False Authority

### د غلطې بيلګې تيروتنه/سفسطه

هغه منطقي لغزش/سفسطه، چې وايي: يو کار، عمل او يا توکی په دې دليل درست او يا غلط دی، چې په يوې بلې غير وابسته سيمې کې همداسې ويل کېږي. لکه د اقتصادي پاليسيو په برخه کې د هغه چا نظر، چې په اقتصادي مسايلو کې ډېر مهارت ونه لري او يا يې هم مسلک اقتصاد نه وي. د بېلګې په توګه: د اقتصادي پاليسيو په برخه کې د يو انجينر او يا ډاکټر نظر.

## FallacyofFalseCause

### د غلط سبب تيروتنه

هغه منطقي لغرش/سفسطه، چې وايي: چې اشتباهاً او په غلط ډول داسې فکر کېږي، چې دوه پېښې چې يوه وخت رامنځته کېږي نو يوه د بلې پايله ده په داسې حال کې چې هغه دواړه پيښې له يوې بلې جلا وي.

## Fallacy of Mass Appeal

### د اکثريت تيروتنه

په بحث کې هغه منطقي سفسطه، چې وايې: يو کار او يا شی څکه غلط او يا درست دی، چې د ټولنې اکثريت همداسې فکر کوي.

## Fallacy of Personal Attack

### د شخصي ترهاو تيروتنه

په بحث کې هغه منطقي سفسطه، چې وايي: دغه کار او يا توکی ځکه بد دی، چې په دې پورې تړلی هغه کار يا توکی بد دی. د بېلګې په توګه: د يو توليد په اعلان کې يو کس راښکاره کېږي، چې د يو چا خوښ نه دی؛ نو نوموړی کس په اعلان کې د برخه لرونکي کس له امله يې ټول توليد بد راځي او نه يې کاروي.

## Farm Problem

### د کروندې ستونزه

د کرنيز اقتصاد په برخه کې هغه لنډ مهاله وخت، چې پکې موسمي تغيرات په قيمت کې د ډېر نوسان (معمولاً د قيمت د کموالي) لامل ګرځي. نو پداسې حالاتو کې دولت له خوا له بزګرانو سره مرسته ترسره کېږي يا د پلور لپاره يې قانوني لوړ قيمت (Price ceiling) ټاکي څو کروندګر د کرنيزو توکو د کم قيمت له امله متضرره نه شي.

## Fascism

### فاشيزم

په عام ډول د يو سياسي نظام نوم دې خو په اقتصاد کې هغه پلان او فکري طرح، چې له مخې يې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د توليدوونکو خصوصي ملکيت خوندي کېږي خو د دولت له لوري پرې شديد کنترول رامنځته کېږي. معمولاً د پانګونې په برخه کې.

## Favorable Balance of Payment

### د تادياتو مساعد بيلانس

د يو هېواد د تادياتو د بيلانس هغه حالت چې د يوی اقتصادي دورې يا معمولاً د يو کال په اوږدو کې د اقتصادي او مالي راکړو ورکړو په وړاندې د يو هېواد تاديات نورو هېوادونو ته نظر د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته کم وي.

او يا هم په بل عبارت: د يو هېواد له لوري نورو هېوادونو ته کم تاديات ترسره کېږي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر تاديات ترسره کېږي، چې د تادياتو بېلانس مازاد ( Balance

(Of Payment Surplus اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د تادياتو غير مساعد بېلانس (unfavorable balance Of Payment) سره يې پرتله کړئ.

## Favorable Balance Of Trade

### د سوداګرۍ مساعد بيلانس

د يو هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ د بېلانس هغه حالت، چې معمولاً د يو کال په اوږدو کې يې د صادراتو ارزښت د نوموړي هېواد د وارداتو د ارزښت په پرتله ډېر وي. دا په دې مانا، چې نوموړی هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې د مازاد درلودونکی دی ځکه، چې نوموړی هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې نورو هېوادونو ته کم تاديات کوي او د نورو هېوادونو له لوري نوموړي هېواد ته ډېر تاديات ترسره کېږي، چې د سوداګرۍ بېلانس مازاد (Balance Of Trade Surplus) اصطلاح هم ورته کارول کېږي. د سوداګرۍ غير مساعد بېلانسUnfavorable balance oft rade سره يې پرتله کړئ.

## Fee

### فيس

د يو خدمت يا هم د يو ځانګړي امتياز څخه د ګټې اخېستنې په وړاندې تاديې ته فيس ويل کېږي لکه د ډاکټر د خدمت په وړاندې تاديه.

## Feudalism

### فيوډاليزم

هغه سياسي او اقتصادي نظام چې مرکزي دولت يې ځواکمن نه وي بلکه حاکمه طبقه په کې فيوډالان يا د ډېرو پيسو او جايدادونو او کرنيزو ځمکو درلودونکي وي. او يا هم په بل عبارت: فيوډالي سېستم (Feudual system) د سياسي، ټولنيزو او اقتصادي اړيکو هغه نظام، چې د نهمې پېړۍ څخه تر پنځلسمې پيړۍ پورې يې په اروپا کې حاکميت درلوده او پکې لويې کرنې شتون درلوده، چې د ځمکو مالکين اربابان وو او کرنه د غلامانو په وسيله ترسره کېده، چې د اربابانو له لوري ورته يوازې اعاشه ورکول کېده او بس.

## Fiat Money

اعتباري پيسې

هغه پيسې، چې د تبادلې په وخت کې ارزښ لرونکي وي؛ خو د استعمال په وخت کې يې ارزښت کم وي او معمولاً د ټولنې له لوري د نوموړو پيسو د منلو په اراده باندې اتکا لري، چې د نورو توکو او خدمتونو د تبادلې لپاره يې مني او کنه؟ لکه چک. او يا هم په بله عبارت: هغه کاغذي پيسې، چې د دولت له لوري نشر شوي وي په کلي ډول يې د قانوني پيسو حيثيت ترلاسه کړی وي؛ خو د مسکوکه فلزاتو(طلا يا نقرې) پشتوانه ونه لري. د پيسو د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پيسو **(**Money**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Fiduciary

باور يا ډاډ/ امانتي

معمولاً په مالي معاملاتو کې په يو کس باندې د بل کس د اعتماد څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: د يو کاروبار مالک په خپل يو کارمند باندې اعتماد کوي، چې د هغه د نه شتون په وخت کې کولای شي، چې د اړتيا وړ پيسې د نوموړي له حساب او يا هم له کوم کس څخه د پور په شکل ترلاسه کړي.

## Fiduciary Money

اعتمادي پيسې

هغه پيسې، چې په کامل ډول د طلا يا نقرې پشتوانه ونه لري ، چې د اعتباري پسو Credit money**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د پيسو د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پيسو Moneyته هم رجوع وکړئ.

## Final Goods

نهايي توکي

هغه توکي ، چې د نهايي استهلاک په موخه توليد شوي وي او پېرودونکي يې د نورو توکو او يا خدمتونو په توليد کې د شکل د تغير اراده ونه لري، چې په نا خالص داخلي توليد کې هم د نهايي توکو او خدمتونو ارزښت محاسبه کېږي. د منځګړو توکو **(**Intermediate Goods**)** سره يې پرتله کړئ.

## Finance
## تمويل

د يوې اقتصادي کړنې يا کار د ترسره کولو لپاره د پيسو تدارک يا ترلاسه کولو ته تمويل ويل کېږي.

## Financial Claims
## مالي مطالبه/دعوی

په مالي شتمنيو لکه بانډ او نورو باندې د يو اقتصادي واحد يا د يو کس (حقوقي کس) قانوني دعوی څخه عبارت دی.

## Financial Intermediary
## مالي مينځګړی

هغه کس، چې په مالي بازار کې د مالي شتمنيو او پانګو د تبادلې په موخه د هغوی پلورونکي او پېرودونکي د معاملې د ترسره کولو په موخه يو ځای کوي.

## Financial Investment
## مالي پانګونه

په مالي شتمنيو کې پانګه اچونې ته مالي پانګه اچونه ويل کېږي لکه د ونډو يا نورو قيمتي پاڼو پېرودل.

## Financial Market
## مالي بازار

هغه بازار، چې پکې د مالي شتمنيو او پانګو د پلورلو او پېرلو معاملات ترسره کېږي او دوه عمده برخې يې عبارت له:

د پيسو بازار (Money Market)

د پانګې بازار (Capital Market).

د مالي بازار په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د مالي بازار ذکر شوو برخو ته هم رجوع وکړئ.

## Financial Statement

### مالي صورت حساب

په محاسبه کې هغه مالي صورت حسابونو ته وايي چې په يوه کاروباري دوره کې د کاروبار د مالي حالت د ارزونې لپاره د محاسبې د څانګې له خوا تيارېږي، مهم مالي راپورونه عبارت دي له:

۱: بېلانس شيټ (balance sheet)

۲: د عوايد حساب (income statement) چې د ګټې او تاوان حساب (profit and loss accout) اصطلاح ورته مم کارول کېږي.

د مالي صورت حسابونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Financial Wealth

### مالي ثروت

ټولې هغه شتمنۍ، چې په مالي بڼه وجود لري لکه ونډې، بانډ، پيسې او داسې نور، چې د اسمي ثروت (Paper Wealth) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Financial Assets/Capital

### مالي شتمني/پانګه

هغه قانوني پانګه او يا شتمني، چې پر ملکيت باندې يې قانوني دعوی کېداى شي لکه ونډه، بانډ، پيسې او يا نور، چې د اسمي شتمنۍ(Paper Assets) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Fink

### خبر رسوونکی

د کارګرانو د ټولنې هغه غړی، چې خپل متصدي يا کارفرما ته د کارګرانو د ټولنې اړوند کړنو اطلاع ورکوي (کارفرما ته د کارګرانو د ټولنې جاسوسي کوي).

## Firm

### تصدي

د يو صنعت په يوه رشته کې د کاروباري واحد څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: په يو هېواد کې د موټرونو د توليد ټول کاروبار ته د موټرونو صنعت کلېمه کارول کېږي؛ خو په دې کاروبار کې هر

جلا کاروبار یا ځانګړې کمپنۍ ته د منفرده تصدي (**Firm**) اصطلاح کارول کېږي. او یا هم په بل عبارت: هغه کاروبار، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د تولید عوامل سره یو ځای کوي څو د مستهلکینو د غوښتنو او اړتیاو د رفع کولو لپاره د توکو او خدمتونو تولید ترسره کړي.، چې ځینې وخت ورته د کاروبار(**Business**) اصطلاح هم کارول کېږي؛ خو له کاروبار سره یې کېدای شي، چې یوازینی توپیر دا په ګوته کړو، چې Firm کېدای شي، چې د ګټې د ترلاسه کولو په موخه نه وي تأسیس شوی یا کېدای شی، چې د دولت له لوري یې تأسیس او کنترول ترسره کېږي.

## First Degree Price Discrimination

### د قیمت لومړی درجه توپیر

د تبعیضي یا توپیري قیمت هغه ډول، چې د توکو او خدمتونو پلورونکې پکې د توکو او خدمتونو په پلورلو باندې هغه لوړ قیمت ټاکي، چې پېرودونکي یې د تادیې اراده او وړتیا ولري، چې د قیمت بشپړ توپیر/تبعیض (**Perfect Price Discrimination**) اصطلاح هم ورته کارول کېږي. د تبعیضي قیمت دوه نور ډولونه عبارت دي له:

۱: د قیمت دویمه درجه تبعیض/توپیر (**Second Degree Price Discrimination**)

۲: د قیمت دریمه درجه تبعیض/توپیر(**Third Degree Price Discrimination**)

د قیمت د توپیر/تبعیض په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## First Rule of Scarcity

### د قلت لومړی قاعده

د کمیابۍ یا قلت له دوه بنسټیزو قاعدو څخه یوه ده دویمه قاعده یې عبارت ده له: د بشر غوښتنې او اړتیاوې نا محدوده دي (**Unlimited needs and wants**)

چې وایي نړۍ د نا محدوده اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو لپاره د محدوده منابعو سره مخ ده.

## Fiscal

مالي

د دولت له لوري د ماليې وضع کولو، لګښت او مالي مسايلو پورې تړلې اصطلاح ده، چې معمولاً د نورو اصطلاحاتو سره يو ځای کارول کېږي لکه مالي کال(fiscal year) مالي سياست (fiscal policy) او داسې نور.

## Fiscal Budget

مالي بودجه

د يو مالي کال په اوږدو کې د يو بنسټ (معمولاً د دولت) د مالي حالت تشريح، چې د ماليې د عوايدو او لګښتونو د وړاندوينې په اړه وي.

## Fiscal Neutrality

مالي توازن

په معلوم وخت کې کله، چې د دولت عوايد او لګښتونه (مالياتو څخه ترلاسه شوی مبلغ) سره مساوي وي يا دا، چې: په مالياتو کې زياتوالی د دولت د لګښتونو سره په تناسب صورت ونيسي او په دې توګه په بودجه کې کسر يا مازاد نه رامنځته کېږي.

## Fiscal Policy

مالي سياست

د دولت مالي سياست له هغه سياست څخه عبارت دی چې له مخې يې د يو مالي کال لپاره د دولت د عوايدو (ماليه) او لګښتونو تنظيم ترسره کېږي او ټاکلو موخو ته د رسيدو لپاره له مالي پاليسی څخه ګټه پورته کېږي.

## Fiscal Year

مالي کال

هغه مسلسل دولس مياشتې، چې دولت يې د ماليې راټولو، د لګښتونو د تخصيص او د بودجې د جدول بندي لپاره کاروي؛ خو دلته د دولسو مسلسل مياشتو څخه موخه دا نده، چې مالي کال بايد

د حمل اول څخه پیل او د حوت په وروستۍ ورځ پای ته رسېږي بلکې مالي کال د هېوادونو د شرایطو په پام کې نیولو سره ټاکل کېږي.

## Fixed Assets
## ثابتې شتمنۍ

په محاسبه کې استعمالیدونکې اصطلاح ده او ثابتې شتمنۍ له هغو شتمنیو څخه عبارت دي چې د اوږدې مودې (له یو کال څخه زیات وخت) لپاره ورڅخه ګټه اخېستل کېږي لکه موټر، آپارتمان، کمپیوټر او داسې نور. له متغیره/جاري شتمنیو **(**Current Assets**)** سره یې پرتله کړئ.

## Fixed Cost (FC)
## ثابت لګښت

په عمومي ډول هغه لګښتونه چې د تولید په مقدار پورې مستقیمه اړه ونه لري او که هېڅ تولید هم صورت ونه نیسي نو بیا هم دا ډول لګښتونه رامنځته کېږي، چې د تولید په ډېروالي سره په هر واحد تولید باندې ثابت لګښتونه راکمېږي. ثابت لګښتونه د ټولیز لګښت له دوه برخو څخه یوه ده (بله برخه یې عبارت دی له متغیره لګښتونو څخه).یعنې دا چې:

TotalCost=Fixed Cost + Variable Cost

## Fixed Exchange Rate
## د تبادلې ثابت نرخ

د اسعارو د تبادلې هغه نرخ، چې په معلوم نرخ سره د دولت له لوري د اقداماتو (په ځانګړي ډول د مرکزي بانک د اقداماتو) له لارې ساتل کېږي.

او یا هم داچې: د نورو هېوادونو د پیسو په وړاندې د هېواد د پیسو د تبادلې نرخ ثابت وي. د بېلګې په توګه: د یو ډالر په وړاندې ٤٥ افغانۍ تبادله. د اسعارو د تبادلې نور ډولونه عبارت دي له:

١: د تبادلې تنظیم شوی نرخ (Managed Exchange Rate**)**
٢: د تبادلې متغیر نرخ (Floating Exchange Rate**).**

د تبادلې د نرخ په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومورو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Fixed Factor of Production

### د تولید ثابت عامل

د تولید هغه عامل، چې په لنډ مهال کې يې په مقدار يا اندازه کې ډېروالی نشي رامنځته کېدای، چې ښه بېلګه يې ځمکه ده. چې ځينې وخت ورته د ثابت عامل (Fixe Dinput) اصطلاح هم کارول کېږي. د تولید متغیره عامل (Variable Factor of Production) سره يې پرتله کړئ.

## Fixed Input

### ثابت عامل

د تولید هغه عامل، چې په لنډ مهال کې يې په مقدار يا اندازه کې تغير نشي رامنځته کېدای، چې ښه بېلګه يې ځمکه، کارخانه او داسې نور دي. د متغیره عامل (Variable Input)سره يي پرتله کړئ.

## Fixed Investment

### ثابته پانګونه

د کارخانې، ماشين آلاتو، وسايلو او داسې نورو برخو کې د سرمايوي پانګونې لګښتونو ته ثابت پانګونه ويل کېږي.

## Fixed Price

### ثابت قیمت

د ځانګړو توکو يا خدمتونو هغه قیمت، چې معمولاً د هېواد په هره برخه کې هر وخت ثابت وي او تغير پکې نه رامنځته کېږي. لکه د مخابراتي شرکتونو د کرېډټ کارتونو قیمت.

## Flexible Prices

ارتجاعي/بدلیدونکي قېمتونه

په کلاسیک اقتصاد کې هغه آند، چې وايي: په اوږد مهال کې په بازار کې د مازاد یا کسر د شتون په عکس العمل کې قېمتونه په خپله تنظیمېږي.، چې دا د کلاسیک اقتصاد د مهمو بنسټونو څخه ده. له غیر ارتجاعي قېمتونو(inflexible prices) سره یې پرتله کړئ.

## Flixible Wages

ارتجاعي/بدلیدونکی مزد

هغه مزد چې د کار په بازار کې د مازاد (Surplus) او یا کسر (deficit) د شتون په حالت کې ډېر زر تنظیمږي او یا هم دا چې ډېر زر متاثره کېږي. له غیر ازتجاعي مزد (inflexible wages) سره یې پرتله کړئ.

## Floating Assets

متحرکه/سیاله شتمني

سیالې شتمنۍ(Quick assets) ته رجوع وکړئ.

## Floating Exchange Rate

د تبادلې متغیر نرخ

د تبادلې هغه نرخ، چې د پولي واحد ارزښت پکې د بازار قوتونو (عرضې او تقاضا) په وسیله تعینېږي. او د حکومت له خوا ثابت نه وي ټاکل شوې، چې د تبادلې ارتجاعي نرخ (flexible exchange rate) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د تبادلې ثابت نرخ(fixedexchangerate) او د تبادلې تنظیم شوی نرخ (Managed Float System) سره یې پرتله کړئ.

## Fluctuations

نوسان

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو په قیمتونو یا په نورو اقتصادي شرایطو کې نزول او صعود ته نوسان ویل کېږي.

## For Whom?
## د چا لپاره؟

په اقتصاد کې د اقتصادي نظام په بیلا بیلو ډولونو کې د څلورو بنسټیزو پوښتنو څخه یوه ده درې نورې عبارت دي له:

۱: څه شی تولید شي؟ **(**What to produce**?)**

۲: څنګه تولید شي؟ **(**How to produce**?)**

۳: په کومه اندازه تولید شي؟ **(**How Much to Produce**?)**

او دا په دې مانا، چې په ټولنه کې د محدوده منابعو څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې د رامنځته شوي تولید مستهلکین څوک دي؟ یعنې دا، چې تولید د چا لپاره ترسره کېږي؟

## Forecasting
## وړاندوینه

په راتلونکي کې د قیمتونو یا د اقتصادي وضعیت په اړه د نظر او وړاندوینې څخه عبارت دی.

## Foreclosure
## توقیف/ضبطول

د ګرو شویو جایدادونو د ملکیت د ترلاسه کولو لپاره د قانوني ګام اخېستنې څخه عبارت دی کله، چې پور اخیستونکی د پور د شرایطو سره سم د تادیې توان ونه لري.

د بېلګې په توګه: یو کس د خپل کاروبار د پراخوالي په موخه له یو سوداګریز بانک څخه پور اخلي او په تضمین کې یې خپل جایداد ورکوي او بیا پور اخیستونکی د هوکړه لیک سره سم د پور په بیرته تادیه کولو کې پاتې راشي؛ نو بانک د هوکړه لیک د شرایطو سره سم د نوموړي کس جایداد د پلور حق لري څو خپلې پیسې د هوکړه لیک سره سمې ترلاسه کړي.

## Foreign Aid
### بهرنۍ مرسته

هر ډول بهرنۍ مرستې، ډالۍ، پورونه، تخنيکي مرستې او داسې نور انتقالات، چې يو هېواد، سازمانونه او يا وګړي يې د بل هېواد سره په دې موخه ترسره کوي څو په نوموړي هېواد کې اقتصادي، سياسي، ټولنيزو او داسې نورو حالاتو د پرمختګ سره مرسته وشي.

د بېلګې په توګه: په تيرو پنځلسو کلونو کې د بهرنيانو له لوري له افغانستان سره همدا ډول مرستو ترسره کېدل.

## Foreign Direct Investment
### بهرنۍ مستقيمه پانګونه

هغه پانګونه ، چې د پانګه اچونکي له لوري په يو بل هېواد کې په مسقيم ډول ترسره کېږي يا دا، چې: په نورو هېوادونو کې په توليدي پروسه کې په مستقيم ډول پانګونې ته بهرنۍ مستقيمه پانګونه ويل کېږي.

## Foreign exchange
### اسعار (د اسعارو تبا دله)

هغه مالي وسيله ده (معمولاً پخپله بهرنيو پيسو ته ويل کيږي ) چې په مختلفو هېوادونو کې د دولتونو، مالي بنسټونو او انفرادي وګړو ترمنځ په داخلي پيسو يا توکو تبادله کيږي. همدا راز ډېرى وخت دا اصطلاح د بهرنيو پيسو د ادلون بدلون بازار په وړاندې هم کارول کېږي.

او يا هم په بل عبارت: اسعار يا بهرنۍ پيسې يا هر هغه مالي وسيله، چې يو هېواد ته د بل هېواد په پيسو باندې د دعوی حق ورکوي او د هېوادونو ترمنځ د تادياتو د رامنځته کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي، چې تر ټولو مهمه وسيله يې پيسې دي.

## Foreign Exchange Market
## د اسعارو د تبادلې بازار

هغه بازار، چې د اسعارو د تبادلې راکړه ورکړه پکې ترسره کېږي. ممکن دا بازار د نړۍ په هر ګوټ کې هر ځای او هر بانک اوسي او یا هم معلوم ځای لکه په کابل کې د شهزاده سرای.

## Foreign Exchange Rate
## د اسعارو د تبادلې نرخ

د یو هېواد د پیسو قېمت د بل هېواد د پیسو د قېمت په وړاندې.

د بېلګې په توګه: د یو ډالر په وړاندې ٤٨ افغانۍ تبادله کېږي؛ نو د تبادلې کچه ١ډالر=٤٨ افغانیو سره چې معمولاً ورته د تبادلې نرخ (Exchange Rate) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Foreign Investment
## بهرنۍ پانګونه

په یو هېواد کې د بل هېواد د اوسېدونکو او کاروبارونو له لوري د مالي او فزیکي شتمنیو د پېرلو څخه عبارت دی. یا دا، چې: په یو هېواد کې د بل هېواد د اوسېدونکو او کاروبارونو له لوري پانګونې ته بهرنۍ پانګونه ویل کېږي.

## Foreign Sector
## بهرنی سکتور

بهرني یا د بهرنۍ سوداګرۍ سکتور، د ټولې اقتصاد د څلورو بنسټیزو سکتورونو څخه یو دی درې نور سکتورونه یې عبارت دي له:

١: د کورنیو سکتور (House Holds sector)

٢: کاروباري سکتور (Businesses sector)

٣: دولتي سکتور (Government sector)

او د هېواد د سیاسي پولو څخه د باندې هر څوک پکې شامل دی لکه په نورو هېوادونو کې کورنۍ، کاروبارونه او دولتونه.

## Foreign Trade

## بهرنی سوداګري

د نورو هېوادونو سره د یو هېواد سوداګري ته بهرنۍ سوداګري ویل کېږي یا دا، چې د نورو هېوادونو سره د یو هېواد د توکو او خدمتونو تبادلې ته بهرنۍ سوداګري ویل کېږي لکه افغانستان، چې د پاکستان، ایران، هندوستان، چین، روسیه او داسې نورو هېوادونو سره د توکو او خدمتونو راکړه ورکړه ترسره کوي. او دوه برخې په برکې نیسي چې عبارت دي له:

۱: صادرات (Export)

۲: واردات (Import)

د بهرنې سوداګرۍ په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Forward Contract

## سیټه (راتلونکی) هوکړه لیک

هغه مالي هوکړه لیک چې تادیات یې د معلومو شرایطو لاندې په راتلونکې وخت کې ترسره کېږي چې خینی وخت ورته د راتلونکې هوکړه لیک (Futures) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Franchise

## حق الامتیاز

یو حق یا ځانګړی امتیاز، چې د دولت یا لویو ګڼ ملتیزه کاروبارونو له لورې معمولاً کاروبارونو یا تولیدوونکو ته ورکول کېږي.

د بېلګې په توګه: د یوه لوی کاروبار لکه کوکا کولا له لوري یو بل کاروبار ته د یو ځانګړې سوداګریز نوم یا د تولید د فورمولې ورکول چې عملي مثال یې افغانستان کې د کوکا کولا تولید ده.

## Franchising

امتیاز ورکول (له سوداګریز امتیاز څخه د ګټې اخېستنې حق)

د بازار موندنې او د توکو د توزیع په برخه کې د عمودي ادغام (Vertical Integration) یو ځانګړی شکل دی، چې په هغه کې یو کاروبار د سوداګري منل شوی مېتود او قانوني حقوق او یا برانډ په یوه انفرادي کس او یا کاروبار پلوري.

## Free Economy

ازاد اقتصاد

دا اصطلاح معمولاً د هغه اقتصاد لپاره کارول کېږي چې دولت یې په اقتصادي چارو کې مداخله یا لاسوهنه نه کوي د لا ډېرو مالوماتو لپاره پانګوال اقتصادي نظام (Capitalism) ته هم رجوع وکړئ.

## Free Enterprise

آزاد اقتصادي تشبث/ کړنې

په اقتصاد کې هغه کاروبارونه او مستهلکین، چې خپل منابع د توکو او خدمتونو په تولید او استهلاک کې د دولت د مداخلې، پابندیو، مقرراتو او کنترول څخه پرته په کار وړي یا دا، چې: کاروبارونه او مستهلکین د خپلو وسایلو څخه د توکو او خدمتونو په تولید او استهلاک کې د دولت د مداخلې،کنترول او مقرراتو څخه پرته په آزادانه ډول سره ګټه پورته کوي (چې دا د پانګوال اقتصادي نظام له بنسټونو څخه یو دی). یا د دولت د مستقیمې مداخلې څخه پرته د تولید، پیر او پلور آزادي ته د اقتصادي کړنو آزادي ویل کېږي.

## Free Goods

وړیا توکي

ټول هغه توکي، چې د استعمال او استهلاک په وړاندې یې د پیسو او یا توکو تبادله نه ترسره کېږي او په وړیا توګه ترلاسه کیدی شي.

## Free Market

## ازاد بازار

هر سیالیز بازار، چې د دولت له مداخلې (معمولاً حد اقل مجوز قېمت (Price Flooring) او لوړ مجوز قېمت (Price Ceiling) او له مالیې (Tax)) څخه آزاد وي او په دې ډول بازار کې د عرضې او تقاضا قوتونه په بازار کې کسر او یا مازاد په اتومات ډول له منځه وړي او بازار د قېمت او مقدار په برخه کې د تعادل په لور بیايي.

## Free Rider Problem

## د وړیا ګټې اخېستنې ستونزه

هغه ستونزه چې د عامه توکو د ګټه اخېستلو په وخت کې یا د توزیع په مهال رامنځته کېږي ځیني خلک په دې توانیږي، چې له عامه توکو یا خدمتونو څخه پرته له دې، چې مالیه یا فیس يې تادیه کړي ګټه پورته کوي. ځینې وخت په تخنیکي لګښتونو او لارو چارو د دې ډول وړیا ګټه اخېستونکو مخه نیول کیدلی شي؛ خو ځیني وخت ډېر ستونزمن یا نا ممکن وي ځکه چې عامه توکي په لوړه درجه د یوځايي لګښت خاصیت لري.

## Free Riding

## وړیا ګټه اخیستنه

د توکو یا خدمتونو څخه د هغوی د قېمت د تادیې څخه پرته ګټه اخېستلو څخه عبارت دی.، چې دا ډول توکي یا خدمتونه معمولاً د دولت له خوا د عامه توکو په بڼه تهیه کېږي او له خلکو څخه د مالیاتو په وسیله تمویلیږي؛ خو ځیني خلک چې د نوموړو توکو یا خدمتونو لپاره په یو ډول له مالیې یا کوم بل ډول فیس څخه ځان ژغوري خو له نوموړي توکي یا خدمت څخه بیا هم ګټه پورته کوي. د بېلګې په توګه: له ملي دفاع او امنیت څخه ګټه اخېستل چې مالیه ورکونکي او مالیه نه ورکونکي دواړه ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

## Free Trade
## ازاده سوداګري

د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ هغه ډول، چې پکې هېڅ ډول محدودیتونه او پابندي شتون ونه لري او د توکو او خدمتونو تبادله په آزادانه ډول سره ترسره کېږي.

## Free Trade Area
## د ازادۍ سوداګرۍ سیمه

د دوه او یا ډېرو هېوادونو ترمنځ هغه هوکړه لیک، چې له مخې یې د یو بل پر وړاندې په سوداګري کې د خنډونو او محدودیتونو د له منځه وړلو په موخه عقد کېږي.

## Fringe Firm
## حاشیوي تصدي

په بازار کې هغه کوچني یا نسبتاً د کمې ونډې لرونکې کاروبارونو یا تصدیو ته وایي ، چې د حاکم کاروبار (Dominant Firm) له لوري ټاکل شوی قېمت تعقیبوي.

او یا هم په بل عبارت: هغه کاروبار، چې په بازار کې د قېمت ټاکلو په برخه کې کنترول ونه لري. د حاکم کاروبار (Dominant Firm) سره یې پرتله کړئ.

## Frozen Asset
## کنګل شوې شتمني

هغه شتمني، چې په آساني سره په پیسو باندې نشي تبدیلېدای یا دا، چې په سملاسي ډول په پیسو نشي تبدیلېدای او که تبدیل هم شي نو په پرتله ایزه توګه پکې ډېر تاوان رامنځته کېږي همدا راز هغه شتمني چې بل کس چې پرې قانوني دعوی ولري او د محاکمو د اجازې پرته یې پېر او پلور نشي ترسره کېدای ګنګل شوې شتمني ګڼل کېږي. له سیالې شتمنۍ (Liquid Asset) سره یې پرتله کړئ..

## Full Employment
## کامل استخدام

په اقتصاد کې هغه حالت: چې په هېواد کې ټول توليدي منابع د توکو او خدمتونو په توليد کې په کار اچول شوي وي. چې دا د کلي اقتصاد د دريو عمده موخو څخه يوه ده دوه نورې موخې يې عبارت دي له:

- اقتصادي وده (Economic Growth)
- ثبات (Stability)

خو دا په دې مانا نده، چې هېڅ توليدي وسيله دې وزګار نه وي پاتې شوي بلکې هر هېواد د خپلو منابعو او امکاناتو په نظر کې نېولو سره د کامل استخدام لپاره يوه اندازه يا سلنه لري لکه په ځينو پرمختللو هېوادونو کې که چېرې توليدي منابع له ٥-٥,٥ سلنه هم وزګار پاتې شوي وي بيا هم کامل استخدام ګڼل کېږي.

## Full Employment Output/Production/Real production
## کامل استخدام په کچه حاصل/توليد/ واقعي توليد

په اقتصاد کې د واقعي توليد يا واقعي نا خالص داخلي توليد (Real GDP) هغه کچه، چې د کامل استخدام په حالت کې توليد شوي وي.

## Full Time Worker
## د پوره وخت کارګر

هغه کارګر چې د قانوني ټاکل شوي پوره وخت کار کولو اراده او وړتيا ولري او يا هم دا چې پوره وخت کار ترسره کوي. لکه دولتي مامورين، او د کاروبارونو کارمندان. له پس له وخته کارګر (Part Time Worker) سره يې پرتله کړئ.

## Fund
## فنډ

پيسې يا د پيسو معادل، چې د يو ځانګړي موخې په خاطر ساتل کېږي او ځانګړتياوې يې له نوم څخه په ډاګه کېږي لکه بيړنې وجوه ( contingency fund) او داسې نور.

## Fungible

مثلي (یو شان یا د تعویض وړ)

هغه شتمني، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید هره برخه یې یو شان کیفیت او ارزښت ولري. د بېلګې په توګه: اتل اسلم ته ۱۰۰۰ افغانۍ د پور په ډول ورکوي؛ خو کله چې اسلم اتل ته پور تادیه کوي نو اتل دا اعتراض نه کوي چې ماته همغه زرګون راکړه کوم، چې ما درکړی وو بلکې هر زرګون یو شان کیفیت او ارزښت لري.

## Futures

راتلونکی بیعه (سیټه)

له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې د توکي پلور پکې په له مخکې ټاکل شوي قیمت سره په راتلونکې وخت کې ترسره کېږي. یا دا، چې: د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې د راتلونکې وړاند ویل شوي نرخ له مخې د اسعارو د پیر او پلور څخه عبارت دی.

# G

## G

د انګلیسی د جي توری

د کلي اقتصاد په مطالعه کې د عامه سکتور په وسیله د توکو او خدمتونو د پیر د لګښتونو یا دولتي لګښتونو لپاره عام مخفف دی یعنې دا چې: AE=C+I+G+(X-M) چې په دې مساوات کې:

۱: AE ټولیز لګښتونه **(**Aggregate Expenditure**)**

۲: C د کورني سکتور په وسیله استهلاکي لګښتونه **(**Consumption expenditures**)**

۳: I د کاروبارونو په وسیله د پانګونې لګښتونه **(**Investment**)**

٤: G د عامه سکتور یا حکومت په وسیله لګښتونه **(**Government expenditures**)**

۵: (X-M)خالص صادرات**(**Export-import**)** چې **X** د صادراتو اندازه او **M** د وارداتو د اندازې څخه نمایندګي کوي.

## Game Theory

د لوبې تیوري

په اقتصادي تیوریګانو کې په ځانګړي ډول په جزوي اقتصاد کې بازار د لوبې د ډګر په بڼه فرض کېږي او په بازارکې د سختې سیالۍ په شرایطو کې د تصدیو او تولیدوونکو ترمنځ له بیلا بیلو تاکتیکونو څخه ګټه اخیستل کېږي، چې د هر تاکتیک د حاصل او پایلې د ارزونې لپاره د دې تیورۍ څخه ګټه اخیستل کېږي.

## GDP Deflator

د نا خالص داخلي تولید دیفلیتور

د قیمت هغه شاخص، چې د واقعي نا خالص داخلي تولید په محاسبه باندې اتکا لري او په اقتصاد کې د متوسط قیمت د شاخص په حیث کارول کېږي.

$$\text{GDP deflator} = \frac{\text{Nominal GDP}}{\text{Real GDP}} \times 100$$

## GDP Price Deflator
## د نا خالص داخلي توليد د قېمت ډيفليتور

د قېمت هغه شاخص، چې د جاري نا خالص داخلي توليد (Nominal GDP) نسبت واقعي نا خالص داخلي توليد (Real GDP) ته محاسبه کوي او په هېواد کې د قيمتونو د متوسطې کچې د معلومولو لپاره ترينه ګټه اخېستل کېږي.

## Gearing
## د پانګې جوړښت

د پانګې جوړښت (Capital Structure) ته رجوع وکړئ.

## Giffen Goods
## د ګيفن توکي

دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د Robert Giffen (۱۸۳۷-۱۹۱۰) له لوري وکارول شوه او موخه ترې هغه توکي دی، چې په قېمت کې يې لوړوالي په تقاضا کې د ډېروالي سره مل وي يا دا چېد توکي په قېمت کې لوړوالی راشي نو په تقاضا کې يې هم ډېروالی رامنځته شي (د تقاضا د قانون څخه په مغايرت يا برعکس)، چې په نړۍ کې دا ډول توکي ډېر کم تر سترګو کېږي. معمولاً په بحراني حالاتو (لکه جنګ) کې شتون لري.

## General Agreement on Trade and Tariff(GATT)
## ګاټ (د سوداګرۍ او تعرفې عمومي تړون)

دا په ۱۹۴۷ ميلادي کال کې د ۹۳ هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو خنډونو او محدوديتونو د راکمولو په موخه لاسليک شوی دی، چې په اوسني وخت کې تقريباً سل غړي هېوادونه لري او په سوداګرۍ کې د تعرفو راکمولو او ځينو وارداتي معيارونو په له منځه وړلو او سوداګريز پرمختګ کې ډېر اغېزمن ثابت شوی دی، چې په اوسني وخت کې يې خپل ځای د سوداګرۍ نړيوال سازمان (WTO) ته پريښی دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د يوروګوای غونډې (Uruguay round) ته هم رجوع وکړئ.

## General Equilibrium

عمومي تعادل

په اقتصاد کې د عرضې او تقاضا ترمنځ د تعادل هغه حالت، چې پکې هر توکي او خدمت د هېواد په هره برخه کې د تعادل په حالت کې قرار ولري. د نړیوال اقتصاد په برخه کې هم دا اصطلاح د دوه هېوادونو ترمنځ د اغېزمنې اقتصادي تبادلې وروستي ماډل، چې له مخې يې سوداګري ترسره کېږي او په مرسته يې د دواړو خواوو له سوداګرۍ څخه ترلاسه کيدونکې ګټه معلومېږي.

## General Strike

عمومي اعتصاب

د هېواد په معلومه سيمه کې د يو کاروبار د اکثريت او يا ټولو کارګرانو له لوري اعتصاب ته عمومي اعتصاب ويل کېږي. او يا هم په بل عبارت: د کارګرانو د ټولنو له لوري په هر ځای او هر صنعت کې د کار بنديز ته عمومي اعتصاب ويل کېږي څو خپلې غوښتنې پر متصدياتو او کارفرمايا نو ومنې.

## Gentlemen's Agreement

دوه اړخيزه يا څو اړخيزه هوکړه

د صنعت په برخه کې د دوه يا ډېرو صنايعو ترمنځ هغه شفاهي او غير رسمي هوکړه ليک څخه عبارت دی، چې له مخې يې بازار په خپل منځ کې ويشي، قيمت تر يو ټاکلي حد لوړوي، توليد محدودوي يا دا، چې داسې تدابير نيسي، څو له مخې يې سيالي راکمه کړي.

## Geographic Mobility/Movement

جغرافيايي انتقال

له يو توليدي فعاليت ځای څخه بل توليدي فعاليت ځای ته د توليد د عواملو د حرکت يا انتقال څخه عبارت دی يا دا، چې: د توليد عواملو د توليدي فعاليت د موقعيت تغير څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: يو کارګر په يوه ښار کې دنده پرېږدي او په بل ښار کې دنده ترلاسه کوي. له وظيفوي انتقال د (Occupational Mobility/Movement) سره يې پرتله کړئ.

## Gift Tax

## پر ډالۍ مالیه

له یو کس څخه بل کس ته د هغه شتمنیو په لیږد باندې د مالیې څخه عبارت دی، چې د ډالۍ په توګه لیږدول کېږي.

د بېلګې په توګه: یو کس ته په لاټري کې کور اوزي نو د دغه کور د ملکیت په لیږد باندې دولت مالیه اخلي، چې په افغانستان کې دا ډول مالیه ٪۲۰ اخېستل کېږي.

## Gini Index

## د جیني شاخص

د ثروت او عوایدو د ویش د اندازه ګېري تر ټولو مشهور شاخص دی، چې دا په ګوته کوي، چې د ټولنې د وګړو ترمنځ عواید او ثروت څومره عادلانه یا غیر عادلانه ډول سره وېشل شوي دي؟ او په GiniIndex کې د عوایدو او دولت ویش ته د ۰-۱ پورې ترتیب ورکول کېږي، چې ۰ د دې مانا ورکوي چې د ټولنې د وګړو ترمنځ دولت او عواید په کامل ډول سره عادلانه وېشل شوي دي او ۱ د دې مانا ورکوي، چې عواید په کامل ډول سره غیر عادلانه وېشل شوی دی او د یو وګړي یا یوې ګټګورې په لاس کې راټول شوي.

## Globalization

## نړیوالتوب

که څه هم دا اصطلاح د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې صدق کوی خو په اقتصاد کې د نړیوالو اقتصادي کړنو توسعې ته عمومیت ورکولو او د اقتصادي کړنو د ترسره کولو لپاره د هېوادونو ترمنځ د پولو له منځه وړلو پروسې ته نړیوالتوب ویل کېږي.

لکه نړیوالې سوداګرۍ ته ډېروالی او توسعه ورکول، نړیوالې پانګونې ته توسعه ورکول، د هېوادونو ترمنځ د تکنالوژۍ راکړې ورکړې ډېرول او داسې نور چې په پایله کې یې یو نړیوال بازار رامنځته او سرحدي خنډونه له منځه ځي

## Goingprice

جاري يا د ورځې قيمت

په بازار کې د توکو او خدمتونو د پیر او پلور قیمت ته جاري یا د ورځې قیمت ویل کیږي.

## Gold Standard

طلايي معيار

د يو هېواد د پيسو د ارزښت د معلومولو او پشتوانې په موخه طلا ځخه د يو معيار په توګه ګټه اخېستلو يو معيار دی، چې د پيسو درلودونکو ته د دې اجازه ورکوي، چې خپلې پيسې او سکې په طلا تبديلې کړي، چې په ډېرى هېوادونو کې دا معيار تر ۱۹۱٤ ميلادي کال پورې هم دوام درلوده، چې طلايي معيار حداقل په دريو شکلونو کې را څرګنديږي:

۱: طلا په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي.

۲: طلا په پیسو باندې د تبادلې وړ وي.

۳: طلا په جريان کې د پیسو د تبادلې نرخ د تنظيمولو په موخه استعمالېږي.

## Good Will

شهرت / نیکنامي

هغه ارزښت، چې د يو کاروبار له خوا د نوم يا شهرت په بڼه د وخت په تيرېدو ترلاسه شوی وي. او يا هم په بل عبارت: په بازار کې د يو کاروبار شهرت ته (good Will) ويل کېږي چې د کاروبار لپاره د شتمني په ډول محاسبه کيږي.

د بېلګې په توګه: د يوه شرکت په فزيکي ډول د ټولې سرمايې ارزښت ۱۰ ميليونه افغانۍ وي خو د هغه شهرت له امله چې نوموړې شرکت يې لري د شرکت ټول ارزښت ۱۲ ميليونه افغانی محاسبه کيږي چې ۲ ميليونه افغانۍ يې (Good will) بلل کيږي.

## Goods

توکي

د توليد هغه فزيکي او لمس کيدونکي برخه، چې د ټولنې د اړتياو او غوښتنو د رفع کولو په موخه توليد شوي وي. لکه قلم، کتابچه، موبايل او داسې نور. له خدمت (service) سره يې پرتله کړئ.

## GoodsTypes
د توکو ډولونه

اقتصادي توکي د ملکیت او بازار د شرایطو له پلوه په څلورو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: خصوصي توکي (prIvate goods).

۲: عامه توکي (Public goods)

۳: نیمه عامه توکي (Near Public goods)

٤: قدرتي /د ګډ مالکیت توکي (Common Property Goods)

د توکو د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Government Borrowing
دولتي پور

کله، چې دولت د مالیې له لارې د خپلو لګښتونو په پوره کولو کې پاتې راشي نو معمولاً د مالي بازار له لارې د خپلو لګښتونو د پوره کولو لپاره د پور په ترلاسه کولو باندې لاس پورې کوي،چې د دولت له لوري د دا ډول پور ترلاسه کولو تقاضا ته دولتي پور ویل کېږي.

## Government Enterprise
دولتي کاروبار یا تشبث

دولتي ملکیت لاندې هغه عملیاتي تولیدي کړنې، چې د خصوصي سکتورسره په ورته شکل ترسره کېږي لکه په هېواد کې د دولت له لوري د برق عرضه یا د تصفیه شویو اوبو عرضه.

## Government Expenditure
دولتي لګښتونه

د دولتي یا عامه سکتور په وسیله په نهایي تولید شویو توکو او خدمتونو (د دولت د چارو د پرمخ بیولو یا عامه توکو په تهیه کولو لکه ملي دفاع، ښوونه او روزنه او داسې نورو برخو) د لګښت څخه عبارت دی.

## Government Purchase

دولتي پيرودنه

د دولتي يا عامه سکتور په وسيله د نهايي توکو او خدمتونو (نا خالص داخلي توليد) په پيرودلو باندې ترسره کېدونکو لګښتونو ته دولتي پېرودنه ويل کېږي.

## Government Revenue

د دولت عوايد

د دولت له لوري د ماليې، جريمو او اقتصادي کړنو د ترسره کولو څخه ترلاسه شوي عايد څخه عبارت دی.، چې معمولاً ورته د عايد (revenue) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Government Sector

دولتي سکتور

د کلي اقتصاد د څلورو عمده سکتورونو څخه يو دی د کلي اقتصاد درې نور سکتورونه عبارت دي له:

١: کورنيو سکتور (House hold seector)

٢: کاروباري سکتور (Business sector)

٣: بهرنی سکتور (Foreign sector)

چې دولتي سکتور ته د عامه سکتور (Publicsector) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره عامه سکتور ته رجوع وکړئ.

## Government Securities

دولتي بهاداره پاڼې

ټول هغه مالي وسايل، چې د دولت له لوري د مالي بازار له لارې د پور اخيستلو په موخه ترېنه ګټه اخيستل کېږي لکه بانډ، د خزانې بل او داسې نور.

## Graduated Tax
## لوړېدونکې مالیه

د تصاعدي مالیې (Progressive Tax) هغه شکل دی، چې د یو توکي د ارزښت په ډېرېدو سره ورباندې د مالیې اندازه هم لوړېږي.

د بېلګې په توګه: یو توکی، چې په لس افغانۍ پلورل کېږي؛ نو ٪۵ مالیه ورباندې اخېستل کېږي، د لسو افغانیو ډېر تر ۵۰ افغانیو پورې ٪۱۰ مالیه او د ۵۰ افغانیو څخه ډېر تر ۱۰۰ افغانیو پورې ٪۱۵ مالیه.همدا راز په افغانستان کې پر عوایدو مالیات، چې تر ۵۰۰۰ افغانیو پورې مالیه نه تادیه کېږي، له ۵۰۰۰ افغانیو ډېر تر ۱۲۵۰۰ افغانیو پورې دوه سلنه مالیه او له ۱۲۵۰۰ افغانیو څخه ډېر تر سل زره افغانیو پورې ٪۱۰ مالیه تادیه کېږي. او له سل زرو څخه پورته عوایدو باندې ٪۲۰ مالیه اخېستل کېږي.

## Graph
## ګراف

د اقتصادي مفاهیمو او ماډلونو د توضیح یوه بڼه ده چې په ګرافیکه او د ډیاګرام، عکس او داسې نورو شکلونو توضیح کیږي او د معلوماتو د اسانه ارایه کولو په موخه ترینه ګټه اخېستل کېږي.

## Graphical Analysis
## ګرافیکې څېړنه

د سیستماتیکې طریقې او میتودونو له لارې د ډیاګرامونو او ګرافونو په مرسته د اقتصادي پدیدو او مسئلو د تحقیق او توضیح پروسې څخه عبارت دی.

## Gratuitous Coinage
## وړیا ضرب وهنه

د دولت هغه سیاست، چې پر بنسټ یې د مسکوکه فلزاتو څخه د سکو ضرب وهل په وړیا ډول ترسره کېږي.

## Great Depression
## ستر بحران

په نړۍ کې (عموماً په پرمختللو هېوادونو کې) د ۱۹۲۹-۱۹۴۱ میلادي کال په اوږدو کې هغه زوال یا کساد، چې په اقتصاد کې وزګارتیا په لوړه کچه کې قرار درلوده، د تولید اندازه ډېره کمه او پانګونه پکې په نشت حساب وه، چې ستر تاریخي نړیوال اقتصادي بحران ګڼل کېږي.

## Greshams'law
## د ګراشم قانون

د لومړي ځل لپاره دا نظریه د انګلیس اقتصاد پوه (sir Thomas Gresham) له لوري، چې د وخت الیزابت مشاور وه رامنځته شوېده او وايي: که چېرې په اقتصاد کې دوه ډوله یا ډېرې پیسې، چې مختلف تبادلي ارزښت ولري په عین وخت کې په جریان کې قرار ولري؛ نو هغه پیسې، چې تبادلوي ارزښت يې لږ وي هغه پیسې له جریان څخه اوباسي، چې تبادلوي ارزښت يې ډېر وي. یا دا، چې: بدې پیسې ښې پیسې له جریان څخه اوباسي.

د بېلګې په توګه: طلا چې ډېر ارزښت لري ښې پیسې وګڼو او نقره چې د طلا په پرتله کم ارزښت لري بدې پیسې وګڼو نو که چېرې طلا او نقره دواړه په اقتصاد کې په عین زمان کې د پیسو دنده ترسره کړي نو خلک د نقرې څخه په جریان کې د پیسو په شکل ګټه پورته کوي او طلا ساتي نو په دې ډول بدې پیسې (نقره) ښې پیسې (طلا) له جریان څخه اوباسي.

## Gross Domestic Product (GDP)
## نا خالص داخلي تولید

په یو معلوم وخت (معمولاً د یو کال په اوږدو کې) په یو هېواد کې (د جغرافیایي موقعیت له پلوه) د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی. له نا خالص ملي تولید(GNP) سره يې پرتله کړئ.

## Gross Income
## نا خالص عايد

هغه عوايدو ته وايي، چې ماليه او داسې نور لګښتونه ترې وضع شوي نه وي.

## Gross national product (GNP)
## نا خالص ملي توليد

په يو معلوم وخت (معمولاً د يو کال په اوږدو کې) د يو هېواد د توليدي منابعو په وسيله (د ملکيت له مخې) توليد شويو نهايي توکو او خدمتونو پولي ارزښت څخه عبارت دی. د نا خالص داخلي توليد (GDP)سره يې پرتله کړئ.

## Gross Private Domestic Investment
## نا خالصه خصوصي داخلي پانګونه

په يو هېواد کې د توليدي موخو په منظور د کاروباري سکتور په وسيله په سرمايوي توکو باندې ترسره کيدونکيو لګښتونو ته نا خالص خصوصي داخلي پانګونه ويل کېږي.

## Group of 13(G-13)
## د ۱۳ ګروپ

د ديارلسو هېوادونه ټولنه چې په ۱۹۸۹ ميلادي کال کې د اروپا د اقتصادي ودې او مرستې سازمان (Organization for Economic Cooperation and Development) پر وړاندې د خپلو اقتصادي ګټو څخه د دفاع په موخه تأسيس شوی دی ددې ټولنې غړي هېوادونه عبارت دي له: الجزاير، ارجانټاين، مصر، هند، اندونيزيا، جاميکا، ماليزيا، نايجيريا، پيرو، سنيګال، ونزويلا، يوګوسلاويا او زامبيا څخه دي.

## Group of 20 (G-20)
## جي ۲۰

په ۱۹۹۹ ميلادي کال کې د **(G-7)** هېوادونو د ماليې وزيرانو د **(G-20)** هېوادونو د رامنځته کيدو اعلان وکړ، د **(G-20)** غړي هېوادونه عبارت دي له:

ارجنټاين، استرالی،برازيل، کاناډا، چين، فرانسه، جرمني، هندوستان، اندونيزيا، ايټاليا، جاپان، مکسيکو، روسيه، سعودي عربستان، جنوبي کوريا، ترکيه، برتانيه، د امريکا متحده آيالات او اروپايي ټولنې څخه دي.، چې موخه يې نړيوال مالي ثبات ته پراختيا ورکول، او د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او مالي پاليسيو مطالعه او د دې پاليسيو د بررسي او مطالعې دنده په غاړه لري. دغه هيوادونه د نړۍ شل ستر صنعتي هيوادونه هم بلل کيږي.

## Group of 7 (G-7)

## جي ۷

د نړۍ اووه تر ټولو پرمختللي صنعتي هېوادونه، چې عبارت دي له :

امريکا متحده ايالات، برتانيه، فرانسه، ايټاليا، کاناډا، جرمني، او جاپان څخه. چې دنده او موخه يې د مالي او پولي سياستونو د همغږۍ لپاره اقدامات او په نړيوال اقتصاد او انفرادي هېوادونو کې د همغږۍ رامنځته کولو له مخې خپلې دندې پرمخ وړل دی.

## Group of 77(G-77)

## جي ۷۷

په ۱۹٦٤ ميلادي کال کې د ۷۷ پرمختيايي هېوادونو له خوا د (۷۷ هېوادونو د ګډې اعلاميې) د لاسليک له مخې په جينيوا کې د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختيا په کنفرانس کې رامنځته شوی دی. او موخه يې د غړو هېوادونو ترمنځ د تخنيکي او اقتصادي مرستو ته توسعه ورکول دي.

که څه هم اوسمهال د (G-77) غړي هېوادونه ۱۳۵ ته رسيدلي دي؛ خو بيا يې هم اصلي نوم د (G-77) دی ځکه چې د يو تاريخي هوکړه ليک له مخې رامنځته شوی دی.

## Group of 8 (G-8)

## جي ۸

له (G-7) سره د روسيې اضافه کېدل، چې د پولي او مالي سياست د همغږي کول لپاره با قاعده ناستې لري او اقدامات کوي دغه ګروپ په جي ۸ بدل کړو.

## Growth

### رشد یا وده

د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د اقتصاد تولیدي وړتیا د ډېرولو پروسې څخه عبارت دی. دوامداره وده د کلي اقتصاد د دریو عمده موخو څخه یوه ده د کلي اقتصاد دوه نورې موخې عبارت دي له:

۱: کامل استخدام (Full Employment)

۲: ثبات **(**Stability**)**

چې د ناخالص داخلي تولید او سړي سر عاید کې د ډېروالي له مخې اندازه کېږي.

## Growth Rate

### د ودې/رشد نرخ

د یو هېواد په اقتصادي وده کې د یو کال په پرتله بل کال کې د رامنځته شوي نسبي تغیر څخه عبارت دی، چې د سلنې له مخې اندازه کېږي لکه په نا خالص داخلي تولید، سړي سر عاید، د نفوسو وده او په نورو کې تغیر، چې معمولاً په کلني ډول سره اندازه کېږي.

## Growth Rate of Production

### د تولید د ودې کچه

د یو کال په پرتله په بل کال کې په نا خالص داخلي تولید کې د رامنځته شوي تغیر څخه عبارت دی، چې د سلنې له مخې اندازه کېږي او د هېواد د اقتصادي ودې جریان په نښه کوي.

## Growth Stage

### د ودې مرحله

د تولید د ژوند د دوران (دایرې) په بحث کې دا دویمه مرحله ده، چې پکې د تولید په پلور کې ډېروالی راځي، ګټې اندازه پکې لوړېږي او بازار ته د سیالو تولیدونکو په داخلیدو کې ډېروالی راځي. همدا راز دغه اصطلاح د یو هیواد د پرمختیا او ودې په تیوریګانو کې هم د پرمختیا د بېلابېلو

مراحلو لپاره کارول کیږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تولید ژوند دوران (product life cycle) ته رجوع وکړئ.

## Guild

انجمن/ټولنه

په عین صنعت کې د کارفرماو یا متصدیانو ګډې ټولنې ته صنفي ټولنه ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د قالینو صادرونکو ټولنه.

# H

## Head Tax

سرانه مالیه

هغه مالیه چې د ټولنې د هر وګړي نه د هغوی د عواید په پام کې نېولو څخه پرته په عین اندازه اخېستل کېږي چې د (Poll tax) ته رجوع وکړئ.

## Half Employment

نیمه استخدام

د روزګارتیا یا استخدام هغه حالت چې په کامل ډول د کارګرې قوې یا ټولنې د تولیدي وړتیا څخه په کې ګټه نه اخېستل کېږي.. په دې مانا چې یو کارکوونکي د پوره ورځې یا ۸ ساعته کار وړتیا لري خو یواځې ٤ ساعته کار پیدا کوي او نور ٤ ساعته بیکاره تیروي. چې د Under Employment اصطلاح ورته هم کارول کېږي

## Handcraft

لاسي صنایع

توکي او یا هم هر هنري اثر چې په لاس جوړېږي او په تولید او جوړولو کې یې له پرمختللو ماشینونو څخه کار نه ا خېستل کېږي. چې معمولاً ورته په لاس جوړ شوي (hand made) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Hard Money

قوي یا ثابتې پیسې

په پخوانیو وختونو کې دا اصطلاح د هغو پیسو لپاره کارول کېده، چې په فلزي شکل (په ځانګړې ډول د طلا په شکل کې) کې یې شتون درلوده خو په اوسني وخت کې دا اصطلاح د هغه پیسو لپاره ، کارول کېږي چې قوي یا ثابت ارزښت ولري او په راتلونکې کې هم د خپل ارزښت ساتلو هیله ترې کېدای شي او په ډېری نړیوالو معاملاتو کې د راکړې ورکړې د وسېلې په توګه دنده ترسره

کوي لکه په اوسني وخت کې امريکايي ډالر، برېتانوي پونډ، يورو او ځينې نور پولي واحدونه. له نرمو/ضعيف/ پيسو (Soft Money) سره يې پرتله کړئ.

## Hard Pag

ثابت (د تبادلې نرخ)

د يو هېواد (معمولاً چې کوچنی هېواد وي) او د يو بل هېواد (معمولاً چې يو صنعتي او پياوړی هېواد وي) د پيسو ترمنځ د تبادلې ثابت نرخ رامنځته کولو څخه عبارت دی څو د کوچني هېواد په اقتصادي او مالي حالت کې ثبات رامنځته شي.

## Hawala

حواله

د يو کس له لوري دويم کس ته د دريم کس په وسيله د پيسو لېږل چې تر ډېره په اعتبار تکيه لري. د پيسو دا ډول لېږد اوس هم ترسره کېږي لکه صرافان، چې يوه دنده يې د پيسو حواله ده.

## Head Tax

سرانه ماليه

سړي سر يا سرانه ماليې ته وايي يا هغه ماليه چې هر کس يې بايد تاديه کړي پرته لدې چې عوايد يې په پام کې ونېول شي.

## Heavy Industries

درنې صنايع

هغه صنعتونه چې د ماشينونو او پانګه ايز تجهيزاتو په توليد کې ښکيل وي لکه د کشتيو صنعت، د پولادو جوړولو صنعت او نور

## Heavy Market

د کساد بازار

د قيمتي پاڼو د بازار په اصطلاح کې هغه بازار چې د پلور په موخه د ونډو عرضه د هغوی د تقاضا څخه ډېره وي او بازار په کلي ډول د رکود په حالت کې قرار ولري.

## Hedge

## تاميني پلور

د مالي او يا نورو تاوانونو په وړاندې د يو بل عمل د موازنې په وسيله د ځان ساتلو يا د خطر را كمولو څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: يو پانګوال داسې توقع لري، چې د مالي شتمنيو راتلونكې قېمت نه ښكته كېږي مګر بيا هم د احتمالي تاوان د رامنځته كېدو په وړاندې د مخكېني هوكړه ليک (Futures) په وسيله د تاوان څخه ځان ساتي او د ښمې په ډول يې ترلاسه كوې.

## Hedging

## تاميني راكړه وركړه

د راتلونكو قيمتونو د متوقعه تغير په وړاندې ځان ساتل، چې د راتلونكې هوكړه ليک (Futures) په وسيله ترسره كېږي لكه د ښمې هوكړه ليک.

## Hedonic Price

## هيډونيک قېمت

هغه تصور، چې وايي: د يو توكي او يا خدمت قېمت د نوموړي توكي يا خدمت پر ځانګړتياو باندې اتكا لري لكه د يو كور قېمت، چې معمولاً د كور په فزيكي ځانګړتياو لكه د كور ډول، نما، مساحت، ګاونډيان، مكتب روغتون او داسې نورو آسانتياو شتون، بازار ته واټن او داسې نورو آسانتياو او ځانګړتياو باندې اتكا لري. او يا هم په بل عبارت: د توكي هرې ځانګړتيا ته د مشتريي له خوا بيل بيل ارزښت وركول كېږي او د ټولو ځانګړتياوو له مجموعې څخه د نوموړي توكي ټوليز ارزښت ټاكي او همدغه ارزښت يې بيا قيمت ګڼل كېږي.

## Heterogeneous

## نا متجانس

د متجانستوب متضاده اصطلاح ده او په اقتصاد كې د توليداتو يا په بازار كې د پيرودونكو د غير تنوع په مفهوم كارول كېږي كله، چې توكي د ځانګړتياو له پلوه د مشابهت پرځای توپير ولري او يا هم په بازاركې پيرودونكي د ذوق، غوښتنو او تقاضا له پلوه يو شان ځانګړتياوې ونه لري. له متجانس (Homogeneous) سره يې پرتله كړئ.

## Hierarchy of Need
## د اړتیاوو تسلسل

د دې فکر بنسټ اېښودونکي Abraham Maslow دی او نوموړی دېروي، چې: خلک هغه اړتیاو ته، چې په فزیولوژي باندې اتکا لري لکه غذا، کور او کالیو ته ترجیح ورکوي مخکې لدې، چې هغه اړتیاوې رفع کړي، چې د فزیولوژي څخه لوړې وي.

## High-Powered Money
## لوړ قدرته پیسې

په اقتصاد کې د ټولو هغو پیسو مجموعه، چې له عوامو سره (د کاغذي پیسو او سکو په بڼه)، د بانکونو سره د (vaultcash) په شکل او مرکزي بانک سره (د ریزرف په بڼه) شتون لري د high-powered money په نوم یادېږي، چې د پولي پایې (monetary base) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. په اقتصاد کې دا ډول پیسې د ټولو ډولونو څخه لومړی ډول ده، چې ډېر سیالیت لري او په **M** ښودل کېږي. او داسې نور ډولونه یې د **M1** او **M2** د کټګوریو لاندې راځي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Hoarding
## احتکار

د شتمنیو په ځانګړي ډول سره د توکو او پیسو په دې موخه ډېر زېرمه کول څو په راتلونکي کې یې د کموالي په حالت کې د لوړ قیمت څخه لوړه ګټه پورته کړي.

د بېلګې په توګه: د تېلو یو کاروبار لرونکی داسې وړاندوینه کوي، چې په راتلونکي کې د تېلو قیمتونه لوړېږي او کېدای شي، چې د تېلو کمښت رامنځته شي؛ نو د راتلونکي لپاره په اوسني وخت کې د تېلو په زیرمه کولو لاس پورې کوي څو په راتلونکي کې یې له لوړ قیمت څخه ډېره ګټه ترلاسه کړي.

## Holding Company

مور شرکت (پیرودل شوې شرکت)

یو شرکت (معمولاً سهامي شرکت)، چې د یو بل شرکت (معمولاً سهامي شرکت) ونډې په کافي اندازه سره وپېري چې په اداره او کنترول کې يې ډېره ونډه ترلاسه کړي. له فرعي يا تړلي شرکت **(**Subsidiary Company**)** سره يې پرتله کړئ.

## Homogenous

متجانس

په عام ډول یو شانوالي او متجانستوب ته وايي. په ځانګړي ډول هغه آند، چې وايي: ځيني توکي يو ډول ځانګړتياوې لري او کټ مټ سره ورته دي. دا اصطلاح په اقتصاد کې په دوه موخو کارول کېږي:

- دوه او یا ډېر توکي متجانس دي که چېرې په فزیکي ډول سره یو شان وي یا حد اقل د پېردونکي له نظره سره یو شان وي.

د رياضيکي مساوات په وسيله، چې وايي: که په يوه مساوات کې مستقل متغيرات په يوه ثابت ارزښت سره تغير وکړي؛ نو دغه مساوات بيا هم **(**Homogenous**)** دی.

له نا متجانس **(**Heterogeneous**)** سره يې پرتله کړئ.

## Homogenous Product

متجانس توليد

هغه توليد، چې په فزيکي ډول سره يو شانوالی ولري يا حد اقل د پېرودونکو له نظره يو شانوالی ولري لکه کرنيز توليد.

## Horizontal Axis

افقي محور

په ګراف کې د **X** محور ته افقي محور ويل کېږي، چې په زياتره بحثونو کې د توکو مقدار په ګوته کوي او د ايکس محور **(x-**axis**)** اصطلاح ورته کارول کېږي.

## Horizontal Equity

### افقي مساوات

د ماليې هغه ډول، چې يو کس، چې د بل کس سره مساوي عوايد ترلاسه کوي؛ نو مساوي ماليه هم تاديه کوي. او يا هم په بل عبارت: هر کس د خپلې وړتيا له مخې ماليه تاديه کوي. له عمودي مساوات (vertical equity) سره يې پرتله کړئ.

## Horizontal Merger/Integration

### افقي ادغام

دوه يا څو بېلا بېل ملکيت لرونکي کاروبارونه، چې عين توکي يا خدمتونه عرضه کوي تر يو واحد ملکيت لاندې راتللو څخه عبارت دی.

د بېلګې په توګه: د معدني اوبو توليد دوه بېلا بېل کاروبارونه سره يو ځای کېږي او د يو واحد ملکيت لاندې فعاليت کوي. د ادغام نور ډولونه عبارت دي له:

۱: عمودي ادغام (Vertical merger)

۲: کانګلوميريټ ادغام (Conglomerate merger).

۳: متخاصم ادغام (Hostile Acquisition)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Hostile Acquisition

### متخاصم ادغام

د دوه شرکتونو د ادغام او يو ځای کيدنې يو ډول ده چې د يو شرکت له لوري د بل شرکت ملکيت په داسې ډول ترلاسه کېږي، چې د پيرودل کيدونکي شرکت د خوښې خلاف وي او دا هله ترسره کېږي، کله چې يو شرکت د بل شرکت ونډې په بازار کې وپيري او کنترول يې ترلاسه کړي د (hostile take over) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Hot Money

## متحرکې (ګرمې ) پیسې

هغه پولي پانګه، چې خلک يې د ګټو دلايلو له مخې له يوې مالي شتمنۍ څخه بلې مالي شتمنۍ ته په چټکۍ سره په دې هيله حرکت کوي، څو ډېره ګټه وربانديې ترلاسه شي يا هم زيان څخه ځان وژغوري.

د بېلګې په توګه: اتل په يو بانک کې يو ميعادي حساب پرانيزي، چې بانک ٪۵ کلنۍ ربحه وربانديې تاديه کوي؛ خو د يو څه وخت څخه وروسته يو بل بانک د ميعادي حساب په وړانديې د ٪۶ ربح ورکولو اعلان کوي؛ نو اتل خپلې پيسې له اول بانک څخه اوباسي او دويم بانک ته يې لېږدوي څو د ربحې لوړه سلنه ترلاسه کړي.

او يا هم په بل عبارت: تودې پيسې (Hot money) هغه پيسو ته ويل کېږي چې تل د زياتې ګټې په لټه کې وي او له يو کاروبار يا حساب څخه بل کاروبار يا حساب ته نقل مکان کوي.

## House Hold

## کورنۍ

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو مستهلک قشر، چې کاروبارونو ته د بازار له لارې توليدي منابع (معمولاً کارګره قوه) عرضه کوي. يا کورنۍ، چې د يو اقتصادي واحد په حيث اقتصادي پريکړې کوي.

## House Hold Sector

## د کورنيو سکتور

د کلي اقتصاد په برخه کې د عايد د جريان په بحث کې د څلورو سکتورونو څخه يو دی درې نور سکتورونه عبارت دي:

۱: کاروباري سکتور (Business sector)

۲:، دولتي سکتور (Government sector)

۳: او بهرنۍ سکتور (Foreign sector)

او د کورنیو سکتور د ګلي اقتصاد له هغه سکتور څخه عبارت دی چې په ټولیزه توګه په یو هېواد کې د توکو او خدمتونو مستهلکین او هغه وګړي، چې کاروبارونو ته د توکو او خدمتونو د تولید لپاره تولیدي وسایل عرضه کړي.

## How?

څنګه ؟

په اقتصاد کې د تخصیص د څلورو بسنټیزو پوښتنو څخه یوه ده درې نورې عبارت دي له:

۱: څه شی تولید شي؟ (What to produce?)

۲: د چا لپاره تولید شي؟ (for whom to produce?)

۳: څومره تولید شي؟ (how much to produce?)

او په دې مانا، چې: څنګه د تولید محدود وسایل د ټولنې د نامحدوده اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه په کار واچول شي او څنګه تولید ترسره کېږي؟

## How Much?

څومره؟

په اقتصاد کې د تخصیص د څلورو بسنټیزو پوښتنو څخه یوه ده درې نورې عبارت دي له:

۱: څه شی تولید شي؟ **(**What to produce?**)**

۲: څنګه تولید شي؟ **(**How to produce?)

۳: د چا لپاره تولید شي؟ (for whom to produce?)

او پدې مانا چې: د ټولنې د اړتیاو او غوښتنو په پام کې نیولو سره څومره اندازه تولید ترسره شي؟

د بېلګې په توګه: په سوسیالیستي اقتصادي نظام کې دې پوښتنې ته ځواب د مرکزي پلان جوړونکو له خوا او د بازار په اقتصاد کې دې پوښتنې ته ځواب د ټولیزې تقاضا او ټولیزې عرضې د جوړښت له مخې ویل کېږي.

## Human Capital

## بشري پانګه

د انسانانو د توليدي پوهې، تجربې او وړتيا ته چې اقتصادي کړنې ترسره کولی شی بشري پانګه ويل کيږي.

## Human Development Index(HDI)

## د بشري پرمختيا شاخص

هغه شاخص، چې په مرسته يې د انساني پرمختيا د دريو بنسټيزو بنو (د عمر اوږدوالی، ښوونه او روزنه او د ژوند معيار) په برخه کې په منځني ډول سره د يو هېواد لاسته راوړنې سنجول کيږي.، چې:

د عمر اوږدوالی (longevity): په منځني ډول د ټولنې هر وګړې څو کاله ژوند کوي
بېلګې په توګه: په ۲۰۰٦ ميلادي کال کې د افغانستان د هر وګړي په منځني ډول ٤۳,۳٤ کاله ژوند درلوده.

د ښوونې او روڼې سطحه (Knowledge): د ټولنې د وګړو د سواد کچه په ګوته کوي، چې د ټولنې د ټول نفوس څومره برخه ليک او لوست کولای شي.

د بېلګې په توګه: په ۱۹۹۹ ميلادي کال کې د افغانستان د ټول نفوس ۳٦٪ وګړو ليک او لوست کولای شو.

د ژوند سطحه (Standard of living): چې په اقتصاد کې د مستهلکينو د اړتياو او غوښتنو په وړاندې د توکو او خدمتونو د توليد په وړتيا باندې اتکا لري او په عمل کې د هر وګړي لپاره د متوسط واقعي نا خالص داخلي توليد او د سړي سر عايد اندازه په ګوته کوي.

- دا شاخص له ۱۹۹۰ ميلادي کال راهيسي د ملګرو ملتونو د بشري پرمختګ په راپور کې نشرېږي او د ۰-۱ پورې ارزښت ورکول کېږي نو که چېرې يو هېواد د بشري پرمختيا شاخص د۰,۸خخه ډېر وي نو نوموړی هېواد د لوړ بشري پرمختګ په ګروپ کې شامليږي، که د ۵,۰ څخه تر۰,۸ پورې درجه واخلي نو د منځني بشري پرمختګ په ګروپ کې

شامليږي او که ۰,۵ څخه کمه درجه واخلي نو تر ټولو کم بشري پرمختګ ګروپ کې شامليږي.

## Hyper Inflation

حاد (شديد) انفلاسيون

د پيسو د پړسوب يا انفلاسيون يو لوړترين حد ده، چې په تاريخي لحاظ له دويم نړيوال جنګ وروسته په جرمني کې رامنځته شو او پيسو ارزښت په زرهاوو چنده را ټيټ شو. له ۲۰۰۸ کال څخه وروسته په زمبابوې کې هم دا ډول انفلاسيون شتون درلوده. د انفلاسيون په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د پيسو پړسوب (Inflation) ته رجوع وکړئ.

## Hypothecation

ګروی ايښودنه

دا اصطلاح په اقتصاد کې په دوه ماناګانو استعمالېږي:

- د ځانګړې موخې د ترلاسه کولو په خاطر د ماليې ټاکل يا د ماليې لوړول لکه د ښوونې او روزنې يا د عامه پروژو د تمويل په موخه د ماليې ټاکل يا لوړول.
- د پور د تصفيې د تضمين په موخه د يوې شتمنۍ ګرو اېښودل.

## Hypothesis

فرضيه

هغه فرضيي او فرضي حالتونه، چې د اقتصاد د تيوريګانو ، ماډلونو څخه په الهام اخيستنې رامنځته کېږي، چې ښايې حقيقت ولري يا نه. فرضيې په حقيقت کې د تيوريګانو وړاندوينه ده، چې په حقيقي نړی کې ازمويل کېږي که چيرې د بيا بيا ازموينې وروسته نوموړي فرضيه حقيقت ولري؛ نو په يو علمي منل شوي اصل بدليږي.

# I

**I**

**د انګلیسي د آی توری**

د کلي اقتصاد په مطالعه کې د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې د لګښتونو لپاره یو معیاري مخفف دی، چې د ټولیز لګښتونو په معادله کې ترې ګټه اخېستل کېږي یعني AE=C+I+G+(X-M)

چې په پورتني مساوات کې:

۱: **AE** ټولیز لګښتونه (Aggregate Expenditure)

۲: **C** د کورني سکتور په وسیله استهلاکي لګښتونه ( Consumption Expenditure)

۳: **I** د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه (investment expenditures)

٤: **G** دولتی لګښتونه (Government expenditures)

۵: او(**X-M**) خالص صادرات(Export-Import) چې **X** د صادراتو او **M** وارداتو د ارزښت څخه نمایندګي کوي.

## Identification Lag

**د پېژندنې موده**

د اقتصادي پالیسیو په برخه کې: په اقتصاد کې د ټکان (shock) رامنځته کېدو او د ټکان د رامنځته کېدو د درک ترمنځ وخت څخه عبارت دی. د تطبیق مودې( implementation lag)، د پېژندنې مودې (recognition lag) او د تاثیر مودې (impact lage) سره یې پرتله کړئ.

## Idle Money

### راکدې پیسې

هغه مبالغ چې اقتصادي فعالیت ته نه وې داخل شوي او په غیر فعال ډول ساتل شوي وي چې د غیر فعاله پیسو (inactive money) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Illegal Strike

### غیر قانوني اعتصاب

د کاروباري ټولنې د غړو له لوري یو غیر رسمي او معمولاً په خپل سر اعتصاب او یا د کار درولو څخه عبارت دی. غیر قانوني اعتصاب معمولاً هغه وخت ترسره کېږي، چې د ټولنې غړي داسې وانګیري ، چې د ټولنې مشران د ټولنې د غړو د ګټو په اړه د پاموړ ګامونه نه پورته کوي چې د غیر قانوني اعتصاب (out of law stike) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Illiquid Asset

### غیر نقدي شتمني

هغه شتمني چې په اسانۍ سره په نقده باندې نشي بدلیدای او یا هم دا چې په نقده باندې د بدلیدو په وخت کې په کې نسبتاً زیات تاوان رامنځته کېږي. له سیالې شتمنۍ(liquid asset) سره یې پرتله کړئ.

## Illth

### بد (ثروت/ تولید)

هغه تولید ته وایي، چې استعمال یې ټولنې او متسهلکینو ته په کلي ډول مضر وي. لکه: د مخدره موادو او شرابو تولید او استعمال.

## Immovable Properties

### غیر منقول جایداد

هغه جایداد یا شتمني ته وایي چې له یو ځای څخه بل ځای ته نشي لیږدیدلی. لکه کور، ځمکه او داسې نور. له منقول جایداد (movable property) سره یې پرتله کړئ.

## Impact Lag

### د اغیزي موده

په اقتصاد کې د ټکان (shock) د رامنځته کېدو په وخت کې د دولت اصلاحي اقداماتو او په اقتصاد کې يې د اغېزو د راښکاره کېدو ترمنځ وخت څخه عبارت دی، چې د تطبیق مودې (outside lag) اصطلاح ورته هم کارول کېږي، چې دا د اقتصادي پالیسیو په استعمال کې د څلورو lags څخه یو دی درې نور lags عبارت دي له:

۱: د پېژندنې موده (recognition lag)

۲: د پرېکړې موده (decision lag)

۳: د اجرا/تطبیق موده (action lag)

له داخلي مودې (inside lag) سره يې پرتله کړئ.

## Imperfect Competition

### نیمګړې سیالي

په بازار کې د عرضه کوونکو او تقاضا کوونکو ترمنځ د سیالي هغه ډول، چې د کاملې سیالۍ (Perfect competition) شرایط يې نه وي پوره کړي یا دا، چې په بازار کې د عرضه کوونکو او تقاضا کوونکو ترمنځ یوه اندازه مازاد او یا کسر شتون ولري. له کاملې سیالي (perfect competition) سره يې پرتله کړئ.

## Implementation Lag

### د تطبیق موده

د اقتصادي پالیسیو په برخه کې: په اقتصاد کې د ټکان (shock) د رامنځته کېدو د تحقق او د دولت له لوري يې په وړاندې د اصلاحي اقداماتو ترمنځ وخت څخه عبارت دی، چې د داخلي مودې (inside lag) د دوه ډولونو څخه یو دی، چې بل ډول يې د پېژندنې مودې (recognition lag) څخه عبارت دی.

## Implicit Collusion
ضمني/پټ اتحاد

له هغه رسمي هوکړه لیک څخه عبارت دی چې د څو کاروبارونو ترمنځ د مشترکو سیاستونو د رامنځته کولو او پرمخ بېولو په موخه عقد کېږي له ښکار اتحاد **(**Explicit collusion**)** سره یې پرتله کړئ.

## Implicit Cost
پټ لګښت

له هغه لګښت څخه عبارت دی چې ظاهراً نه محاسبه کیږي یا هغه فرصتي لګښت، چې د پیسو تادیه او یا د بازار معامله پکې شامله نه وي له ښکاره لګښت **(**explicit cost**)** سره یې پرتله کړئ.

## Implicit Logrolling
پټه مرسته (مخالفه رایه کارول )

کله، چې دوه جلا پروګرامونه یا پالیسۍ سره یو ځای کړای شي او د یو پروګرام یا پالیسۍ په شکل ورته رایه ورکړل شي که د تایید رایه واخلي؛ نو دواړه پروګرامونه یا پالیسۍ تایید او که د رد رایه واخلي؛ نو دواړه ردېږي له ښکار مرستې (explicit logrolling) سره یې پرتله کړئ.

## Import
واردات

د تادیاتو په بېلانس کې د جاري حساب د سوداګرۍ د بېلانس له دوه برخو څخه یوه ده (بله برخه یې صادرات جوړوي) او هغه توکي او خدمتونه، چې د یو هېواد څخه بهر تولید شوي وي او هېواد ته د استهلاک او ګټې اخېستنې په موخه راوړل کېږي.

او یا هم په بل عبارت: د نورو هېوادونو څخه د توکو او خدمتونو پیرودل او راوړلو ته واردات ویل کېږي لکه افغانستان، چې موټرونه، کمپیوټرونه، تکه، سېمنټ ځیني خوراکي توکي له بهر څخه واردوي

## Import Line
## د وارداتو کرښه

هغه ګرافيکي شکل، چې د يو هېواد له لوري د وارد شويو توکو او خدمتونو د اندازې او د نومورې هېواد د داخلي توليد او عوايدو د ټوليزې اندازې ترمنځ تړاو ښيي، چې د خالصو صادراتو د کرښې په رسمولو کې ترې ګټه اخېستل کېږي.

## Import Quota
## پر وارداتو مقداري محدوديت

د کورني توليد څخه د ملاتړ په موخه د يو هېواد څخه د ځانګړي توکي د واردولو لپاره د مقداري حد ټاکلو څخه عبارت دی.

د بېلګې په توګه: افغانستان په ۱۳۹٤ کال کې د سپين غر غوړيو څخه د ملاتړ په موخه د نورو هېوادونو څخه د غوړيو په واردلو باندې دا ډول محدوديت رامنځته کوي، چې له مخې يوازې ۵۰۰۰۰ ټن غوړيو واردلو ته اجازه ورکول کېږي.

## Import Substitution
## د وارداتو تعويض

د يو هېواد اقتصادي پرمختګ په موخه هغه تګلاره، چې له مخې يې د ځينو وارداتي توکو پر ځای په داخل کې د نورو توکو توليد د رامنځته کولو په موخه جوړېږي.

## Imputed Income
## ضمني عايد

هغه عايد چې په مستقيم ډول د توليدي فعاليت څخه نه بلکه د لګښتونو د کموالي په پايله کې ترلاسه شوی وي.

## Inactive Money

غیر فعاله پیسې

هغه مبلغ چې اقتصادي فعالیت ته نه وې داخل شوي او په غیر فعال ډول ساتل شوي وي چې د راکدي پیسې (Idle money) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Incentive

هڅوونکی /مشوق

یو محرک یا هڅونکی فکتور، چې په اقتصاد کې د تولیدوونکیو او مستهلکینو د پرېکړو او کړنو د هڅولو لامل ګرځي، چې تر ټولو عام یې قیمت دی. دا په دې مانا، چې: که د یو توکي قیمت لوړ شي نو تولیدونکي د نوموړي توکي عرضه ډېروي او د قیمت د کمېدو په صورت کې تولیدونکي د نوموړي توکي په عرضه کې کموالی راولي.

## Income

عاید

هغه مبلغ او یا نور مادي منافع، چې یو کس یې د کار او اقتصادي کړنو په وړاندې ترلاسه کوي او د لګښت او سپما په موخه ترې ګټه پورته کوي. او یا هم په بل عبارت: د کار په وړاندې ترلاسه شوی مبلغ، چې د لګښت او سپما په موخه ترېنه ګټه اخېستل کېږي عاید ګڼل کېږي. او یا هم هغه مبلغ، چې د تولید عوامل یې د تولید په پروسه کې د برخه اخېستو په وړاندې ترلاسه کوي. لکه د کارګر معاش، د ځمکې کرایه، د پانګې ربحه او د متصدي یا کارفرما ګټه دا ټول عواید ګڼل کېږي.

## Income distribution

د عاید ویش

د توکو او خدمتونو د تولید په پایله کې ترلاسه شوي عواید د ټولنې وګړو ترمنځ د ویش څخه عبارت ده. چې د ټولنې ترمنځ عوایدو وېش په عادلانه ډول او که غیر عادلانه ډول سره ترسره کېږي. د اغیزمنتوب (Efficiency) ترڅنګ د منابعو او عوایدو ویش د اقتصاد پوهانو ترمنځ یوه تاریخي او د بحث وړ موضوع ګڼل کېږي.

## Income Earned but Not Received (IEBNR)

### ګټل شوې خو لا نه ترلاسه شوی عاید

هغه عواید، چې د توکو او خدمتونو د تولید په پایله کې رامنځته شوي وي؛ خو لا تر اوسه د کاروبارونو او یا د کورنیو له لوري نه وي ترلاسه شوي لکه د سهامي شرکت د ګټې هغه برخه، چې د ونډه لرونکو ترمنځ نه ویشل کېږي یا د مالیې په شکل تادیه کېږي یا هغه عواید، چې ترلاسه شوی نه وي.

## Income Effect

### عایداتي اغیز

د مستهلکینو د عوایدو د تغیر په پایله کې د توکو او خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره په تقاضا کې د تغیر څخه عبارت دی. دا په دې مانا، چې: په عوایدو کې تغیر په تقاضا څومره اغېزه لري. همدا راز د تقاضا د څېړنې په برخه کې د یو توکي د قیمت د ښکته کیدلو پرمهال دوه ګوني اغېز یو یې عایداتي اغیز ده چې د ګراف په مرسته ښودل کیږي او دوهم یې تعویضي اغیز څخه عبارت دی.

## Income Elasticity of Demand

### د تقاضا د عوایدو ارتجاعیت

دا د ارتجاعیت یو ډول ده چې له مخې یې په عوایدو کې د نسبي تغیر په وړاندې په تقاضا کې نسبي تغیر رامنځته کیږي. دا ارتجاعیت په حقیقت کې دا ښيي چې: په عوایدو کې د تغیر په پایله کې په تقاضا کې څومره تغیر رامنځته شوی دی. د لا ډېرو مالوماتو لپاره ارتجاعیت **(**elasticity**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Income Equation

### د عاید معادله

په اقتصاد کې د عوایدو معادله عبارت دی له: **Y=C+I**، چې په دې معادله کې:

**Y** ملي عاید **(**National income**)**

**C** استهلاک **(**Consumption**)**

**I** د پانګونې **(Investment)**

څخه نمایندګي کوي او دا واضح کوي چې د ملي عاید څومره برخه په استهلاکي توکو او څومره برخه یې د پانګه اچونې په لګښتونو باندې مصرفېږي.

## Income Expenditure Model

د عاید او لګښت ماډل

دا موډل، چې د کینز اقتصاد هسته جوړوي دا واضح کوي، چې: هغه ټولیز عواید، چې د نا خالص داخلي تولید څخه ترلاسه کېږي په نا خالص داخلي تولید باندې د ترسره شویو ټولیزو لګښتونو سره مساوي دي او په دې ډول ملي عواید له دواړو څخه محاسبه کیدلی شي.

## Income Price Model

د عاید او قیمت ماډل

هغه موډل، چې د قیمتونو د سطحې او واقعي تولید (د عوایدو برخې) سره اړیکه لري او د کاروباري دوران یا دایرې **(**business cycle**)** ټولیز تولید**(**total production**)** وزګارتیا**(**unemployment**)** انفلاسیون**(**inflation**)** او داسې نورو ترلو اقتصادي پدېدو د څېړنې لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي.

## Income Received but Not Earned

ترلاسه شوې خو لا نه ګټل شوی عاید

هغه عواید، چې ترلاسه شوي وي؛ خو په وړاندې یې توکي یا خدمت نه وي تولید شوي او یا دا، چې په راتلونکي کې به تولید شي.

## Income Statement

د ګټې او تاوان صورت حساب

دا په محاسبه کې یو مالي راپور ده او په معلوم وخت (معمولاً یو کال کې) د دولتي، کورنیو او یا کاروباري سکتور د ګټې، لګښتونو او عوایدو حساب ته د ګټې او تاوان حساب ویل کېږي د مالي صورت حساب بل ډول له بېلانس شیټ څخه عبارت دی.

## Income Tax
## پر عاید مالیه

هغه مالیه، چې پر عوایدو باندې ټاکل او اخېستل کېږي لکه پر مزد او معاش مالیه.

## Inconvertible Money
## نه بدلیدونکې پیسې

هغه پیسو ته وايي، چې په معیاري پیسو باندې د تبادلې وړ نه وي د (irredeemable money) اصطلاح ورته هم کارول کېږي لکه د افغانیو پر وړاندې د زمبابوې ډالر، د بنګله دیش روپۍ او ځینې نور پولي واحدونه. له بدلیدونکو پیسو (convertible money) سره یې پرتله کړئ.

## Increasing Cost
## صعودي یا ډېریدونکی لګښت

د تولیز تولید د ډېروالي په پایله کې د اضافي تولید د في واحد د تمام شد لګښت مخ په زیاتیدونکي لوړوالي ته د صعودي لګښت ویل کېږي. د بېلګې په توګه: د ډېرو سکرو ته د تقاضا د ډېروالي له امله د سکرو کان ډېر کندل کېږي؛ نو په دې توګه د في واحد (ټن) اضافي سکرو د استخراج د تمام شد لګښت هم لوړېږي. له نزولي یا کمیدونکي لګښت (decreasing cost) او ثابت لګښت (constant cost) سره یې پرتله کړئ.

## Increasing Marginal Return
## صعودي یا زیاتیدونکی نهايي حاصل

په یو کاروبار کې په لنډ مهاله تولید کې د تولید عواملو د ډېروالي په صورت کې په نهايي تولید کې لا ډېروالي رامنځته کېدلو ته زیاتیدونکی نهايي حاصل وایي. له نزولي یا کمیدونکي نهايي حاصل (decreasing marginal return) سره یې پرتله کړئ.

## Increasing Opportunity Cost

زیاتیدونکي فرصتي لګښت

کله چې د تولید په زیاتیدلو سره د تولید فرصتي لګښتونه یا د لاسه تلونکی فرصت ارزښت د لګښت په بڼه زیاتیږي او دغه قانون د تولید د امکاناتو د منحني په جوړښت کې مهم رول لري..

## Increasing Return to Scale

د مقدار په وړاندې صعودي حاصل

په اوړد مهال کې د تولید په عواملو کې ډېروالی، چې د تولید په مقدار کې په نسبي ډول سره د زیات ډېروالي لامل وګرځي. د بېلګې په توګه: که په یوه تولیدي تصدي کې د تولید عوامل په متناسب ډول سره ۱۰٪ ډېر شي؛ خو په پایله کې یې د تولید په مقدار کې د ۱۰٪ نه زیات (۱۵٪) ډېروالی رامنځته شي. د مقدار په وړاندې نزولي حاصل (Decreasing return to scale) او د مقدار په وړاندې ثابت حاصل ( Constant return to scale) سره یې پرتله کړئ.

## Incumbent Advantage

د متصدي ګټورتوب

په دې مانا، چې هغه تولیدونکی، چې بازار ته د نورو تولیدوونکو په پرتله مخکې داخل شوی وي د هغوی په وړاندې یې د سیالي مزیت ډېر وي.

## Indemnity

جبران

په اقتصاد کې دا اصطلاح په بېلا بېل مفاهیمو کارول کېږي لکه:

۱- د احتمالي زیان په وړاندې تضمین.

۲ - هغه تادیات، چې د وارد شوې خسارې د جبران په موخه ترسره کېږي.

## Indent

سفارش

د بهرنۍ سوداګرۍ پورې تړلي هر ډول سفارش ته د تورید سفارش ویل کېږي.د بېلګې په توګه: یو سوداګر له بهر څخه یو ځانګړی توکي واردوي او بهرنیو تولیدونکو ته د ځانګړو ځانګړتیاو په درلودلو د یو توکي د تولید فرمایش ورکوي.

## Indeterminant

نا ټاکونکی (متحول)

نا معلوم جهت لرونکي مجهول متحول ته وايي. همدا راز د نه ټاکونکی متحول په مفهوم هم کارول کېږي، هغه وخت، چې په بازار کې عرضه او تقاضا دواړه په همزمان ډول تغیر وکړي نو د قیمت او مقدار د تغیر جهت نا معلوم پاتې کېږي او د پوهیدلو وړ نه وي داسې چې د نه ټاکونکي عامل په حیث پیژندل کېږي. د بېلګې په ډول: کله، چې د عرضې او تقاضا دواړو مقدار زیات شي؛ نو دلته قیمت، چې یا ښکته یا پورته شوی د نا ټاکونکي متحول څخه عبارت ده.

## Index

شاخص

د اندازه ګیری یوه احصایوي وسیله ده، چې په مرسته یې د یو توکي یا ګروپ نسبي اوسط د یو اساس ارزښت له مخې سنجش کېږي.او په اقتصاد کې د ډېرو شیانو یو ځایي مقایسې لپاره د وزن یا ثقلت لرونکي اوسط په بڼه ښودل کېږي. او یا هم دا چې: شاخص یو احصایوي مقیاس ده چې په یوه متغیر کې د رامنځته شوو تغیراتو د اندازه ګیري په موخه تری ګټه اخېستل کېږي.

## Index Number

د شاخص عدد

هغه عدد، چې د قېمتونو، لګښتونو یا نورو مشابه پدېدو او پېښو تغیر، چې په یوه دوره کې، چې د اساس دورې په بنسټ ټاکل شوې وي په ګوته کوي.

## Indirect Cost

## غیر مستقیم لګښت

د تولید په پروسه کې د تولید هغه لګښت، چې په مستقیم ډول د توکي په تولید کې شامل نه وي، خو غیر مستقیم د توکي د تولید لپاره اړین وي. له مستقیم لګښت **(**direct cost**)** سره يې پرتله کړئ.

## Indirect Labor

## غیر مستقیم کارګر

هغه کارګر چې د توکو او یا خدمتونو په تولید کې په مستقیم ډول ښکیل نه وي لکه اداري کارکوونکي.

## Indirect Relation

## غیر مستقیمه اړیکه

هغه ریاضیکي اساس، چې وايي: په دوه متغیرو کې تغیر په متقابل جهت سره ترسره کېږي یعنې دا، چې په **X** متغیر کې ډېروالی په **Y** متغیر کې د کموالي او په **X** متغیر کي کموالی په**Y** متغیر کې د ډېروالي لامل ګرځي.

د بېلګې په توګه: په قېمت کې ډېروالی په تقاضا کې د کموالي او په قېمت کې کموالی په تقاضا کې د ډېروالي سره مل وي، چې د منفي اړیکې (negative relation**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له مستقیمې اړیکې **(**directrelation**)**سره يې پرتله کړئ.

## Indirect Tax

## غیر مستقیمه مالیه

هغه مالیات، چې له تادیه کوونکي څخه په غیر مستقیم ډول سره اخېستل کېږي لکه د توکو په پلور مالیات، چې ظاهراً يې پلورونکي تادیه کوي خو په نهایت کې يې د توکو پېرودونکي دغه مالیه زغمي. د مستقیم مالیاتو (direct tax) سره يې پرتله کړئ.

## Indorsement
شا لیک

هغه تحریري لیک چې معمولاً د تبادلې وړ سند په ظهر یا شا لیکل کیږي او په ځانګړي وخت کې د ټاکلې تادیې تضمین رامنځته کوي. چې د Endorsement اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Induced Change
القائي /هڅوونکی تغیر

په تولیزو لګښتونو کې تغیر(معمولاً په استهلاکي لګښتونو کې تغیر)، چې په نا خالص داخلي تولید یا ملي عوایدو کې د تغیر په پایله کې رامنځته کېږي.

## Induced Consumption
القائي /هڅوونکی استهلاک

د کورنیو استهلاکي لګښتونه، چې په عوایدو یا تولیداتو (په ځانګړي ډول په نا خالص داخلي تولید او ملي عاید) باندې اتکا لري. په دې مانا، چې په ن اخالص داخلي تولید او یا په ملي عوایدو کې ډېروالی او یا کموالی د کورنیو په استهلاکي لګښتونو باندې اغیزه کوي.

## Induced Expenditure
القائي /هڅوونکی لګښت

تولیز لګښتونه (د کورنیو استهلاکي لګښتونه،پانګونه، دولتي لګښتونه او خالص صادرات)، چې په ناخالص داخلي تولید یا ملي عاید باندې اتکا لري.

## Induced Export
القائي /هڅوونکی صادرات

هغه صادرات چې په ځانګړي ډول په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید باندې تکیه لري، چې د نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید کې تغیر په صادراتو کې د تغیر لامل ګرزي.

## Induced Govt. Purchase
## القائي /هڅوونکې دولتي پېرودنه

دولتي پیرودنه، چې په ځانګړي ډول په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید باندې اتکا لري، چې په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید کې تغیر دولتي پیرودنه تر خپل اغیز لاندې راولي.

## Induced Investment
## القائي /هڅوونکې پانګونه

د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه، چې په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید باندې اتکا لري او په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید کې تغیر د کاروباري سکتور د پانګونې په لګښتونو کې د تغیر لامل ګرزي.

## Induced Relation
## القائي /هڅوونکې اړیکه

هغه حالت چې په یوه متغیر کې تغیر په بل متغیره کې د تغیر سره اړیکه لري یا په بل متغیر کې د تغیر لامل ګرزي لکه د کورنیو په استهلاکي لګښتونو کې تغیر، چې د کورنیو په عوایدو کې د تغیر له امله رامنځته کېږي. په حقیقت کې په یو متغیر کې بدلون د یو بل فکتور له امله هڅول کېږي.

## Induced Saving
## القائي /هڅوونکې سپما

د کورني سکتور سپما، چې په ځانګړي ډول سره په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید باندې اتکا لري او په نا خالص داخلي تولید او یا ملي عاید کې تغیر په سپما کې د تغیر لامل ګرزي.

## Industrial Bank
## صنعتي بانک

هغه مالي بنسټ (بانک)، چې کاروبارونو(صنعتکارانو) ته په مساعدو شرایطو نسبتاً کوچني پورونه برابروي.

## Industrial Revolution
## صنعتي انقلاب

د ۱۸ پيړۍ په وروستيو او د ۱۹ پيړۍ په اوايلو کې د توليد د تخنيکي تغير په پايله کې د کوچنيو صنايعو ځای فابريکو يا لويو ماشينونو ونيوه، چې په توليد کې دغه تغيراتو ته د صنعتي انقلاب نوم ورکول شو (دا انقلاب په لومړي ځل په فرانسه کې رامنځته شوی دی).

## Industrial Union
## صنعتي ټولنه

په عين صنعت او يا مختلفو صنعتونو کې د کارګرانو يو ځای کېدل او ټولنې جوړول (که څه هم، چې دندې يې سره مشابه نه وي) څو د صنعتي کارګرانو حقوق وساتل شي او کارګرانو ته د کار په شرايطو کې ښه والی رامنځته کړي.

## Industry
## صنعت

يو ګروپ کاروبارونه او تصدۍ، چې د داسې توکو او خدمتونو په توليد کې ښکيل وي، چې په استهلاک کې يو د بل سره د تعويض کيدو وړ وي. او يا هم په بل عبارت: د اقتصاد يوې لويې يا عمده برخې ته صنعت ويل کېږي. لکه د قالينو صنعت، چې په ټوليزه توګه د صنعت په نوم يادېږي؛ خو په يوازې ډول سره بيا د قالينو هر کاروبار يا شرکت ته د تصدۍ(Firm) نوم ورکول کېږي.همدا رازا دا اصطلاح په يو ځانګړي کسب او کار پورې هم تړلې ده لکه: د بانکداري صنعت، د تېلو صنعت او داسې نور.

## Inefficiency
## غير مؤثريت

هغه حالت، چې په اقتصاد کې د شته منابعو څخه د ګټې اخېستنې په پايله کې د مستهلکينو او توليدوونکيو رضايت د امکان ترحده ترلاسه نشي يا دا، چې: د توليد د شته عواملو د استعمال په پايله کې د توليد د عواملو په پرتله کم توليد ترلاسه شي.

کله نا کله بیا دا اصطلاح د ټولو اقتصادي فعالیتونو لپاره، چې په پوره ډول د اقتصادي اصولو لاندې صورت ونه نیسي هم کارول کېږي. د بېلګې په توګه: که بازارد تعادل په حالت کې نه وي غیر موثر بازارګڼل کېږي. له اغېزمنتوبیت (efficiency) سره یې پرتله کړئ.

## Inelastic
## غیر ارتجاعي

هغه حالت چې په یوه معلوم متغیر کې ډېر تغیر، چې په بل متغیره کې د بېخي کم تغیر یا د هېڅ تغیر لامل ونګرځي. له ارتجاعي (elastic) سره یې پرتله کړئ. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ارتجاعیت متبادل (Elasticity Alternative) ته هم رجوع وکړئ.

## Inelastic Demand
## غیر ارتجاعي تقاضا

هغه حالت/تقاضا کله، چې د یو توکي د تقاضا په قېمت کې تغیر رامنځته شي؛ خو د نوموړي توکي په تقاضا کې ډېر کم تغیر راشي یا هېڅ تغیر رامنځته نشي. دا په دې مانا، چې: د تقاضا په مقدار کې تغیر د تقاضا په قېمت کې تغیر ته ډېر کم عکس العمل ښودونکی وي یا هیڅ عکس العمل ونه ښيي د غیر ارتجاعي تقاضا څخه عبارت دی. د ارتجاعي تقاضا (elastic demand) سره یې پرتله کړئ.

## Inelastic Supply
## غیر ارتجاعي عرضه

هغه حالت/عرضه کله، چې د یو توکي د عرضې په قېمت کې ډېر تغیر رامنځته شي؛ خو د نوموړي توکي د عرضې په اندازه کې ډېر کم تغیر رامنځته شي یا هېڅ تغیر رامنځته نشي. دا په دې مانا، چې: د عرضې په مقدار کې تغیر د عرضې په قېمت کې تغیر ته ډېر کم عکس العمل ښودونکي وي یا هیڅ عکس العمل ونه ښيي د غیر ارتجاعي عرضې په نوم یادېږي د ارتجاعي عرضې (elastic supply) سره یې پرتله کړئ.

## Infant Industry
## نوی زیږیدلی صنعت

هغه صنعت، چې تازه تأسیس شوی وي او یا یې هم ډېره وده نه وي کړې او په بازار کې د نورو صنایعو په وړاندې د سیالۍ جوګه ونه اوسی.

## Inferior Goods
## نا مرغوب توکي

هغه توکي، چې په عوایدو کې په ډېروالي سره نوموړي توکي ته په تقاضا کې کموالی راشی. د بېلګې په توګه: د اتل میاشتني عواید ۱۰۰۰۰افغانۍ دي او نوموړی په ژمي کې د لرګیو څخه د سون توکو په ډول کار اخلي خو که د نوموړي عواید ۱۵۰۰۰ افغانیو ته ورسېږي نو د لرګیو پرځای له برقي بخاري څخه ګټه پورته کوي. د نورمال توکي (normal goods) سره یې پرتله کړئ.

## Inflation
## انفلاسیون یا تورم

په دوامداره ډول سره په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو په متوسطه عمومي کچه کې لوړوالي او د پیسو په ارزښت کې کموالي ته انفلاسیون یا د پیسو پړسوب ویل کېږي. خو دا په دې مانا ندی، چې مطلقاً د ټولو توکو قیمتونه لوړېږي بلکه په انفلاسیون کې د ډېری توکو قیمتونه لوړېږي د ځینو توکو قیمتونه کېدای شي، چې په خپل حال پاتې شي او د ځینو توکو په قیمتونو کې کېدای شي، چې کموالی هم رامنځته شي (خو په انفلاسیون کې د قیمتونو متوسطه کچه په پام کې نېول کېږي) د نرخ یا کچې له مخې انفلاسیون په عمومي ډول په لاندې برخو وېشل کېږي:

آرام (خوځنده) انفلاسیون (Creeping Inflation)

کله، چې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو متوسطه کچه په کلني ډول تر ۲٪ پورې لوړه شي نو دا ډول انفلاسیون ته خوځنده انفلاسیون (creeping inflation) ویل کېږي. او دا ډول انفلاسیون په اقتصادي ودې کې هم ډېر رول لوبوي.

- قدم اخیستونکی (متحرک) انفلاسیون (Walking Inflation)

کله، چې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو متوسطه کچه په کلني ډول تر ۵٪ پورې لوړه شي نو دا ډول انفلاسیون ته قدم اخېستونکی انفلاسیون (walking inflation) **ویل کېږي.**

- ځغلنده انفلاسیون (Running Inflation)

کله، چې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو متوسطه کچه په کلني ډول له ۸٪ څخه تر ۱۰٪ پورې لوړه شي نو ا ډول انفلاسیون ته ځغلنده انفلاسیون (running inflation) ویل کېږي.

- حاد / شدید انفلاسیون (Hyper or Galloping Inflation)

د انفلاسیون تر ټولو چټک او خطرناک ډول دی، چې د یو هېواد د انفلاسیون د ۲۰٪ او یا لدې څخه لوړه کچه پکې شاملېږي، چې ځینې وخت په ځینو هېوادونو کې د انفلاسیون له ۱۰۰۰٪ څخه لوړ نرخ هم لیدل کېږي. دا ډول انفلاسیون د اول نړیوال جنګ څخه وروسته په جرمني کې شتون درلوده، چې د انفلاسیون کچه ۲۳۰۰۰٪ ته لوړه شوې وه همدارنګه په ۱۹۹۳ میلادي کال کې په یوګوسلاویا کې د قیمتونو متوسطله کچه ۲۰٪ د لوړېدو په حال کې وه، چې په اوسني وخت کې په زمبابوې کې هم دا ډول شدید انفلاسیون شتون لري.

## Inflation Causes
## د انفلاسیون لاملونه

د انفلاسیون رامنځته کېدو بنسټیز لاملونه دوه دي، چې عبارت دي له:

د تقاضا راښکونکی انفلاسیون **(**Demand Pull Inflation**)**

هغه انفلاسیون، چې د کلي اقتصاد په څلورو سکتورونو ( کورنۍ، دولت، کاروبارونه او بهرنی سکتور) په تقاضا کې د ډېروالي او د عرضې د محدود پاتې کېدو یا د کموالي رامنځته کېدو له امله رامنځته کېږي. یا دا، چې: تقاضا کونکي د عرضې په پرتله ډېر تولید ته اړتیا لري نو په دې توګه د تقاضا اضافي برخه د توکو او خدمتونو په قیمتونو کې د لوړالي لامل ګرځي او له امله یې د تقاضا راښکونکی انفلاسیون Demand Pull Inflation رامنځته کېږي. د لګښت د فشار انفلاسیون Cost Push Inflation سره یې پرتله کړئ.

د لګښت د فشار انفلاسیون **(**CostPushInflation**)**

هغه انفلاسیون، چې د توکیو او خدمتونو د تولید په پروسه کې د تولید د لګښت د لوړوالی له امله د توکو او خدمتونو د قیمتونو لوړوالي له امله، چې د عرضې د کموالي لامل ګرځي رامنځته کېږي. او هغه وخت رامنځته کېږي کله، چې د تولید د څلورو عواملو ( ځمکه، کارګر، پانګه او اداره یا متصدی) څخه حد اقل د یوه په قېمت کې لوړوالی رامنځته شي.

دا په دې مانا، چې: د تولید د لګښت په ډېرېدو سره اقتصاد په پخواني قېمت سره د توکو او خدمتونو عرضه نشي ترسره کولای او که مستهلکین د تولید پیرودل غواړي نو باید، چې د پخوا په پرتله لوړ قېمت تادیه کړي، چې د توکو او خدمتونو د تولید دا لوړ لګښت د هغوی د قېمت د لوړوالي لامل ګرځي او په دې توګه د لګښت د فشار انفلاسیون (Cost Push Inflation) رامنځته کېږي. د تقاضا راښکونکي انفلاسیون **(**Demand Pull Inflation**)** سره یې پرتله کړئ.

د انفلاسیون رامنځته کېدو ځیني نور فرعي عوامل هم شته لکه : په جریان کې د پیسو د عرضې ډېروالی، توکو او خدمتونو په تولید او عرضه کې کموالی او داسې نور.

## Inflation Premium

### د انفلاسیون پریمیم

د واقعي ربحې او اسمي ربحې (چې د پور د هوکړه لیک په وخت کې ذکر کېږي) ترمنځ د توپیر څخه عبارت دی او موخه یې دا ده څو د ربحې کچه د انفلاسیون په پام کې نېولو سره تنظیم شي.

## Inflation Rate

### د انفلاسیون کچه/نرخ

له یوې دورې نه بلې دورې (کال) ته د قیمتونو په متوسطه کچه او د پیسو په ارزښت کې د تغیر سلنې څخه عبارت دی، چې د مستهلکینو د قېمت شاخص (CPI**)** او د نا خالص داخلي تولید د قېمت ډیپلیټور **(**GDP price deflator**)** په وسیله اندازه کېږي.

## Inflation Target

### د انفلاسیون کچه/هدف

د انفلاسیون لپاره د معلوم هدف یا کچې ټاکلو ته وايي دا په دې مانا، چې انفلاسیون باید په یوه ثابت اندازه کې وساتل شي لکه په ډېرى پرمختللو هېوادونو کې دا اندازه له یوې سلنې څخه تر دوه نیم سلنې پورې ساتل کېږي.

## Inflationary Gap

### انفلاسیوني خلا/تشه

هغه خلاء یا تشه، چې په لنډ مهاله تعادلي تولید او د اوږد مهال کامل استخدام تعادلي تولید ترمنځ وجود لري، چې د انبساطي تشې/خلا (Expansionary Gap) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Inflexible Prices

### جامد /غیر ارتجاعي قېمتونه

د هغه توکو او خدمتونو قېمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر د شتون په حالت کې په ډېر ورو ډول سره تنظیمېږي.

او یا هم په بل عبارت: هغه قېمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر د شتون څخه نه متاثره کېږي یا هم ډېر کم متاثره کېږي، چې د انعطاف نا پذیره/نه بدلیدونکي قېمتونه rigid/sticky (prices) اصطلاحات هم ورته کارول کېږي. له ارتجاعي قېمتونو (flexible prices) سره یې پرتله کړئ.

## Inflexible Wages

### جامد/غیر ارتجاعي مزد

هغه مزد، چې د کارګرانو په بازار کې د مازاد او یا کسر د شتون په حالت کې په ډېر ورو ډول سره تنظیمېږي یا نه متاثره کېږي، چې د انعطاف نا پذیره/نه بدلیدونکي مزد (rigid/sticky wages) اصطلاحات هم ورته کارول کېږي. له ارتجاعي مزد (flexible wages) سره یې پرتله کړئ.

## Infrastructure

### زېر بناء/بنسټونه

هغه زيربنايي او بنسټيزې اړينې اسانتياوې او ساختمانونه، چې د اقتصادي کړنو د پراختيا او پرمختګ لپاره اړينې وي لکه: برښنا، سرکونه، پلونه، بانکونه، ترانسپورت، هوايي ډګرونه او داسې نور، چې د اقتصادي ودې او پرمختيا لپاره د شيريانونو حيثيت لري.

## Inheritance Tax

### پر ميراث ماليه

د ميراث ماليه يا د مړ شوي کس د شتمنيو په هغه برخه ماليه، چې بل کس (وارث) ته ليږدول کېږي. چې معمولاً په غرب کې شتون لري. له پر جايداد ماليې (estate tax) سره يې پرتله کړئ.

## Injection

### تزريق (په اقتصاد کې)

په نا خالص داخلي توليد باندې د استهلاکي لګښتونو څخه علاوه نورو ټولو پلان شوو لګښتونو څخه عبارت دی. لکه پانګونه، دولتي پيرودنه خالص صادرات او داسې نور، چې د اقتصادي موخو لپاره اقتصاد ته د پاليسی له مخې داخلېږي.

## Injunction

### حکم (د محکمې امر)

د يو کس، کاروبار يا د کاروباري ټولنې د هغه کړنې په وړاندې، چې د بل کس، کاروبار يا د کاروباري ټولنې په زيان تمامېږي د محکمې حکم څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: يو کاروبار له خوا د بل کاروبار کارکونکي په خپل کاروبار کې د استخدام په موخه هڅولول.

## In-kind Payment

### هم توکي (بارتر) تاديه

د توکو او خدمتونو په وړاندې هغه تاديه، چې د هېواد د پولي واحد پر ځای د توکو او خدمتونو په شکل صورت ونيسي. له پولي مزد (money wage) سره يې پرتله کړئ.

## Innovation

### نوښت یا ابتکار

اقتصاد او ټولنې ته د نوې نظریې، تولید او یا ټکنالوژۍ او داسې نورو د ورپېژندلو او خپرولو پروسې څخه عبارت دی. (invention) سره یې پرتله کړئ.

## Inputs

### عوامل

د تولید عوامل، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخېستل کېږي یا دا، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د عامل په ډول کارول کېږي.

## Inside Lag

### داخلي موده

د اقتصادي پالیسیو په برخه کې: په اقتصاد کې د ټکان (shock) د رامنځته کېدو او په وړاندې یې د دولت له لوري د اصلاحي اقداماتو ترمنځ د وخت واټن څخه عبارت دی او په دوه ډوله دی، چې عبارت دي له:

۱: د پیژندنې موده (recognition lag)

۲: د تطبیق موده (implementation lag).

د تطبیق/بهرنې مودې (outside lag) سره یې پرتله کړئ.

## Insolvency

### تنګ لاسی یا ورشکستګي

په کاروبار کې هغه حالت، چې د کاروبار پورونه د کاروبار له خالصو شتمنیو څخه ډېر وي او پدې توګه کاروبار نشي کولای، چې خپل پورونه تادیه کړي، چې دا د دېوالي کیدو په لور لومړی ګام ګڼل کېږي خو دیوالي کیدال پکې حتمي نه وي. له د پرداخت وړتیا (solvency) او دیوالي کیدل (bankruptcy) سره یې پرتله کړئ.

## Instruments
وسایل ( مالي )

په عام ډول د وسیلې په مانا ده خو په مالي برخه کې ټولو مالي وسایلو ته ویل کیږي لکه حجت، اعتبارات، بانډ او داسې نور. او په مالي برخه کې هغه مالي یا قانوني حقوقو څخه عبارت دي، چې له مخې یې توکي، خدمتونه، منابع ترلاسه کیدلی شي او ټول هغه وسایل په برکې نیسي، چې په مرسته یې یې د کورنیو، کاروبارونو او عامه سکتور ترمنځ عاید جریان پیدا کوي، چې مشهور یې ونډې، بانډونه او کاغذي پیسې دي.

## Insurance
بیمه

په عام ډول له یو حقوقي او یا حقیقي کس څخه بل کس حقوقي ته د خطر لیږد ته بیمه وایي او لومړی کس د خطر څخه د ساتنې تامین په وړاندې ټاکلی حق تادیه کوي.  خو په علمي اصطلاح کې: د احتمالي خطر په وسیله د رامنځته کېدونکې خسارې ضمانت کونکي ته د معلوم مبلغ په وړاندې، د معلوم وخت لپاره، د معلومو پیښو په وړاندې د رامنځته کېدونکي احتمالي خطر انتقال څخه عبارت دی.

## Intangible Asset
غیر مادي یا نه لمس کېدونکې شتمني

هغه شتمني، چې په مادي بڼه شتون ونلري لکه شهرت (goodwill)، سافټ ویر، اخلاق رویه او داسې نور. له لمس کیدونکې شتمنۍ (tangible asset) سره یې پرتله کړئ.

## Intangible Tax
په نه لیمس کېدونکې شتمنیو مالیه

هغه مالیه چې په هغه شتمنیو اخېستل کېږي چې د لمس کېدو وړ نه وي.

## Interest

## ربح یا سود

د هغه شتمنۍ (پیسو) د قیمت تادیه، چې په پور اخیستل شوې وي. یا دا، چې: په پور اخیستل شوي مبلغ څخه د ګټه اخیستنې په وړاندې تادیاتو څخه عبارت دی، چې معمولاً په کلني ډول ترسره کیږي.، چې معمولاً په دوه برخو وېشل کیږي:

ساده ربح **(Simple Interest).**

مرکبه ربح **(Compound Interest).**

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Interest Free Banking

## له سوده پرته بانکوالي

د بانکوالي هغه ډول چې پر سود نه وي ولاړ او یا هم دا چي د سود راکړه ورکړه په کې نه ترسره کیږي چې دا اصطلاح د اسلامي بانکوالي په اړوند کارول کیږي.

## Interest Rate

## د سود کچه

په پور اخیستل شوي مبلغ د قیمت سلنه، چې د پیسو په شکل تادیه کیږي لکه ٥٪، ٧٪ او داسې نور.

## Interest Rate of Return

## د ربحې د بازګشت نرخ

د کاروبارونو له لوري د سرمایوي پانګونې په پروژو باندې د بازګشت د کلني نرخ څخه عبارت دی، چې د پانګونې نهایي اغېزمنتوب **(marginal efficiency of investment)** اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Intermediate Goods

## منځګړي توکي

هغه توکي، چې د نورو توکو یا خدمتونو په تولید کې د یوې برخې یا د تولید عامل په توګه برخه اخلي، چې دا ډول توکي له مخکې د انسان د کار په پایله کې تولید شوي وي او منځنی ځکه ورته ویل کېږي، چې دا د نهایي تولید شوي توکي او د خامو موادو ترمنځ د کار نا تمامه توکی په ډول تعریفیږي.یا دا، چې: یو اقتصادي مادي توکي، چې دوباره د ثروت د تولید په موخه کارول کېږي لکه سرمایوي توکي (capital goods). له نهایي توکو (final goods) سره یې پرتله کړئ.

## International Aid

## نړیواله مرسته

معمولاً د ثروتمندو هېوادونو او نړیوالو مالي بنسټونو له لوري له غریبو او وروسته پاتې هېوادونو سره د هغوی د اقتصادي ستونزو د حل په منظور د مرستو څخه عبارت دی.

## International Economics

## نړیوال اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې د نړیوالې سوداګرۍ، نړیوال تمویل، اسعارو د تبادلې نرخونو او داسې نورو اړوند موضوعاتو څخه بحث کوي. او یا هم په بل عبارت: نړیوال اقتصاد د اقتصاد د علم هغه برخه ده چې د مختلفو هېوادونو ترمنځ متقابلې اقتصادي او مالي اړیکې څیړي لکه د هېوادونو ترمنځ سوداګري. پانګونه او مالي اړیکې.

## International Finance

## نړیوال تمویل

د نړیوال اقتصاد یوه برخه ده، چې د اقتصادي اړیکو مالي اړخ او د هغې پورې اړونده مسایل څېړي لکه د داخلي او بهرنیو پیسو د تبادلې نرخونه یا په نړیوالو بازارونو کې د مالي وسایلو او د هېوادونو د سوداګریزو اړیکو او پیسو د تبادلې د نرخونو ترمنځ اړیکې.

## International Labor Organization (ILO)
## د کارګرانو نړیوال سازمان

د کارګرانو نړیوال سازمان په ۱۹۱۹ میلادي کال کې تأسیس شوی دی او په ۱۹٤٦ میلادي کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان د لومړنۍ تخصصي ایجنسي په توګه رامنځته شو، مرکزي دفتر یې په جینیوا کې دی، او عمده موخې یې عبارت دي له:

۱: د کارګرانو لپاره په نړیواله کچه د کار کولو په وړاندې د حد اقل حق (مزد) اندازه ټاکل.
۲: د کارګرانو د ټولنو په جوړولو باندې د آزادي رامنځته کول.
۳: د کارګرانو حقوق ساتل.
٤: د کار په پروسه کې د کارګرانو لپاره د امتیازاتو رامنځته کول او داسې نورې موخې.

## International Monetary Fund(IMF)
## د پیسو نړېوال صندوق

نوموړی نهاد د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې په ۱۹٤٥ میلادي کال کې تأسیس شوی، چې د بهرنۍ تبادلې بازارونه تر نظارت لاندې ساتي او د ثبات رامنځته کولو لپاره یې هڅې کوي په اوسني وخت کې تقریباً ۱۵۰ غړي هېوادونه لري او د (SDR) له لارې اړو هېوادونو ته پور ورکوي څو د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې شته کسر له منځه یوسي او یا یې هم راکم کړي.

## International Trade
## نړیواله سوداګري

د هېوادونو ترمنځ متقابلې اقتصادي اړیکې، چې په فزیکي ډول د توکو سوداګري (صادرات او واردات) او یا د خدمتونو راکړه ورکړه په برکې نیسي.

## Introduction Stage
## د پېژندنې مرحله

د تولید د ژوند دوران لومړنۍ مرحله ده او په دې مرحله معمولاً ډېر لګښت او تحقیق ته اړتیا لېدل کېږي او تولیدونکي د دې لپاره، چې تولید یې د مستلهلکینو رضایت ترلاسه کړي ډېر لګښت

ته اړ دي، په دې مرحله کې عموماً ګټه یا هم شتون نلري یا ډېره کمه وي او د تولید د ناکامېدو وېره پکې ډېره وي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د تولید د ژوند دوران (product lifecycle) ته هم رجوع وکړئ.

## Invention
اختراع

د نوي تولید، نظرېې او یا ټکنالوژي یا د تولید د پروسې رامنځته کولو څخه عبارت دی. له نوښت (innovation) سره یې پرتله کړئ.

## Inventory
ګودام/زېرمه

د نهايي توکو، منځګړو توکو، خامو موادو او داسې نورو زېرمې ته وايي، چې کاروبارونه یې په لاس کې لري او د اړتیا په وخت کې یې د تولید او عرضې په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي.

## Inverse Relation
معکوسه اړیکه

هغه ریاضیکي نظریه، چې وايي: په دوه متغیرو کې تغیر، چې په مخالف جهت ترسره کېږي. په دې مانا، چې په یو متغیره کې ډېروالی په بل متغیره کې د کموالي او کموالی یې د ډېروالي لامل ګرځي.

د بېلګې په توګه: د توکو او خدمتونو د قېمت لوړوالی د تقاضا د کموالي او کموالی یې د تقاضا د زیاتوالي سره مل وي. چې د منفي اړیکې (negative relation) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له مستقیمې اړیکې (direct relation) سره یې پرتله کړئ.

## Investment
پانګونه یا سرمایه ګذاري

د راتلونکې متوقعه ګټې د ترلاسه کولو په موخه د پانګې په کار اچولو ته پانګونه ویل کېږي.، چې دوه بنسټیز ډولونه یې عبارت دي له:

مستقیمه پانګونه (Direct investment) لکه د ماشین آلاتو پېرودل.

- غیر مستقیم پانګونه (Indirect investment) لکه د ونډو پېرودل.

## Investment Borrowing
## د پانګونې پور

د کاروباري سکتور په وسیله په سرمایوي توکو باندې د پانګونې د لګښتونو د تمویل په موخه د پور اخېستلو څخه عبارت دی، چې معمولاً د مالي بازار (financial market) له لارې ترسره کېږي.

## Investment Determinants
## د پانګونې ټاکونکي عوامل

هغه عوامل او فکتورونه ، چې پانګونه تر خپل اغیز لاندې راولي مهم یې په لاندې ډول دي: د سود نرخ، تکنالوژي، د مالیاتو کچه، په کاروبار اعتماد، د پانګې قېمت او د پانګه اچونکو وړاندوینه او توقعات.

## Investment Expenditure
## د پانګونې لګښتونه

په یو معلوم وخت (معمولاً د یو کال په جریان کې) د کاروباري سکتور په وسیله په نهایي توکو او خدمتونو باندې ترسره کېدونکو یا د ترسره شویو لګښتونو څخه عبارت دي لکه په سرمایوي توکو باندې د کاروباري سکتور لګښتونه.

## Investment Multiplier
## د پانګونې ضریب

هغه ریاضیکی ضریب چی له مخی یي په پانګونې کې د تغیر په پایله کې په ملي عاید کې د تغیر اندازه محاسبه کیږي.

## Invisible Hand

## نامرئي یا نه لیدونکی لاس

دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د ادم سمېت له لوري وکارول شوه نوموړی وایي چې:

که چېرې په ټولنه کې هر وګړی د خپلې ګټې د تامین په موخه کار وکړي نو بالاخره د ټولنې رفاه هم تامینیږي. نو په دې توګه ادم سمیت عقیده درلوده، چې: ټولنه د یو نامریي لاس په وسیله اداره کېږي او ټولنیزه رفاه لدې سره سره، چې د ټولنې وګړي خپلې شخصي ګټې تعقیبوي تامینیږي.

(نوموړې اصطلاح په بازار کې د عرضې او تقاضا په وړاندې هم کارول کېږي دا په دې مانا، چې: په بازار کې د توکو او خدمتونو په قیمتونو کې د عرضې او تقاضا په مرسته تعادل رامننځته کېږي).

## Invisible Trade

## نا مرئي سوداګري

غیر مرئي سوداګري یا د یو هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ هغه برخه، چې د لمس کېدو وړ نه وي لکه خدمتونه. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تادیاتو بېلانس (balance of payment) ته رجوع وکړئ. له مریي سوداګري (visible trade) سره یې پرتله کړئ.

## Invoice

## انوایس

هغه لِست، چې د توکو د پلورونکي له لوري ترتیب او پېرودونکي ته لېږل کېږي او د توکو قېمت، مقدار او د توکي په اړوند نور معلومات پکې درج وي.

## Involuntary Exchange

## جبري تبادله

دا اصطلاح په اقتصاد کې د دولتي مالیې په وړاندې کارول کېږي په دې مانا، چې که څوک وغواړي او که ونه غواړي اړ دي، چې پر عوایدو مالیه ورکړي.او دولت یې په وړاندې دوی ته خدمتونه عرضه کړي.

له ارادي تبادلې (voluntary exchange) سره یې پرتله کړئ.

## Inward Investment

داخلي پانګونه

د هېواد په داخل کې پانګونه چې د نورو هېوادونو، کاروبارونو او مالي بنسټونو له لوري ترسره کېږي، چې دا ډول پانګونه داخلي پانګونه هم په برکې نیسي. د بېلګې په توګه: د نورو هېوادونو، کاروبارونو او مالي بنسټونو له لوري په افغانستان کې پانګونه. له بهرنۍ پانګونې (outward investment) سره یې پرتله کړئ.

## Irredeemable Money

نه حصولیدونکې پیسې

نه بدلیدونکو پیسو (inconvertible money) ته رجوع وکړئ.

## Islamic Development Bank (IDB)

اسلامي پراختیایي بانک

هغه څو ملتیزه مالي بنسټ دی، چې د اسلامي هېوادونو د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا په موخه په ۱۹۷۵ میلادي کال کې تأسیس شوی دی بنسټیزې موخې یې د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا لپاره غړو هېوادونو ته د تولیدې موخو لپاره د مرستو او پورونو برابرول دي. مرکزي دفتر یې د سعودي عربستان په جده ښار کې دی په اوسني وخت کې یې د غړو هېوادونو شمېر ٥٤ ته رسېږي افغانستان هم ددې مالي بنسټ غړی هېواد ګڼل کېږي.

## Islamic Economic System

اسلامي اقتصادي نظام

اسلام اقتصادي نظام د اسلامي شریعت د احکامو پر بنسټ رامنځته شوی نظام ده چې د ځانګړو لاربښوونو له مخې هم فردي او هم عامه ملکیت ته اجازه ورکوي. په دې نظام کې اقتصادي فعالیتونه دحلال او حرام تر منځ د پولې تر اندازې محدود دي او له نورو نظامونو سره یې لوی توپیر په دې کې ده چې اسلامي نظام له سود او رباء څخه پاک سیستم یا Interest Free economic system رامنځته کوي او په ټولنه کې د طبقاتي ډلو له رامنځته کیدلو څخه د مخنیوي لپاره عملي لارې چارې وړاندې کوي .

# J

## Jawboning

## هڅول

د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو په موخه د سياسي رهبرانو يا په ټولنه کې د نورو با نفوذه وګړو له لوري په شفاهي ډول د خلکو تشويق او يا عدم تشويق څخه عبارت دی. په اقتصاد کې دا اصطلاح د خصوصي او عامه سکتور ترمنځ غير رسمي بحث او تشويق په مانا ده. چې د (moral suasion) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## J-curve

## د جی منحني

د ملي پيسو په ارزښت کې د کموالي راوستلو څخه وروسته د سوداګرۍ په بيلانس کې د موازنې د حالت وده واضح کوي چې د پيسو په ارزښت کې کموالی واردات ګران او صادرات ارزانه کوي ځينې وخت کېدای شي چې دا حالت معکوس هم وي.

د J-curve د يو هېواد د پيسو د تبادلې د نرخ او د سوداګرۍ د بيلانس ترمنځ په زړه پورې اړيکه څرګندوي. په داسې ډول کله، چې دهېواد د پيسو د تبادلې نرخ ټيټ شي نو له هېواده د صادريدونکو توکو قيمت ټيټيږي او پدې ډول صادرات هڅول کېږي او د سوداګرۍ بيلانس مثبت خوا ته حرکت کوي.خو په لنډه موده کې دغه اغيزې د سوداګرۍ د بيلانس خلاف وي ځکه په لنډه موده کې يواځې قيمتونه تغير کېږي خو مقدار په خپل حال پاتې وي چې په اوږده موده کې د سوداګرۍ مقدار هم د قيمتونو د تغيراتو سره تطابق وکړي.ديادولو وړ ده، چې دا منحني پر دې سربېره د ځينو نورو مسايلو د توضيح لپاره هم کارول کېږي لکه د هېواد اقتصادي ثبات او د اقتصاد د پرانيستون openness درجه او داسې نور.

## Job

### دنده

دنده د توليدي يا خدماتي پروسې د پرمخ بېولو په موخه يو ځانګړی کړنې، چې معمولاً د يو کس په وسيله په يو معلوم وخت کې ترسره کېږي او په وړاندې يې معلومه اندازه مزد او معاش تاديه کېږي لکه په پوهنتون کې تدريس، په دفتر کې کار کول او داسې نور.

## Job Leavers

### د دندې پرېښودونکي

په ټولنه کې هغه وزګاره کارګره قوه، چې په خپله خوښه او اراده د نورو دندو د ترلاسه کولو په موخه له شته دندو څخه لاس په سر کېږي يا دندې پرېږدي.

د بېلګې په توګه: يو کس د بلې دندې د ترلاسه کولو په موخه له خپلې دندې استعفی کوي. د دندې له لاسه ورکونکو **(**Job losers**)** سره يې پرتله کړئ.

## Job Losers

### د دندې له لاسه ورکوونکي

په ټولنه کې هغه وزګاره کارګره قوه، چې په غير متوقعه ډول يې خپلې دندې له لاسه ورکړې وي يا دا، چې له دندو څخه ګوښه کړل شوي وي. له دندو پرېښودونکو **(**Job leavers**)** سره يې پرتله کړئ.

## Job Satisfaction

### له دندې رضايت

هغه رضايت او يا ګټورتوب، چې کارګران يې د خپلو دندو له ترسره کولو څخه ترلاسه کوي لکه د کار چاپېريال، مزد او معاش اندازه، د ادارې وړتيا او چلند او داسې نور، چې معمولاً د کارګرې قوې د متاثره کولو لامل ګرزي.

د ېيلګې په توګه: که د کار چاپېریال ښه وي، د ادارې چلند د کارګرانو لپاره د منلو وړ وي، هر کارګر ته په امتیاز ورکولو کې عدالت په پام کې ونېول شي؛ نو کارګره قوه په کم مزد او معاش سره هم کار کولو ته حاضرېږي.

## Job Securities

### د دندې تامین

د دندې تامین یا د هغه احتمال او امکان څخه عبارت ده، چې له مخې یې یو کارکوونکي په راتلونکي کې په دنده کې پاتې کیدی شي. که د دندې د تامین کچه لوړه وي ، نو دا ددې مانا ورکوي چې د دې کس لپاره د دندې د پرېښودو ډېر کم چانس شتون لري.

## Jobber

### بورسې دلال

هغه کس چې د ونډو او قېمتي پاڼو په پېر او پلور کې بوخت وي یا یو منځګړی سوداګر، چې د یو واردوونکي او یا له عمده پلورونکي څخه توکي پېري او په پرچون پلورونکو یې پلوري.

## Job Less Claims

### د بیکارۍ/ دندې نه لرلو مطالبه

په متحده ایالتونو کې د استخدام د ادارې له خوا اونیز راپور ده، چې په ټولنه کې د هغه وګړو شمېر، چې د لومړي ځل لپاره د وزګارتیا د جبران حقوق یا اعانې په ترلاسه کولو فورمې ډکوي (معمولاً په یوه هفته کې) کله چې هم دا ډول مطالبه په زیاتیدو وي نو د بیکارۍ ډېروالی معمولاً په اقتصاد کې د کساد یا زوال مرحلې پیل ګڼل کېږي.

## Joint Account

### ګډ حساب

هغه بانکي حساب چې له یو څخه ډېرو (معمولاُ د دوه کسانو) کسانو په نوم پرانیستل کېږي او معمولاُ شرکتونه او کاروبارونه ورڅخه ډېره ګټه اخلي او د حساب لرونکي په کې تر معلومه اندازه د پیسو ویستلو صلاحیت لري.

د بېلګې په توګه: اتل او اسلم د آریوب په نوم ودانیز شرکت چې اتل یې مشر او اسلم یې مرستیال دی او غواړي چې په افغان ملي بانک کې د آریوب ودانیز شرکت په نوم یو ګډ حساب پرانیزي نو اتل او اسلم دواړه له حساب څخه د پیسو د ویستلو صلاحیت اندازه په ګوته کوي چې اتل په خپل لاسلیک یوازې تر ۵۰۰۰۰ افغانی او اسلم بیا په خپل صلاحیت یوازې تر ۲۵۰۰۰ افغانی له حساب څخه ویستلی شي او که د پیسو د وېستلو اندازه له ۵۰۰۰۰ افغانیو څخه ډېرېږي نو اتل او اسلم دواړه باید په چک لاسلیک وکړي. د بانکي حسابونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره بانکي حساب (Account) ته هم رجوع وکړئ.

## Joint Cost
ګډ لګښت

د تمام شد هغه لګښت، چې د دوه یا ډېرو توکو د یو ځایي تولید له امله رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه: د مالوچو د تولید په پروسه کې د مالوچو او پنبې دانې تولید، چې د دواړو د تولید د تمام شد لګښت عین لګښت دی. دا ډول تولید ته ځینې وخت د ګډې عرضې (joint supply) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Joint Demand
ګډه تقاضا

دوه یا ډېرو توکو ته په عین وخت کې د تقاضا شتون، چې په استهلاک یا په تولید کې د یو بل تکمیلونکي وي.

د بېلګې په توګه: د ډوډۍ د پخولو لپاره په عین وخت کې اوړو، مالګې او اوبو... ته تقاضا.

## Joint Product
یوځایي تولید / متمم تولید

دوه یا ډېر توکي، چې په عین وخت کې د عین منابعو څخه په ګډه اخېستو سره تولیدیږي او د یو توکي تولید په اتومات ډول د بل توکي د تولید لامل ګرځي.

د بېلګې په توګه: د لرګي څخه د تختې جوړولو په وخت د تختې او د بورو تولید، چې په عین وخت کې صورت نیسي. چې د متمم تولید **(by-product)** او د مشترکې عرضې (joint supply) اصطلاحات هم کارول کېږي.

## Joint Production

یوځایي تولیدول/ګډ تولید (پروسه)

د عین منابعو څخه په ګډه اخېستو سره په عین وخت او همزمان ډول د دوه او یا ډېرو توکو د تولید پروسې ته ګډ تولید (پروسه) ویل کېږي. د بېلګې په توګه: د لرګي څخه د تختې جوړلو په وخت کې د تختې او بورو تولید، چې په عین وخت کې ترسره کېږي.

## Joint Stock Company

د ګډې ونډې /پانګې شرکت

هغه شرکت چې پانګه یې له ونډو څخه جوړه شوي وي چې دا ونډې د اړتیا په وخت کې د بل چا ملکیت ته هم انتقالیدای شي او معمولاً د ونډو په بازار کې دغه ونډې پلور ته وړاندې کیږي.

## Joint Venture

ګډه پانګونه

د دوه یا ډېرو بنسټونوکاروبارونو په وسیله یوه کړنه، چې په ګډه سره ترسره کېږي او هر بنسټ/کاروبار پکې د کنترول معلومه اندازه ولري.

د بېلګې په توګه: د کمپیوټري سافټ ویر تولیدونکی شرکت له یو بانک سره د هوکړه لیک له مخې د ګډې پانګونې له مخې د **(**Core Banking Solution(CBS یو سافټ ویر تولیدوي او په دې توګه د دواړو بنسټونو ترمنځ ګډه پانګونه (venture joint) رامنځته کېږي، چې هر بسنټ پکې تر معلومه حده کنترول لري او معمولاً په هغه کړنو کې رامنځته کېږي، چې په نوې تکنالوژي باندې تکیه لري.

## Judicial Policy
## قضايي پاليسي/سياست

د دولت هغه سياست، چې د محکمې (معمولاً د سترې محکمې) له لوري د قانون او مقرراتو په تنفيذ باندې اتکا لري. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي سياست(Economic policies) ته ته هم رجوع وکړئ.

## Just Price
## عادلانه قېمت

دا اصطلاح په لومړي ځل د (st.thomas ) په نوم يو اقتصاد پوه له لوري وکارول شوه دا په اقتصاد کې داخلاقياتو يوه تيوري ده، چې د معاملاتو په عادلانه ډول ترسره کولو څخه بحث کوي. دا اصطلاح دا واضح کوي، چې: د يو توکي قېمت بايد د نوموړي توکي له هغه ارزښت سره مساوي، چې په ټولنه کې منل شوی وي څو د مستهلک رضايت ترلاسه شي.

د بېلګې په توګه: د آرمان آيسکريم د کابل په هره برخه کې په پنځه افغانۍ پلورل کېږي خو که د ښار په يوه سيمه کې يې يو پلورونکي وغواړي، چې په لس افغانۍ يې وپلوري نو کېدای شي، چې ځينې وګړي يې د پېرلو څخه ډډه وکړي دا ځکه، چې دا په بازار کې د منل شوي قيمت څخه لوړ او د مستهلکينو رضايت او قناعت نشي ترلاسه کولای.

## just-in- time
## په خپل وخت

د توکو او خدمتونو د توليد په موخه اړين توليدي وسايل او مواد مځکې لدې، چې اړتيا ورته رامنځته شي حاضر وي او يا عيناً د اړتيا په وخت کې د توليد پروسې ته حاضرولو ته وايي. يا هم په پرچون پلورونکی مغازو کې د ګودام د لګښتونو د مخنيوي په خاطر د يو توکي د پلور سره سم د پلورل شوي توکي ځای ته د بل توکي رسول، چې معمولاُ د معلوماتي تکنالوژۍ او کمپيوتري سيستم په مټ ترسره کېږي. او په خپل وخت عرضې (justintimesupply) اصطلاح هم ورته کارول کيږی چې ښه بيلګه يې د وال مارټ د پرچون خرڅوونکې ستره کمپني ده چې په متحده ايالتونو کې ډير کوچنې پلورنځي لري.

# K

## Keynesian
کینزیان

د کلي اقتصاد هغه تیوري ته وايي، چې د John Maynard Keynes له لوري ورته پرمختګ ورکړل شوی دی، چې معمولاً په اقتصاد کې د نورو اصطلاحاتو سره یو ځای کارول کېږي لکه کینز اقتصاد، کینز تعادل او داسې نور.

## Keynesian Disequilibrium
د کینز عدم تعادل

د کینز په موډل کې: هغه حالت، چې پکې د ټولیزو لګښتونو (د پېرودونکو له لوري) او د ټولیز تولید (د پلورونکو له لوري) متقابل قوتونه د تعادل په حالت کې قرار ونه لري او په دې توګه د کلي اقتصاد څلوروسکتورونه یعنې:

١: د کورنیو سکتور (House hold sector)
٢: کاروباري سکتور (Business sector)
٣: دولتي/ حکومتي سکتور (Government sector)
٤: بهرنی سکتور (Foreign sector)

د هغه ټول تولید د پېر توان ونه لري ، چې د ترلاسه کولو په لټه کې یې دي. یا دا، چې تولیدونکي د هغه خپل ټول تولید د پلورلو توان ونه لري چې بازار ته یې عرضه کړي وي نو په دې توګه په اقتصاد کې د عدم تعادل حالت رامنځته کېږي.

## Keynesian Economics
کینزي اقتصاد

د اقتصادي نظریاتو هغه فکري مکتب، چې د (John Maynard Keynes) له لوري ورته پرمختګ ورکړل شوی دی او دا واضح کوي، چې:

په ټولیزه تقاضا کې کموالی د کاروباري دوران یا دایرې د بې ثباتۍ (معمولاً د کساد) لومړنۍ منبع ده.، چې د کینز اقتصاد بنسټیز جوړښت د کینز په کتاب کې (د استخدام، سود او د پیسو عمومي تیوري) چې په ۱۹۳٦ میلادي کال کې نشر شو واضح شوی دی، چې تر ٤٠ کلونو پورې یې د کینز مکتب په اقتصادي ډسپلین کې تسلط درلوده او د دولتي پالیسیو جوړولو په برخه کې په ۱۹٦۰ کلونو کې خپل اوج ته رسېدلی و، چې بالاخره په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کلونو کې د خلکو او دولتونو د خوښې څخه بهر شو. خو په اوس وخت کې هم د پالیسیو جوړولو په برخه کې ترې ډېره ګټه اخېستل کېږي.

## Keynesian Equilibrium
## د کینز تعادل

په کلي اقتصاد کې هغه حالت، چې: ټولیز لګښتونه د ټولیز تولید یا نا خالص داخلي تولید سره مساوي وي او په دې توګه د کلي اقتصاد څلور سکتورونه یعنې:

۱: د کورنیو سکتور (House hold sector)

۲: کاروباري سکتور (Business sector)

۳: دولتي/حکومتي سکتور (Government sector)

٤: بهرنۍ سکتور (Foreing sector)

د هغه ټول تولید د پیرودلو وړتیا لري، چې د پېرلو په لټه کې یې دي. یا دا، چې: تولیدونکي د هغه ټول تولید د پلورلو وړتیا ولري چې عرضه کړي یې دي نو په دې توګه په اقتصاد کې د توازن یا تعادل حالت شتون لري.

## Keynesian Model
## د کینز ماډل

د کلي اقتصاد هغه موډل، چې د کینز په اقتصاد باندې تکیه لري او د ټولیز تولید او عوایدو د اندازې د مشخصولو او د تقاضا د څېړلو په برخه کې ترې ګټه اخېستل کېږي.

دا موډل معمولاً د تذریق (injection) او څڅوب (leakage) په وسیله مشخص کېږي. او د متعددو مهمو موضوعاتو لکه ضریب، د کاروبار دوران یا دایرې، پولي او مالي سیاست د څېړلو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي.

## Keynesian Theory
## د کینز تیوري

د کلي اقتصاد هغه تیوري، چې د (John Maynard Keynes) له لوري ورته پرمختګ ورکړل شوی دی او دا واضح کوي، چې: په ټولیزه تقاضا کې کموالی د کاروباري دوران یا دایرې د بې ثباتۍ (معمولاً د کساد) لومړنۍ منبع ده. د کینز تیوري بنسټیز جوړښت د کینز په کتاب کې (د استخدام، سود او پیسو عمومي تیوري)، چې په ۱۹۳٦ میلادي کال کې نشر شو واضح شوی دی.

## Kick back
## باز پرداخت

په عامه اصطلاح رشوت ګڼل کیږي. په ځانګړي ډول هغه مبلغ، چې د کارګر له لوري کارفرما یا متصدي ته د اوسنۍ دندې د خوندیتوب یا د نوې دندې د ترلاسه کولو په موخه تادیه کېږي.

## Kleptoracy
## اختلاس

هغه دولت، چې سیاستمداران او چارواکي پکې د ملي ګټو په پرتله د خپلو شخصي ګټو ساتلو ته ډېر ارزښت ورکوي او په لوړه اندازه په فساد کې ښکېل وي.

# L

## Labor

کار/کارګر

کارګر د تولید د څلورو بنسټيزو عواملو څخه يو دی درې نور عوامل عبارت دي له:

۱: ځمکه **(**Land**)**

۲: پانګه **(**Capital**)**

کارفرما يا متصدي **(**Entrepreneur**)**

او هغه کس چې د توکو او خدمتونو په توليد کې برخه لري کارګر ګڼل کېږي. يا دا، چې: هر هغه وګړی، چې قانوني عمر يې پوره کړی وي (په افغانستان کې د کار کولو لپاره قانوني عمر حد اقل ۱۸ کاله ټاکل شوی دی) او د کار کولو اراده او وړتيا ولري د توکو او خدمتونو په توليد کې برخه ولري کارګر ګڼل کېږي. لکه مامورين، تکنالوجست، منيجران او حتی د کاروبار ريس او نور ټول کارګر ګڼل کېږي.

## Labor Agreement

د کار/کارګر تړون

له هغه رسمي او قانوني هوکړه ليک څخه عبارت دی، چې د کارګر او کاروباري بنسټ ترمنځ عقد کېږي او معمولاً د کار ټول شرايط لکه د معاش اندازه، د کار ساعتونه، موقف، د کار موده، قانوني رخصتي او داسې نور په برکې نيسي.

## Labor Force

د کار قوه

په هېواد کې هغه وګړي، چې په توليدي کړنو کې د برخه اخېستو اراده او وړتيا ولري استخدام شوي وي يا د دندو د ترلاسه کولو په لټه کې وي.

یا دا، چې: ټول هغه وګړي، چې قانوني عمر یې پوره کړی وي او د کار کولو اراده او وړتیا ولري د کارګرې قوې څخه عبارت دي.

## Labor Intensive

کاربر

د تولید هغه پروسه، چې په پرتله ایز ډول پکې د تولید د نورو عواملو په پرتله له ډېرې کارګرې قوې څخه کار اخېستل کېږي. په نړیوال اقتصاد کې د سوداګرۍ په نظریاتو کې دغه ډول تولیدات د سوداګرۍ د رامنځته کیدو یو دلیل ګڼل کېږي او هغه هېوادونو ته د دغه ډول تولید سپارښتنه کېږي، چې د پانګې په پرتله زیاته ګارګره قوه ولري. د سرمایه بر **(capitalintensive)** سره یې پرتله کړئ.

## Labor Market

د کار بازار

هغه بازار، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د کارګرې قوې د تبادلې او استخدام خدمتونه پکې ترسره کېږي.

## Labor Piracy

د کارګرو اسارت/تصرف

له نورو کاروبارونو څخه خپل کاروبار یا شرکت ته د کارګرانو جلبول، چې د مزد او معاش د لوړوالي یا د نورو امتیازاتو د ورکړې له مخې ترسره کېږي.

## Labor Slowdown

د کار پڅول (سرعت کمول)

د کارګرانو له لوري (معمولاً د کارګرانو د اتحادیې له لوري) هغه تخنیک چې له مخې یې خپل تولیدي اغیزمنتوب راکموي څو لدې لارې خپلې ځانګړې موخې ترلاسه کړي.

## Labor Theory of Value

### د کار د ارزښت تیوري

دغې تیوري ته د ادم سمېت له لوري پرمختګ ورکړل شوی دی، چې وروسته بیا دا نظریه د کارل مارکس له خوا هم ومنل شوه او دا نظریه په دې خبره تکیه لري، چې: د یو توکي قېمت د نوموړي توکي په تولید باندې د کارګرې قوې په برخه اخېستو باندې تکیه لري. خو ځینو کلاسیک اقتصاد پوهانو دا نظریه رد کړه او وايي، چې: د یو توکي او یا خدمت قېمت د هغه د تولید په پروسه کې د کارګرې قوې څخه په ګډه اخېستلو پورې اړه نلري بلکې د توکي په عرضه او تقاضا پورې اړه لري.

## Labor Union

### د کارګرانو ټولنه

د کارګرانو او کارکوونکو له هغه سازمان څخه عبارت دی، چې د متصدیانو یا کارفرما سره د مزد، د کار شرایط، کار ساعتونه او په کار پورې نورو ټړلو موضوعاتو باندې د اړتیا په وخت کې خبرې اترې کوي، چې موخه یې د کارګرانو له حقوقو څخه دفاع کول دي.

## Lagging Indicator

### نتیجوي تاخیري شاخص

هغه شاخص چې تغیرات یې په بل یا اصلي شاخص کې په رامنځته شوو تغیراتو پورې تړلی وي (leading indicator) سره یې پرتله کړئ.

## Laissez Faire or Laissezpasser

### ازادي (د بازار )

یوه فرانسوي اصطلاح ده، چې مانا یې ده (مونږ یوازې پرېږدئ) نوموړې اصطلاح په اقتصاد کې په دې موخه کارول کېږي، چې: په بازار کې د دولت عدم مداخله کولای شي، چې د منابعو د اغېزمن تخصیص لپاره لاره هواره کړي یعنې دا، چې (بازار آزاد پرېږدئ).

## Land
## ځمکه

ځمکه د تولید د څلورو بنسټیزو عواملو څخه یو دی د تولید درې نور عوامل عبارت دي له:

۱: کارګر (Labor)

۲: پانګه (Capital)

۳: متصدي یا کارفرما (Entrepreneur)

چې هغه ټول تولیدي او طبیعي منابع په برکې نیسي، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخیستل کېږي لکه خاوره، هوا، معدنیات او داسې نور.

## Large Scale Production
## د لویې کتلې تولید

کتلوي تولید (Mass production) ته رجوع وکړئ.

## Law of Comperative Advantage
## د نسبي مزیت قانون

هغه بنسټیزه قاعده یا اصل، چې وایي: د دوه هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې هر هېواد باید هغه اقتصادي کړنه ترسره کړي، چې د بل هېواد په پرتله یې د تمام شد لګښت کم وي. یا دا، چې: د دوه هېوادونو ترمنځ سوداګري د دواړو لپاره ګټوره وي که چېرې هر هېواد د هغه توکو او خدمتونو په تولید کې تخصص واخلي، چې په پرتلیز ډول یې د تمام شد لګښت کم وي. دا قانون معمولاً د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې عملي کېږي خو د کارګرې قوې په وېش او تخصص کې هم ترې ګټه اخیستل کېږي.

## Law of Demand

## د تقاضا قانون

دا قانون دا واضح کوي چې که چیرې نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي (لکه د ټولنې د عوایدو سطح او داسې نور)؛ نو د تقاضا د قیمت او د تقاضا د مقدار ترمنځ معکوس تړاو شتون لري.

دا په دې مانا، چې: که چېرې د یو توکي د تقاضا قیمت کم شي؛ نو نوموړي توکي ته د خلکو په تقاضا کې لوړوالی رامنځته کېږي او که چېرې یې قیمت لوړ شي نو د خلکو په تقاضا کې کموالی رامنځته کېږي. چې دا قانون په اقتصاد کې د بازار په مطالعه کې خورا ارزښتمن رول لوبوي. د عرضې قانون (Law of supply) سره یې پرتله کړئ.

## Law of Diminishing Marginal Return

## د کمیدونکي نهايي حاصل قانون

هغه اساس یا قاعده، چې وايي: که چېرې د تولید متغیره عوامل (لکه کارګره قوه) د تولید ثابتو عواملو سره وار په وار په دوامداره ډول یو ځای شي او د تولید په پروسه کې ترې ګټه واخېستل شي، نو بالاخره د فی واحد اضافه شوي متغیره عامل د نهايي تولید اندازه، چې په لومړیو کې مخ په زیاتیدو وه اوس په کمیدو پیل کوي. دغه قانون ته د نزولي بهرې قانون هم وايي.

## Law of Diminishing Marginal Utility

## د نزولي نهايي افادې قانون

هغه اساس یا قاعده، چې وايي: د یو توکي ډېر او لا ډېر مصرف بالاخره د هر اضافي واحد مصرف لږ اضافي ګټورتوب یا رضایت رامنځته کوي یا دا، چې نهايي ګټورتوب یا رضایت یې کمېږي. د بېلګې په توګه: یو کس د یوې مڼې په خوړلو سره ډېر رضایت ترلاسه کوي که دویمه وخوري د اولې مڼې په پرتله یې د رضایت اندازه کمېږي او بالاخره د څو مڼو په خوړلو سره یې د ترلاسه شوي رضایت اندازه نوره هم را کمېږي.

## Law of Supply
## د عرضې قانون

د عرضې قانون دا واضح کوي چې که چېرې نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي لکه د خامو موادو قېمت، مزد او معاش اندازه او داسې نور) نو د عرضې د قېمت او د عرضې د مقدار ترمنځ مستقیم تړاو شتون لري.

دا په دې مانا، چې: د یو توکي د قېمت په ډېرېدو سره د نوموړي توکي په عرضه کې ډېروالی او د قېمت په کمېدو سره یې په عرضه کې کموالی رامنځته کېږي. چې دا قانون په اقتصاد کې د بازار په مطالعه کې خورا ارزښتمن رول لوبوي.

د تقاضا قانون (Law of supply) سره یې پرتله کړئ.

## Leading Economic Indicator
## لارښوونکی اقتصادي شاخص

دا هغه شاخصونه دي چې معمولاً په اقتصاد کې د عمومي تغیراتو څخه وړاندې په دې ډول شاخصونو کې تغیر رامنځته کیږي او په لنډه موده کې د اقتصاد لپاره د وړاندوینې لپاره مهم شاخصونه ګڼل کیږي.د اسهامو د بازار بازګشت یا stock market returns یوه ښه بیلګه ده کله چې عموماً اقتصاد د نزول په خوا ځي نو د اسهامو بازار کې مخکې له مخکې دغه ډول نزول لیدل کیږي همدا راز د دې برعکس حالت هم صدق کوی. او له (lagging economic indicator) سره یې پرتله کړئ.

## Leakage
## څڅوب یا څڅیدنه

په عام ډول له اقتصادي جریان څخه د شتمنیو خروج ته وایي خو په ځانګړي ډول د عاید په برخه کې د عوایدو هغه برخه، چې په استهلاکي توکو نه مصرفیږي، چې مالیه، سپما، واردات او داسې نور په برکې نیسي، چې د مصرف لپاره نه کارول کیږي.

## Leakage line
## د څڅوب لیکه

هغه کرښه، چې د څڅوب (leakage) او ملي عاید ترمنځ تړاو په ګوته کوي په دې مانا، چې: د ملي عاید څومره اندازه په څڅوب او څومره په استهلاکي توکو استعمالېږي.

## Learning
## زده کول

د چاپېریال د تجربو څخه په ګټه اخېستنې سره د انسان رویې، مفکورې او تفکر د پراختیا څخه عبارت دی.. په اقتصاد کې د تولید په برخه کې د زده کړې دغه پروسه د تجربې د زیاتیدو او د تولید د لګښت د راکمیدو په بڼه ډېره د اهمیت وړ ده چې د (learnig by doing) اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Lease
## اجاره

هغه هوکړه لیک (اجاره ) ده ، چې د یو ځانګړي ملکیت د تصرف په موخه ترسره کیږي.

## Least developed countries LDCs
## کم پرمختللي هېوادونه

دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۱ میلادي کال کې د پرمختیا او سوداګرۍ باندی د ملګرو ملتونو کنفرانس (United nations conference on trand and development) کنفرانس کې وکارول شوه او موخه ترېنه د نړۍهغه هېوادونه وو چې تر ټولو غریب و او د سړي سر کلني عاید اندازه یې له ۱۰۰ امریکایي ډالرو څخه کمه وه خو چون ډېری دغو هېوادونو دا اصطلاح یوه توهین آمیزه اصطلاح بلله نو لدې امله ډېر زر له منځه ولاړه. چې معمولاً د LDCs په شکل لیکل کیږي.

## Legal Claims

## قانوني مطالبه

د منابعو، توکو او خدمتونو ملکيت، چې د يو هېواد د اقتصاد واقعي اړخ جوړوي، چې د هېواد د مالي اړخ يو کليدي تصوير په ګوته کوي لکه بانډ(bond) د خزانې بل (treasury bill) او داسې نور.

## Legal Forces

## قانوني قوتونه

د بازار به چاپېريال کې د دولت له لوري د قانون له مخې رامنځته شوي هغه قوتونه، چې د کاروبارونو په پرېکړو اغيزه لري لکه د بانکدارۍ قانون، د سوداګرۍ او کاروبار قوانين او داسې نور، چې ځينې وخت ورته د سياسي قوتونو (political forces) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Legal Types( of Business)

## د کاروبار قانوني بڼې

دا اصطلاح په اقتصاد کې د قانوني کاروبارونو په وړاندې استعمالېږي، چې په عمومي ډول په درېو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

انفرادي کاروبار(Proprietorship) او يا هم (Sole proprietor ship)

تضامني شرکت (Partnership).

سهامي شرکت (Corporation).

چې په ذکر شويو کاروبارونو کې دوه بنسټيز توپېرونه شتون لري، چې يو توپير يې هم د ملکيت له مخې څرګندېږي دا په دې مانا، چې:

۱: انفرادي کاروبار معمولاً د يو کس په وسيله پرمخ ځي په دې مانا، چې په دې ډول کاروبار کې بل کس شرکت نلري په تضامني شرکت کې دوه يا ډېر کسان شريکان وي (خو د شريکانو شمېر يې معمولاً محدود وي، چې د هر هېواد شرايطو په پام کې نېولو سره توپېر لري) او په سهامي شرکت کې بيا د يو کس څخه ډېر تر ميليون پورې کولای شي ونډه ولري.

۲: دویم توپیر یې د پورونو په وړاندې د مسئولیت څخه عبارت دی، چې اول دوه ډوله کاروبارونه (یعنې انفرادي کاروبار او تضامني شرکت) یې نامحدود المسئولیت دي.
دا په دې مانا، چې: که چیرې د کاروبار خالصه شتمني د کاروبار له پورونو څخه کمه وي؛ نو د کاروبار مالکین په شخصي ډول مسئول دي، چې پاتې پورونه تادیه کړي او دریم ډول کاروبار یعنې سهامي شرکت یې محدود المسئولیت دی په دې مانا، چې: که چیرې د کاروبار خالصه شتمني د کاروبار د پورونو څخه کمه وي؛ نو شرکت د خپلې شتمنۍ په اندازه پورونه تادیه کوي او د پاتې پورونو د تادیې مسئولیت په غاړه نلري.

## Leisure Class

### مرفه طبقه

د لومړي ځل لپاره دا اصطلاح د یو امریکايي اقتصاد پوه (وبلن) له لوري وکارول شوه او موخه ترې په ټولنه کې د وګړو هغه طبقه ده چې د سرشاره عوایدو او یا دولت په درلودلو سره په دې فکر کې وي، چې خپلې پیسې او دولت په کوم شکل مصرف کړي او له خپل فارغ وخت څخه په کوم ډول سره خوند واخلي.

## Lerner Index

### د لرنر شاخص

نوموړی شاخص د یو توکي د قیمت او تمام شد د نهايي لګښت ترمنځ توپیر په ګوته کوي یعنې LI=[P-MC]/pچې په دې مساوات کې:

۱: LI د لرنر شاخص (Lerner index)

۲: P د توکي قیمت (Prices of goods)

۳: MC د توکي د تمام شد نهايي لګښت **(**Mariginal cost of production**)**

څخه نمايندګي کوي او هر څومره، چې يې پايله لوړه وي؛ نو دا د توکي قېمت او د تمام شد نهايي لګښت ترمنځ د واټن ډېروالی ښيي. دا شاخص د تقاضا د قېمت په ارتجاعيت باندې اتکا لري، چې د قېمت او د تمام شد لګښت حد/حاشيې (pricecostmargin) اصطلاح هم ورته کارول کېږي.

## Letter of Credit
## اعتبار ليک

هغه اعتباري سند ده چې د بانک له لوري د کس په نوم صادرېږي چې يو بل بانک ته دا دستور ورکوي او ضمانت يې کوي چې ټاکلې مبلغ هغه کس ته چې په اعتبار نامه کې قيد شوی دی تاديه کړي.

## Leverage
## ليوريج

په عام ډول هر هغه تخنيک او طريقې ته وايي، چې په پايله کې يې په ګټه او تاوان کې څو چنده زياتوالی راتلی شي.

دبېلګې په توګه: کاروبار لپاره په پور د پانګې ترلاسه کول تر څو په لوړه کچه کاروبار پر مخ لاړ شي او پدې توګه کاروبار ډېره ګټه ترلاسه کړي. همدا راز ليرريج د کاروبار په مختلفو برخو کې د پانګونې اندازه هم په ګوته کوي چې د پيسو څومره برخه د کاروبار له لوري په کوم ډول په کار اچول شوې ده.

## Liability
## ديون/د پرداخت وړ

د کاروبار د شتمنۍ هغه برخه، چې د کاروبار د پرمخ بيولو لپاره د پور په شکل ترلاسه شوې وي او د شرايطو سره سم په معلوم وخت کې د تاديې وړ وي، چې د کاروبار د بېلانس شيټ په ښي اړخ کې قرار لري.

## Liberal Economics
پرانیستی اقتصاد/ د دولت له مداخلې آزاد اقتصاد

Laissez-faire ته رجوع وکړئ.

## Liberalization
لیبرلایزیشن یا ازادي

د ازادی په مانا دی او هغه سیاست/پالیسي، چې د لیبرال اقتصاد د ودې او پرمختګ په موخه جوړېږي.

## License
لایسنس یا جوازلیک

د ځینو هغه کړنو د ترسره کولو لپاره د کار کولو د حق سند څخه عبارت دی چې د ترسره کولو لپاره یې اجازه اړینه وي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې صادراتي او وارداتي شرکتونو ته د فعالیت اجازه د سوداګرې وزارت او د نورو کاروبارونو (پانګونه، مخابراتي، لوژستیکي او ودانیزو شرکتونو) ته د آیسا اداره او انجوګانو ته د اقتصاد وزارت له لوري جوازنامه ورکول کېږي.

## Limit Pricing
محدود قېمت ایښودنه

کله، چې یو کاروبار په بازار کې د توکو او خدمتونو په قېمت ټاکلو باندې تر یوه حده کنټرول ولري او یا هم دا چې د تولید قېمت تنظیموي؛ خو چې په بازار کې د نورو کاروبارونو د دخول او ګټې ترلاسه کولو لپاره کافي فرصت شتون ونلري نوموړی کاروبار په خپلو تولیداتو کې ډېروالی راولي، قېمتونه راکموي چې لدې لارې بازار ته د نورو کاروبارونو د دخول مخه ونیسي.

## Limited Liabilities
## محدود پورونه (لږ مسولیت)

د پورونو د تادیې محدوده یا معلومه سطحه ده په دې مانا چې: که چېرې د کاروبار پورونه د کاروبار د شتمنیو څخه ډېر وي؛ نو کاروبار د خپلو شتمنیو په اندازه د پورونو تادیه کولو مسئولیت لري او د پاتې پورونو د تادیې مسئولیت نلري.

دا پدې مانا چې: کاروبار د پورونو په وړاندې د محدود مسئولیت درلودونکی وي. لکه سهامي شرکت (Corporation) چې یو محدود المسئولیت کاروبار دی. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د کاروبارونو قانوني بڼې (legal types) ته هم رجوع وکړئ.

## Limited Liability Company
## محدود المسولیت کمپني

هغه کاروبار، چې پکې د هر شریک پورونه په شرکت کې د ونډې په تناسب سره محدود وي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د کاروبارونو قانوني بڼې (legal types) ته هم رجوع وکړئ.

## Limited Partnership
## محدود شراکت

د شراکت هغه ډول، چې پکې یو یا ډېر شریکان د شرکت د پورونو په تادیه کولو کې د محدود مسئولیت درلودونکي وي. دا په دې مانا، چې: که چېرې د شرکت شتمنۍ د شرکت د پورونو څخه کمې وي؛ نو محدود المسئولیت شریکان پکې د خپلې ونډې په اندازه مسئول دي او د پاتې پورونو د تادیې مسئولیت په غاړه نلري.

## Limited Resources
## محدودې منابع

محدودې منابع د بشر په ژوند کې د قلت یا کمیابۍ له دوه بنسټیزو ستونزو څخه یوه ده (بله ستونزه داده، چې غوښتنې او اړتیاوې نامحدوده دي(Unlimited Needs and wants) او په دې مانا، چې: د تولید په موخه د تولید منابع محدود دي او په دې توګه په اقتصاد کې د کمیابي ستونزه رامنځته

کېږي. دا په دې مانا، چې: بشر د خپلو ټولو ستونزو او اړتیاو د رفع کولو لپاره په کافي اندازه منابع په اختیار کې نلري.

## Liquid Asset
سیاله شتمني

هره هغه شتمني، چې په نقده باندې یې د تبدیلیدو وړتیا ډېره وي او معمولاً پرته لدې، چې په ارزښت کې یې کموالی رامنځته شي (په ځینې استثنایي حالاتو کې یې په ارزښت کې ډېر کم کموالی رامنځته کېږي) په نقده باندې تبدیلېدای شي د سیالې شتمنۍ په نوم یادېږي لکه نقده پیسې(، چې ۱۰۰٪ سیاله شتمني ده، جاري حسابونه، او داسې نور). له کنګل شوې شتمني (frozen Asset) او یا هم د غیر سیالې شتمنۍ (Illiquid Asset) سره یې پرتله کړئ.

## Liquidity
سیالیت یا نقدینګي

په نقده باندې د یوې شتمنۍ د تبدیلیدو وړتیا ته سیالیت ویل کېږي، چې د تبدیلیدو په وخت کې یې هېڅ مالي ضرر شتون ونه لري یا د ضرر اندازه یې ډېره کمه وي ترټولو لوړه درجه یې په خپله نقدې پیسې او بیا بانکې چک او نور دي.

## List Price
د قېمت لیست

هغه قېمت، چې معمولاً نشرېږي او د نشر څخه وروسته پکې تنزیل یا کموالی نه منل کېږي.

## Living Standard
د ژوندانه معیار

د مستلکینو د غوښتنو او اړتیاوو د رفع کولو لپاره د اقتصاد د توکو او خدمتونو د تولید وړتیا څخه عبارت دی. دا په دې مانا، چې: په عملي ډول سره د هر کس لپاره د واقعي نا خالص داخلي تولید واقعي اندازه ځومره ده، چې په دې توګه د هېواد د وګړو د ژوند معیار معلومېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د بشري پرمختیا شاخص (Human Development Index (HDI ته رجوع وکړئ.

## Loan

پور

عامه مانا يې پور ده. د کاروباري يا شخصي اړتياوو د رفع کولو لپاره د ځانګړو شرايطو لاندې د پور اخيستلو عمل ته وايي، چې د پيسو په واسطه يې اندازه معلوميږي او پور سر رسيد او ربحه يې معلوم وي.

## Local Bond

محلي/ځايي باندونه

هغه منځ مهاله يا اوږد مهاله مالي سند، چې د ښاروالۍ په وسيله د لارو جوړولو، پارکونو او داسې نورو عامه پروژو د تطبيق په موخه د پيسو د ترلاسه کولو په موخه نشريږي، چې د ښاروالي بانډ ( Municipalbond) اصطلاح هم ورته کارول کيږي.

## Local Input

محلي/ځايي توليدي عامل

د توليد هغه عامل، چې د ترانسپورت د لوړ لګښت درلودلو له امله نسبتاً سيمه ايز بازار څخه په کم جغرافيايي واټن کې قرار ولري د ترانسپورت د زيات لګښت له امله دا ارزانه تماميږي، چې توليدي دستګاه له دغه سيمه ايزو عواملو ته نزدې انتقال شي.

## Local Output

ځايي حاصل

هغه توليد، چې د ترانسپورت د لوړ لګښت درلودلو له پلوه نستباً سيمه ايز بازار ته په کمه جغرافيايي واټن کې قرار ولري.

## Lock Out
### تعطیل

ماشین آلات او فابریکه، چې په موقتي ډول په دې موخه تړل کېږي څو د کاروبار مالکین د کارګرانو ټولنې سره د خبرو اترو له لارې امتیازات ترلاسه کړي دا حالت معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي، چې د کاروبار اداره شک ولري یا په دې پوهېږي، چې د کارګرانو ټولنه د اعتصاب کولو اراده لري.

## Long Run
### اوږده موده

په کلي اقتصاد کې د بازار څېړنې په اړه: هغه زمان، چې پکې ټول قیمتونه په ځانګړي ډول مزد ارتجاعي حالت ولري او د تعادل حالت یې له لاسه ورکړي وي. په جزوي اقتصاد کې د تولید او عرضې د څېړنې په اړه: هغه زمان، چې د تولید ټول عوامل د تولید په پروسه کې متغیره حالت ولري. او یا هم په بل عبارت: د تولید له یوې دورې څخه ډېر زمان ته اوږد مهال ویل کېږي. د لنډ مهال (shortrun) سره یې پرتله کړئ.

## Long Run Aggregate Supply
### د اوږدې مودې ټولیزه عرضه

په اوږده موده کې یوازې کارګره قوه، پانګه او تکنالوژي په ټولیزه عرضه باندې اغیز لري ځکه داسې فرضي کېږي، چې په اوږده موده کې نور ټول ټاکونکي عوامل ثابت او په مساعد ډول په کار اچول شوي وي.

## Long Run Average Cost
### د اوږدې مودې اوسط لګښت

په اوږد مهال کې د تولید شویو توکو او خدمتونو د تولید په مقدار باندې د ترسره شویو ټولو لګښتونو وېش څخه عبارت دی چې د مقدار په وړاندې صعودی/زیاتیدونکي حاصل (Increasing return to scale) او د مقدار په وړاندې نزولي/کمیدونکي حاصل (Decreasing return to scal) باندې تکیه لري.

## Long Run Equilibrium

## د اوږدې مودې تعادل

په کلي بازار کې د هغه حالت شتون، چې پکې تولید، مالي بازار او د منابعو بازار په همزمان ډول د توازن په حالت کې قرار ولري. په کوچني اقتصاد کې بازار هغه مهال په اوږده مهاله تعادل کې ګڼل کېږي، چې د عرضه کوونکو ترمنځ په کافي اندازه سیالي شتون ولري او ګټه له صفر سره مساوي وي.

## Long Run Equilibrium Condition

## د اوږدې مودې د تعادل شرطونه

هغه شپږ ځانګړتیاوې، چې له مخې یې په بازار کې اوږ مهاله تعادل رامنځته کېږي عبارت دي له:

۱:اقتصادي اغېزمنتوبیت (Economic efficiency)، چې د تولید قېمتونه د تولید د تمام شد نهایي لګښت سره مساوي وي (P=MC).

۲: د ګټې اعظمي کول (MR=MC) یعنې کله چې نهایې نا خالص عواید د تمام شد نهایي لګښت سره مساوي شي.

۳: کامله سیالی (MR=AR=P) یعنې کله، چې نهایي نا خالص عواید، متوسط عواید او د تولید قېمت یو د بل سره مساوي وي.

٤:break even output (P=AR=ATC) یعنې د تولید قېمت، متوسط نا خالص عواید او د تمام شد متوسط ټولیز لګښت سره مساوي وي.

۵: د تولید اضغري لګښت (MC=ATC) کله، چې د تمام شد نهایي لګښت د تمام شد متوسط ټولیز لګښت سره مساوي وي.

٦:minimum efficients cale (MC=ATC=LRAC=LRMC) یعنې د تمام شد نهایي لګښت، د تمام شد متوسط ټولیز لګښت، د اوږد مهال د تمام شد متوسط لګښت او د اوږد مهاله تمام شد نهایي لګښت سره مساوي وي. چې په پورتنیو مساواتو کې:

P د قیمت **(price)**

MC د تمام شد نهايي لګښت **(Marginal cost)**

MR له نهايي ناخالص عايد **(Marginal revenue)**

AR له متوسط ناخالص عايد **(Average revenue)**

ATC له تمام شد متوسط ټوليز لګښت **(Average total cost)**

LRAC د اوږد مهال د تمام شد متوسط لګښت **(Long run average cost)**

LRMC د اوږد مهال د تمام شد نهايي لګښت **(Long run Marginal cost)**

ښخه نمايندګي کوي

## Long Run Marginal Cost
## د اوږدې مودې نهايي لګښت

په اوږده موده کې د هر اضافه توليديدونکي واحد لګښت ته وايي. د توکو او خدمتونو په توليد کې اوږد مهاله ټوليز تمام شد لګښتونو کې تغير په اوږده موده کې يواځې د توليد په مقدار کې د تغير له امله رامنځته کيږي. هغه څه چې ډېر پام وړ دي دا، چې په اوږده موده کې د ټوليد ټول عوامل د تغير وړ وي له همدې امله LRMC د توليد د ټولو عواملو په قيمت کې د تغير له امله رامنځته کيږي.

## Long Run Production
## په اوږده موده کې توليد

د يو کاروبار يا تصدي له لوري په اوږد مهال کې د توليد ښخه عبارت ده او په اوږده موده کې د توليد په اړه د پريکړې ښېړنې لپاره بنسټيز ټکې د مقدار په وړاندې حاصل **(returntoscale)** ده، چې پايله يې په اوږده مهال کې راڅرګنديږي. يعنې دا چې:

د مقدار په وړاندې صعودي/زیاتیدونکی حاصل **(**Increasing return to scale**)**

د مقدار په وړاندې نزولي/کمیدونکی حاصل **(**Decreasing return to scale**)**

د مقدار په وړاندې ثابت حاصل (Constant return to scale)

په اوږده موده کې د تولید د اندازې په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ

## Long Run Total Cost
## د اوږدې مودې ټولیز لګښت

د تمام شد هغه ټولیز لګښتونه، چې په تولید کې د استعمالیدونکوعواملو څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې په اوږدو مهال کې رامنځته کېږي لکه د ځمکې کرایه، د کارګر مزد، د پانګې ربحه او د متصدي ګټه.

## Loss
## تاوان

تاوان یا زیان ته وایي یا هغه مبلغ چې د یو توکي د پلور څخه ترلاسه کیږي د توکي د تمام شد لګښت څخه کم وي.

## Loss Leader
## په ضرر پلور

په یو پېرودونکی باندې د پلورونکي له خوا په دې موخه د تمام شد لګښت څخه په کم قیمت د توکي پلورل څو نوموړی پلورونکی په لوړ قیمت د بل توکي د پېرودلو لپاره وهڅول شي.

## Luddite
## لاډیټ

د تولید په پروسه کې د یوې نوې او پرمختللې تکنالوژۍ څخه د ګټې اخېستنې په وړاندې د کارګرانو له شدید مخالفت څخه عبارت دی، چې کارګران په دې وېره کې وې، چې کېدای شي لدې

امله خپلې دندې له لاسه ورکړي. او یا هغه کارګران ، چې د تولید په پروسه کې د پرمختللو ماشین آلاتو څخه د ګټې اخېستنې په وړاندې لدې امله مخالفت کوي، چې کېدای شي خپلې دندې له لاسه ورکړي. دا ډول کارګران په ۱۹ میلادي پېړۍ کې د انګلیستان په هېواد کې ډېر وو.

## Luxury Goods
## تجملي توکي

معمولاً هغه توکي، چې قېمت يې ډېر لوړ وي او استعمال يې د ژوند د تېرولو لپاره اړين نه بلکې د ژوند څخه د خوند اخېستلو او داسې نورو ته د ځان ښودلو په موخه ترسره کېږي او معمولاً د ثروتمندو وګړو له لوري ډېر استعمالېږي لکه الماس، طلا او داسې نور توکي.

## Luxury Tax
## په تجملياتو ماليه

هغه ماليه، چې په تجملي توکو وضع او اخېستل کېږي.

د بېلګې په توګه: یو موبایل، چې ۵۰۰۰۰ افغانۍ قېمت ولري دولت يې پر پلور باندې ٪۱۰ماليه وضع کوي يا په قېمتي موټرونو، جواهراتو او داسې نورو، چې په عمومي ډول يې قېمت لوړ وي لوړه ماليه تاکل کېږي.

# M

## M

د انګلیسي د ام توری

د کلي اقتصاد په مطالعه کې د ټولیز لګښت په مساوات کې د وارداتو لپاره یو عام مخفف دی یعنې دا، چې: AE=C+I+G+(X-M)، چې په دې مساوات کې:

۱: AE ټولیز لګښتونه (Aggregate Expenditure)
۲: C د کورني سکتور په وسیله استهلاکي لګښتونه (Consumpation expenditures)
۳: I د کاروبارونو په وسیله د پانګوني لګښتونه (Investment expenditures)
٤: G د عامه سکتور په وسیله لګښتونه (Government exependitures)
۵: (X-M) خالص صادرات (Export-Import) چې X د صادراتو ارزښت او M د وارداتو د ارزښت څخه نمایندګي کوي.

همدا راز د پیسو د عرض او مقدار د ټاکلو په برخه کې د پیسو بیلابیل ډولونه د بیلا بیلو کټګوریو لاندې په نظر کې نیول کیږي، چې هغه لویه کټه ګوري یې M1,M2,M3 نومول کیږي. د لا ډیرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## M1

ام یو - د پیسو (محدوده) عرضه

په اقتصاد کې د پیسو د ټولې عرضې یوه کټه ګوري ده او په دې کټګورۍ کې په اقتصاد کې د دولت له لوري نشر شوې پیسې، د خلکو سره شته پیسې او د بانکونو سره د خلکو جاري امانتونه شامل دي چې M1 د همدې کټګوری د اندازې لپاره د یو لنډیز نښه ده.

## M2

ام دوه – د پیسو (متعارفه) عرضه

د M1 د کټه ګوری سره چې د بانکونو سره د خلکو معیادي آمانات یو ځای شي د پیسو دغه کټګوري جوړوي. M3 ام درې- د پیسو (وسیع) عرضه د M2سره چې د غیر بانکي بنسټونو سره د خلکو آمانات یو ځای شي د پیسو پراخه عرضه یا ټولیزه عرضه ګڼل کیږي.

## Macro Economic Market

د کلي اقتصاد بازار

په اقتصاد کې د دریو بازارونو مجموعې ته د کلي اقتصاد بازار ویل کیږي چې په ټوله کې کلي اقتصاد جوړوي دا درې بازارونه عبارت دي له:

د تولید بازار(Productmarket)، چې د توکو او خدمتونو راکړه ورکړه پکې ترسره کیږي.

د منابعو بازار (Resourcemarket)، چې د تولید عواملومعمولاً کار د تبادلې خدمتونه پکې ترسره کیږي.

مالي بازار (financialmarket) د مالي وسایلو پېر او پلور پکې ترسره کیږي.

د کلي اقتصاد د بازارونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پورتنیو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Macroeconomic Policy

د کلي اقتصاد سیاست/پالیسي

معمولاً هغه دولتي سیاست، چې د کلي اقتصاد د دریو موخو بعنې:

کامل استخدام (Full Employment)

ثبات (Stabilibty)

اقتصادي ودې (Economic Growth)

ترلاسه کولو او ډېرولو په موخه جوړیږي لکه پولي سیاست.

## Macro Economic Sector
## کلي اقتصاد سکتور

د کلي اقتصاد د څلورو سکتورونو له مجموعي څخه عبارت دي. د کلي اقتصاد څلور سکتورونه عبارت دي له:

۱: د کورنیو سکتور (house hold sector)
۲: کاروباري سکتور (Business sector)
۳: دولتي سکتور (Government sector)
٤: بهرنی سکتور (Foreign sector)

د کلي اقتصاد د سکتورونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو سکتورونو ته هم رجوع وکړئ.

## Macroeconomic Theories
## د کلي اقتصاد تیوریګانې

هغه علمي تیوریګانې، چې په کلي اقتصاد پورې تړلې پدېدې او موضوعات څېړي لکه وزګارتیا، انفلاسیون او ټولیز تولید یا نا خالص داخلي تولید.

دا ډول تیورګانې په اقتصاد کې د ستونزو د مخنیوي او د رامنځته شویو ستونزو د له منځه وړلو په موخه جوړېږي. د کلي اقتصاد یو څو تیوریګانې عبارت دي له: کلاسیک اقتصاد تیوري، کینز اقتصاد تیوري، د کلي بازار څېړنه، نوی کلاسیک اقتصاد تیوري او داسې نور.

## Macro Economics
## کلي/لوی اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې اقتصاد په کلي یا ټولیز ډول څېړي لکه نا خالص داخلي تولید، وزګارتیا، انفلاسیون، د کاروبار دوران یا دایره او داسې نور.

که فرض کړو، چې د يو څنګل مطالعه ترسره کېږي نو کلي اقتصاد په ټوله کې د ټول څنګل مطالعه په برکې نيسي او جزوي اقتصاد په څنګل کې د يوې ونې مطالعه په برکې نيسي. له جزوي اقتصاد (Microeconomic) سره يې پرتله کړئ.

## Macro Goals
## لوی يا کلي موخې

د مختلط اقتصاد هغه درې موخې په برکې نيسي چې تر ډېره د کلي اقتصاد په مطالعې پورې تړاو لري چې عبارت دي له:

کامل استخدام (Full Employment)

ثبات (Stability)

اقتصادي وده (Economic Growth)

د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي موخو(Economicgoals) ته هم رجوع وکړئ.

## Malthusian Theory of Population
## د مالتوس د نفوسو تيوري

په لومړي ځل دا نظريه د ټامس رابرت مالتوس په نوم يو اقتصاد پوه په هغه مقاله کې، چې په ۱۷۹۸ ميلادي کال کې نشر شوه بيان کړېده نوموړی زياتوي، چې: په نړۍ کې د نفوسو وده د هندسي تصاعد (۲،٤،۸،۱٦،۳۲...) په شکل ترسره کېږيخو وسايل او منابع د حسابي تصاعد (۱،۲،۳،٤،۵،٦...) په ډول ډېرېږي نو په دې توګه که چېرې د نفوسو د چټکې ودې مخه ونه نېول شي نو د دېرشو کلونو په تېرېدو سره د هر هېواد نفوس دوه چنده کېږي نو په دې ډول که چېرې د نفوسو د چټکې ودې مخنيوی ونشي نو بشر به د غربت په لور روان شي نوموړی ډېروي چې: د مجرد پاتې کېدو، د ودونو زر نه کولو او د کمو اولادونو درلودولو له لارې نفوس کنترول کېدای شي؛ خو که چېرې د نفوسو وده کنترول نشي؛ نو بيا د طبيعي آفاتو لکه: زلزلې، سيلابونو... په وسيله په نفوسو کې کموالی رامنځته کېږي

## Man-Land Ratio

## د بشر-ځمکې نسبت

په یو ټاکلي وخت او ځای کې د ځمکې، نفوسو او تکنالوژۍ ترمنځ کیفي او کمي اړیکو شتون په ګوته کوي.دا په دې مانا، چې: تر هغه، چې طبیعي منابع په کافي اندازه شتون ولري او د تکنالوژۍ پرمختګ هم دوام ولري؛ نو د نفوسو په ډېروالي سره د ژوند کچه هم لوړېږي. خو برعکس که چېرې طبیعي منابع په کافي اندازه شتون ونه لري او د تکنالوژۍ پرمختګ هم کمزوری وي؛ نو د نفوسو په ډېروالي سره د ژوند کچه ټیټېږي.

## Managed Float

## تنظیم شوی نوسان

د اسعارو د تبادلې هغه شکل، چې نوسان ته یوازې تر یو ټاکلې اندازې اجازه ورکول کېږي؛ خو که چیرې د تبادلې نرخ له ټاکلو پولو واوړي نو دولت د تبادلې په نرخ کې مداخله کوي.

د بېلګې په ډول: که یو امریکایي ډالر د ٤٩ او ٥١ افغانیو سره تبادلې نوسان ته اجازه ورکول کېږي؛ نو که چېرې د تبادلې نرخ لدې ټاکل شویو حدو څخه لوړ او یا کم شي؛ نو د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو د تبادلې په بازار کې د پولي سیاست له لارې مداخله کوي څو د تبادلې نرخ بېرته عیار شي. د تبادلې ثابت نرخ سیستم (Fixed exchange rate system) او د تبادلې متغیر سیستم (Flexible/floating exchange rate system) سره یې پرتله کړئ.

## Marco Economic Problems

## د کلي اقتصاد ستونزې

په اقتصاد کې هغه نا مطلوبه حالت، چې د کلي اقتصاد د دریو موخو یعنې:

کامل استخدام (Full Emplyment)

ثبات (Stability)

اقتصادي ودې (Economic Growth)

څخه یو یا ډېر په درست ډول سره ترلاسه شوي نه وي. په کلي اقتصاد کې بنسټیزه ستونزه وزګارتیا، انفلاسیون او راکده وده ده او د کلي اقتصاد تیوریګانې د همدغه ستونزو ظهور په ګوته کوي او له منځه وړلو لپاره یې تدابیر وړاندې کوي.

## Margin

مارجن(حاشیه )

دا اصطلاح په اقتصاد کې په بېلا بېلو ماناګانو استعمالیږي لکه:

- د یو توکي د پېر او پلور د قېمت ترمنځ توپیر.
- د ونډو د قېمت هغه برخه چې د پېرودونکي له لوري د پور په توګه وي.
- هغه مبلغ چې د اتفاقي پیښو په وړاندې ساتل کېږي.

## Marginal Cost (MC)

نهایي یا اضافي لګښت

د تر ټولو وروستي واحد تولید د اضافه کیدو په پایله کې د نوموړي توکي د تولید لګښت ته ویل کیږي.

د بېلګې په توګه: یوه تصدي د ۵۰۰۰ افغانیو په لګښت سره ۱۰۰ واحده توکي تولیدوي؛ خو که د تولید اندازه له ۱۰۰ واحدو څخه ۱۰۱ واحد ته لوړه شي او د تمام شد ټولیز لګښت له ۵۰۰۰ افغانیو څخه ۵۰۶۰ افغانیو ته لوړ شي؛ نو د اضافي تولید شوي واحد د تمام شد نهایي لګښت له ۶۰ افغانیو څخه عبارت دي، چې دا ۶۰ افغانۍ د اضافي تولید شوي توکي د تمام شد نهایي لګښت (MC) څخه عبارت دی. او کله، چې د تولید په ټولیز لګښت کې تغیر د تولید په مقدار کې په رامنځته شوي تغیر باندې وویشل شي نو MC ترلاسه کېږي. MC= Change in Total Cost/ Change in Quantity

## Marginal Cost Pricing

د نهایي لګښت قېمت ایښودنه

د توکي هغه قېمت، چې دقیقاً د توکي له نهایي لګښت سره مساوي وي او په هغه باندې اضافي ګټه نه وي علاوه شوي.

## Marginal Efficiency of Investment

### د پانګونې نهايي اغيزمنتوب

د کاروبارونو په وسيله په سرمايوي پانګونې پروژو د متوقع نهايي (د هرو وروستی واحد پانګی) بازګشت څخه عبارت دی (معمولاً پانګونه هغه وخت ترسره کېږي، چې د انفلاسيون نرخ په پام کې نيولو سره په مالي پانګونې باندې د پانګونې نهايي اغيزمنتوب د سود د کچې څخه لوړ يا حداقل مساوي وي).

## Marginal Factor Cost

### د نهايي عامل لګښت

د توليد د يو عامل د اضافه کيدو په پايله کې د توليد د ټولو عواملو په تمام شد ټوليز لګښت کې رامنځته شوي تغير ته د عواملو د تمام شد نهايي لګښت ويل کېږي. او په دې ډول محاسبه کېږي، چې: د توليد عواملو په تمام شد ټوليز لګښت کې رامنځته شوی تغير د توليد عواملو په مقدار کې په رامنځته شوي تغير باندې د وېش څخه ترلاسه کېږي په دې مانا، چې د توليد عواملو د تغير په پايله کې د توليد عواملو د تمام شد ټوليز لګښت کې څومره تغير رامنځته کېږي.

## Marginal Product (MP)

### نهايي يا اضافي توليد/حاصل

که د توليد نور ټول عوامل ثابت وګڼو نو د توليد د يو عامل د يو واحد د تغير په پايله کې د ټوليز توليد په مقدار کې رامنځته شوي تغير ته نهايي توليد ويل کېږي. او په ټوليز توليد کې تغير د توليد د متغيره عواملو په مقدار کې په تغير باندې د وېش څخه ترلاسه کېږي، چې د نهايي فزيکي توليد (marginalphysicalproduct) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

MP = change in total product / change in factor output

## Marginal Propensity to Consume

### استهلاک ته نهايي ميلان

استهلاک ته تمايل يا د کورنيو په عوايدو کې هرې اضافی افغانۍ هغه برخه، چې کورنۍ يې د استهلاکي لګښتونو په موخه کاروي

او يا هم په بل عبارت:: د کورنيو د اضافي عايد ځومره برخه په استهلاکي توکو مصرفېږي. او يا هم دا چې: د کورنيو په استهلاکي لګښتونو کې تغير، چې د کورنيو په عوايدو کې د تغير په پايله کې رامنځته کېږي.

## Marginal Propensity to Import
## وارداتو ته نهايي ميلان

د کورني سکتور د هر واحد اضافي عايد هغه برخه، چې د وارداتو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. او يا هم دا چې: د وارداتو په اندازه کې تغير، چې د کورنيو په عوايدو کې د رامنځته شوي تغير په پايله کې رامنځته کېږي.

## Marginal Propensity to Invest
## پانګونې ته نهايي ميلان

په ملي عايد کې د هر واحد اضافي عايد اندازه، چې د پانګه اچونې د لګښتونو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. او يا هم په بل عبارت: د پانګې اچونې په لګښتونو کې تغير نسبت ، چې په ملي عايد کې د تغير په پايله کې رامنځته کېږي.

## Marginal Propensity to Save
## سپما ته نهايي ميلان

په سپما کې تغير، چې د کورنيو په عوايدو کې د تغير په پايله کې رامنځته کېږي. او يا هم په بل عبارت:هغه نسبت چې دا څرګندوي چې د کورنيو د هر اضافي واحد عايد ځومره برخه د سپما په موخه استعمالېږي.

## Marginal Return
## نهايي يا اضافي حاصل

که چېرې د توليد نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي؛ نو د توليد د يو متغيره عامل د تغير په پايله کې د توليد په ټوليز مقدار کې رامنځته شوي تغير ته نهايي بازګشت ويل کېږي. د نهايي توليد (Marginal product) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Marginal Revenue (MR)
## نهايي عايد

د يو واحد توکي د پلور په پايله کې په ټوليزو عوايدو کې رامنځته شوي تغير ته نهايي عايد ويل کېږي.

د بېلګې په توګه: يوه تصدي په يوه ورځ کې ۱۰ واحده توکي پلوري، چې د ترلاسه شوي د ټوليزو عوايدو اندازه يې ۱۰۰۰۰ افغانۍ کېږي؛ خو که په يوه ورځ کې يې د پلور اندازه کې ۱۱ واحدو ته لوړه شي او د ټوليز عايد اندازه ۱۱۲۰۰ افغانيو ته لوړه شي نو ۱۲۰۰ افغانيو د نهايي عايد څخه عبارت دي، چې د يو واحد اضافي توکي د پلور په پايله کې ترلاسه کېږي.

## Marginal Tax Rate
## د مالي نهايي نرخ

د ماليې هغه اندازه يا نرخ ده، چې د ماليې وړ عوايدو په وروستۍ پولي واحد باندې وضع کېږي. دا په دې مانا، چې دا نرخ هغه نسبت ښيي چې د يو کس د عايد يا لګښت په لوړېدو د هغه د ماليې مسوليت څومره زيات شوی. که **M**د ماليې نهايي نرخ،**t** ماليه او **i** د ماليې وړ عايد وي؛ نو لرو، چې:

$$m = \frac{\Delta t}{\Delta i_t}$$

د ماليې له منځنۍ کچې(Average tax rate**)** سره يې پرتله کړئ.

## Marginal Utility (MU)
## نهايي افاده

د يو واحد اضافي توکي يا خدمت څخه د ګټې اخيستنې او يا مصرف په پايله کې ترلاسه شوې اضافي رضايت يا ګټورتوب ته نهايي مطلوبيت ويل کېږي.

## Market
بازار

هغه ځانګړی ځای، چې پکې د پلورونکو او پېرودونکو ترمنځ د توکو او خدمتونو یا د مالي وسایلو راکړه ورکړه ترسره کېږي. او یا هم هغه ځای، چې: پکې د عرضه کوونکیو او تقاضا کوونکو ترمنځ د توکو او خدمتونو د تبادلې خدمتونه ترسره کېږي.

د بازار اصطلاح یوازې یو حالت افاده کوی که څه هم په فزیکي شکل یو ځانګړی ځای و نه اوسي.په بازار موندنه کې د بازاراصطلاح د مشتریانو د مجموعي په مفهوم کارول کېږي. د بېلګې په ډول: په عام ډول ویل کېږي، چې یو تولید ښه بازارلري په دې مانا، چې ډېر مشتریان لري.

## Market Adjustment
د بازار تنظیم یا تطابق

د بازارپه تعادلي شرایطو کې د هغه تنظیماتو او تغیراتو څخه عبارت ده ، چې د عرضې او تقاضا په ټاکوونکیو عواملو کې د تغیر له امله رامنځته کېږي او ترهغې ادامه پیدا کوی څو دوباره تعادل رامنځته شي، دا، چې بازار د عرضې او تقاضا له منحني ګانو څخه تشکیل شوی؛ نو په همدې دواړو کربښو کې هر ډول بدلون په بازارکې د بدلون لامل ګرځي.

## Market Area
د بازار سیمه

هغه ځانګړې جغرافیایي سیمه، چې عرضه کونکي پکې خپل توکي او خدمتونه پلوري یا هم د تولید عوامل ترلاسه کولای شي. او یا هم دا، چې: هغه ځانګړې جغرافیایي سیمه، چې پکې په معلوم وخت او ټاکلې قیمت د توکو او خدمتونو تبادله ترسره کېږي.

## Market Based Economy
د بازار اقتصاد (په بازار ولاړ اقتصاد)

د پانګه وال اقتصادي نظام لپاره یوه عامه اصطلاح ده او د اقتصاد هغه سیستم، چې په بشپړه ډول په بازار باندې تکیه لري. او قیمتونه پرته له کومې لاسوهنې د عرضې او تقاضا په بنسټ ټاکل

کیږي، چې پر مارکېټ متمرکز اقتصاد (Market Oriented Economy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره پانګه وال اقتصادي نظام(Capitalism) هم مطالعه کړئ.

## Market Clearing

د بازار تصفیه

د تولید هغه قېمت او مقدار، چې د تقاضا د مقدار او د عرضې د مقدار، او د تقاضا د قېمت او د عرضې د قېمت ترمنځ تعادل رامنځته کوي او په دې ډول په بازار کې تعادل رامنځته او په پایله کې یې مازاد او یا کسر له منځه وړل کېږي.

## Market Power/Market Control

د بازار کنترول/ځواک

په بازار کې د توکو او خدمتونو په قېمت ټاکنه باندې د عرضه کوونکو یا تقاضا کوونکو د نفوذ او اغېز د وړتیا څخه عبارت دی، چې د عرضه کوونکو او تقاضا کوونکیو په شمېر او ونډې پورې تړلی دی. د بېلګې په توګه: که په بازار کې د تقاضا کوونکو په پرتله عرضه کونکي په لوی شمېر کې شتون ولري؛ نو تقاضا کونکي د عرضه کوونکو په پرتله په بازار کې د توکو او خدمتونو په قېمت ټاکنه تر یوه حده کنترول ترلاسه کولای شي.

## Market Clearing Price

دبازار تصفیوي قېمت

د توکو او خدمتونو د پېر یا پلور قېمت، چې په بازار کې د تعادل په حالت کې رامنځته شوی وي.او یا هم دا، چې: په بازار کې د مازاد او یا کسر د نه شتون په حالت کې رامنځته شوي قېمت څخه عبارت دی.

## Market Demand

د بازار تقاضا

په بازار کې د ټولو انفرادي وګړو ټولیزه تقاضا، چې د توکو او خدمتونو د پېرودلو اراده او وړتیا ولري.

## Market Disequilibrium
## د بازار عدم تعادل

په بازار کې د هغه حالت شتون، چې پکې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل شتون ونلري. او یا هم دا چې: په بازار کې هغه حالت، چې پکې مازاد یا کسر شتون ولري او عرضه او تقاضا د یو بل سره په تعادل کې قرار ونه لري. د بازار تعادل (market equilibrium) سره یې پرتله کړئ.

## Market Efficiency
## د بازار اغیزمنتوب

هغه آند، چې وایي: سیالیز بازار د تقاضا قېمت د عرضې قېمت او د تقاضا مقدار د عرضې مقدار په وړاندې د تعادل لامل ګرزي، چې له امله یې په آتوماتیک ډول د تولید د عواملو په تخصیص کې مؤثریت رامنځته کېږي، چې د بازارد بل هر ډول څخه په ټولیز ډول زیات اغېزمنتوبیت تولیدوي.

## Market Equilibrium
## د بازار تعادل

په بازار کې هغه حالت، چې متقابل قوتونه (عرضه او تقاضا) پکې د تعادل په حالت کې قرار ولري.او یا هم دا، چې: په بازار کې هغه حالت، چې پکې مازاد او یا کسر شتون ونه لري او په بازار کې دعرضې مقدار د تقاضا له مقدار سره په تعادل کې قرار ولري. د بازار عدم تعادل (market disequilibrium) سره یې پرتله کړئ.

## Market Failure
## د بازار پاتې راتلل

په بازار کې هغه حالت، چې پکې د امکان ترحده د مستهلکینو د رضایت د ترلاسه کولو په موخه د منابعو تخصیص په درست ډول نه وي ترسره شوی. او یا هم دا، چې د یو اقتصادي تولید یا خدمت لپاره په عادي او نورماله شرایطو کې دا ډول بازارنشي رامنځته کیدلی که رامنځته هم شي ډېر ژر د اغیزمنتوب د نه شتون له امله له ناکامی سره مخ کیږي. د بازارد ناکامی یا پاتې راتلو ځیني علتونه : د عامه توکو شتون، د تولید بهرنی اغیزې، طبیعي انحصار او داسې نور کیدلی شي.

## Market Forces
### د بازار قوتونه

هغه قوتونه چې د توکو پیر او پلور تر خپل اغیز لاندې راولي لکه قېمت، د ټولنې اقتصادي حالت او نور.

## Market Glut
### د بازار اشباع

په بازارکې هغه حالت چې د تقاضا په پرتله په کې د توکو عرضه زیاته وي.

## Market Leader
### د بازار مخکښ

هغه عرضه کوونکی چې په بازار کې د یو توکي د عرضې او پلور زیاته برخه په خپل واک کې ولري.

## Market Oriented Economy
### پر مارکېټ متمرکز اقتصاد

په بازار ولاړ اقتصاد **(** Market based economy **)** ته رجوع وکړئ.

## Market Power
### د بازار ځواک

په بازار کې د یو ټاکلي توکي یا خدمت د قېمت د ټاکنې په برخه کې د یو کس یا عرضه کوونکي وړتیا څخه عبارت دی.

## Market Price
### د بازار قېمت

د آزادې سیالۍ تر شرایطو لاندې: هغه قېمت، چې له مخې یې د عرضې مقدار، د تقاضا له مقدار سره مساوي کېږي.

د بېلګې په توګه: په لاندې مثال کې ۸ شمېره د بازار قېمت دی:

| قېمت | د عرضې مقدار | د تقاضا مقدار |
|---|---|---|
| ۱۰ | ۵۰۰ | ۱۰۰ |
| ۹ | ٤۰۰ | ۲۰۰ |
| ۸ | ۳۰۰ | ۳۰۰ |
| ۷ | ۲۰۰ | ٤۰۰ |
| ٦ | ۱۰۰ | ۵۰۰ |

## Market Segmentation

### د بازار ويشنه

د پېرودونکو او مستهلکينو د مختلفو ځانګړتياو يا صفتونو په پام کې نېولو سره د بازار طبقه بندي کولو څخه عبارت دی. لکه د عمر، جنس (نر، ښځه) ، د جغرافيايي موقعيت يا د نورو ځانګړتياو او صفتونو په پام کې نيولو سره د بازار طبقه بندي کول.

## Market Sensitivity

### د بازار حساسيت

د توکي د قېمت او يا هم د عرضې د تغير په وړاندې د بازار يا د بازار د ګډونکوونکو عکس العمل ته د بازار حساسيت ويل کېږي

## Market Share

### په بازار کې ونډه

د بازار هغه برخه چې يوه ځانګړې کمپني يا عرضه کوونکی ورته توليدات عرضه کوي او د ټول بازارپه تناسب دغه ډله مشتريان د نوموړې کمپنی لپاره په بازارکې ونډه جوړوي. او يا هم دا چې: په بازار کې د مختلفو عرضه کوونکو له خوا ټول پلور څخه د هر عرضه کوونکي د برخې سلنه ، چې د ټول بازارپه پرتله يې لري.

## Market Shock

### د بازار ټکان

د عرضې يا د تقاضا په ټاکونکو عواملو (Suppy/Demand Determinants) کې ناڅاپه تغير ته وايي، چې په بازار کې د تعادل حالت له منځه تللو لامل ګرزي. دا ټکان د څلورو حالاتو څخه د يو په وسيله رامنځته کېږي، چې عبارت دي له:

په تقاضا کې زياتوالي (Demand increase)

په تقاضا کې کموالي (Demand Decrease)

په عرضه کې زياتوالي (Supply Increase)

په عرضه کې کموالي (Supply Decrease)

په پايله کې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل له منځه ځي.

## Market Strategy

### د بازار تګلاره

هغه اوږد مهالّ پلانيزه موخې ، روښونه او لارې چارې چې د بازار موندنې د اوږدې مودې موخو د ترلاسه کولو په موخه ترېنه ګټه اخېستل کېږي.

## Market Structure

### د بازار جوړښت

د بازار هغه ځانګړي شرايط چې له مخې يې په بازار کې معاملات ترسره کيږي د بازار جوړښت بلل کيږي. او د بازار څلور بيلابيل جوړښتونه عبارت دي له:

کامله سيالي (Perfect competition)

انحصار(Monopoly)

اوليګوپولي (Oligopoly)

انحصاري سيالي (Monopolistic Competition).

د بازار د جوړښت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومورو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Market Supply
د بازار عرضه

په بازار کې د ټولو انفرادي عرضه کوونکو ټولیزه عرضه، چې د توکو او خدمتونو د پلورلو اراده او وړتیا ولري.

## Market Transaction
د بازار معاملات

په بازار کې د توکو او خدمتونو تبادلې ته د بازار معامله ویل کېږي چې په پایله کې یې د توکو پېر او پلور، په بازار کې ترسره کېږي. د دغه معاملاتو ټولیز حجم د ملي اقتصاد په سطحه د نا خالص داخلي تولید په اندازه کولو کې خورا ارزښتمن رول لوبوي.

## Marketing
بازار موندنه

په یو متحرک بازار کې د مستهلکینو د غوښتنو او اړتیاو د رفع کولو په موخه د تفکر، د تولیداتو بسته بندي، توزیع او پرمختګ، قیمت ایښودنې، لیبل لګولو او داسې نورو کړنو د جاري پروسې څخه عبارت دی.

او یا هم دا چې: هغه اصول او طریقه، چې بازار ته د توکو او خدمتونو د عرضې په برخه کې ترې ګټه اخیستل کېږي او ټولې هغه کړنې، چې مستهلکین د توکو او خدمتونو د پېرلو لپاره هڅوي په برکې نیسی.

## Marketing Concept
د بازار موندنې مفکوره

د بازار موندنې مفهوم او مفکوره په حقیقت کې د بازار موندنې بنسټیزې دندې او موخې تعریفوي چې په بیلابیلو تاریخي مراحلو کې یې توپیر درلوده. د بېلګې په توګه: په لومړیو کې یواځې د تولید مفکوره وه بیا یواځې پلور او په دریمه مرحله کې د بازارموندنې مفهوم رامنځته شو، چې تولید،قیمت، توزیع او تشهیر(4ps) ټول فعالیتونه په برکې نیسي. 4Ps عبارت دي له :

قیمت اېښودنه (Pricing)

تولید (Production)

تشهیر/پرمختیا (Promotion)

ځای پر ځای کول (Placement)

## Marketing Invironment

## د بازار موندنې چاپېریال

د یو تولید لپاره بازارچاپېریال یا متعدده قوتونه دي، چې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د یو کاروباري سازمان یو یا څو کړنې تر خپل اغېز لاندې راولي . د بېلګې په توګه: سیاسي، قانوني، اجرایوي، اقتصادي، ټولنیز، تکنالوژي او داسې نور قوتونه، چې عمده ډولونه یې د بازاربهرنی چاپیریال او داخلي چاپیریال قوتونه دي.

## Marketing Mix

## د بازار موندنې ترکیب

په یو نښه شوي بازار کې د پېرودونکو د اړتیاو او غوښتنو رفع کولو په موخه د پنځو مهاریدونکو متغیراتو(تولید، قیمت ایښودنه، پرمختیا یا تشهیر، توزیع او بسته بندي) د ترکیب څخه عبارت دی، چې د بازار موندنې ترکیب ته ځینې وخت د څلور پي (4Ps) اصطلاح هم ورته کارول کېږي. 4ps عبارت دي له:

۱: تولید (production)

۲: قیمت اېښودنه **(**pricing**)**

۳: تشهیر یا پرمختیا (promotion)

٤: ځای پر ځای کول (placement)

د بازار موندنې د ترکیب 4ps په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Marketing Plan

## د بازار موندنې پلان

هغه پلان ته وايي چې د يوې راتلونکې دورې يا کال لپاره د يو شرکت د بازار موندنې موخې په برکې نيسي. چې معمولاً قېمت، توليد، لګښت، او نور په برکې نيسي.

او يا هم دا چې: د بازار موندنې پلان يو کاروباري پلان ده، چې د يو کاروبار د فرصتونو تشخيص، د موخو پېژندنه، د ستراتيژۍ ټاکل، د بازار موندنې د ارزيابۍ او کنترول لپاره همغږي شويو معيارونو د پرمختګ يوې سيستماتيکې طرېقې په توګه جوړېږي. او معمولاً لاندني اجزا په برکې نيسي:

- اجراييوي لنډيز.
- د چاپېريال مرور او څېړنه.
- د SWOT څېړنې.
- د بازار موندنې موخې.
- د بازارموندنې د ستراتېژۍ موخې ارزيابي او کنترول.

د بازار موندنې پلان ارتجاعي حالت لري او په مکرر ډول سره نوی کېږي.

## Mark Up


## مارک اپ

د يو جنس يا خدمت د توليد د لګښت او د بازار د خرڅلاو قيمت ترمنځ توپير ته وايي.د قېمت نشر/توپير (price spread) ته رجوع وکړئ.

## Marshall Cross

## د مارشال تقاطع (نښه)

د بازار هغه معياري ډياګرام ته وايي، چې ورته د الفرد مارشال له لوري پرمختګ ورکړل شوی دی او په عمودي محور يې د توکو او خدمتونو قېمتونه او په افقي محور يې مقدار اندازه کېږي، چې د عرضې او تقاضا د منحنيو په قطع کېدو سره په بازار کې د تعادل حالت رامنځته کېږي او د تقاضا منحني ښکته خوا ته او د عرضې منحني پورته خوا ته حرکت لرونکې وي.




## Marshall Plan
د مارشال پلان

په تاريخ کې د ملت جوړوني او له بهرنيو مرستو څخه په معقول ډول د ګټه اخېستنې تر ټولو بريالى پروګرام ده، چې د دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته د يو امريکايي (Georgemarshall) له لوري اروپا ته د جنګ څخه د ور اوښتو زيانونو د جبران او د اروپا د بيا رغوني په موخه ترتيب شوی و، چې له مخې يې امريکا د خپل نا خالص داخلي توليد ١٪ د مرستې په توګه غربي اروپا ته ورکاوه او دې مرستو د ١٩٤٨-١٩٥٢ ميلادي کال پورې دوام درلوده او نوموړې مرستې د يو سازمان (د اروپايي هېوادونو لپاره د اقتصادي مرستو سازمان) له لوري اداره کېدې، چې په پايله کې يې د اروپا په بيا رغونه کې رغنده رول ولوباوه.

## Mass Production
کتلوي توليد

په واقعي ډول سره د يو شان توکو په ډېره اندازه سره توليد ته وايي، چې يوه لويه عمليه پرې ترسره کېږي، چې ځينې وخت ورته د لوي مقدار توليد (large scale production) اصطلاح هم ورته کارول کېږي.

## Mature Economy

پوخ (رشد یافته/ رسیدلی) اقتصاد

هغه اقتصاد چې نسبي ثبات او کم رشد ولري او په عمومي توګه په کمه کچه انفلاسیون ولري. همدا راز د نفوسو وده ثابته یا د تنزیل په حال کې وي او د ملي عاید نسبتاً کمه برخه یې په سرمایوي او زیربنایي پانګونه باندې مصرفېږي خو نسبتاً ډېره برخه یې په استهلاکي توکو مصرفېږي.

## Maturity

د سر رسید (وخت یا نېټه)

په مالي شتمنیو (بانډ، د خزانې بِل او داسې نورو) باندې د اصلي مبلغ او سود د بیرته تادیې له وخت څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: د خزانې بِل د سررسید وخت تر یو کال وي، د خزانې نوټ د سررسید وخت د یو کال نه تر لسو کلونو پورې او د خزانې بانډ د سررسید وخت لس کاله یا ډېر وي. په نورمال حالت کې د سررسید په لنډ وخت کې د سود نرخ کم او په ډېر وخت یې د سود نرخ هم لوړ وي. د بېلګې په توګه: د خزانې بِل(treasury bill) چې د سررسید وخت یې یو کال وي د سود نرخ یې ٪۸ خو د خزانې نوټ(treasury note) چې د سررسید وخت یې څلور کاله وي د سود نرخ یې کېدای شي، چې ٪۱۰ کاله وي او که د خزانې بانډ (treasury bond) د سررسید وخت ۱٤ کاله وګڼو نو د سود نرخ یې کېدای شي، چې تر ٪۱۲ پورې وي.

## Maturity Stage

د بلوغ مرحله

د تولید د ژوند دریمه مرحله، چې پکې پلور او ګټه په لوړه اندازه کې قرار لري او د دې مرحلې څخه وروسته د تولید د رکود مرحله رامنځته کېږي د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تولید ژوند دوران (productlife cycle) ته رجوع وکړئ.

## Maustrich Treaty

## د مستریخ تړون

هغه هوکړه لیک، چې په ۱۹۹۲ میلادي کال کې د دولسو اروپايي هېوادونو (بلجیم، ډنمارک، یونان، جرمني، هسپانیه، فرانسه، آیرلنډ، ایټالیه، لوګزامبورګ، هالنډ، پرتګال او لویه برېتانیه) ترمنځ لاسلیک او له مخې یې اروپايي ټولنه رامنځته شوه، بنسټیزې موخې عبارت دي له:

- د غړو هېوادونو هر اړخیزه تقویه.
- د غړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې ممانعتونو لکه ګمرکي محصول، مقداري محدودیت او داسې نور کمول یا له منځه وړل.
- ګډ نظامي او دفاعي سیاست رامنځته کول.
- د پولي سیاست مرکزي کول دي.

## Measure of Value

## د ارزښت اندازه ګیري

د پیسو د څلورو بنسټیزو دندو څخه یوه هم د ارزښتونو اندازه کول دي په دې مانا، چې: له پیسو څخه په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمت د ټاکلو په برخه کې د یوې وسیلې په توګه ګټه اخیستل کیږي، چې د شمیرلو واحد (unit of accout) اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

دا په دې مانا، چې: د پیسو په مرسته د توکو او خدمتونو د قیمت اندازه ګیري ترسره کیږي. د پیسو د دندو په اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره د پیسو دندې (Money functions) ته هم رجوع وکړئ.

## Mediation

## منځګړتوب

د دوه یا ډیرو کاروبارونو ترمنځ د شخړې د حل په موخه د یو دریم ناپییلي کاروبار مداخلې ته منځګړتوب ویل کیږي، چې د منځګړي رول پکې ادا کوي؛ خو د شخړې خواوې یې د پریکړې په منلو او عملي کولو مکلفې ندي. او یا هم په بل عبارت: د دریمې ډلې پریکړه قانوني انفاذ نلري. چې د پخلاینې (conciliation) اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Medium of Exchange

### د تبادلې وسيله

د پيسو د څلورو بنسټيزو دندو څخه يوه دنده د تبادلې وسيله ده، چې پيسې د توکو او خدمتونو په تبادله کې د تبادلې د وسېلې په توګه دنده ترسره کوي. د پيسو د دندو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د پيسو دندې (moneyfunctions) ته هم رجوع وکړئ.

## Mercantilism

### مرکنتليزم

مرکنتليزم يو نظرياتی مکتب وو چې په ۱٦ او ۱۷ ميلادي پيړۍ کې په اروپا کې رامنځته شو، چې موخه يې د مقرراتو د وضع کولو له لارې د وارداتو په پرتله د صادراتو زياتوالی وه چې د سوداګرۍ د بيلانس دی ډول توپير ( د قېمتي فلزاتو لکه طلا، نقره او داسې نورو په شکل جمع کولو ) ته ډېر ارزښت ورکاوه څو د دولت قدرت تقويه شي. د سوداګرۍ‌دا يوه اړخيزه نظريه د ادم سمېت له خوا د آزادې سوداګرۍ د نظرېې په وړاندې کولو سره له منځه ولاړه.

## Merchandise

### سوداګريز توکي

هغه توکي، چې د پلور په موخه پېرودل شوي وي يا دا، چې: هغه توکي، چې پيرودونکي د استعمال په موخه نه بلکې د پلور په موخه پيرودلي وي.

## Merger

### اتحاد/ادغام

دوه جلا ملکيت لرونکي کاروبارونه د يو واحد مالکيت لاندې راتللو ته ادغام ويل کېږي. يا دا چې د يو کاروبار له لوري د بل کاروبار د ټولو ونډو پيرودل، چې له مخې يې نوموړی کاروبار له منځه ځي او په ګډه سره يو نوی کاروبار رامنځته کېږي او معمولاً په دريو شکلونو سره ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

۱: افقي ادغام (Horizontal merger)

۲: عمودي ادغام (Vertical merger)

۳: مختلط ادغام (Conglomerate merger)

د ادغام په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومورو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Merit Goods and Services

### ګټور توکي/خدمتونه

هغه توکی یا خدمت، چې ټولنه یا حکومت فکر کوي، چې د بازارپه عادي شرایطو کې خلک د هغه ارزښت کم احساسوي؛ نو حکومت هڅه کوي، چې د پالیسیو او سیاستونو په مرسته خلک د دې ډول توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې لپاره هڅوي. لکه تعلیم، روغتیا او داسې نور. له ناشایسته توکو (demerit goods) سره یې پرتله کړئ.

## Metallic Money

### فلزي پیسې

هغه پیسې، چې له فلزاتو (طلا، نقره، مس، یا نِکل) څخه یې ضرب وهل شوي وي. لکه سکې (coins) له کاغذي پیسو (papermoney) سره یې پرتله کړئ. او د پیسو د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پیسو (Money) ته هم رجوع وکړئ.

## Micro Economic Policy

### د جزوي اقتصاد سیاست/پالیسي

د دولت هغه سیاست، چې معمولاً د اقتصاد جزوي موخو د پرمختګ او انکشاف سره تړاو لري او موخه یې په اقتصاد کې یوه انفرادي برخه په برکې نیسي لکه بازار، کاروبار او کورنۍ.

## Micro Economics

### کوچنی یا جزوي اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې د اقتصاد یوه کوچنی برخه د واحد په توګه تر مطالعې لاندې نیسي لکه دیوې تصدي د تولیداتو لپاره عرضه، تقاضا یا بازار. که داسې وګڼو، چې د یو څنګل مطالعه ترسره کېږي نو کلي اقتصاد په ټوله کې د ټول څنګل مطالعه په بر کې نیسي او جزوي اقتصاد په څنګل کې د یوې ونې مطالعه په برکې نیسي. له کلي اقتصاد (Macro economic) سره یې پرتله کړئ.

## Micro Goals
## جزوي موخې

هغه دوه موخې، چې د جزوي اقتصاد د مطالعې بنسټ جوړوي عبارت دي له:

۱: اغېزمنتوبيت (efficiency)

۲: مساوات **(**equity**)**

د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي موخو (economicgoals) ته هم رجوع وکړئ.

## Middle Man
## منځګړی

يو سوداګر، عمده پلورونکی او يا يو کس، چې د مولد او مستهلک ترمنځ قرار نيسي او د توکو او خدمتونو د راکړې ورکړې معامله ترسره کوي.

## Minimum Wage
## حد اقل مزد

هغه قانوني منظور شوی او تطبيق کېدونکی حد اقل مزد، چې کارګر ته بايد تاديه شي او له نوموړي حد څخه کم مزد د قانون له مخې جرم ګڼل کېږي.

## Misery Index
## ميسيری شاخص

د انفلاسيون او د بېکارۍ د کچې له مجموع څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: که په يو هېواد کې د انفلاسيون کچه ٤٪ او د وزګارتيا کچه ٨٪ وي نو ميسري شاخص (Misery Index) يې د ١٢٪ څخه عبارت دی.

## Mission Statement

## د ماموریت شعار

هغه شعار یا کلیمه ده، چې د یوې کاروباري یا اقتصادي اداري موخه یا د شتون دلیل بیانوي. د بېلګې په توګه: د اقتصاد د اوسني او راتلونکي حالت په اړه اوږد مهاله لید او دا، چې اقتصاد اوسنی حالت څنګه دی؟ او دا حالت به تر کومه دوام پیدا کړي؟ او څو کاله وروسته به اقتصادي حالت څنګه وي؟ څو شرکت خپل ټاکلې تګلارې او وروستی موخه تعقیب کړی شي. کله نا کله دا د یو شعار بڼه نیسي او په وړه سطحه یې هم کمپنی او تصدی د ځان لپاره جوړوي څو د ټولو کړنو لپاره د یو ټاکلی لارښود سره سم خپلې موخې ترلاسه شي.

## Mixed Economy

## ګډ/مختلط اقتصاد

هغه اقتصاد، چې د دواړو (بازار او دولت) له لوري د منابعو په تخصیص اتکا لري. په اوسني وخت کې په نړۍ کې تقریباً د هر هېواد اقتصاد مختلط شکل لري. دا په دې مانا، چې: بازار منابعو ته د عرضې او تقاضا له مخې تخصیص ورکوي؛ خو دولتونه بیا په خپل وار سره یوه اندازه مقررات وضع کوي، مالیه ټاکي او هم د اړتیا له مخې ځینې وخت په مستقیم ډول په بازار کې مداخله کوي، چې په دې ډول سره دا دواړه بنسټونه د هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې حیاتي رول لوبوي.

## Mobility

## تحرک/خوځښت

په عام ډول د تحرک او حرکت په مانا ده؛ خو د یو تولیدي فعالیت څخه بل تولیدي فعالیت ته د تولیدي منابعو (معمولاً د کارګر) د انتقال او یا حرکت څخه عبارت دی. او په دوه ډوله ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

- وظیفوي انتقال/حرکت (Occupational Mobility)
- جغرافیایي انتقال/حرکت (Geographical Mobility).

د تحرک/خوځښت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Model
ماډل

د واقعي نړۍ يو مطلق نمايش، چې معمولاً په علمي تيوريګانو، قاعدو، اصولو، او فرضيو باندې اتکا لري او د اعدادو، ګرافونو او يا معادلو په شکل رامنځته کېږي لکه د کينز موډل.

## Monetarism
مونيټريزم

د اقتصادي نظرياتو هغه مکتب، چې بنسټ يې(Milton Friedman) ايښی او د کلي اقتصاد او اقتصادي سياست د يوې وسېلې په توګه پيسو ته په مرکزي رول اتکا لري او ډېروي، چې: په هېواد کې د پيسو عرضه کنترول کړئ؛ نو اقتصاد پاتې برخه په خپله کنټروليږي.

## Monetary Aggregate
پولي مجموعه

په يو اقتصاد کې د پيسو د ټولو ډولونو مجموعې ته وايي او هر هغه شی، چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د پيسو په بڼه دنده ترسره کوي د دغې مجموعې لاندې راځي، چې عمده کټګورۍ يې M1,M2,M3 دي. د لا مالوماتو لپاره نومړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Monetary Authority
پولي چارواکي

هغه دولتي بنسټ، چې په اقتصاد کې د پولي سياست د پرمخ بېولو مسئوليت په غاړه لري. لکه په افغانستان کې د افغانستان بانک چې د نورو دندو سره سره د پولي سياست د تنظيم مسئوليت هم په غاړه لري.

## Monetary Base
پولي پايه

لوړ قدرته پيسو (High power money) ته رجوع وکړئ.

## Monetaryeconomy

پولي اقتصاد

هغه اقتصاد چې په کې د توکو او خدمتونو تبادله د توکو او خدمتونو په وړاندې نه بلکه د پیسو په وړاندې ترسره کېږي. له بارتر اقتصاد (Barter Economy) سره یې پرتله کړی.

## Monetary Neutrality

د پیسو بې پریتوب

د لومړي ځل لپاره دا نظر د ډېوېډ په نوم یو اقتصاد پوه له لوري رامنځته شوې نوموړی وایي، چې: د پیسو په مقدار کې تغیر په واقعي تولید، د سود په واقعي کچه او د وزګارتیا په کچه اغیز نلري.

دا په دې مانا، چې: که چېرې مرکزي بانک په اقتصاد کې د پیسو عرضه دوه چنده ډېره کړي؛ نو د دې په پایله کې د قیمتونو کچه هم دوه چنده لوړېږي او په دې ډول د واقعي تولید په مقدار، د ربحې په واقعي کچه او د وزګارتیا په کچه باندې اغیز نلري.

## Monetary Policy

پولي سیاست

پولي سیاست، چې داقتصادي سیاست یو عمده ډول ده او د پیسو په عرضه او تقاضا کې د بدلون راوستلو په وسیله پلې کېږي معمولاً د مرکزي بانک له خوا د اقتصادي موخو لپاره په لاره اچول کېږي. چې عمده موخې یې عبارت دي له:

۱: اقتصادي وده او ثبات

۲: د قېمتون ثبات

۳: کامل استخدام لپاره هڅې

۳: د سوداګرۍ د بیلانس کې د توازن رامنځته کول.

له مالي سیاست **(**Fiscal policy**)** سره یې پرتله کړئ.

## Monetary Policy Channels

## د پولي سياست چينلونه

هغه خط سير، چې له مخې يې دولت (مرکزي بانک) د پولي سياست له لارې ټوليز توليد او د ټولې اقتصاد فعاليتونه تر اغېز لاندې راولي، چې عبارت دي له: د سود سطحه، دولت/ثروت (wealth)، بانکي پور ځخه.، چې تر ټولو مهم يې د سود نرخ دی.

## Monetary System

## پولي سيستم

پولي سيستم يوه عامه اقتصادي اصطلاح ده، چې مفهوم يې هغه ځانګړی اقتصادي جوړښت دی چې ټول پولي سياستونه او معاملات په برکې نيسي، چې د يو هېواد ملي پيسې تر خپل اغيز لاندې راولي لکه پولي زېرمې، د پيسو نشرول، د سکو ضرب وهل او داسې نور.

## Monetary Unit

## پولي واحد

د يو هېواد هغه رسمي پيسو واحد، چې په اقتصاد کې د پيسو دنده ترسره کوي يا هغه پيسې، چې د يو هېواد د معياري پيسو په توګه ټاکل شوي وي د افغانستان پولي واحد افغانۍ دي.

## Money

## پيسې

هغه شتمني، چې په عمومي ډول په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د تبادلې لپاره د تاديې د وسيلې په توګه منل شوې وي (او د تبادلې د وسيلې په توګه پيسې کليدي دنده ترسره کوي) لکه په افغانستان کې، چې افغانۍ (پولي واحد) په اقتصاد کې د پيسو دندې ترسره کوي. د پيسو مختلف ډولونه عبارت دي له:

۱: جنسی پيسې (Commidity Money)

۲: اعتباري پيسې (Credit/Fiat/Fiduciary Money)

۳: فلزي پيسې (Metalic Money)

٤: کاغذي پیسې (Paper Money)

٥: پلاستیکي پیسې (Plastic Money)

د پیسو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د پیسو ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Money Charecteristics

## د پیسو ځانګړنې

هغه شتمني، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید د لاندنیو څلورو بنسټیزو ځانګړتیاو درلودونکې وي:

- د دوام وړتیا (Durability)
- د لېږد وړتیا (Transportability)
- د وېش وړتیا (Divisibility)
- جعل نه منونکې(Non-Counterfietability)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Money Creation

## د پیسو تخلیق

په یو اقتصاد کې د پیسو د تخلیق او رامنځته کولو پروسه ده، چې هم د مرکزي بانک له خوا د رسمي پیسو د چاپ به بڼه او هم د مرکزي بانک په شمول د نورو مالي ادارو له خوا په نورو بڼو د داسې اسنادو خپرول، چې پیسې ګڼل کېږي. لکه د افغانستان بانک لخوا د نوو افغانیو چاپول .

## Money Demand

## د پیسو لپاره تقاضا

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د راکړې ورکړې په وړاندې د تبادلې د وسیلې په توګه د ګټې اخیستو په منظور پیسو ته د وګړو تقاضا ته د پیسو تقاضا ویل کېږي. د پیسو عرضې (money supply) سره یې پرتله کړئ.

## Money Functions

د پیسو دندې

پیسې په اقتصاد کې څلور بنسټیزې دندې ترسره کوي، چې عبارت دي له:

- د تبادلې وسیله (mediumofexchange)
- د ارزښت د اندازه ګیري وسیله(measure of value) ، چې د شمیر واحد (Unit of Account) اصطلاح هم ورته کارول کیږي.
- د ارزښت د ساتلو وسیله (Store of value)
- د مختلفو تادیاتو لپاره د معیار وسیله (Standard of Different Payments)

د لا ډیرو مالوماتو لپاره نومورو اصطلاحاتو ته م رجوع وکړئ.

## Money Illusion

پولي توهم (فکري خطا)

هغه آند، چې له مخې یې داسې انګیرل کیږي، چې د پیسو اسمي ارزښت د هغوی حقیقي ارزښت څرګندوي (چې خیالي او اشتباهي نظر دی) په داسې حال کې، چې د پیسو ارزښت په حقیقت کې د هغوی د تبادلې یا د پیر ځواک پورې تړاو لري.

## Money Market

د پیسو بازار

هغه مالي بازار، چې د لنډ مهاله مالي وسایلو لکه د خزانې بِل، کاروباري پاڼې او داسې نورو پېر او پلور پکې ترسره کیږي.

او یا هم هغه مالي بازار، چې کاروبارونو ته لنډ مهاله (یو کلن یا له کال نه کم وخت لپاره) پورونه تهیه کوي. له مالي بازار بازار (Capital market) سره یې پرتله کړئ.

## Money Supply

## د پیسو عرضه

د پولي سیاست له لارې په اقتصاد کې د پیسو موجود مقدار ته د پیسو عرضه ویل کېږي. چې په جریان کې د پیسو مقدار او سرعت دواړه په برکې نیسي. د پیسو لپاره تقاضا **(**Money demand**)** سره یې پرتله کړئ.

## Money Wage

## پولي مزد

د پیسو په مرسته د مزد تادیې ته پولي مزد ویل کېږي لکه یو کارګر ته د ورځې ۳۰۰ افغانیو تادیه. له هم جنسه مزد (in-kind wage**)** سره یې پرتله کړئ.

## Mono Metallic

## یو فلزي

هغه پولي نظام، چې پولي واحد پکې یوازې یو فلز (طلا یا نقره) وي.

## Monopolistic Competition

## انحصاري سیالي

د بازار د جوړښت هغه شکل، چې د کاروبارونو لوی شمېر پکې شتون ولري او ټول یې مشابه تولید (خو مطلق مشابه نه وي) عرضه کوي بازار ته د کاروبارونو په دخول او خروج باندې آزادي شتون ولري او د سیالي کوونکیو ترمنځ د تکنالوژي او قېمت په اړه ډېر معلومات او پوهه شتون ولري او دا بازار هم د انحصار او هم د سیالۍ ځانګړتیاوې لري. د بېلګې په توګه: د کمپیوټرونو د تولید شرکت ایپل **(**apply**)** چې له نورو کمپیوټرونو څخه یې کمپیوټر تر ډېره توپیر لري. انحصاري سیالي د بازار د څلورو بنسټیزو ډولونو څخه یو دی او د بازار درې نور جوړښتونه عبارت دي له:

۱: کامله سیالي **(**Perfect competition**)**

۲: اولیګوپولي **(**Oligopoly**)**

۳: انحصار **(**Monopoly**).**

(د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومو‌ړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ)

انحصاري سيالي بازار لاندنۍ ځانګړتياوې لري:

- په بازار کې لوی شمېر کاروبارونه شتون لري.
- ټول کاروبارونه يو شان توليد عرضه کوي (خو توليد په کامل ډول يو شان نه وي لکه د ايپل کمپيوتر).
- بازار ته د توليدوونکيو په دخول او خروج نسبي آزادي شتون لري.
- د تکنالوژي او قيمت په اړه ډېر معلومات او پوهه شتون لري.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره د بازار جوړښت **(**Market structure**)** ته هم رجوع وکړئ

## Monopoly

## انحصار يا مونو پولي

انحصار د بازار د څلورو بنسټيزو جوړښتونو څخه يو دی د بازار درې نور بنسټيز جوړښتونه عبارت دي له:

۱: کامله سيالي **(**Perfect competition**)**

۲: اوليګوپولي **(**Oligopoly**)**

۳: انحصاري سيالي **(**Monopolistic competition**)**

انحصار د بازار هغه جوړښت دی چې په کې د يو ځانګړي توليد يوازې يو عرضه کونکی شتون ولري. دا په دې مانا، چې: عرضه کونکی په بازار کې د ځانګړي توليد د عرضې په برخه کې کوم سيال نلري. د انحصار څلور بنسټيزې ځانګړتياوې عبارت دي له:

- په بازار کې د ځانګړي توکي يوازې يو عرضه کونکی شتون لري.
- بې مثله توليد عرضه کوي يعنې د نوموړي توليد مشابه توليد شتون نلري.
- بازار ته د عرضه کوونکيو په دخول او خروج محدوديت شتون نلري (يا هم کم محدوديت شتون لري، چې د همدې انحصاري عرضه کوونکي له خوا ورته خنډ جوړيږي).
- نورو بالقوه توليدوونکيو ته د توليدي تخنيک په باره کې د ځانګړو معلوماتو نه شتون.

د لا ډېرو مالوماتو لپاره د بازار جوړښت (Market structure) ته رجوع وکړئ.

## Monopoly Profit
## د انحصار ګټه

هغه ګټه، چې یو انحصاري عرضه کوونکی یې په بازار کې د کنترول یا انحصار په پایله کې ترلاسه کوي. دغه ګټه معمولاً له نورو بازارونو زیاته وی ځکه انحصارګر کولی شي لوړ قیمت وټاکي.

## Monopsony
## د تقاضا انحصار

په بازار کې هغه انحصاري حالت، چې د یو ځانګړي توکي د پېر په وړاندې یوازې یو پېرودونکی شتون ولري.، چې د پیرودونکو انحصار (buyer'smonopoly) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Moral hazard
## اخلاقي خطر

هغه حالت، چې په هغه کې د معاملې یوه خوا په داسې ډول عمل کوي، چې معلوم خطر په غاړه اخلي او داسې انګیري، چې د دې خطر لګښت یوه برخه یا ټول په نورو ور اچول کېږي په داسې حال کې، چې متضرره خوا داسې نشي احساسولی، چې دا زیان د مقابل لوري د شعوري سلوک له امله ور اوښتی.

د بېلګې په توګه: د بیمې مشتریان زیاتره وخت دا ډول عمل کوي چې داسې شواهد او بیان وړاندې کړي چې وراوښتی زیان د بیمې له کمپنۍ ترلاسه کړي په داسې حال کې چې په حقیقت کې دا زیان په بیمه پورې اړه نه پیدا کوي.

## Moral Savsion
## اخلاقي هڅونه

هڅول (Jawbonning) ته رجوع وکړئ.

## Moratorium

### قانوني مهلت

هغه مهلت، چې د پورونو تصفیه کول پکې د قانون له مخې په تعویق اچول کېدای شي.

## Mortgage

### ګروي یا رهن

د پور د تصفیه کولو یا د کومې بلې وجیبې د ترسره کولو د تضمین په موخه د ملکیت د مشروط انتقال څخه عبارت دی. هغه کس، چې د ګرو په وړاندې پور ورکوي د ګرو اخیستونکي (mortgagee) په نوم یادېږي. هغه کس، چې د پور د ترلاسه کولو په وړاندې جایداد یا هم کوم توکي د ګرو په توګه ږدي د (mortgator) په نوم یادېږي.

## Most-Favorable Nation(Clause)

### ترټولو غوره ملت (فقره )

په یوه سوداګریز هوکړه لیک کې هغه فقره، چې له مخې یې د هوکړه لیک اړخونه په دې مکلفوي، چې د هوکړه لیک د عقد څخه وروسته هغه امتیاز، چې په سوداګرۍ کې د بل هېواد یا ملت لپاره رامنځته کېږي یو د بل په وړاندې هم رامنځته شي. د بېلګې په توګه: د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د سوداګریزې تعرفې اندازه د سازمان له خوا په حتمي ډول نه ټاکل کېږي بلکې د تعرفي حد د هغو هېوادونو د تعرفې له مخې، چې تر ټولو ټیټه تعرفه ولري نورو هېوادونو ته هم ټاکل کېږي، چې دا اصطلاح همدغه ګروپ هېوادونو ته کارول کېږي.

## Moveable Property

### منقول جایداد/شتمني

هغه جایداد یا شتمني چې له یو ځای څخه بل ځای ته د تولید په موخه لېږدیدای شي. له غیر منقول جایداد (Immoveable property) سره یې پرتله کړئ.

## Multilateral Agreement
## ګڼ اړخیزه هوکړه

څو اړخیزه هوکړه لیک له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې له دوه څخه د ډېرو هېوادونو ترمنځ عقد شوی وي. او یا هم دا، چې: کله، چې په نړیواله سوداګرۍ کې یو هوکړه لیک د دوه څخه ډېرو هېوادونو ترمنځ عقد شي د څو اړخیزه هوکړه لیک په نوم یادېږي.

د بېلګې په توګه: افغانستان د جنوبي آسیا ځینو هېوادونو سره څو اړخیزه هوکړه لیک ته داخلیږي چې په سوداګرۍ کې یو د بل پر وړاندې شته خنډونه راکم کړي او یا یې هم له منځه یوسي.، چې د څو اړخیزه هوکړه لیک ښه بېلګه یې په سوداګري او تعرفي عمومي تړون General agreement on trade and tariff (GATT) دی.

## Multinational Company
## ګڼ ملتیزه شرکت

هغه شرکت یا کاروبار، چې په دوه یا په ډېرو هېوادونو کې فعالیت لري او فعالیتونه یې د نړۍ په بیلابیلو برخو کې د اقتصادي شرایطو له مخې تنظیمېږي. لکه د اتصالاتو مخابراتي شرکت، چې د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې مخابراتي خدمتونه عرضه کوي.

## Multiple Currency System
## د ګڼو کرنسیو سیستم

د اسعارو د کنترول هغه شکل، چې له مخې یې د ملي پیسو پروړاندې د قانون یا مقرراتو له مخې د تبادلې متعدد او مختلف ارزښتونه ټاکل کېږي او د تبادلې ارزښت د وارداتي توکي په ډول پورې تړلی وي.

## Multiplier
## ضریب

د ضریب یا د تکثر نسبت اصطلاح د ځینو نورو اصطلاحاتو سره یو ځای کارول کېږي.

د بیلګې په توګه:

- د لګښت ضریب **(**ExpenditureMultiplier**)**
- د پیسو ضریب (Money multiplier)
- متوازنې بودجې ضریب (Balanced budget multiplier)

د ضریب په اړه لا ډېرو معلوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته رجوع وکړئ.

## Multiplier Principal

د ضریب اصل

د ملي عاید په اندازه کې رامنځته شوی تغیر، چې په پانګونه کې د نسبي تغیر په پایله کې رامنځته کېږي او دا روښانه کوي، چې: هغه مبلغ، چې په اقتصاد کې د پانګونې په لګښتونو کې ترې ګټه اخېستل شوی له امله یې په ملي عاید کې څو ځله ډېروالی رامنځته کېږي (ملي عاید د پانګونې د لګښتونو په پرتله څو ځله ډېرېږي) . د بېلګې په توګه: که په افغانستان کې په یو کال کې د سل میلیارده افغانیو په اندازه پانګونه وشي؛ نو کېدای شي، چې د ملي عاید په اندازه کې څلور سوه میلیارده افغانۍ ډېروالی رامنځته کړي، چې دا ۱/٤ نسبت ته د تکثر نسبت ویل کېږي.

## Municipal Bond

د ښاروالۍ بانډ

هغه منځ مهاله یا اوږد مهاله مالي سند، چې د ښاروالۍ په وسیله د لارو جوړولو، پارکونو او داسې نورو عامه پروژو د تطبیق په موخه د پیسو د ترلاسه کولو په موخه نشرېږي، چې د محلي/سیمه ایز بانډ (localbond**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Mutual Fund

د متقابلې پانګونې ګډ صندوق (پانګه )

په مالي بازارونو کې یو ډول مالي اداره شرکت یا د پانګه اچونې هغه ډول ده، چې د مختلفو شرکتونو ونډې پیري او پلوري او په خپله هم مالي اسناد خپروي. خو د دوي د مالي اسنادو یا ونډو بیه په هغه ونډو پورې تړاو پیدا کوي، چې دوی یې کاروبار کوي. دا بنسټونه معمولاً په مالي بازارونو کې پانګونه کوي او ونډې نشروي او نشر شوې ونډې د بازار په قیمت سره د پېرودلو لپاره چمتو وي.

# N

## Narrow Market

محدود بازار

هغه دوره یا وخت، چې پکې په بازار کې د معاملاتو حجم محدود وي. لدې اصطلاح څخه معمولاً د ونډو په سوداګري او د مالي وسایلو(بانډ، د خزانې بِل او داسې نورو) په اړوند ګټه اخېستل کېږي، چې د نازک/محدود بازار (thin market) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## National Debts

ملي پوروونه

د مرکزي ملي دولت پوروونو ته ملي پوروونه ویل کېږي او دا پوروونه په هېواد کې د نورو ملي ادارو، حقیقي او حقوقي وګړو له پوروونو څخه جلا دي. له عامه پوروونو (publicdebts) سره یې پرتله کړئ.

## National Income(NI)

ملي عاید

معمولاً د یو کال په اوږدو کې په اقتصاد کې د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د تولید په پایله کې ترلاسه شوي ټولیز عاید ته ملي عاید ویل کېږي. او یا هم دا چې: د یو کال په اوږدو کې د یو هېواد د وګړو له لوري د هغوی د منابعو په وسیله، چې د نهایي توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخېستل شوي وي ترلاسه شوي عاید ته ملي عاید ویل کېږي، چې په ناخالص داخلي تولید باندې ترسره شوي لګښتونو سره مساوي وي.

## Nationalization

ملي کول

هغه پروسه، چې پکې د خصوصي سکتور ملکیت د دولت په اختیار کې راځي یا دا، چې: عامه سکتور ته د خصوصي سکتور د تولیدي وسایلو، جایدادونو او داسې نورو شتمنیو د پلورلو او یا تبدیلیدو پروسې ته ملي کولو پروسه ویل کېږي.له خصوصي کول (privatization) سره یې پرتله کړئ.

## Natural Monopoly

## طبیعي انحصار

د انحصار هغه شکل، چې په یو هېواد کې د ځانګړو طبیعي شرایطو له امله رامنځته شوی وي. او یا هم دا چې: د یو هېواد د طبیعي شرایطو په پایله کې رامنځته شوي انحصار ته طبیعي انحصار ویل کېږي په اقتصادي مباحثو کې طبیعي انحصار بیلابیل ډولونه لري یو مشهور ډول یې هغه انحصار ده چې په یوه تولید کې په اقتصادي لحاظ په زیر بنا باندې د زیاتو لګښتونو له کبله یواځې د یوې کمپني تولید اغېزمن او کم مصرفه ګڼل کیږي او حکومت دغه ډول انحصار ته د همدې اقتصادي استدلال له مخې اجازه ورکوي حتی ځینې وخت یې په خپله دولت هم رامنځته کوي.

## Natural Resources

## طبیعي سرچینې

هغه سرچینې، چې په نړۍ کې په طبیعي ډول شتون لري او د توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخېستل کېږي. او یا هم دا، چې: هغه منابع، چې د انسان د کار په پایله کې نه وي رامنځته شوي. لکه ځمکه، اوبه، هوا او داسې نورې طبیعي منابع. همدا راز ټولې هغه منابع او ثروت، چې ټولنې ته د طبیعت له لوري عرضه شوي وي او د کوم بشري کار په پایله کې نه وي رامنځته شوي طبیعي سرچینې ګڼل کیږي.

## Near Money

## پیسو ته نژدې

هغه شتمني، چې په په اساني سره په نقده پیسو باندې د تبدیلېدو وړتیا ولري؛ خو په مستقیم ډول سره د توکو او خدمتونو د تبادلې د وسیلې په توګه دنده نشي ترسره کولای لکه بانکي حساب. چې مشابه یا ورته پیسې **(Quasi-money)** او نقده ته نږدې **(Near-cash)** اصطلاح ورته هم کارول کیږي.

## Near Public Goods

نژدې عامه توکي

هغه توکي، چې په کامل ډول عامه او یا خصوصي ندي خو د ځانګړنو له مخې عامه توکو ته نږدې وي په دې مانا، چې د عامه توکو له دوه عمده ځانګړتیاو څخه یو لري او یو نلري: د بېلګې په توګه: د تلویزیون نشرات، چې اوس د ډش تې وي په بڼه مشهور دي عامه توکي د سیالیزتوب Non-rival ځانګړتیا لري ځکه په همزمان ډول یې ډېر کسان لیدلی شي پرته له دې، چې یو بل ته مزاحم شي؛ خو Non-excludability غیر قابل ممانعت خاصیت یې محدود ده ځکه په ځانګړې تخنیکي سافټ ویر سره کیدلی شي، چې هغه خلک یې له لیدلو محروم کړل شي، چې په وړاندې یې پیسې نه وي تادیه او د فعالولو ځانګړی کارت یې نه وي اخیستی.

## Need

اړتیا

په عام ډول د هر ډول اړتیا یا ضرورت په مانا ده ، خو په ځانګړي ډول د یو توکي یا خدمت څخه ګټه اخېستنې هغه اړتیا ته وايي، چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره اړین یا د ژوندانه لپاره لومړیتوب وي او د نه ترلاسه کېدو او یا نه استعمال په صورت کې په ژوند کې جدي ستونزې راولاړېږي لکه خوراک، څښاک، لباس، د اوسېدو ځای او داسې نور. له غوښتنې **(**Want**)** سره یې پرتله کړئ.

## Need Standard

د اړتیا معیار

د عوایدو د ویش د دریو بنسټیزو معیارونو څخه یو دی دوه نور معیارونه عبارت دی له:

۱: د مساوات معیار **(**Equity standard**)**

۲: د ونډې معیار **(**Contributive standard**)**

او د اړتیا معیارله مخې د توکو او خدمتونو د تولید څخه ترلاسه شوي عواید د ټولنې وګړو ته د هغوی د اړتیا له مخې وېشل کېږي. چې دا معیار په واقعي نړۍ کې نه ترسترګو کېږي او یو نظري معیار یې ګڼلی شو. د عوایدو د ویش معیارونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Negative Relation
معکوسه اړيکه

کله، چې د دوه متغيرو ترمنځ دا ډول اړيکه شتون ولري، چې په يوه متغير کې ډېروالی په بل متغير کې د کموالي او کموالی يې په بل متغيره کې د ډېروالی سره مل وي نو دا ډول اړيکې ته معکوسه اړيکه ويل کېږي چې د غير مستقيمې اړيکې (indirectrelation) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. لکه د قيمت او تقاضا ترمنځ اړيکه، چې د توکي په قيمت کې لوړوالی د نوموړي توکي په تقاضا کې د کموالي او په قيمت کې يې کموالی په تقاضا کې د ډېروالي راځي. له مسقيمې اړيکې (directrelation) سره يې پرتله کړئ.

## Negative Saving
منفي سپما/له عايد زيات لګښت

منفي سپما (Dissaving) ته رجوع وکړئ.

## Neoclassical School
نوی کلاسيک فکري مکتب

هغه نظري مکتب ده، چې له مخې يې په بازار کې قيمتونه، توليد او د عوايدو ويش د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کېږي نوی کلاسيک مکتب په دريو بنسټيزو فرضيو ولاړ دی چې عبارت دي له:

- خلک د بيلابيلو پايلو او ارزښتونو د لاسته راوړنې لپاره شعوري ترجيحات (rational preferences) لري
- وګړي او تصدۍ د افادې (utility) او ګټې د اعظمي کول په هڅه کې دي.
- خلک د بشپړه او اړونده معلوماتو پر بنسټ په خپلواک ډول عمل کوي.

د همدغو فرضيو پر بنسټ د نوي کلاسيک اقتصاد بيلا بيلې تيوريګانې رامنځته شوي لکه د تصديو تيوري (firm theory)يا د استهلاک تيوري (consumption theory) او داسې نور.

## Net Domestic Product (NDP)
## خالص داخلي تولید

معمولاً د یو کال په اوږدو کې په اقتصاد کې د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی، چې د پانګې استهلاک (capital depreciation) د وضع کېدو څخه وروسته پاتې کېږي.

او یا هم دا چې: کله، چې د نا خالص داخلي تولید څخه د پانګې استهلاک وضع شي نو خالص داخلي تولید ترلاسه کېږي. یعنې NDP=GDP-CD

چې په پورتني مساوات کې:

- GNP نا خالص ملي تولید (Gross domestic product)
- GDP نا خالص داخلي تولید (Gross domestic product)
- CD د پانګې استهلاک (Capital depreciation)

## Net Earning
## خالص عاید/ لاسته راوړنه

د توکي د تمام شد لګښت او د ترلاسه شوي پلیزې ګټې ترمنځ توپیر ته خالص عاید ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: که یو توکی په ۵۰ افغانی وپلورل شي او په نوموړي توکي باندې ترسره شوی ټول لګښت ٤٥ افغانۍ وي نو خالص عاید ٥ افغانۍ څخه عبارت دی. خالص عاید د ګټې (profit) لپاره عامه اصطلاح ده، چې ځینې وخت ورته د خالص عاید (net revenue/income) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Net Export
## خالص صادرات

په یو معلوم وخت کې د صادراتو او وارداتو د ارزښت ترمنځ توپیر ته خالص صادرات ویل کېږي. د بېلګې په توګه: که په ١٣٩٤ کال کې د افغانستان ټول صادرات ٥٠ میلیارده افغانۍ او واردات یې ٤٠

میلیارده افغانۍ فرض کړو نو خالص صادرات یې ۱۰ میلیارده افغانیو څخه عبارت دی. یعنې NE=Export-import

## Net Foreign Factor Income

بهرنیو عواملو څخه خالص عاید

معمولاً د یو کال په اوږدو کې بهرنیانو ته د داخلي هستوګنو له لوري تادیات، چې په داخلي تولید کې د برخه اخېستنې په وړاندې ترسره کېږي او داخلي هستوګنو ته د بهرنیانو له لوري د تادیاتو ترمنځ توپیر څخه عبارت دی.

## Net Interest

خالصه ربحه

د ملي عاید او ملي محاسباتو یوه اصطلاح ده، چې په اقتصاد کې د کورنیو له خواد تهیه کیدونکې پانګې څخه د ترلاسه کیدونکې ګټې یا ربحې د اندازه ګیرۍ لپاره کارول کېږي. او په ملي عاید کې د نورو تادیاتو له ډلې یو ده، چې نور تادیات، عبارت دي له کارګرانو مزد،د کرایې عاید، د کاروبار د ګټې څخه عاید او له ملکیتونو څخه عاید. همدا راز په مالي برخه کې خالصه ربح د مالي شتمنیو لپاره د تادیه کیدونکې ربحه او له هغې څه د ترلاسه کیدونکې ربحې تر منځ توپیر ته وایې.

## Net National Product (NNP)

خالص ملي محصول

معمولاً د یو کال په اوږدو کې د یو هېواد د تولیدي وسایلو په مرسته د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی، چې د پانګې استهلاک له وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي. او یا هم دا چې: کله، چې د نا خالص ملي تولید څخه د پانګې استهلاک وضع شي نو خالص ملي تولید ترلاسه کېږي. یعنې NNP=GNP-CD چې په پورتني فورمول کې:

- NNP خالص ملي تولید (Net National Product)
- GNP نا خالص ملي تولید (Gross National Product)
- CD د پانګې استهلاک (Capital Depreciation)

## Net Price
## خالص قیمت

هغه قیمت، چې د ټولو لګښتونو او تنزیل څخه وروسته پاتې کېږي. د بېلګې په توګه: د توکي له قیمت څخه ټول تخفیفونه او نور امتیازات کم شي نو پاتې قیمت ته خالص قیمت وايي.

## Net Private Domestic Investment
## خالصه خصوصي داخلي پانګونه

په یو معلوم وخت (معمولاً یو کال) کې په اقتصاد کې د کاروباري سکتور په وسیله د تولیدي فعالیتونو په موخه په سرمایوي توکو باندې د پانګونې د لګښتونو څخه عبارت دی، چې د پانګې استهلاک له وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي. او یا هم دا چې: کله، چې د نا خالص خصوصي داخلي پانګونې څخه د پانګې استهلاک وضع شي؛ نو خالص خصوصي داخلي پانګونه ترلاسه کېږي.

## Net Profit
## خالصه ګټه

ګټې (Profit) ته رجوع وکړئ.

## Net Worth
## خالص ارزښت

د یو کاروبار د شتمنیو او پورونو ترمنځ توپیر ته د کاروبار د شتمنیو خالص ارزښت ویل کېږي. او یا هم دا، چې: کله، چې د یو کاروبار د شتمنیو څخه د کاروبار پورونه وضع شي نو د کاروبار د شتمنیو خالص ارزښت ترلاسه کېږي.

## Net Yield
## خالص حاصل

د مالي اسنادو څخه ترلاسه شوی پولي عاید، چې د پور استهلاک له وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي.، چې د (yieldtomaturity) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Nominal GDP

## اسمي نا خالص داخلي تولید

په یو معلوم وخت (معمولاً په یو کال) کې په هېواد کې په اوسنیو قیمتونو سره د نهایي تولید شویو توکو او خدمتونو پولي ارزښت ته اسمي نا خالص داخلي تولید ویل کېږي. چې د جاري نا خالص داخلي تولید (currentgrossDomesticProdut) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له واقعي ناخالص داخلي تولید (realGDP) سره یې پرتله کړئ.

## Nominal Price

## اسمي قېمت

د یو توکي یا هم د خدمت د پلور د وخت قېمت د اسمي قېمت څخه عبارت دی د واقعي قېمت (**real price**) سره یې پرتله کړئ.

## Nominal Production

## اسمي تولید

په اقتصاد کې د تولید شویو توکو او خدمتونو مقدار، چې په اوسنیو قیمتونو سره اندازه شوی وي. له واقعي تولید (realproduction) سره یې پرتله کړئ.

## Nominal Economy

## د اقتصاد اسمي اړخ

د اقتصاد هغه اړخ چې په اوسمهال کې په جاري قیمت ښودل کیږي. د اقتصاد له واقعي اړخ (Real economy) سره یې پرتله کړئ.

## Nominal Value

## اسمي ارزښت

د پیسو په اوسني یا جاري ارزښت سره د یو توکی ارزښت ته اسمي ارزښت ویل کېږي. د واقعي ارزښت (Real value) سره یې پرتله کړئ.

## Nominal Wage
## اسمي مزد

په اوسنیو قیمتونو سره کارګرانو ته د مزد د تادیې څخه عبارت دی یا دا، چې: کارګرانو ته د هغوی د تولیدې کړنو په وړاندې په اوسنۍ قیمت سره د مزد ورکړې څخه عبارت دی. چې د پولي مزد (moneywage) اصطلاح ورته هم کارول کیږي. له واقعي مزد (realwage) سره یې پرتله کړئ.

## Non Durable Goods
## بې دوامه توکي

هر هغه توکي، چې له یو کال نه کم وخت لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي یا هر هغه توکي، چې د پېرودونکو له لوري پېرودل کیږي او د یو کال په موده کې ترې ګټه اخیستل کیږي لکه غذايي مواد. له با دوامه توکو (Durablegoods) سره یې پرتله کړئ.

## Non Price Competition
## پرته له قیمته سیالي

په عین بازار کې د عین توکي په وړاندې د عرضه کوونکو ترمنځ سیالي، چې د قیمت له مخې نه ترسره کیږي بلکې په نورو مواردو کې لکه اعلانات، د توکي په کیفیت کې ښه والی، حمایوي خدمتونه او یا هم د مقدار له پلوه او داسې نور.

## Non Tariff Barriers
## غیر تعرفوي محدودیتونه

په بهرنۍ سوداګرۍ کې د تعرفوي محدودیتونو او خنډونو څخه پرته هر ډول محدویت او خنډ رامنځته کول، چې بهرنۍ سوداګري تر خپل اغیز لاندې راولي غیر تعرفوي خنډونه بلل کیږي. لکه د وارداتي توکي په وړاندې د معیار لوړول، کرنیز نورمونه او معیارونه مقداري محدودیت او داسې نور محدودیتونه او خنډونه.

## Non-counterfietability

## غیر قابل جعل

د پیسو د څلورو بنسټیزو ځانګړتیاو څخه یوه ځانګړتیا ده درې نورې ځانګړتیاوې یې عبارت دي له:

۱: د دوام وړتیا (Durability)

۲: د وېش وړتیا (Divisibility)

۳: او د لیږد یا ترانسپورت وړتیا (Transportability)

په دې مانا، چې هغه شتمني، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید چې د جعل څخه د مخنیوي وړتیا یې ډېره وي. د پیسو د دندو په اړه لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Non Recurring Expenses

## غیر مترقبه لګښتونه

هغه لګښتونه، چې د غیر متراقبه پېښو په پایله کې رامنځته کېږي لکه د اور لګېدو، غلا، یا د زلزلې او داسې نورو غیر متراقبه پېښو له امله رامنځته شوې لګښت یا تاوان په وړاندې لګښتونه.

## Normal Goods

## نورمال توکي

په کوچني یا جزوي اقتصاد کې یوه ځانګړې اصطلاح ده او هغه توکو ته وایي ، چې د عوایدو په ډېریدو سره ورته په تقاضا کې هم ډېروالی رامنځته کیږي، چې د تقاضا د عوایدو مثبت ارتجاعیت (Positive Income Elasticity of Demand) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له نا شایسته/نا مرغوب توکو (Inferior Goods) سره یې پرتله کړئ.

## Normal Price
### نورمال قیمت

هغه متوسط قیمت، چې په نسبتاً اوږد مهال کې رامنځته شوی وي. او د بازار قیمت (market price) د صعود یا نزول څخه وروسته نوموړي قیمت ته نږدې کېږي.

## Normal Profit
### نورماله ګټه

د ګټې هغه اندازه، چې د تولید د پروسې پرمخ بېولو او دوام لپاره اړینه ګڼل کېږي او معمولاً په اوږده موده کې د بازار د تعادلي شرایطو لاندې رامنځته کیږي. له مازادې ګټې (Excessprofit) سره یې پرتله کړئ.

## Normative Economics
### نظریاتی/ذاتی اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې د اقتصادي اجراأتو د ترسره کولو په وړاندې لار ټاکي او معمولاً په ذاتي ارزښتونو باندې تکیه لري. او یا هم دا چې: د اقتصاد د علم هغه برخه، چې د اقتصادي سوکالۍ د زیاتوالي په وسیله په نړیواله کچه د تغیر رامنځته کولو لار تعینوي. له مثبت/اثباتي اقتصاد (Positive Economics) سره یې پرتله کړئ.

## Nuisance Tax
### سر دردوونکي مالیه

هغه مالیه، چې عواید یې دومره کم وي، چې د مالیه ټولوونکي په زحمت هم نه ارزېږي.

## Number of Buyers
### د پېرودونکو شمېر

د تقاضا د پنځو ټاکونکو عواملو (Demand Determinants) څخه یو دی، چې د تقاضا د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت ګڼل کېږي او د تغیر د رامنځته کېدو په حالت کې د تقاضا منحني د انتقال لامل ګرزي. د اخېستونکو شمېر په دې اتکا لري، چې: که چېرې ډېر خلک د

توکو او خدمتونو د پېرلو اراده او وړتیا ولري(تقاضا ولري) نو دا په دې مانا، چې په بازار کې تقاضا ډېره ده او د تقاضا ډېروالی د توکي د قېمت د لوړوالي لامل ګرزي، چې د توکي د قېمت لوړوالی د تقاضا د منحني د انتقال لامل ګرزي. د تقاضا د نورو ټاکونکو عواملو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تقاضا ټاکونکو عواملو **(**Demand Determinants) ته رجوع وکړئ.

## Number of Sellers

### د پلورونکو شمېر

د عرضې د پنځو ټاکونکو عواملو (Supply Determinants**)** څخه یو دی، چې د عرضې د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت ګڼل کېږي او د تغیر د رامنځته کېدو په حالت کې د عرضې منحني د انتقال لامل ګرزي.

دا په دې مانا، چې: که چېرې په بازار کې ډېر تولیدونکي د توکو او خدمتونو د پلورلو اراده او وړتیا ولري (عرضه ولري) نو په بازار کې د عرضې اندازه ډېرېږي، چې د عرضې ډېروالی د توکي په قېمت کې د کموالي لامل ګرزي او په دې توګه د عرضې منحني د انتقال لامل ګرزي. د عرضې د نورو ټاکونکو عواملو په اړه لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې ټاکونکو عواملو **(**supply Determinants**)** ته هم رجوع وکړئ.

# O

## Occupational Mobility/Movement

وظیفوي خوځښت

له یو ډول تولیدي فعالیت څخه بل ډول تولیدي فعالیت ته د تولید عواملو (معمولاً کارکر) د انتقال یا حرکت څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: یو کس په یوه اداره کې د محاسب په توګه کار کوي؛ خو له دغې دندې څخه بلې دندې ته د یو کمپیوټر کار په توګه تبدیلېږي. له جغرافیوي خوځښت (Geographic Mobility/Movement) سره یې پرتله کړئ.

## Oligopoly

اولیګاپولي/ګروپي انحصار

د بازار د څلورو بنسټیزو جوړښتونو څخه یو دی د بازار درې نور جوړښتونه عبارت دي له:

۱: کامله سیالي (Perfect Competition)

۲: انحصار (Monopoly)

۳: انحصاري سیالي (Monopolistic Competition)

او اولیګوپولی د بازار له هغه جوړښت څخه عبارت دی، چې پکې کم شمېر لوی کاروبارونه تسلط ولري، چې تقریباً عین توکي یا خدمتونه عرضه کوي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې د مخابراتي خدمتونو عرضه کونکي شرکتونه، چې مخابراتي خدمتونه عرضه کوي.

د اولیګوپولي مهمې ځانګړتیاوې (Oligopoly Characteristics) عبارت دي له:

- په بازار کې په کم شمېر کې لویو کاروبارونو ولکه.
- د تقریباً یو شان توکو یا خدمتونو عرضه کول.
- بازار ته د نورو کاروبارونو په دخول باندې ځانګړي خنډونه.

د بازار د جوړښت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو د بازار ذکر شوو جوړښتونو ته هم رجوع وکړئ.

## Oligopsony

اولیګاپسوني

د ګروپي انحصار هغه ډول چې پېرودونکی يې لري. دا د بازار له هغه ډول څخه عبارت دی، چې په کم شمېر پېرودونکي پکې د بازار د پېر اړخ باندې ولکه ولري (معمولاً د تولید د عواملو په بازار کې دا حالت رامنځته کېږي).

## Open Competition

ازاده سیالي

هغه سیالي، چې له مخې يې د سوداګریزو ټولنو غړي د تولید د شته زیرمو، فرمایشونو، قیمتونو او داسې نورو مشابه برخو پورې تړلي احصايوي اطلاعات او معلومات يو د بل سره شریکوي.

## Open Economy

پرانیستی اقتصاد

هغه اقتصاد، چې په لويه پيمانه بهرني سوداګري پکې ترسره کېږي. يا هغه اقتصاد، چې پکې د سوداګرۍ او کاروبارونو په برخه کې محدوديتونه او يا خنډونه شتون ونه لري. له تړلي اقتصاد (closed Economy) سره يې پرتله کړئ.

## Open Market

ازاد بازار

په اقتصاد کې هغه بازار ته وايي، چې ټول اقتصادي فعالين ورته په پوره ډول لاسرسی ولري او ټولې خواوې بازار ته د دخول مساوي ډول فرصتونه ولري له تړلي بازار(closed Market) سره يې پرتله کړئ.

## Open Market Operation

د ازاد بازار عملیات

د مرکزي بانک له لوري د پیسو د عرضې او په جریان کې د نقده پیسو د کنترول په موخه د بازار له لارې د قېمتي پاڼو يا اسعارو پېر او پلور ته د آزاد بازار عملیات ویل کېږي چې د پولي سیاست

یوه وسیله جوړوي. او یا هم د دولت له خوا د آزاد بازار له لارې د اقتصادي ودې، کامل استخدام او د سود نرخ د کنترول په موخه د قېمتي اوراقو د پېر او پلور په وسیله د پیسو د عرضې د کنترول څخه عبارت دی.، چې د پولي سیاست د عملي کولو یوه وسیله ګڼل کېږي.

## Open Shop

ازاد استخدام

په کاروبارونو کې د کارګرانو استخدام په وخت کې کارګران د کارګرانو په ټولنه کې د غړیتوب د ترلاسه کولو په برخه کې خپلواک وي او استخدام د کارګرانو د ټولنې په غړو پورې نه وي تړلی. یا په ساده اصطلاح: په استخدام کې کاروبارونه په دې مکلف نه وي، چې یوازې د کارګرانو د ټولنې غړي استخدام کړي. له تړلي استخدام (Closed shop) سره یې پرتله کړئ.

## Opportunity Cost

فرصتي لګښت

د هغه عمل یا کړنې ارزښت چې یو کس یې د ترسره کولو وړتیا لري مګر د یو بل کار یا کړنې د ترسره کولو له امله یې له لاسه ورکړې وي. او یا هم په بل عبارت: د یوې کړنې په وړاندې تر ټولو لوړ ارزښت لرونکی له لاسه تللی ارزښت څخه عبارت ده. دا مفهوم په اقتصاد کې مهم رول لري ځکه هره کړنه، چې ترسره کېږي د هغې پرځای یوه بله کړنه ترسره کیدلی شي، چې له لاسه تللې ارزښت بلل کېږي ، چې په اقتصاد کې فرصتي لګښتونه نومول کېږي.

## Optimum Population

مطلوب/مساعد نفوس

د نفوسو هغه حد، چې په یوه ټاکلې جغرافیوي سیمه کې اوسېږي او د شته طبیعي منابعو، وسایلو او پانګې په کارولو سره یې د فې نفر حاصل اندازه تراعظمي حده لوړه وي.

## Ordinal

اردېنل/ترتيبي

هغه اندازه ګيري، چې په درجه بندي باندې تکيه لري لکه اول، دويم، دريم...، چې له مخې يې دوه يا څو توکې په پرتله ايز ډول پرتله کېږي دغه اندازه ګيري د افادې په بحثونو کې ډېره کارول کيږي.د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ترتيبي افادې (Ordinalutility) ته رجوع وکړئ آو له عددي (Cardinal) سره يې پرتله کړئ.

## Ordinal Utility

ترتيبي افاده

هغه مېتود او د اندازه ګيرۍ‌مقياس، چې د يو توکي او يا خدمت څخه د ګټې اخېستنې او يا استهلاک څخه ترلاسه شوی ګټورتوب يا افادې او خيرنې او يا هم د رضايت په نسبي درجه بندي باندې اتکا لري، چې توکو او يا خدمتونو څخه ترلاسه شوی ګټورتوب يوازې د لږ يا ډېر يا ډېر لوړ يا کم ترجېح له مخې درجه بندي کېږي. د بېلګې په توګه: د واردېدونکو غوړيو په پرتله د سپين غر غوړي ډېر لوړ کيفيت لري، چې دلته د کيفيت په اړه د ډېر لوړ کلمه له ترتيبي افادې (ordinalutility) څخه نمايندګي کوي. له عددي افادي (Cardinal Utility) اصطلاح سره يې پرتله کړئ.

## Organization for Economic Cooperation and Development (OECD)

د اقتصادي مرستو او پرمختيا سازمان

دا سازمان په ۱۹٦۱ميلادي کال کې د غړو هېوادونو د اقتصادي ودې او د وګړو د ژوند کچې د لوړوالي په منظور تأسيس شوی دی چې مرکزي دفتر يې په پاريس کې دی اوسمهال ۳٤ غړي هيوادونه لري. مهم غړي هېوادونه يې عبارت دي له:

استراليا، اتريش، بلجيم، کاناډا، ډنمارک، فنلنډ، فرانسه، جرمني، يونان، آيسلنډ، آيرلنډ، ايټاليا، جاپان، لوګزامبورګ، هالنډ، نوی زېلانډ، ناروې، پرتګال، هسپانيه، سويس، ترکيه او د امريکا متحده آيالات.

## Organization of Petroleum Exporting Countries (OPEC)
## د تیلو صادرونکو هېوادونو سازمان

دا سازمان په ۱۹٦۰ میلادي کال کې د تېلو صادرونکو هېوادونو له لوري تأسیس شوی چې موخه یې د غړو هېوادونو اقتصادي وده او د تیلو د پالیسیو همغږي کول دي ددې سازمان غړي هېوادونه عبارت دي له: الجزایر، اکوادور، ګابون، اندونیزیا، ایران، عراق، کویت، لیبیا، نایجیریا، قطر، سعودي عربستان، د عربي متحده امارات او ونزوویلا څخه او ددې سازمان مرکزي دفتر د وین په ښار کې دی.اوپک یو نړیوال سازمان دی، چې معمولاً د منځني ختیځ، افریقا او د جنوبي امریکا هغه هېوادونه یې غړیتوب لري، چې په نړۍ کې د پټرولو ډېرې زېرمې لري. د اوپک غړي هېوادونه د پټرولو په برخه کې په بازار کې ځانګړی کنترول په خپل انحصار کې لري چې د قېمت څخه یې ډېره ګټه ترلاسه کړي. اوپک د کارتل(Cartel) یوه ښه بېلګه ده.

## Origin
## مبداء

د ګراف مبدا یا په ګراف کې د X او Y محورونو ترمنځ د تقاطع له نقطې څخه عبارت دی. او یا هم دا، چې: په ګراف کې د X او Y د محورونو د پیل له نقطې څخه عبارت دی، چېرته، چې د X او Y دواړو ارزښت د صفر سره مساوي دی.

## Other Prices
## د نورو توکو قېمتونه

د نظر وړ توکی څخه علاوه د نورو اړونده توکو قېمتونو ته وايي. دا د عرضې او تقاضا د ټاکونکو عواملو څخه یو دی چې د یو توکي لپاره عرضه او تقاضا تر خپل اغیز لاندې راولي.، چې د تقاضا په اړخ کې نور قېمتونه کېدای شي، چې په استهلاک کې تعویضي توکي یا په استهلاک کې تکمیلېدونکی توکي وي او د عرضې په اړخ کې نور قېمتونه کېدای شي، چې په تولید کې ځای نیونکي یا په تولید کې تکمیلېدونکی توکي وي او د نورو توکو په قیمتونو کې تغیر د عرضې او یا د تقاضا په منحني کې د تناظر لامل ګرځي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې او تقاضا ټاکونکو عواملو (Supply/demand determinants) ته رجوع وکړئ.

## Other Things Equal

نور متحویلین ثابت (فرضیه)

یوه عامه فرضیه ده، چې په اقتصاد کې د (Ceteris Paribus) لاتیني اصطلاح پر ځای کارول کېږي ، چې د دوه ځانکړو متغیراتو ترمنځ د اړیکې د څېړلو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي لکه د تقاضا په قانون کې هغه فرضیه، چې وايي: که نور ټول عوامل ثابت فرض شي (لکه د عوایدو اندازه او داسې نور) نو د یو توکي د قېمت په لوړېدو سره د نوموړي توکي په تقاضا کې کموالی او د قېمت په ښکته کېدو سره یې په تقاضا کې زیاتوالی رامنځته کېږي.

یا د پیسو په مقداري نظریه کې یوه فرضیه، چې وايي: که چېرې نور ټول عوامل ثابت فرض شي (تغیر ونکړي)؛ نو په اقتصاد کې د پیسو مقدار په دوه چنده کېدو سره د توکو او خدمتونو قېمتونه هم دوه چنده کېږي او د پیسو مقدار په نیمايي کېدو سره د توکو او خدمتونو قېمتونه هم نیمايي کېږي.

## Out Law Strike

غیر قانوني اعتصاب

د کاروباري ټولنې د غړو له لوري یو غیر رسمي او معمولاً په خپل سر اعتصاب او یا د کار درولو څخه عبارت دی. غیر قانوني اعتصاب معمولاً هغه وخت ترسره کېږي، چې د ټولنې غړي داسې احساس کړي، چې د ټولنې مشران د ټولنې د غړو د ګټو په اړه د پامور ګامونه نه پورته کوي. چې د غیر قانوني اعتصاب (Illegal strike) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Output

حاصل

د تولید یا منابعو د شکل د تغیر د پروسې پایلې یا هم هغه تولید شوی توکي یا خدمت ته ویل کېږي چې د اقتصادي فعالیت د ثمرې په شکل رامنځته کیږي.، چې معمولاُ ورته د تولید (product) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Outside Lag

### د تطبیق موده

د اقتصادي پالیسیو په برخه کې: په اقتصاد کې د ټکان (shock) په وخت کې د دولت د اصلاحي اقداماتو او په پایله کې په اقتصاد باندې د رامنځته شوي تاثیر ترمنځ وخت څخه عبارت دی. له داخلي مودې (Inside lag) سره یې پرتله کړئ.

## Outstanding Debts

### نا تصفیه شوی پور

هغه پورونه چې د سررسید تر وخته باید تصفیه شي خو لا تر اوسه تصفیه شوي نه وي.

## Outward Investment

### بهرنۍ پانګونه

د یو هېواد د وګړو، دولت او مالي نهادونو له لوري په بل هېواد کې پانګونې څخه عبارت دی.د بېلګې په توګه: د افغانستان د وګړو، دولت او مالي بنسټونو له لوري په بهر کې پانګونه. له بهرنۍ پانګونې (inward Investment) سره یې پرتله کړئ.

## Over Employment

### زائد استخدام

کله، چې د تولید عوامل (معمولاً کارګره قوه)، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې په زیاته اندازه بنکیل وي او په تیوریکي لحاظ د کامل استخدام له کچې هم زیات تولید رامنځته کړي، چې دا یواځې په لنډه موده کې ممکن وي.

## Over Population

### زائد نفوس

د یو هېواد یا سیمې هغه وضعیت چې د نفوسو تعداد یې د امکاناتو او فزیکي وړتیا په پرتله زیات وي لکه د بنګلدیش هیواد نفوس.

## Over Production

### زائد/مازاد تولید

هغه تولید چې د تقاضا یا اړتیا د اندازې څخه زیات وي. یا کله چې په بازار کې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل په داسې ډول له منځه لاړ شي چې په ګودام کې تولید شوي توکي د بازار له تقاضا څخه زیات وي نو زاید تولید بلل کیږي.

## Overdraw

### اضافه برداشت

د بانک له خوا د جاري حساب لرونکو ته یو ډول اسانتیا ده چې له مخې یې حساب لرونکی تر ټاکلې اندازې پورې له بانک څخه اضافي پیسې ترلاسه کولی شي چې وروسته یې بیا ربح بانک ته تادیه کیږي. او یا هم کله چې: یو کس په خپل بانکي حساب کې د شته مبلغ څخه د لوړ مبلغ چک صادر کړي؛ نو دا ډول چک صادرولو ته هم اضافي برداشت ویل کېږي. د بېلګې په توګه: اتل په خپل بانکي حساب کې یو میلیون افغانۍ لري؛ خو د یو میلیون او سل زره افغانیو چک صادر کړي.

## Overt Collusion

### څرګند اتحاد

هغه رسمي معمولاً له قانوني ادارو پټ هوکړه لیک، چې د څو اولیګوپولي کاروبارونو او تولیدونکو ترمنځ په دې موخه عقد کېږي څو له مخې یې په بازار کې کنترول ترلاسه کړي، قیمتونه لوړ کړي، او بالاخره په بازار کې د انحصار لرونکو په توګه را څرګند شي.، چې د ښکاره اتحاد Explicit Collusion اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له پټ اتحاد (Implicit/Tacit Collusion) سره یې پرتله کړئ.

## Overtime

### اضافه کاری

د کار په اصطلاح کې: د معمول یا د قانوني ټاکل شوي ساعتونو څخه زیات کار کول چې په وړاندې یې اضافي مزد او معاش تادیه کېږي.

## Owner

## مالک

هغه کس چې په قانوني ډول د یوې پانګې یا هم د یو کاروباري سازمان اختیار یا مالکیت ولري.

## Owners Equity

## د ونډه لرونکو حقوق

د یو اقتصادي سازمان د ټولې پانګې او پوروونو ترمنځ توپیر چې د خالص ارزش/ثروت (Networth) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.دا په حقیقت کې هغه حقوق دي چې د کاروبار ونډه لرونکو د کاروبار د پرمخ بیولو لپاره په کار اچولي.

## Ownership

## مالکیت (د کاروبار د مالکینو ونډه)

په پانګه یا هم په اقتصادي یا کاروباري سازمان د تملک قانوني حق چې د ګټې اخېستنې، پلور او نور اړونده حقوق یې لري د مالکیت څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: د ملکیت حق یا منابع، توکي یا شتمني، چې په قانوني ډول په یو کس پورې اړه ولري.

## Ownership Liability

## د مالکینو مسولیت (د پور پر وړاندې)

د کاروبار د حقوقي جوړښت په پام کې نیولو سره په کاروبار کې د پوروونو هغه اندازه یا حد ده، چې د کاروبار شریکان یې د تادیې مسئولیت په غاړه لري، چې دوه بنسټیزو ډولونه یې عبارت دي له:

- محدود المسئولیت پوروونه(LimitedLiabilities)
- نا محدود المسئولیت پوروونه(Unlimited Liabilities).

د کاروبار د پوروونو په وړاندې د کاروبار د مالکینو د مسولیت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

# P

## Package

بسته

هغه لوښی یا د تولید ساتونکی برخه چې توکي په کې ځای پر ځای شوي وي. یا هغه توکي چې په یوه بسته کې ځای په ځای شوي وي. همدا راز د تولیداتو یا خدمتونو یو ګروپ یا کڅوړې ته هم د بستې اصطلاح کارول کیږي.

## Packaging

بسته بندي

هغه علم، هنر یا تکنالوژي، چې په مټ یې تولیداتو بسته بندي او حفاظت صورت نیسي چې د توزیع، انتقال،پلور او ګټې اخېستنې لپاره چمتو شي. په ځانګړې ډول په بازار موندنه کې بسته بندي **(**Packaging**)** هغه پروسه ته وايي چې تولیدات په ساتونکي لوښي یا جامه کې ځای په ځای کیږي. چې (Packing**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. همدا راز په دې پروسه کې د بسته بندی ډیزاینول، تولید او ارزونه هم شامل دي.

## Paidin Capital

پرداخت شوې پانګه

نقده پیسې، توکي یا هم پانګه چې د شرکت د مالکینو له لوري د شرکت د تأسیس او یا هم د شرکت د پانګې د زیاتوالي په موخه ورکول کېږي. چې پرداخت شوې پانګې ته د Paid up capital او capital paid اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Paid-Insurplus

په مازاد کې (اضافي) پرداخت

د یوې انتفاعي موسسي هغه مازاد، چې د ګټې نه پرته یې د نورو منابعو څخه یې ترلاسه کوي. د بیلګې په توګه: د اقتصادي کړنو په برخه کې جایزه ترلاسه کول.

## Paper Asset

## اسمي شتمني

مالي شتمني/پانگې (Financial assets/capital) ته رجوع وکړئ.

## Paper Money

## کاغذي پیسې

د دولت (معمولاً د مرکزي بانک) له لوري نشر شوی کاغذ، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي. او یا هم هغه پیسې، چې د مرکزي بانک له لوري د کاغذ په شکل نشرېږي. له فلزي پیسو (metallic Money) سره یې پرتله کړئ. د پیسو د نورو ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پیسو (Money) ته هم رجوع وکړئ.

## Paper Value

## اسمي ارزښت

د یوې مالي شتمنۍ او یا قانوني حق د اسمي ارزښت څخه عبارت دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اسمي ارزښت (facevalue) ته رجوع وکړئ.

## Paper wealth

## اسمي ثروت

مالي ثروت (Financial Wealth) ته رجوع وکړئ.

## Par of Exchange

## د اسعارو د برابرۍ نرخ

د تبادلې هغه نرخ، چې د دوه هېوادونو د ملي پیسو ترمنځ د فلزي محتویاتو د تناسب له مخې ټاکل کېږي.

د بېلګې په توګه: نړیوال وجهي صندوق (IMF) د غړو هېوادونو ترمنځ د اسعارو د تبادلې نرخ د همدې سیستم له مخې ټاکي، چې لومړی د هر هېواد د پولي واحد ارزښت د طلا له مخې سنجوي او بیا يې د اسعارو د تبادلې نرخ ټاکي. چې د (parexchangerate) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Paradox of Thrift

### د سپما معما (تناقض)

هغه آند، چې وايي: د راتلونکي متوقعه ناوړه حالت په وړاندې د انفرادي وګړو له لوري په سپما کې ډېروالی د کلي اقتصاد په وړاندې ښه عمل ندی. دا په دې مانا، چې: کله، چې په اقتصاد کې په ټولیزه سپما کې ډېروالي په ټولیز تولید باندې د لګښتونو په اندازه د کموالي لامل ګرزي، چې بالاخره د ټولیز تولید په اندازه کې د کموالي او د وزګارتیا په کچه کې لوړوالی رامنځته کېږي.

## Paradox of Value

### د ارزښت معما/تناقض

دا معما له دې آنده رامنځته شوې چې د توکو د قېمت یا ارزښت زیاتوالی د توکو په کموالی پورې تړلي که د هغو په ګټورتوب پورې؟

د بېلګې په توګه: اوبه چې نهايي ګټورتوب يې ډېر زیات دی خو چون پریمانه پیدا کېږي نو پدې ډول يې قېمت یا ارزښت ډېر کم دی او په وړاندې يې الماس چې ګټورتوب يې کم دی خو چون په کمه اندازه پیدا کېږي نو ځکه يې قېمت ډېر لوړ دی چې د الماسو او اوبو معما **(**Diamond- Water Paradox**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Parceptoin

### ادراک

په خپل چاپېریال کې د ټولو حسي معلوماتو (لیدل، اورېدل، حس کول،لمس کول اونور) تنظیم پېژندل او تعبیرولو په مانا ده. په دې پروسه کې دا مهم ندې، چې نوموړی کس څه وايي بلکې دا اهمیت لري، چې څه اوري. د چاپېریال دغه ډول څېړنه او پېژندنه د مستهلکینو د سلوک په پېژندنه کې ډېر اهمیت لري.

## Parent Company

## اصلي شرکت

هغه شرکت چې د یو بل شرکت د ونډو ټوله برخه او یا هم ډېری برخه په خپل مالکیت کې ولري او د اخیستل شوي شرکت لپاره د مرکزي یا اصلي شرکت نوم یادیږي.

## Pareto Efficiency

## د پریټو اغیزمنتوب (نظریه)

دا نظریه د یوه ایټالوي اقتصاد پوه vilfred opareto (۱۸٤۳-۱۹۲۳) له لوري رامنځته شوې او وایي، چې: هغه ممکن اعظمي مؤثریت، چې یو کس یې ترلاسه کوي؛ خو د نوموړي کس د عمل په په پایله کې باید په ټولنه کې یو بل کس متضرره نشي. او یا هم دا چې: هغه مؤثریت، چې بغیر لدې، چې بل چا ته یې ضرر ورسېږي تر ممکن حده پورې اعظمي شي او کله، چې نورو ته په ضرر تمامېږي نو دزیاتوالي هڅه یې باید ونه شي.

## Part Time Worker

## پس له وخت کارګر

هغه کارګر، چې د پوره وخت کار کولو اراده او وړتیا ولري؛ خو د کاروبار له لوري د پوره وخت کار کولو چانس نه ورکول کېږي ځکه کاروبار یې د پوره وخت کار کولو اړتیا نلري. د بېلګې په توګه: یو کس په یوه اداره کې کار کوي، چې د پوره وخت کار ساعتونه په یوه ورځ کې ۸ ساعته وي؛ خو یو کارګر یوازې ٤ ساعته کار کوي او د پوره ورځې د کارګر په پرتله نیمایي معاش اخلي. د بشپړ وخت کار (Full time work) سره یې پرتله کړئ.

## Partnership

## شراکت

د کاروباري سازمانونو د دریو جوړښتونو څخه یو دی دوه نور جوړښتونه یې عبارت دي له:

۱: سهامي شرکت (Corporation)

۲: انفرادي کاروبار (Proprietorship) چې ځینې وخت ورته د Sole Proprietorship اصطلاح هم کارول کېږي.

شراکت د کاروبار هغه ډول ده، چې د دوه یا ډېرو (معمولاً محدود شریکان) شریکانو له لوري پر مخ بېول کېږي، کاروبار او د کاروبار شریکان په قانوني ډول سره یوحقوقي کسیت ګڼل کېږي.دا په دې مانا، چې: د کاروبار هر شریک د شرکت د پوروونو د تادیې په برخه کې د نا محدود المسئولیت وي. دا پدې مانا چې: که چېرې د کاروبار د پوروونو د تادیې لپاره د کاروبار شتمني بسنه ونکړي؛نو د کاروبار شریکان په شخصي ډول سره د پاتې پوروونو د تادیې مسئولیت په غاړه لري. د سهامي شرکت (Corporation) سره یې پرتله کړئ.

## Patent

د امتیاز حق

د دولت له لوري د یو معلوم وخت لپاره د تولیدي تخنیک، نوښت د کنترول او مالکیت د ضمانت څخه عبارت دی.، چې هغه کس ته ورکول کېږي، چې نوښت یې کړی وي او د نوموړي توکي یا خدمت د پلورلو انحصاري حق تر معلوم وخت پورې ترلاسه کوي او ځینې وخت ورته د تکثر حق (Copy right) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Paternalism

پلارولي

د دولت هغه سیاست، چې موخه یې د خلکو لپاره د رفاه تامین او حمایوي خدمتونو وړاندې کول وي لکه د تقاعد حقوق، د وزګار وګړو سره مالي مرسته او داسې نور.

## Payee

ترلاسه کوونکی( د تادیې)

هغه کس، چې د توکو او یا خدمتونو په وړاندې د ګټې اخیستنې حق ترلاسه کوي.

## Payer

تادیه کوونکې

هغه کس، چې د توکو او یا خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې حق تادیه کوي.

## Payment

تادیه

د توکو او یا خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې په وړاندې د قیمت ورکړې ته تادیه ویل کېږي.

## Payroll

د تادیې لیست

په یوه کمپنی کې د کارګرو د معاش ټولیز راپور ده، چې په هغه کې معاش مکافات او له معاش څخه کمیدونکي تادیات ټول شامل دي. د محاسبې له نظره دا لیست ټولې هغه پیسې ښکاره کوي، چې یو کارګر ته د یو ټاکلي وخت فعالیت په وړاندې ورکول کېږي.

## Payroll Tax

له تادیې څخه مالیه

هغه مالیه، چې د کارګرانو له مزد او معاش څخه د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو په منظور اخېستل کېږي لکه د ټولنیز محافظت مالیه (Social Secourity Tax).

## Peak

څوکه

د رونق مرحلې څخه د کساد یا زوال مرحلې ته د کاروباري دوران یا دایرې د انتقال څخه عبارت دی یا دا، چې د کاروباري دوران یا دایرې د رونق مرحلې د پای څخه عبارت دی، چې په اقتصاد کې تر ټولو ډېره اندازه تولید ترسره کېږي، مزد او معاش، کرایه او د تولید نور لګښتونه خپل لوړ حد ته رسېږي، چې بالاخره ورسره د توکي د تمام شد قېمت هم لوړېږي. ځینې اقتصاد پوهان کاروباري دوران یا دایره په څلورو مرحلو ویشي، چې څوکه یې هم یوه مرحله ګڼې د لا ډېرو معلوماتو لپاره د کاروباري دوران یا دایرې مرحلو (Business Cycle Phases) ته رجوع وکړئ.

## Peak Pricing

### مهالنۍ قیمت ایښودنه

هغه قیمت، چې د تقاضا د لوړېدو او د تولیدي وړتیا د ثابت پاتې کېدو په پایله کې رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه: کله، چې د برښنا عرضه ثابته وي خو د برښنا په تقاضا کې زیاتوالی رامنځته شي (د اوړي په موسم کې د ګرمي هوا له کبله) نو پداسې حالت کې د د برښنا عرضه کونکی د برښنا څخه د ګټې اخېستنې قیمت په نوموړي ځانګړي وخت کې لوړوي څو له یوې خوا د برښنا مصرف ډېرو خلکو ته ورسېږي او له بلې خوا یې له مصرف څخه ډېرې پیسې ترلاسه کړي.چې همدغه ډول قیمت ته پیک قیمت وايي.

## Pegouvian Tax

### د پیګو مالیه

هغه مالیه، چې د تولید په ضایعاتو، چې د چاپېریال ککړېدو لامل ګرزي اخېستل کېږي. د بېلګې په توګه: د هغه توکي څخه د ګټې اخیستنې او استهلاک ځانګړې مالیه، چې استهلاک په پایله کې یې د تولید یوه برخه چاپیریال ته زیان رسوي. د دې مالیې موخه دا وي چې تولیدونکي د توکو او خدمتونو د تولید په پروسه کې د تولیدي منابعو تخصیص په درست ډول سره ترسره کړي او لدې لارې د چاپیریال آلودګي او چټلي راکمه شي. معمولاً دا ډول مالیه د تولید ضایعاتو د لګښت سره سمه اخېستل کېږي.

## Per Capita Income

### سړي سر عاید

د یو کال په اوږدو کې د هېواد د هر وګړي په وسیله د ترلاسه شوي متوسط عاید اندازې ته سړي سر عاید ویل کېږي. او کله، چې ملي عاید د هېواد په نفوسو ووېشل شي؛ نو د سړي سر عاید ترلاسه کېږي.

## Per Unit Tax

## پر في واحد ماليه

د مالیې هغه ډول، چې په هر پلورل شوي توکي باندې په ثابت ډول ټاکل کېږي. دا په دې مانا، چې: که چېرې د یو توکي پلورونکی یو واحد توکي وپلوري هم د مالیې اندازه یې ثابته ده او که د یو څخه ډېر واحده وپلوري؛ نو هم یې د مالیې اندازه ثابته وي او د مالیې اندازه د پلورل شویو توکو څخه په ترلاسه شویو عوایدو پورې نه وي تړلې.

د بېلگې په توگه: که یو توکي ۱۰۰ افغانۍ قیمت ولري او پر پلور یې ۲٪ مالیه وضع شوي وي؛ نو که یو واحد وپلوري ۲ افغانۍ مالیه پرې اخېستل کېږي که ۲۰ واحده وپلوري؛ نو ۴۰ افغانۍ مالیه او که ۱۰۰ واحده وپلوري نو ۲۰۰ افغانۍ مالیه پرې اخېستل کېږي.

## Percentile

## سلمه برخه

د Ile احصائیوي سلسلې پورې اړه لري، چې موخه ترېنه د سلنې ښودل دي. د بېلگې په توگه: په ټولنه کې شتمن وگړي د ټولو وگړو یوه سلنه جوړوي نو دغه یوې سلنې ته percentile ویل کېږي.یا هم په احصائیه کې کله، چې داعدادو یوه سلسله په ۹۹ داسې نقطو وویشل شي، چې سلسله په سل برخو وویشي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره څلورمې برخې/چارک (Quartile) ته هم رجوع وکړئ.

## Perfect Competition

## کامله سیالي

د بازار د څلورو بنسټیزو جوړښتونو څخه یو دی د بازار درې نور جوړښتونه عبارت دي له:

۱: انحصار (Monopoly)

۲: اولیگوپولي (Oligopoly)

۳: انحصاري سیالي (Monopolistic Competition)

او بشپړ سيالي د بازار له هغه جوړښت څخه عبارت دی، چې پکې د کوچنيو کاروبارونو لوی شمېر شتون ولري او د عين توکي يا خدمت د پلور په برخه کې سيالي کوي، بازار ته د کاروبارونو په دخول او خروج آزادي شتون ولري او د توکو او خدمتونو د قېمت او تکنالوژي په اړه کامل معلومات شتون ولري.

د کامل سيالي بازار ځانګړتياوې (Perfect Competition Characteristics) عبارت دي له:

- په بازار کې د کاروبارونو لوی شمېر شتون.
- د ټولو عرضه کوونکو له لوري د عين توليد عرضه کول.
- بازار ته د کاروبارونو په دخول او خروج د ازادۍ شتون.
- د تکنالوژۍ او قېمت په اړه د مکمل معلوماتو شتون.
- عرضه کونکي يا تقاضا کونکي د توکي د قېمت په ټاکنه باندې کنترول نلري.

د بازار د جوړښت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو جوړښتونو ته هم رجوع وکړئ.

## Perfect Price Discrimination
### د قېمت کامل/پوره تبعيض

د تبعيضي قېمت هغه ډول، چې د توکو او خدمتونو پلورونکی پکې د توکو او خدمتونو په پلورلو باندې هغه لوړ قېمت ټاکي، چې پېرودونکي يې د تاديې اراده او وړتيا ولري، چې د قېمت لومړی درجه تبعيض (First Degree Price Discrimination) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د قېمت له دويم او دريم درجه تبعيض (First/Second Degree Price Discrimination) سره يې پرتله کړئ.

## Perfectlty Inelastic
### بشپړه/کامل غير ارتجاعي

د ارتجاعيت هغه ډول، چې د يو توکي د قېمت د تغير په پايله کې د نوموړي توکي په مقدار کې هېڅ تغير رامنځته نشي.

او یا هم دا، چې: د توکي مقدار د توکي د قېمت د تغیر په پایله کې هېڅ عکس العمل ونه لري.د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ارتجاعیت متبادل (ElasticityAlternative) ته هم رجوع وکړئ.

## Perfectly Elastic
## بشپړه/کامله ارتجاعي

د ارتجاعیت هغه ډول، چې د یو توکي په قېمت کې بې نهایت کم تغیر د نوموړي توکي په مقدار کې د بې نهایت ډېر تغیر لامل وګرزي. او ي هما په بل عبارت: د توکي مقدار د توکي د قېمت په وړاندې نهایت ډېر عکس العمل ښودونکی وي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ارتجاعیت متبادل (ElasticityAlternative) ته رجوع وکړئ.

## Personal Account
## د کس په نوم حساب

د مضاعفې محاسبې په اصطلاح کې: هغه حساب، چې د یو کس یا هم د یو شرکت په نوم جوړ شوي وي او د نوموړي کس یا شرکت ټولې راکړې ورکړې پکې ثبتېږي.

## Personal Consumption Expenditure
## شخصي استهلاکي لګښتونه

په نا خالص داخلي تولید باندې د کورني سکتور د هر غړي له لوري د ترسره شویو لګښتونو څخه عبارت دی.

## Personal Income
## شخصي عاید

په یو معلوم وخت کې (معمولاً یو کال کې) په یو هېواد کې د کورني سکتور د هر غړي له لوري ترلاسه شوي ټولیزو عوایدو څخه عبارت دی ( وروسته لدې، چې پر عوایدو مالیات او نور لګښتونه ترې وضع شی).ځینې وخت ورته د تصرف وړ عاید (Disposible Income) اصطلاح کارول کېږي.

## Personal Income Tax
پر شخصي عايد ماليه

د کورني سکتور د هر غړي پر عوايدو باندې د ماليې څخه عبارت دی معمولاً دا ډول ماليه د Regressive tax په شکل اخېستل کېږي، چې د دولتي عوايدو لويه برخه جوړوي.

## Per uniary exchange
پولي يا نقدي تبادله

د پيسو په مرسته د توکو او خدمتونو تبادلې ته پولي/نقدي تبادله ويل کېږي.

## Physical Assets
فزيکي شتمني

هغه شتمني، چې د لمس کېدو او ليدو وړ وي او د توکو او خدمتونو په توليد کې ترې ګټه اخېستل کېږي لکه جايداد، پيسې، ماشين آلات او داسې نورې شتمنۍ، چې د لمس کيدونکې شتمنۍ (tangibleassets) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Physiocrats
فزيوکراتان

د فرانسوي سياستمدارانو او فيلسوفانو هغه ډله، چې د ۱۸ پيړۍ په منځ کې يې شتون درلوده او عقيده يې درلوده، چې ځمکه د ثروت لويه منبع ده او لدې امله ځمکې ته په ډېر ارزښت قايل وو.

## Piece Work
ټيکه يا مقداري کار

د مزد هغه شکل، چې د توليد د مقدار له مخې تاديه کېږي. دا په دې مانا، چې: د هر واحد اضافي توليد په وړاندې ټاکلی مزد تاديه کېږي.

## Placement

### ځای په ځای کول

په ټاکلو دندو کې د کارګرې قوې ځای په ځای کولو ته (Placement) ویل کېږي. همدا راز په بازار موندنه کې د تولیداتو توزیع او په بازارونو کې د مشتریانو د لاسرسي لپاره د ځای په ځای کولو په مفهوم استعمالیږي.

## Planned Economy

### پلان شوی اقتصاد

هغه اقتصادي سیستم، چې په اقتصاد کې د څلورو بنسټیزو پوښتنو یعنې:

۱: څه شی تولید شي؟ (What to produce?)

۲: څنګه تولید شي؟ (How to produce?)

۳: د چا لپاره تولید شي؟ (For whom to produce?)

٤: په څومره اندازه تولید شي؟ (How much to produce?)

ته د ځواب ویلو په موخه د منابعو تخصیص ته په مرکزي پلان باندې اتکا لري.، چې د دستوري اقتصاد (Commond Economy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له پرانیستي اقتصاد (Open Economy) سره یې پرتله کړی.

## Planned Investment

### پلان شوې پانګونه

د پانګونې هغه لګښتونه، چې په اقتصادي شرایطو، د سود په نرخ، د تولید پر پلور او ګټې پورې تړلې وي. او یا هم د اقتصادي موخو لپاره د پانګې اچونې پلان شوې اندازې څخه عبارت دی، چې په راتلونکې کې د اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره باید صورت ونیسي؛ خو په حقیقت کې په هغه اندازه پانګونه یا صورت نیسي یا نه. له نه پلان شوې پانګونې (Unplanned Investment) سره یې پرتله کړئ.

## Plant

پلانټ يا کارځای

په معلوم ځای کې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د فزيکي شتمنيو له شتون څخه عبارت دی لکه ماشين آلات. د کارخانې (Factory) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Plastic Money

پلاستيکي پيسې

دا اصطلاح معمولاً د کرېډټ کارت لپاره کارول کېږي په ځانګړي ډول کله، چې کرېډټ کارت د توکو او خدمتونو د پېرودلو په موخه کارول کېږي. د پيسو د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پيسو (Money) ته رجوع وکړئ.

## Plutocracy

شتمن پالنه (حکومت)

په يوه ټولنه کې د ثروتمندې طبقې نفوذ او حاکميت څخه عبارت دی.

## Point Elasticity

واحدي ارتجاعيت

د ګراف پر مخ په يوه ځانګړې نقطه کې په يو متغير کې نسبي عکس العمل، چې په يو بل متغيره کې د ډېر کم نسبي تغير د رامنځته کېدو له امله رامنځته کېږي، چې معمولاً د منحني ګانو د رسمولو او څېړنې په وخت کې ډېر ليدل کېږي.

## Policy

سياست/پاليسي

د دولت هغه کړنې، چې د اقتصادي فعاليتونو د متاثره کولو او د اقتصاد د يو يا څو موخو د تعقيب په موخه ترسره کېږي، چې د اقتصادي سياست يا هم د دولتي سياست اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د پاليسي څلور عام ډولونه سياستونه عبارت دي له:

- پولي سياست (Monetary policy)
- مالي سياست (Fiscal policy)
- اصلاحي يا سموونکي سياست/پاليسي (Regulatory policy)
- عدلي سياست/پاليسي (Judicial policy).

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Policy Lag

### د پاليسۍ زماني موده

هغه زماني واټن، چې د يوې ستونزې د حل لپاره يوې پاليسی ته پکار وي څو نومړې پاليسي په پوره ډول ستونزه تر خپل اغيز لاندې راولي د لا ډېرو مالوماتو لپاره داخلي/خارجې مودې (Inside/outside lag) ته هم رجوع وکړی.

## Political Business Cycle

### د کاروبار سياسي دوران

هغه آند، چې وايي: په اقتصاد کې د کاروبار دوران يا دايره د دولت د رهبرانو يوه انګيزه او موخه ده څوک چې اقتصاد د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په دې توګه اداره کوي. يعنې دا، چې رهبران په ټاکنو کې د بريا په موخه اقتصاد ته د ډېرې ودې ورکولو کوښښ کوي او په دې توګه د کاروباري دوران يا دايرې ته د اقتصادي رونق په لور حرکت ورکوي څو خلک په دې قانع کړي، چې نومړي کس ته په ټاکنو کې رايه ورکړي خو په ټاکنو کې د برياليتوب څخه وروسته د کاروباري دوران يا دايرې مرحلې ته ډېره توجه نه کوي.

## Political Economics

### سياسي اقتصاد

د اقتصاد هغه برخه چې د يو اقتصادي يا کاروباري سازمان کړنې تر سياسي او ټولنيز نظره بررسي کوي. او د اقتصادي او سياسي پديدو ترمنځ اړيکې روښانه کوي.

## Political Forces
## سیاسي ځواکونه

د بازار په چاپېریال کې هغه قوتونه، چې د دولت له لوري رامنځته کېږي څو د کاروباري سازمان پرېکړې متاثره کړي. د بېلګې په توګه: د دولت له لوري د یو داسې قانون تصویبول، چې له مخې یې په هېواد کې د تېلو د استخراج کار په فوري ډول بندیږي نو په دې ډول هغه شرکتونه، چې په هېواد کې د تېلو د استخراج په برخه کې فعالیت لري متاثره کوي. یعنې دا چې دولت د خپل سیاسي ځواک څخه کار اخلي.

## Poll Tax
## سرانه مالیه

هغه مالیه چې د ټولنې د هر وګړي نه د هغوی د عواید په پام کې نېولو څخه پرته په عین اندازه اخېستل کېږي. چې د (headtax) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Pollution
## ککړتیا (د چاپېریال )

د تولیدي پروسې یا د تولید د استعمال او استهلاک په پایله کې هغه ضایعات، چې طبیعي چاپېریال ته انتقال مومي او په پایله کې یې د چاپېریال د آلودګي او کثافت لامل ګرزي لکه د تولید بارجامه، دود او داسې نور ضایعات.

## Polymetalism
## ګڼ فلزیتوب

هغه نظري پولي سېستم، چې له مخې یې له دوه څخه ډېرو فلزاتو څخه د وزن له مخې په یو ټاکلي نسبت د ملي پیسو ضرب وهل ترسره کېږي.

## Portfolio Investment

پورتفوليو پانګونه

د پانګې اچونې د بيلا بيلو ډولونو مجموعه ده، چې کاروبار يې د بالقوه مالي خطر د جبران په موخه ترسره کوي.

دا په دې مانا چې: که چیرې یوه پانګونه تاوان کوي نو جبران يې په بله پانګونه کې د ګټې څخه متصور وي دا ډول پانګونه معمولاً په مالي بازارونو کې ترسره کېږي، چې یو پانګوال یا د پانګونې اداري د بیلابیلو ونډو او بانډونو په اخیستلو لاس پورې کوي څو له دې لارې د بالقوه زیان مخنیوی وکړی شي. نو پورتفولیو پانګونه د نورو هېوادونو یا نورو کمپنیو په ونډو کې په داسې ډول پانګونه ده چې د یوې څخه زیات ډولونه مالي شتمنی یا ونډې واخیستل شي په دې موخه چې د احتمالي تاوان کچه راکمه یا هم جبران شي.

## Positive Economics

مثبت/اثباتي اقتصاد

د اقتصاد د علم هغه برخه، چې د اقتصاد د پرمخ بېولو ثابتي علمي لارې په ګوته کوي دا په دې مانا، چې: د اقتصادي پدېدو لپاره د عملي میتودونو څخه لکه د ساینس په ډول ګټه اخېستل کېږي او په ریاضیکي فورمول ښودل کیدلی شي، چې دغه قوانین او فورمولونه هر وخت او هر ځای ثابت وي. د بېلګې په ډول: د مالیې لوړېدل د قیمت د لوړېدو لامل ګرځي، چې دا قانون هروخت او هرځای صدق کوي. له ذاتي/نظریاتي اقتصاد (Normative Economics) سره يې پرتله کړئ.

## Positive Income Elasticity of Demand

د تقاضا د عايد مثبت ارتجاعيت

نورمال توکي **(**Normal goods**)** ته رجوع وکړئ.

## Positive Relation

## مثبته اړیکه

هغه ریاضیکي اقتصادي اړیکه چې وايي:، چې که په یو تولید کې دوه متغیره په داسې ډول سره تغیر وکړي، چې په یو متغیره کې ډېروالی په بل متغیره کې د ډېروالي او کموالی یې د کموالي لامل ګرځي؛ نو دا ډول اړیکې ته مثبت تړاو ویل کېږي، چې ښه بېلګه یې د عرضې منحنې دی، چې د توکو او خدمتونو په قېمت کې لوړوالي د عرضې د ډېروالي او کموالی یې د کموالي سره مل وي. ځینې وخت ورته د مستقیمې اړیکې (Direct Relation) اصطلاح هم کارول کېږي. له معکوسې اړیکې (Inverse Relation) او غیر مسقیمې اړیکې (Indirect Relation) سره یې پرتله کړئ.

## Potential GDP

## بالقوه نا خالص داخلي تولید

د یو کال په اوږدو کې د کامل استخدام په حالت کې په اقتصاد کې د تولید شویو نهايي توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی.

او یا هم دا چې: د کامل استخدام په حالت کې د نا خالص داخلي تولید څخه عبارت دی.

دا په دې مانا، چې: که چېرې اقتصاد د کامل استخدام په حالت کې قرار ولري؛ نو واقعي نا خالص داخلي تولید د بالقوه نا خالص داخلي تولید سره مساوي وي.

## Poverty

## فقر/بیوزلي

هغه حالت، چې پکې د یو کس عاید د نوموړي کس د ژوندانه د بنسټیزو اړتیاو (غذايي مواد، کالي، او کور) د رفع کولو لپاره بسنه نه کوي. غربت د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د هېوادونو په اقتصادي، او سیاسي حالت پورې تړلی دی له همدې امله په دوه ډوله تعریفیدلی شي چې عبارت دي له:

- مطلق فقر (Absolute poverty)
- نسبي فقر (Relative poverty)

نسبي فقر په بيلا بيلو هېوادونو کې د ټولنيزو شرايطو او د عوايدو د ويش پورې تړاو پيدا کوي. په ۱۹۹۰ کال کې مطلق فقر د نړيوال بانک له خوا په ورځ کې د يو ډالر د عايد په اندازه تعريف شوی او نړي په هر هېواد کې، چې څوک يو ډالر يا کم ورځنی عايد ولري په فقر کې ژوند کوي. چې دا معيار د وخت په تېرېدو سره تغير کوي.

## Poverty Line
## د فقر کرښه

د کورنيو د اړتيا وړ عوايدو له رسمي او ټاکلې اندازه ګيري څخه عبارت دی ( مثلاً د ورځې يو امريکايي ډالر عايد)، چې د کورنيو په اندازه، موقعيت او داسې نورو ځانګړتياو پورې اړه لري. او يا هم هغه کرښه، چې له مخې يې په هېواد کې د غربت اندازه معلومېږي، چې د يو هېواد د وګړو شومره برخه (د سلنې له مخې) په غربت کې ژوند کوي.

د بېلګې په توګه: په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې د افغانستان د ټول نفوس ٪۵۳ وګړو په غربت کې ژوند کاوه . او د ۱۳۹٤ کال د عقرب د مياشي په ۱۷ تاريخ د نړېوال بانک او د افغانستان د اقتصاد وزارت له د خپور شوي راپور په بنسټ د اقغانتسان ٪۳٦ وګړي په غربت کې ژوند کوي. چې د غربت اندازه ګېري په دوه ډوله سره ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

- د مطلق غربت سطحه (Absolute Poverty Level)
- د نسبي غربت سطحه (Relative poverty level)

د غربت په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Poverty Rate
## د فقر کچه

د يو هېواد د نفوسو هغه نسبت، چې د غربت کرښې څخه لاندې ژوند کوي. د بېلګې په توګه: که د افغانستان ټول نفوس ۳۰ ميليونه وګړي فرض کړو او ۱۰ ميليونه يې د غربت کرښې څخه لاندې ژوند ولري نو په افغانستان کې د غربت کچه د ۳۳,۳۳ ٪ څخه عبارت دی.

## Precautionary Motive

## احتیاطي هڅوونکی (فکتور)

د کینز په نظر: د ځینو پېښو یا حالاتو سره د مخ کېدو لپاره د پیسو یوه برخه باید په نقده ډول وساتل شي څو د اړتیا په وخت کې ترې ګټه پورته شي. او دا هغه محرک دلیل ده، چې له مخې یې خلک پیسې په نقده ډول له ځانه سره ساتي.

## Preclusive Buying

## مخنیوونکې پیرودنه

د اقتصادي جګړې پر مهال په بازار کې یو ستراتیژیک تاکتیک ده. په دې موخه د توکو او خدمتونو پېرودلو ته وایي څو سیال یې له ګټې اخېستنې څخه محروم شي.

## Precondition for Take-off

## د خیزش یا اوچتیدو لپاره مخکینی شرط

د ډبلیو ډبلیو راستو د نظریې له مخې دا د اقتصادي ودې او نمو دویمه مرحله ده، چې په دې مرحله کې یوه عنعنوي ټولنه د عصري علومو څخه ګټې اخېستنې ته آماده کېږي او بالاخره په ټولنه کې ځینې ټولنیز، ذهني او اقتصادي تحولات رامنځته او ټولنه د نوو افکارو او روشونو قبلولو ته آماده کېږي، چې دلته د انتقال دورې یا د ارتقاء نه مخکې دورې شرایطو په نوم ژباړل شوې ده.

د اقتصادي ودې څلور نورې مرحلې عبارت دي له:

۱: عنعنوي ټولنه (Traditional society)

۳: د ټوپ مرحله ( Take-off)

٤: د پوخوالي په لور حرکت (Drive to maturity)

٥: د لوړې کتلې د تولید دوره (Age of high mass production)

د ډبلیو ډبلیو روستو د نظر له مخې د اقتصادي ودې او نمو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو مرحلو ته هم رجوع وکړئ.

## Predatory Pricing

### حاکمانه/امرانه قیمت ایښودنه

په بازار کې هغه حالت، چې پکې یو کاروبار د توکو د قیمت ټاکنې په برخه کې تقریباً د کنټرول درلودونکی وي د توکو قیمتونه حتی د توکو د تمام شد متوسط تولیز لګښت څخه راکموي څو په بازار کې خپل سیالان له ماتې سره مخ کړي او د خپلو سیالانو د ماتولو څخه وروسته په بازار کې د توکي قیمت لوړوي. چې دا ډول عمل معمولاً د اولیګوپولي کاروبارونو په وسیله ترسره کېږي.

## Preference

### ترجیحات یا تمایلات

په اقتصاد کې د بیلا بیلو علاقمندیو او ترجیحاتو په مفهوم ده؛ خو په ځانګړي ډول د تقاضا د پنځو ټاکونکو عواملو **(**Demand determinants**)** څخه یو دی، چې د تقاضا د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت فرض کېږي او په ترجیح کې تغیر کې د تقاضا د منحني د انتقال لامل ګرزي. او یا په هم په بل عبارت: ځانګړي تولید ته د هغه د ځانګړتیاو له مخې پر نورو تولیداتو ترجیح ورکول. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د تقاضا ټاکونکو عواملو (Demand determinants) ته هم رجوع وکړئ.

## Preferred Stock

### امتیازي ونډه

امتیازي ونډې په سهامي شرکت کې د ځانګړو حقوقو سره ونډو ته وایي، چې د شرکت په شتمنیو د امتیازي حق قانوني دعوی لرونکې وي. چې امتیازي ونډه د سهامي شرکت**(**Corporation**)** په شتمنیو د لومړنۍ دعوی حق لري. دا په دې مانا چې: کله، چې ګټه توزیع کېږي نو لومړی امتیازي ونډه والو ته او بیا عادي ونډه والو ته ورکول کېږي. له عادي ونډې (Common stock) سره یې پرتله کړئ.

## Preferential Duty

### توپیر/امتبازي محصول

توپیري محصول **(**Differential duty**)** ته رجوع وکړئ.

## Premium

پریمیم

په مالي بازار کې کله، چې یوه مالي شتمني لکه بانډ یا ونډه له خپل اصلي اسمي ارزښت څخه په لوړ قیمت خرڅه شي. همدا راز په بازار موندنه کې دغه اصطلاح د تشهیر او تشویق په خاطر هغه تولیداتو ته ویل کېږي، چې د نورو تولیداتو د پلور سره د جایزې په ډول ورکول کېږي.

## Premium Pay

پریمیم تادیات

هغه مبلغ ته وایي، چې د غیر عادي کارونو د ترسره کولو په وړاندې د اصلي مزد علاوه د جایزې په ډول تادیه کېږي لکه د رخصتیو په ورځو کې کار کولو په وړاندې یا د خطر څخه ډک کار د ترسره کولو په وړاندې جایزه لرونکی مزد.

## Prepaid Expenses

پیش پرداخته لګښتونه

په محاسبه کې: هغه تادیه شویو لګښتونو ته وایي، چې د هغه توکو یا خدمتونو په وړاندې، چې لا ترلاسه شوي یا اجرا شوي نه وي ترسره کېږي او دا ډول لګښتونه تر هغه شتمني ګڼل کېږي، چې توکي یا خدمتونه نه وي ترلاسه شوي؛ خو کله، چې توکي یا خدمتونه ترلاسه شي نو بیا د لګښتونو په حساب کې ډېبیټ کېږي.

## Pre payment

پیش پرداخت

هغه مبلغ چې یو کس یې د توکو یا خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې څخه وړاندې پرداخت کوي.

## Present Value

اوسنی/فعلي ارزښت

د يوې شتمنۍ يا پانګې اوسنی ارزښت يا په حاضر وخت کې د پيسو په بڼه په راتلونکی کی هغه مبلغ ده، چې د سود اندازه (يا نور زياتيدونکی يا کميدونکی فکتورونه) هم ورسره يو ځای شوي وي په راتلونکي وخت کې د يو معلوم مبلغ سره مساوي ارزښت ولري.

د بېلګې په توګه: که چېرې د ۱۰۰ افغانيو سره ۱۰٪ د سود نرخ هم جمع شي؛ نو په اوسني وخت کې د ۱۱۰ افغانۍ معادل ارزښت لري؛ خو برعکس په راتلونکي وخت کې ۱۱۰ افغانۍ، چې ۱۰٪ د ربحې کچه هم ورسره جمع شوی وي په اوسني وخت کې د ۱۰۰ افغانيو ارزښت لري. چې په اوسني يا جاري ارزښت باندې معمولاً په مالي بازار کې د مالي شتمنيو د پېر او پلور په برخه کې ډېر بحث کېږي.

د يادولو وړ ده چی په پورتنی مثال کی د سود د نرخ پر ځای د تخفيف نرخ او د انفلاسيون نرخ هم د محاسبې وړ دی، په دی مانا چی اوسنی ارزښت داسی محاسبه کيږی چی راتلونکی زياتيدونکی يا کميدونکی ارزښتونه ټول په پام کی نيول شوی وی.

## Price

قېمت يا بيه

د پيسو په مرسته د يو توکي او يا خدمت ارزښت معلومولو ته قېمت ويل کېږي. يا په بله اصطلاح: د يوه توکي يا خدمت د عرضې او تقاضا ترمنځ د تعادل په نقطه کې د توکو يا خدمتونو د ارښت حد ته قيمت ويل کېږي.

## Price Ceiling

لوړ مجوز قېمت

د يو توکي او يا خدمت د پلورلو په وړاندې تر ټولو لوړ قانوني ټاکل شوي قېمت څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: دولت د ژمي په موسم کې په کابل کې د يو کېلو ګاز د پلور تر ټولو لوړ قېمت ۵۰ افغانۍ ټاکي او په دې ډول سره د ګازو پلورونکي نشي کولای، چې يو کيلو ګاز له ۵۰ افغانيو څخه لوړ وپلوري، چې دا ډول قېمت ټاکل معمولاً د هغه توکو د پلور په وړاندې ټاکل کېږي، چې په چټکۍ سره يې قېمت د لوړېدو په حال کې وي. له ټيټ مجوز قېمت **(Price Floor)** سره يې پرتله کړئ.

## Price cost margin

## د قېمت او د تمام شد لګښت حد/حاشیه

د لرنر شاخص (Lerner Index) ته رجوع وکړئ.

## Price Control

## د قېمت کنترول

په بازار کې د دولت مداخله، چې د توکو او خدمتونو د قېمت په تغیر باندې قانوني محدودیت وضع کوي چې دا محدودیت یا اعظمی یا اصغري حد لري. او یا هم دا، چې: په بازار کې د توکو او خدمتونو په قیمتونو باندې د دولت د مستقیمې مداخلې په وسیله د قانوني قېمت وضع کول. دا ډول قېمتونه په دوه ډوله وضع کېږي چې عبارت دي له:

۱: لوړ مجوز قېمت ل(PriceCeiling)

۲: ټیټ مجوز قېمت (PriceFloor)

د قېمتونو د کنترول په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره نوموړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Price Discrimination

## د قېمت توپېر یا تبعیض

د عین تولید په پلور باندې د مختلفو کتې ګوریو پېرودونکو په وړاندې د مختلفو قیمتونو وضع کولو ته د قېمت تبعیض ویل کېږي، چې معمولاً د هغه کاروبارونو یا عرضه کوونکو له لوري رامنځته کېږي، چې په بازار کې د توکي په قېمت باندې تر ډېره حده کنترول ولري لکه انحصار. د بېلګې په توکه: عین توکي پر یو کس۱۰۰ افغانۍ په بل ۱۰۵ افغانۍ او په دریم کس په ۱۱۰ افغانۍ باندې پلورل. د قېمت توپیر/تبعیض معمولاً په دریو ډولونو سره ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

۱: د قېمت لومړۍ درجه تبعیض/توپیر (First degree price discrimination)

۲: د قېمت دویمه درجه تبعیض/توپیر (Second degree price discrimination)

۳: د قېمت دریمه درجه تبعیض/توپیر (Third degree price discrimination)

او د قیمت تبعیض معمولاً لاندنیو موخو د ترلاسه کولو په خاطر ترسره کېږي.

- د ګټې لوړول.
- په بازار کې د لا ډېر کنترول ترلاسه کول.
- په بازار کې د سیالانو ماتول.

د قیمت د تبعیض/توپیر په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره پورتنیو ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Price Elasticity of Demand
## د تقاضا د قیمت ارتجاعیت

په قیمت کې د نسبي تغیر په پایله کې د تقاضا په مقدار کې نسبي عکس العمل ته د تقاضا د قیمت ارتجاعیت ویل کېږي. او یا هم دا چې: د تقاضا په اندازه کې د نسبي تغیر سلنه، چې په قیمت کې د نسبي تغیر د سلنې له امله رامنځته کېږی. د عرضې د قیمت ارتجاعیت Price elasticity of supply سره یې پرتله کړئ.

## Price Elasticity of Supply
## د عرضې د قیمت ارتجاعیت

د عرضې په مقدار کې نسبي تغیر، چې په قیمت کې د نسبي تغیر په پایله کې رامنځته کېږي.او یا هم دا چې: د عرضې په اندازه کې د نسبي تغیر سلنه، چې د عرضې په قیمت کې د نسبي تغیر د سلنې له امله رامنځته کېږي. د تقاضا د قیمت ارتجاعیت **(**Priceelasticityofdemand**)** سره یې پرتله کړئ.

## Price Fixing
## د قیمت ثابت ټاکنه

د عین توکي یا یو خدمت د دوه او یا ډېرو عرضه کوونکو ترمنځ له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې له مخې یې د توکي یا خدمت په وړاندې یو شان قیمت وضع کوي څو د یو بل پر وړاندې سیالي له منځه یوسي لکه کارتل (Cartel). د لا ډېرو معلوماتو لپاره (OPEC) ته رجوع وکړئ.

## Price Flexibility

### د قېمت انعطاف پذيري

د قېمت د بدلون د وړتيا په مانا ده. د دې مفهوم له مخې په اوړده موده کې قيمتونه د بازار د مازاد يا کسر دحالت سره ځان عياروي، چې دا د بازار د اوږدې مودې تحليل يو مهم بحث دی او د قيمت دغه ډول په تيوريکي مبحث کې په اوږده موده کې دا ډاډمنوي چې د ټوليز توليد مقدار د کامل استخدام سره مساوي دی.

## Price Floor

### د حد اقل قېمت (حداقل مجوز قېمت)

د يو توکي يا خدمت د پلور پر وړاندې حد اقل قانوني ټاکل شوي قېمت څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: دولت د دې لپاره، څو کروندګر له تاوان څخه وساتي د في من غنمو حد اقل قانوني قېمت ۸۰ افغانۍ ټاکي. تر ټولو لوړ مجوړ قېت (Price Ceiling) سره يې پرتله کړئ.

## Price Index

### د قېمت شاخص

د قېمت شاخص څخه په اقتصاد کې په دې موخه ګټه اخېستل کېږي، چې: په سږني کال کې د تېر کال يا د نورو کلونو په پرتله يو ګروپ توکو يا حدمتونو قيمتونو په منځنۍ کچه کې څومره تغير رامنځته شوی دی. د قېمت شاخص په دوه طريقو سره اندازه کېږي، چې عبارت دي له:

۱: د مستهلکينو د قېمت شاخص (Consumer Price Index)

۲: د نا خالص داخلي توليد د قېمت ديفليټور (GDP price deflator)

د لا ډېرو معلوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Price Leadership

### د قېمت رهبري

په عين بازار کې د يو شمېر اوليګوپولي کاروبارونو او يا توليدونکيو له لوري استعماليدونکی ميتود (، چې معمولاً د قراداد له مخې ترسره کېږي)، چې له مخې يې يو کاروبار يا توليدونکی د توکي

په قېمت کې تغیر راولي. او یا هم دا چې: یو کاروبار د توکي قېمت ټاکي او داسې نور کاروبارونه او یا تولیدونکي همدغه قېمت تعقیبوي.

## Price Level
## د قېمت سطحه (عمومي)

په اقتصاد کې د تولید شویو توکو او خدمتونو د قیمتونو له اوسط څخه عبارت دی، چې د مستهلکینو د قېمت شاخص (CPI) او د نا خالص داخلي تولید قېمت دیفلیټور GDP Price Deplator په وسیله اندازه کېږي.

## Price Maker
## قېمت ټاکونکی

هغه عرضه کونکی یا تقاضا کونکی، چې په بازار کې د یو توکي د قېمت تر اغیز راوستلو باندې په کافي اندازه کنترول ولري. او یا هم دا چې: هغه عرضه کونکی، چې په بازار کې د یو توکي قېمت تر ډېره حده په خپله ګټه ټاکلی شي. چې ښه بېلګه یې انحصار(Monopoly) دی. د قېمت تعقیبونکي (Price taker) سره یې پرتله کړئ.

## Price Mechanism
## د قېمت میکانیزم

په بازار کې د توکو او خدمتونو د قېمت ټاکلو پروسې ته د قېمت میکانیزم یا جوړښت ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: په آزاد بازار کې د عرضې او تقاضا په وسیله او د مرکزي پلان په اقتصاد کې د دولت له لوري د توکو او خدمتونو قېمت ټاکل کېږي.

## Price Regulation
## د قېمت تنظیم

په بازار کې د توکو او خدمتونو د قېمت په ټاکنه باندې د دولت مسقیم کنترول او تنظیم څخه عبارت دی، چې معمولاً د هغه عرضه کوونکو په وړاندې ترسره کېږي، چې په بازار کې د توکو په قېمت ټاکنه تر ډېره حده کنترول ولري.

## Price Rigidity

د قېمت ټینګښت (انعطاف ناپذیري)

د توکو او یا خدمتونو قېمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر په وړاندې په ډېر ورو ډول سره تنظیمېږي.

او یا هم دا چې: هغه قېمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر څخه نه متاثره کېږي یا ډېر کم متاثره کېږي،دغه ډول قیمت زیاتره د عواملو په بازارکې او په منځنی کچه د تولیداتو په بازارکې او په کمه کچه مالي بازار کې لیدل کېږي. چې د انعطاف پذیره قېمتونو (Rigid/sticky prices) اصطلاحات هم ورته کارول کېږي.

## Price Spread

د قېمت توپېر(له لګښت څخه)

د توکي د تولید د ټولیز لګښت او د پلور د قېمت ترمنځ توپېر ته (Pricespread) وايي، چې د (mark-up) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Price Stability

د قېمت ثبات

هغه حالت، چې په اقتصاد کې د قیمتونو منځنۍ کچه تغیر نه کوي یا دا، چې ډېر کم تغیر کوي، چې دا د کلي اقتصاد د دریو موخو څخه یوه موخه ده د کلي اقتصاد دوه نورې موخې عبارت دي لهږ:

۱: کامل استخدام **(Full Employment)**

۲: اقتصادي وده **(Economic Growth)**

چې معمولاً د انفلاسیون د کچې په مرسته سنجول کېږي، چې د قیمتونو په منځنۍ کچه کې د تیر کال یا د نورو کلونو په پرتله څومره تغیر رامنځته شوی دی.

## Price Taker

قېمت اخیستونکی (تعقیبوونکی)

هر هغه عرضه کونکی یا تقاضا کونکی، چې په بازار کې د توکو او یا خدمتونو د قېمت ټاکنې او کنترول په برخه کې ډېر کم ځواک ولري او اړ دی، چې په بازار کې اوسنی قېمت ومني او تعقیب یې کړي، چې معمولاً د کاملې سیالي په بازار کې رامنځته کېږي. له قېمت ټاکونکي (Price maker) سره یې پرتله کړئ.

## Pricing Out of Market

له بازاره وتلی قېمت اېښودنه

یوه عامیانه اصطلاح ده، چې موخه ترې هغه قېمت دی، چې په نورمال بازار یا د کاملې سیالۍ په بازار کې ورياندې توکي نشي پلورل کېدای لکه د انحصار په حالت کې د توکي یا خدمت قېمت.

## Primary Data

لومړنی ډاټا (معلومات)

هغه مالومات چې په مستقیم ډول د یو سازمان له لوري راټول شوي وي او د زیاتره مالوماتو لپاره لا پروسیس شوي نه وي. له دویمي ډاټا (Secondary data) سره یې پرتله کړئ.

## Primary Industry

لومړنی صنعت

دا اصطلاح د هغو صنعتونو لپاره کارول کېږي چې طبیعي منابع د خپلو اولیه موادو لپاره تر ګټې اخېستنې لاندې نیسي لکه کرنه یا هم ماهي نېول.

## Prime Rate

د ربحې پایه (ترټولو امتیازي نرخ)

د ربحې کچه، چې بانکونه یې د خپلو ډېرو باوري مشتریانو په وړاندې وضع کوي.

د بېلګې په توګه: د یو بانک څخه د پور اخېستلو د ربحې کلنی کچه ۱۵٪ دی؛ خو نوموړی بانک خپل یو مشتري، چې د بانک د باور وړ کس وي د ربحې دا اندازه د ۱۵٪ څخه ۵٫۱٤٪ ته ټېټوي.

## Principle
## اصل

په عام ډول د ډېرې مهمې برخې يا اصل په مانا ده؛ خو په مالي برخه کې د يوې شتمنۍ هغه بنسټيز ارزښت (کله اسمي او کله له اسمي ارزښت څخه متفاوت )ده، چې له مخې يې ربح تاديه کېږي.

همدا راز اصل (Principle) د طبيعيت هغه بنيادي قانون ته وايي، چې په عمومي توګه منل شوی وي. او يا دا، چې: هغه اساسات، چې د علمي ميتودونو په وسيله ازمويل شوي او منل شوي وي. د بېلګې په توګه: دا د طبيعيت يو بنيادي اصل دی، چې د کور په جوړولو کې د خاورې، لرګي، اوسپنې، سيمنټ او داسې نورو وسايلو څخه ګټه اخېستل کېږي. خو په علمي بحث کې دا يو منل شوی اساس دی، چې خلک غواړي، چې د امکان ترحده په کم لګښت سره د ژوند د اړتياو ډېره برخه رفع کړي.

## Privat Edebt
## شخصي پور

په يو هېواد کې په حقوقي او حقيقي وګړو باندې د ټوليزو پورونو څخه عبارت دی. د عامه پورونو (Public Debt) سره يې پرتله کړئ.

## Private Enterprise
## خصوصي تشبث

د وګړو يا ادارو لخوا هغه هڅې چې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره ترسره کيږي او د کاروبار خطر په غاړه اخلي. دا معمولاً په هغه اقتصادي نظام کې ترسره کېږي چې په کې وګړي کولای شي چې په کاروبارونو خصوصي مالکيت ولري او د خپلې ګټې د ترلاسه کولو په لټه کې اوسي او له خپلو شتمنيو څخه ګټه پورته کړي.

## Private Goods
## خصوصي توکي

ټول هغه توکي خصوصي توکي ګڼل کېږي چې ملکيت يې د خصوصي سکتور په واک کې وي او دوه عمده ځانګړتياوې لري، چې له مخې يې له عامه توکو سره بيليدای شي :

- د ممانعت وړتيا **(**Excludibility**)**: خصوصي شيانو د لګښت څخه دهغو خلکو محروميت ممکن وي، چې په وړاندې يې قيمت تاديه نه کړي
- سياليز استهلاک **(**Rival Consumption**)**: د استهلاک لپاره يې سيالي صورت نيسي او په همزمان ډول يو خصوصي توکی د څو مستهلکينو له خوا نشي مصرفيدلی.

## Private Property
## خصوصي ملکيت

هغه بنيادي اقتصادي اصل، چې د توليد منابع يا ملکيتونه د خصوصي سکتور (کورنۍ او کاروبارونو) تر ملکيت لاندې راځي او د استعمال او کنترول حق يې ولري. د بېلګې په توګه: په اسلامي اقتصادي نظام او پانګوال اقتصادي نظام کې، چې د ټولنې وګړې د خصوصي ملکيت د ترلاسه کولو او ګټه اخېستلو حق لري.

## Private Sector
## خصوصي سکتور

په اقتصاد کې ټول هغه غير دولتي کړنې چې د توکو او خدمتونو د توليد او پلور لپاره ترسره کيږي او د توليد منابع پرته له دولته د همدې خصوصي وګړو په اختيار کې لري او د استعمال حق يې ولري د خصوصي سکتور څخه عبارت دی. له عامه سکتور (Public sector) سره يې پرتله کړئ.

## Privatization
## خصوصي کيدنه

هغه پروسه، چې پکې د عامه يا دولتي سکتور ملکيت د خصوصي سکتور په اختيار کې راځي. او يا هم دا چې: خصوصي سکتور ته د عامه سکتور د توليدي وسايلو، جايدادونو او داسې نورو شتمنيو

د پلورلو او یا تبدیلیدو پروسې ته خصوصي کیدنه ویل کېږي. له ملي کولو (Nationalization) سره يې پرتله کړئ.

## Probability

احتمال

د يوې متوقعه پېښې د وقوع يا د نه وقوع د احتمال يا امکان څخه د اطمينان اندازې ته وايي، چې معمولاً د پخوانيو مالوماتو په شتون باندې اتکا لري او د احصائيوي ميتودونو له لارې د سنجش وړ دی.

## Producer

توليدونکی

هغه کس يا کاروبار چې د ټولنې د وګړو د اړتيا او غوښتنو د رفع کولو لپاره توکي او يا هم خدمتونه توليدوي.

## Producer Price

د توليدوونکي قېمت

د يو توکي هغه قېمت، چې د توليدونکي له لوري په عمده پلورونکي يا پرچون پلورونکي باندې وضع کېږي. چې د (Factory price) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Producer Surplus

د توليدوونکي مازاد

د ګټورتوب يا مازاد هغه اندازه، چې توليدونکي يې د توکو او خدمتونو د پلور له بازار څخه ترلاسه کوي او د فرصتي لګښت يا د تمام شد فرصتي لګښت څخه ډېره وي. يا په بل عبارت: د يو توکي د تمام شد د لګښت او د قېمت ترمنځ توپير ته د توليدونکي مازاد ويل کېږي. چې معمولاً د بازار په معياري ډياګرام کې د قېمت د کرښې څخه لاندې او د عرضې د کرښې څخه پورته هندسي ساحې ارزښت سره برابر ده.

## Product

## تولید

د تولیدي د پروسې حاصل ته تولید ویل کېږي یا دا، چې: د تولید د پروسې په پایله کې تولید شوي توکي یا خدمت ته تولید ویل کېږي. تولید په دوه برخوویشل کېږي چې عبارت دي له:

۱: توکي **(**Goods**)**

۲: خدمتونه **(**Services**)**

د لا ډېرو مالوماتو لپاره نومړو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Product Differntiation

## د تولید تنوع/تفکیک

له یو تولید یا توکی توپیر کول له بل مشابه توکی څخه څو اخیستونکي وهڅول شي د هر یوه لپاره بیل بیل قیمتونه تادیه کړي.په دې کې د شرکت د خپلو تولیداتو توپیر کول له سیالو سره او هم د یوه شرکت د خپلو تولیداتو ترمنځ د توپیر رامنځته کول شاملیږي.ممکن دغه توپیر د تولید په فزیکي بڼه کې، یا اړونده خدمتونو او یا هم په کومه بله بڼه رامنځته شي.

## Product Life Cycle

## د تولید د ژوند دوران

د یو توکي او یا خدمت ژوند دوران (په بازار کې د پاتی کیدلو موده) څلور مرحلې په برکې نیسي، چې عبارت دي له:

- د پېژندنې مرحله **(**Introduction stage**)**.
- د ودې مرحله **(**Growth Stage**)**.
- د پخوالي یا بلوغ مرحله **(**Maturity Stage**)**.
- د نزول مرحله **(**Decline Stage**)**.

چې د تولید هره مرحله د خپلو ځانګړتیاو له مخې پیژندل کېږي.

د بېلګې په توګه: د تولید د ژوند دوران لومړنی مرحله، چې معمولاً پکې ډېر لګښت او تحقیق ته اړتیا لیدل کېږي او تولیدونکي د دې لپاره، چې تولید یې د مستهلکینو رضایت حاصل کړي ډېر لګښت ترسره کوي، په دې مرحله کې عموماً ګټه یا هم شتون نلري یا ډېره کمه وي او د تولید د

ناکامېدو وېره پکې ډېره وي. د تولید د ژوند دوران (دایرې) په دویمه مرحله کې د تولید د پلور په اندازه کې ډېروالی راځي، ګټه لوړېږي او بازار ته د سیالو تولیدوونکیو په داخلیدو کې هم ډېروالی راځي. د تولید د ژوند په دریمه مرحله کې پلور او ګټه په لوړه اندازه کې قرار لري او د دې مرحلې څخه وروسته د تولید رکود رامنځته کېږي. او د تولید د ژوند څلورمه مرحله، چې په پلور او ګټه کې قوي کموالی رامنځته کېږی او دا مرحله ځینې وخت لږ وخت او ځینې وخت ډېر وخت حتی کلونه کلونه په برکې نیسي او ځینې وخت کیدای شي، چې نوموړی تولید د تل لپاره له ماتي سره مخ شي.

## Product Market
د تولید بازار

هغه بازار، چې د نهایي توکو او خدمتونو تبادله پکې ترسره کېږي او د نا خالص داخلي تولید په اندازه ګېري کې ترېنه ګټه اخېستل کېږي د تولید په بازار کې کورنۍ سکتور استهلاکي لګښتونه، کاروباري سکتور د سرمایوي توکو پیرودنه، دولتي یا عامه سکتور او بهرنیان پکې د توکو او خدمتونو پیرودنه ترسره کوي یعنې دا، چې د تولید بازار د تقاضا په اړخ کې: استهلاکي لګښتونه، د پانګونې لګښتونه، دولتي لګښتونه او خالص صادرات په بر کې نیسي او د عرضې په اړخ کې:د کاروبارونو د تولید برخه شامله ده.

## Product Mix
د محصولاتو ترکیب

د هغو توکو یا خدمتونو مجموعه چې یو تولیدونکی یې د پلور په موخه عرضه کوي.

## Production
تولید (پروسه )

د پیرودونکو او مستهلکینو د مستقیمو او غیر مستقیمو اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو د رامځته کولو پروسې څخه عبارت دی.

## Production Cost

## د تولید لګښت

د توکو او خدمتونو د تولید په پروسه کې د کارګر، پانګې، ځمکې او متصدي د برخه اخېستو په پایله کې رامنځته شویو لګښتونو ته د تولید د تمام شد لګښت ویل کېږي او د توکو او خدمتونو د عرضې په برخه کې ارزښتمن رول لوبوي. دا په دې مانا، چې: د توکو او خدمتونو د پلور څخه ترلاسه شوی عاید باید د تولید د تمام شد فرصتي لګښتونو څخه ډېر وي یا حداقل برابر وي څو د تولید پروسه ادامه پیدا کړي.

## Production Functions

## د تولید تابع

د تولید په پروسه کې د تولید د عواملو او د تولید شویو توکو او خدمتونو د مقدار ترمنځ ریاضیکي اړیکې څخه عبارت دی، چې معمولاً د Q=F(L,k) د عمومي شکل له مخې واضح کېږي:

چې په پورتنۍ مساوات کې:

- **Q** د تولید د حاصل اندازه(Quantity of product)
- **F** د تولید تابع (Production Function)
- **L**په تولید کې د کارګرې قوې اندازه (Labor)
- **K** په تولید کې د استعمال شوې پانګې اندازه (Capital)

## Production Input

## د تولید عامل

هغه وسیله چې د توکو او خدمتونو د تولید په پروسه کې ترې ګټه اخېستل کېږي او یا دا، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه کارول کېږي چې د عامل (Input) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Production Possibilities

## د تولید امکانات

د تولید د شته منابعو او تکنالوژۍ څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې دوه یا ډېر توکي، چې اقتصاد یې په بیل بیل ډول یا هم په ترکیبي ډول د تولید وړتیا ولري. دا په دې مانا، چې: د تولید د شته منابعو څخه په ګټې اخېستو د یو توکي او یا خدمت د تولید پر ځای د متبادل توکي او یا خدمت تولید امکان ته د تولید امکانات ویل کېږي.

## Production Stages

## د تولید مرحلې

د نهایي بهرې د قانون له مخې د توکو او خدمتونو د تولید درې بیلا بیلې مرحلې د ګراف له مخې عبارت دي له:

۱:زیاتیدونکی مثبت میل Increasing Positive Slop په دې مرحله کې نهایي تولید مثبت او د ډېرېدو په حال کې وي.، چې د زیاتیدونکي حاصل مرحله (Increasing Returen Stage) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

۲: کمیدونکی مثبت میل Decreasing Positive Slope په دې مرحله کې نهایي تولید مثبت مګر د کمېدو په حال کې وي.، چې د کمیدونکي حاصل مرحله ( Decreasing Return Stage) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

۳: منفي میل Negative Slop په دې مرحله کې نهایي تولید منفي او لا د کمېدو په حال کې وي، چې د کمېدونکي حاصل (Diminishing Return Stage) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Production Utility

## د تولید مطلوبیت

د تولید په پروسه کې د تولید اعظمي کولو او د لګښتونو اضغري کولو په پایله کې رامنځته شوي مطلوبیت ته د تولید مطلوبیت ویل کېږي.

## Productivity

### مولدیت

د تولید په پروسه کې د تولید عواملو (معمولاً کارګره قوه) او د تولید شویو توکو او خدمتونو د مقدار ترمنځ اړیکې ته د تولید وړتیا ویل کېږي. او که، چې د تولید مقدار د تولید په پروسه کې د برخه اخېستونکو عواملو ( معمولاً کارګرې قوې) په اندازه باندې ووېشل شي نو په متوسط ډول د هر کارګر د تولید وړتیا یا د مولدیت اندازه پیدا کېږي. او یا هم په بل عبارت: مولدیت د تولید هغه اندازه، چې په یو ټاکلي وخت کې د تولید ټاکلو منابعو (معمولاً کارګر) په وسیله تولیدېږي.

## Profit

### ګټه

د تولید د تمام شد لګښت او د تولید د پلور څخه ترلاسه شویو عوایدو ترمنځ توپیر ته ګټه ویل کېږي.او یا هم دا، چې: هغه مبلغ، چې د تولید د پلور څخه ترلاسه شویو عوایدو څخه د تولید لګښتونو د وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي، چې د خالصې ګټې (Pure/Net Profit) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. ځینې اقتصاد پوهان ګټه د تولید پنځم عامل بولي او وایي، چې که چېرې په تولید کې ګټه شتون ونه لري نو کېدای شي تولیدونکي له خپل کاروبار څخه لاس په سر شي.

## Profit and Loss Account

### د ګټې او تاوان حساب

هغه حساب چې د یو کال په جریان کې د یو کاروبار یا شرکت ټول لګښتونه او عواید په کې ثبتیږي او له مخې یې د کاروبار یا شرکت ګټه یا تاوان معلومیږي.

## Profit and Loss Statement

### د ګټې او تاوان راپور/صورت حساب

د کاروباري نهاد له دوه مالي راپوررونو څخه یو دی (بل مالي راپور د بېلانس شیټ څخه عبارت دی) دا په یو معلوم وخت کې د یو کاروبار د ګټې او تاوان حساب څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: هغه

مالي حساب، چې له مخې يې د يو کاروبار ګټه او تاوان سنجول کېږي، چې د عوايدو صورت حساب (Income statement) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Profit Margin
## د ګټې حاشيه

د توکو او خدمتونو د پلور څخه ترلاسه شوې ګټې اندازه ده، چې د ټول پلور د سلنې له مخې سنجول کېږي يا د توکو او خدمتونو د پلور څخه څومره سلنه ګټه ترلاسه شوېده.

د بېلګې په توګه: که د عين توکي دوه عرضه کونکي په پام کې ونيسو او دواړه عرضه کونکي په ټاکلي وخت کې عين اندازه توکي بازار ته عرضه کړي اول عرضه کونکي د ټولې عرضې څخه ٪۵ او دوهم عرضه کونکی ٪۳ ګټه ترلاسه کړي؛ نو ويلای شو، چې د دوهم عرضه کونکي په پرتله د لومړي عرضه کونکي د ګټې حاشيه لوړه دی.

## Profit Maximization
## د ګټې اعظمی کول

د توکو او خدمتونو د پلور څخه د امکان تر حده د لوړې ګټې ترلاسه کولو پروسې ته د ګټې اعظمي کول ويل کېږي.دا په دې مانا، چې: توليدونکي د توکو او خدمتونو د پلورلو څخه د امکان تر حده د لوړې ګټې ترلاسه کولو لپاره کوښښ کوي، چې د ګټې اعظمي کولو عمده عوامل عبارت دي له:

- د توليد په پروسه کې د ضايعاتو اندازه حداقل ته رسول.
- په توليد کې د ماهرو کارګرانو او مناسبې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخېستل.
- د ګټې ترلاسه کولو مناسب فرصتونه پيدا کول.
- د توليدي ورتيا د زياتوالي په موخه د کارګرې قوې مالي او معنوي هڅول.

## Progressive Tax

### تصاعدي ماليه

د ماليې د ټاکنې او تادیې هغه ډول دی، چې له مخې یې د لوړ عاید لرونکي د ماليې لوړه اندازه او د کم عاید لرونکي د ماليې کمه اندازه تادیه کوي (د سلنې له مخې) یعنې د عاید په لوړیدو سره د ماليې نرخ هم لوړیدونکی وي.

د بېلګې په توګه: که یو کس۱۰۰۰۰ افغانۍ میاشتني عواید ولري؛ نو ٪۱۰ ماليه تادیه کوي او یو بل کس، چې ۴۰۰۰۰ افغانۍ میاشتني عواید ولري؛ نو ٪۲۰ ماليه تادیه کوي (په افغانستان کې هم د ماليې اخېستنې له همدغه زیاتیدونکي ډول څخه کار اخېستل کېږي، چې د ۱ افغانۍ څخه تر ۵۰۰۰ افغانیو پورې عواید له ماليې څخه معاف دي؛ خو له ۵۰۰۰ افغانیو څخه لوړ تر ۱۲۵۰۰ افغانیو پورې عوایدو باندې ٪۲ او د ۱۲۵۰۰ افغانیو څخه لوړ تر ۱۰۰۰۰۰ افغانیو پورې عوایدو باندې ٪۱۰ ماليه اخېستل کېږي او له سل زرو څخه لوړو عوایدو باندې ٪۲۰ ماليه اخېستل کېږي). چې د عمودي مساوات (Vertical equity) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د متناسبې ماليې **(**Proportional tax**)** او سرکوب کونکي ماليې ( Regressive tax**)** سره یې پرتله کړئ.

## Promissory Note

### اعتباري سند (سفته )

د هغه تحریري وعدې څخه عبارت دی، چې له مخې یې په معلوم وخت کې، معلوم مبلغ، معلوم کس ته د سود په معلوم نرخ ورکول کیږي. او یا هم دا چې: هغه تحریري وعده، چې په یوه ټاکلي وخت کې د ځانګړي مبلغ د تادیې په موخه ترسره او د نرخ په پام کې نیولو سره تادیه کېږي.

## Promotion

### پرمختیا یا تشهیر

د توکو پرمختیا ، یا تشهیر چې په پراخه مفهوم یې **(**Promotion) بلل کېږي. او ځینې وخت د محصولاتو ترکیب ()Promotion mix) اصطلاح هم ورته کارول کېږي، چې معمولاً څلور برخې په بر کې نیسي، چې عبارت دي له:

- اعلانات (Advertisement)
- د پلور ډېرول (Sales promotion)
- شخصي پلور (Personal sale)
- عامه اړیکې (Public relation)

چې تشهر (Promotion) د ترکیب (Mix) هغه برخه ده، چې یو شرکت پکې د تولید برانډ او د تولید شتون په نښه شوي بازار(Target market) ته ورپېژني.

## Propensity

میلان/رجحان

د غوښتنې یا میلان په مانا دی،او د ټولنې وګړو له لوري د خپلو عوایدو څخه د لګښت، سپما او پانګونې لپاره میلان ته (Propensity) ویل کېږي. او یا هم: هغه نسبت چې دا ښکاره کوي چې وګړي د خپلو عوایدو څومره برخه د استهلاکي لګښتونو، سپما او پانګونې د لګښتونو په موخه بېلوي.

## Propensity to Consume

استهلاک ته میلان

لګښت ته د میلان په مانا ده او د وګړو د عوایدو او استهلاک ترمنځ نسبت ته (استهلاک ته میلان) ویل کېږي. او یا هم دا چې: د عوایدو هغه برخه یا نسبت چې د لګښت په موخه کارول کېږي د استهلاک میلان بلل کیږي.

## Propensity to Invest

پانګونې ته میلان

د ملي عاید او نوې پانګونې ترمنځ نسبت ته (پانګونې ته تمایل) ویل کېږي. او یا هم دا چې: د ملي عاید هغه برخه یا نسبت چې د پانګونې په موخه کارول کېږي پانګونې ته میلان بلل کیږي.

## Propensity to Save

### سپما ته میلان

د ملي عاید او سپما ترمنځ نسبت ته (سپما ته میلان) ویل کېږي. او یا هم دا چې: د ملي عاید څومره برخه د سپما په موخه کارول کېږي. یعنې S=Y-C/Y، چې پدې مساوات کې:

- S سپما ته میلان (Propensity to save)
- Y ملي عاید(National income)
- C مصرف(Concusmption)

## Property Right

### د ملکیت حق

د منابعو قانوني ملکیت ته وايي، چې له مخې يې د منابعو مالک ته د تولیدي موخو په خاطر له منابعو د ګټې اخیستنې حق ورکول کېږي.

## Property Tax

### پر ملکیتونو مالیه

هغه مالیه، چې په ځینو شتمنیو یا هم ملکیتونو (کاروباري ملکیتونو) باندې د هغوی له مالکانو اخېستل کېږي.

## Proportional Tax

### متناسبه مالیه

د مالیې وضع کولو او تادیې له هغه شکل څخه عبارت دی، چې پکې د وګړو د عوایدو اندازه په پام کې نه نېول کېږي او د ټولنې ټول وګړې د مالیې عین اندازه تادیه کوي. د بېلګې په توګه: که یو کس۱۰۰۰۰ افغانۍ میاشتني عواید ولري، یو بل کس۱۵۰۰۰ افغانۍ میاشتني عواید او یو دریم کس، چې ۲۰۰۰۰ افغانۍ میاشتني عواید ولري؛ نو د ټولو په عوایدو باندې ٪۱۰ مالیه ټاکل کېږي، چې اول کس۱۰۰۰ افغانۍ مالیه، دویم کس۱۵۰۰ افغانۍ او دریم کس۲۰۰۰ افغانۍ مالیه تادیه کوي. له سرکوب

کونکې مالیې (Regressive Tax) او له تصاعدي مالیې (Progressive Tax) سره یې پرتله کړئ.

## Proprietorship
انفرادي (کاروبار)

د کاروبار د دریو بنسټیزو بڼو څخه یو دی د کاروبار دوه نور ډولونه عبارت دي له:

۱: سهامي شرکت (corporation)

۲: تضامني شرکت (partnership)

او انفرادي کاروبار له هغه کاروبار څخه عبارت دی، چې یو کس یې ملکیت ولري او د همدغه کس په وسیله پرمخ بیول کیږي. لکه په افغانستان کې ډېری دوکانداري، چې د یو کس له لوري پرمخ وړل کیږي او په دې ډول کاروبار کې کاروبار او د کاروبار مالک د قانون له مخې سره یو دي. د کاروبارونو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د کاروبار قانوني بڼې (Legal Types) ته رجوع وکړئ.

## Prosperity
سوکالي

د نیکمرغی او سوکالی په مانا ده په اقتصاد کې هغه حالت ته وایي چې توکي او خدمتونه پکې په نسبتاً لویه پیمانه شتون ولري او وزګارتیا هم په حداقل کې قرار ولري. هغه وخت، چې پکې د یو هېواد اقتصادي وده ډېری وخت د یوې یا دوه لسیزو لپاره دوامداره او جریان مومي.

## Protectionism
ساتنه (د داخلي صنایعو)

هغه نظریه، چې د هېوادونو ترمنځ د آزادې سوداګرۍ سره د خپل داخلي صنعت په ملاتړ مخالفت کوي او وایي، چې د آزادې سوداګرۍ په پایله کې د څینو وارداتي هېوادونو توکي کورنۍ تولید له ماتي سره مخ کوي نو په دې ډول باید په بهرنۍ سوداګرۍ باندې خنډونه یا ممانعتونه (تعرفه، سهمیه او

داسې نور) رامنځته شي ځو په دې توګه کورنۍ تولید د بهرني تولیدوونکو په وړاندې وساتل شي. همدا راز د دې حمایوی سیاست وسایل په داخل د هیواد کې هم شته لکه سبسایدی او نور.

## Protectivetariff

حمایوي تعرفه

هغه لوړه تعرفه، چې د بهرنیو تولیداتو په وړاندې د کورني تولید څخه د ملاتړ په موخه وضع کېږي. د تعرفې د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره تعرفې **(Tariff)** ته رجوع وکړئ. له یوازې د عوایدو لپاره تعرفه **(Tarifff or Revenue Only)** سره یې پرتله کړئ.

## Public Debt

عامه پور

د عامه ادارې یا د هر دولتي واحد په وسیله ترلاسه شوو پورونو ته عامه پورونه ویل کېږي. له ملي پورونو **(National debt)** سره یې پرتله کړئ.

## Public Domain

عامه ملکیت

د دولتي واک او نفوذ په مانا دی او په اقتصاد کې هغه املاکو ته وایي چې دولت ورباندې د ملکیت حق ولري.

## Public Finance

عامه تمویل

د عامه سکتور د لګښتونو تمویل ته وایي چې له مخې یې له بیلا بیلو سرچینو د ټولو دولتي موسساتو لپاره مالي تدارکات صورت نیسي.

## Public Goods

عامه توکي

هغه توکي، چې د ټولنې هر وګړی ترې د یو شان ګټه اخېستو امکان او حق ولري.لکه سرکونه، عمومي پارکونه او داسې نور. په تخنیکي لحاظ د عامه توکو ځانګړتیا دا ده، چې ټول خلک ترې په همزمان ډول ګټه پورته کولای شي او د یو استعمال د بل په استعمال کوم اثر نه غورځوي همدا راز د تولید

مالک ته دا ستونزمنه وي، چې هغه خلک چې په وړاندې قیمت نه تادیه کوي له عامه توکی څخه محروم کړي له همدې امله عامه توکو تمویل د مالیاتو په شکل صورت نیسي، چې اجباري شکل لري

## Public Ownership
## عامه مالکیت

عامه یا دولتي مالکیت ته وایي یا هغه تولیدي نهاد یا مؤسسه، چې د دولت په ملکیت کې قرار ولري او د دولت له لوري کنټرولیږي.

## Public Revenue
## عامه یا دولتي عواید

د مالیاتو او نورو سرچینو څخه د دولت خزانې ته راتلونکو عوایدو ته عامه عاید ویل کیږي.، چېمعمولاُ ورته د عوایدو(Revenue) اصطلاح کارول کیږي.

## Public Sector
## عامه سکتور

د اقتصادي کړنو هغه برخه چې د دولت تر ملکیت لاندې وي او معمولاً عامه توکي تولیدوي. عامه سکتور، چې ځیني وخت ورته د دولتي سکتور نوم هم ورکول کیږي د دولت هغه برخه ده، چې په اقتصادي کړنو کې ښکیل وي لکه تولید، پلور، لګښتونه، خدمتونه او داسې نور. له خصوصي سکتور (Private sector) سره یې پرتله کړئ

## Public Service Corporation
## د عامه خدمتونو سهامي شرکت

هغه سهامي شرکت، چې د خلکو د عامه رفاه او سهولت په موخه یو ځانګړي خدمت ترسره کوي لکه د برق تولید، د ټیلیفون خدمتونه، د اوبو رسولو خدمتونه او داسې نور.

## Public Spending

## عامه/دولتي لګښت

هغه لګښتونه، چې د دولت له لوري په يوه ټاکلي وخت کې د ټولنې د اړتياوو په پام کې نيولو سره معمولاً د عامه توکو يا خدمتونو په بڼه ترسره کېږي.

## Public Utility

## عامه مطلوبيت

د يو ځانګړي خدمت د ترسره کونکي عامه فعاليت څخه د ترلاسه کيدونکي تسکين لپاره يوه عامه اصطلاح ده، دا خدمتونه معمولاً په ليرې او کليوالو سيمو کې د عامه سکتور له خوا عرضه کيږی. لکه د برق عرضه، د ګازو عرضه، تلفوني خدمتونه يا د برښنا ويش خدمتونه، چې معمولاً په اقتصاد کې دا ډول خدمتونه د دولت له لوري په دې موخه ترسره کېږي چی ټولنی ته یې ګټه ورسيږی او د همدی ګټورتوب د اندازه ګيری لپاره د عامه مطلوبيت اصطلاح کارول کيږی.

## Purchasing Power

## د پير ځواک

معمولاً د توکو او خدمتونو هغه اندازه، چې د پيسو د معلوم مبلغ په وړاندې تر لاسه کېدای شي، چې د پېر ځواک يوه عامه ځانګړتيا دا ده، چې د توکو او خدمتونو د قيمتونو په لوړوالي سره پکې کموالی رامنځته کېږي (يعنې دا، چې په اقتصاد کې د انفلاسيون په ډېرېدو سره د پېر په ځواک کې کموالی رامنځته کېږي).

## Purchasing Power Parity (PPP)

## د پير د ځواک برابري/نسبت

د پيسو د اصلي ارزښت د اندازه ګيري هغه تيوري او طريقه ده، چې په مرسته يې په مختلفو هېوادونو کې د پولي واحد د پير ځواک معلومېږي، چې د يو هېواد پولي واحد، چې په نوموړي هېواد کې څومره توکي او خدمتونه پيرودلی شي په بل هېواد کې يې هم پېرلی شي البته کله، چې د تبادلې متناسب نرخ (Appropriate Exchange Rate) شتون ولري. او يا هم په بل عبارت: د دوه هېوادونو د پيسو د تبادلې نرخ په نوموړو هېوادونو کې د خريد قوه منعکسوي.

د بېلګې په توګه: د امرېکا په متحده آيالاتو کې د يو موبايل قېمت ۱۰۰ ډالره دی؛ خو که همدغه ۱۰۰ ډالر افغانستان ته راوړل شي نو عين موبايل په ۵۰۰۰ افغانيو پيرودل کېدای شي، چې په دې حالت کې په دواړو هېوادونو کې د موبايل په وړاندې د پولي واحدونو د پير ځواک مساوي دی که چيري د تبادلې نرخ يو ډالر-پنځوس افغانۍ اوسي.

## Pure Common Economy

### بشپړه عامه اقتصاد

هغه اقتصاد، چې پکې د اقتصاد څلورو بستېزو پوښتنو يعنې:

۱: څه شی توليد شي؟ (What to produce?)

۲: څنګه توليد شي؟ (How to produce?)

۳: د چا لپاره توليد شي؟ (For whom to produce?)

٤: په څومره اندازه توليد شي؟ (How much to produce?)

ته د ځواب ويلو په موخه د توليدي منابعو تخصيص او د توکو او خدمتونو عرضه د دولت له لوري ترسره کېږي او خصوصي کاروبارونو ته د توکو او خدمتونو د توليد اجازه نه ورکول کېږي.

په اصل کې دا يوه تيوري ده او په واقعي نړۍ کې شتون نلري، چې په دې توګه د اقتصاد دا ډول يوازې يو نظري شکل بللی شو.

## Pure Inflation

### سوچه انفلاسيون

د انفلاسيون له هغه ډول څخه عبارت دی، چې په اقتصاد کې د ټولو توکو او خدمتونو قېمتونه او ظاهري ارزښتونه په مطلق ډول په عين سلنې سره لوړېږي. دا په دې مانا، چې: په اقتصاد کې د ټولو توکو او خدمتونو او د توليد عواملو په قيمتونو کې په عين اندازه سره لوړوالی رامنځته کېږي، چې د انفلاسيون دا ډول په واقعي نړۍ کې تر اوسه ندی رامنځته شوی بلکې يوازې يوه تيوري يې ګڼلی شو.

## Pure Market Economy

### سوچه د بازار اقتصاد

هغه اقتصاد، چې د اقتصاد څلورو بنسټيزو پوښتنو يعنې:

۱: څه شی تولید شي؟ (What to produce?)

۲: څنګه تولید شي؟ **(**How to produce?**)**

۳: د چا لپاره تولید شي؟ (For whom to produce?)

٤: په څومره اندازه تولید شي؟ **(**how much to produce**?)**

ته د ځواب ويلو په موخه د توليدي منابعو تخصيص د بازار له لارې ترسره کېږي او دولت په اقتصادي کړنې کې هيڅ ډول دخيل نه وي، چې د اقتصاد دا شکل هم په واقعي نړۍ کې شتون نلري بلکې يو تيوريکي اټکل يې ګڼلی شو.

## Pure Profit

### خالصه/سوچه ګټه

ګټې **(**Profit) ته رجوع وکړئ.

# Q

## Quality
کیفیت

په کاروباري یا تولیدي برخه کې د یو شي د مقصد سره د سمون یا هم د غوره توب د درجې په مانا ده. کیفیت یو ذاتي معیار ده، چې نظر د وګړو آند او استدلال ته توپیر کوي.

## Quality of Life
د ژوندانه کیفیت

په ټولنه کې د یو کس یا د یوه ډله وګړو د ژوندانه ټولنیزې سوکالۍ او ښه والي د معلوملو لپاره یوه عامه اصطلاح ده، چې پولي او غیر پولي عوامل ټول په برکې نیسي (پولي عوامل لکه عواید، مزد، د اوسېدو لګښت، مالیه او داسې نور، او غیر پولي عوامل لکه تعلیم او تربیه، د هوا پاکوالی، د مور او ماشوم د مړینې اندازه او داسې نور په برکې نیسي) او معمولاً د ټولنو (هېوادونو) ترمنځ د ژوندانه د کچې د پرتله کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي.

## Quantity
مقدار

په عام ډول مقدار ته ویل کېږي. په ځانګړي ډول په بازار کې د هغه توکو او خدمتونو مقدار یا اندازه، چې د پلورونکو او پېرودونکو ترمنځ یې راکړه ورکړه ترسره کېږي، چې په ګراف کې د توکو او خدمتونو مقدار په افقي محور ښوول کېږي.

## Quantity Demanded
د تقاضا مقدار

د توکو او خدمتونو هغه معلومه (اعظمي) اندازه، چې پېرودونکي یې په معلوم قېمت سره د پېرلو اراده او توان ولري.

## Quantity Supplied
## د عرضې مقدار

د توکو او خدمتونو هغه معلومه (اعظمي) اندازه، چې پلورونکي يې په معلوم قيمت سره د پلورلو اراده او توان ولري.

## Quantity Theory of Money
## د پيسو د مقدار نظريه

هغه تيوري، چې وايي: د پيسو په عرضه کې معلومه اندازه سلنه تغير د ظاهري ناخالص داخلي توليد (Nominal GDP) په قيمتونو کې د مساوي تغير لامل ګرځي. دا تيوري په دې خبره تکيه لري، چې: که چېرې نور ټول عوامل (لکه د توليد مقدار او داسې نور) ثابت وګڼو؛ نو په اقتصاد کې د پيسو په عرضه کې ډېروالی په عين اندازه د توکو او خدمتونو په قيمتونو کې د ډېروالي لامل ګرزي او کموالي يې د توکو او خدمتونو په قيمتونو کې د کموالي لامل ګرځي.

د بېلګې په توګه: که نور ټول عوامل ثابت وګڼل شي نو په اقتصاد کې د پيسو د مقدار په دوه چنده کېدو سره د توکو او خدمتونو قيمتونه هم دوه چنده لوړېږي او د پيسو د عرضې نيمايي کېدل د توکو او خدمتونو قيمتونه هم نيمايي کېږي. او دا نظريه د فورمول په مرسته واضح کېږي: M*V=P*T يا هم په متبادل فورمول دا، چې M*V+M'*V'=P*T، چې په دې معادله کې:

- M د پيسو مقدار
- V د پيسو ګردش
- M' د اعتباري پيسو مقدار
- V' د اعتباري پيسو ګردش
- P د توکو او خدمتونو قيمتونه
- T ټوليز توليد څخه نمايندګي کوي

ځينې اقتصاد پوهان دا فورموله د تبادلې معادلې (Equation of Exchange) په نوم هم يادوي.

## Quarter

## ربعه

په عام ډول څلورمې برخې یا ربعې ته وایي یا دا، چې د یو مالي کال ۳ مسلسل میاشتې، چې د مالي او اقتصادي معلوماتو ( لکه د قیمتونو کچه، د بېکارۍ کچه او داسې نور) د ارایه کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. په نړۍ کې ځینې کاروبارونه هم خپل مالي راپور د هرې ربعې له مخې جوړوي او د امریکا متحده ایالاتو د سوداګرۍ بیلانس هم د ربع له مخې او هم په کلني ډول سره ارایه کېږي.

## Quartile

## چارک یا څلورمه برخه

د څلورمې برخې یا چارکې په مانا ده ، او د **ile** کورنۍ پورې اړه لري، چې د یو مکمل توکي یا مقیاس څلورمه برخه په بر کې نیسي. د بېلګې په توګه: د یو کېلو څلورمه برخه (۲۵۰ ګرامه) یا هم د یو متر څلورمه برخه (۲۵ سانتي متر).

د **ile** د کورنۍ په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره له سلمې برخې (Percentile) ته هم رجوع وکړئ.

## Quasi money

## د پیسو مشابه

پیسو ته نږدې **(**Near money**)** ته رجوع وکړئ.

## Quick Asset

## سیاله شتمني

هغه شتمني، چې له تاوان پرته (او یا په ډېر کم تاوان) په چټکۍ سره په نقده باندې بدلېدای شي، چې د **(**Floating asset) او (liquidasset**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له کنګل شتمنۍ (frozen Asset**)** سره یې پرتله کړئ.

# Quota

## سهمیه یا مقداري محدودیت

په اقتصاد کې د ځینو کړنو په ترسره کولو باندې د حد ټاکلو څخه عبارت دی لکه وارداتي سهمیه، چې له مخې یې هېواد د یو کال په جریان کې د یو ځانګړي توکي په واردولو باندې په دې موخه سهمیه ټاکي څو داخلي صنایع او تولیدات د بهرنیو تولیدوونکو له سیالي څخه وژغوري. د سهمیې په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره وارداتي سهمیې (Import Quota) ته هم رجوع وکړئ.

# R

## Random Walk

تصادفي سیر (مسیر)

دا یوه احصاییوی اصطلاح ده. چې وايي: داسې کومه طریقه یا مېتود شتون نلري، چې له مخې یې د یو توکي، خدمت یا د اقتصادي حالت د راتلونکي په اړه مطلقه وړاندوینه وشي؛ خو په ځانګړو میتودونو سره یواځې یوه تخمیني وړاندوینه د تیرو مالوماتو له مخې ممکنه ده. له منطقي توقعاتو (Rational Expectation) سره یې پرتله کړئ.

## Rate

نرخ/کچه/نسبت

د نرخ، نسبت، د قیمت د کچې او تناسب په مفاهیمو کاریږي، دا اصطلاح د دوه بیلا بېلو مقدارونو ترمنځ ثابته تړاو په ګوته کوي او د اندازه ګېرۍ د وسېلې په توګه ترې ګټه اخېستل کېږي.

## Rate of Return

د بازګشت نسبت

د پانګونې د لګښت او د پانګونې څخه ترلاسه شوي عوایدو ترمنځ نسبت څخه عبارت دی، چې د پانګې بېرته راګرځېدل هم ورته ویل کېږي.

د بېلګې په توګه: که په یو کاروبار یا پروژه کې لس میلیونه افغانۍ پانګونه ترسره شي او لدې لارې هر کال یو میلیون افغانۍ عواید ترلاسه شي نو د بازګشت کچه یې ۱۰٪ څخه عبارت دی.

## Rating

د اعتبار کچه (درجه بندي )

د هېوادونو د مالي سندونو (بانډ، د خزانې بِل او داسې نورو) د پیر احتمالي خطر پر وړاندې لارښونې څخه عبارت دی، چې د لویو نړیوالو ادارو (Rating Agency) له لوري ترسره کېږي او د ټولو هیوادونو کاروباري حالت راتلونکې پیشبیني کوی او نشروي.

د بېلګې په توګه: AAA يا ++A د دې مانا ورکوي، چې هېواد د پور د تصفيې په وړاندې هېڅ ستونزه نلري C او D د پور د تصفيې تر ټولو لوړ خطر په برکې نيسي.

## Rational Abstention

### منطقي امتناع

د هغه کار يا عمل د نه ترسره کولو پرېکړه، چې د منطقي سنجش په بنسټ د متوقعه ګټې په پرتله يې د ترسره کولو لګښتونه لوړ وي، چې په ورځني ژوند کې ترې ډېره ګټه اخېستل کېږي. د رای ورکولو په برخه کې هم لدې اصطلاح څخه ډېره ګټه اخېستل کېږي هغه دا، چې: ځينې وخت يو رای ورکونکی داسې آند لري، چې رای ورکول د نوموړي کس لپاره هېڅ ګټه نلري بلکې اړ دی، چې د رای اچولو لپاره رامنځته کېدونکي لګښتونه لکه کرايه او داسې نور هم بايد قبول کړي نو په دې توګه له رای ورکولو څخه ډډه کوي.

## Rational Expectation

### منطقي توقعات

په دې مانا، چې: که څه هم، چې په مطلق ډول په راتلونکي کې د توکي، خدمت يا د اقتصادي حالت وړاندوينه نشي کېدای؛ خو ځينې وګړي د خپلو عقلي دلايلو، معلوماتو او تجربو له مخې کولای شي، چې په راتلونکي کې د توکي، خدمت يا د اقتصادي حالت وړاندوينه وکړي چې همدې وړاندوينې يا توقع ته منطقي توقعات وايي. له تصادفي سير (Random Walk) سره يې پرتله کړئ.

## Rationing

### سهمبندي

د معيار له مخې د توکو (معمولاً د نهايي توکو) د تخصيص او يا توزيع څخه عبارت دی، چې د اقتصاد خورا مهمه برخه جوړوي ځکه، چې د بشر اړتياوې او غوښتنې نامحدوده او منابع محدود دي؛ نو د دې ستونزې په پام کې نېولو سره بايد شته توکي او خدمتونه بايد، چې ځينې وخت د سياليز استعمال څخه پرته سهميه بندي شي.د دې موخې لپاره کله، چې د يو شي قلت محسوسيږي؛ نو په اګاهانه ډول د بازار څخه کم قيمت ورته وضع کېږي چې د کسر په مهال قيمت ډېر پورته نشي.

## Raw Material

خام مواد

د تولید په پروسه کې استعمالیدونکي خام مواد، چې د شکل د تغیر په پایله کې یې د توکو تولید رامنځته کېږي، چې ځینې وخت ورته یوازې د موادو (Material) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Real

حقیقي/واقعي

واقعي یا حقیقي حالت ته وایي. په ځانګړي ډول دا اصطلاح د اقتصادي ارزښتونو د غیر انفلاسیوني بنې ته خورا زیاته کارول کیږي یا هغه ارزښت، چې د انفلاسیون د تنظیم او وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي. د بېلګې په توګه: که د توکو او خدمتونو منځنۍ کچه په دوه کلونو کې د انفلاسیون په پام کې نېولو سره پرتله شي؛ نو د انفلاسیون د وضع کولو څخه وروسته د توکو او خدمتونو د منځنیو قیمتونو لپاره د **real** اصطلاح کارول کېږي.

## Real Economy

حقیقي اقتصاد

د اقتصاد هغه اړخ (مادي اړخ)، چې د توکو، خدمتونو او منابعو سره سروکار لري او په اقتصاد کې په ریښتني بڼه شته شتمنۍ او وړتیاوې په نظر کې نیسي. د اقتصادی مالي اړخ (Financial(nominal)side of economy) سره یې پرتله کړئ.

## Real Estate

غیر منقول اموال (جایداد)

هغه غیر منقولو شتمنیو ته وایې ، چې په دایمي توګه په یوه ځای کې قرار ولري او انتقال یې نشي ترسره کېدای.لکه ځمکه، تعمیر. چې ځینې وخت ورته غیر منقول جایداد **(**Immoveble property**)** اصطلاح هم کارول کېږي.

## Real Gross Domestic Product(GDP)

## حقیقي داخلي ناخالص تولید

په معلوم وخت (معمولاً د یو کال په اوږدو کې) په اقتصاد کې په ثابتو قیمتونو سره د تولید شویو نهایي توکو او خدمتونو د بازار د ارزښت څخه عبارت دی (د ناخالص داخلي تولید په دې شکل کې د انفلاسیون نرخ په پام کې نېول کېږي)، چې د ثابت نا خالص داخلي تولی (Constant GDP) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له اسمي نا خالص داخلي تولید (Nominal GDP) سره یې پرتله کړئ.

## Real GDP Growth Rate

## د واقعي نا خالص داخلي تولید د ودې کچه

حقیقي یا واقعي ودې کچه د اسمي ودې د کچې برعکس مفهوم ده ، دا د ناخالص داخلي تولید د ودې یو مقیاس ده چې له یو کال څخه بل کال ته تغیر په فیصدي بڼه داسې محاسبه کیږي چې د انفلاسیون تاثیر په نظر کې نه نیول کیږي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د کاروباري دوران اندیکټېور (Business cycle indicator) ته رجوع وکړئ.

## Real Interest Rate

## د ربح حقیقي نرخ

په بازار کې د سود نرخ، چې د انفلاسیون په پام کې نیولو سره تنظیم شوی وي یا هغه چې: د انفلاسیون د وضع کولو څخه وروسته پاتې کېږي.

د بېلګې په توګه: که د سود نرخ ٪۵ او د انفلاسیون نرخ ٪۳ وګڼو د سود واقعي نرخ له ٪۲ څخه عبارت دی.

## Real Money

## واقعي پیسې

هغه پیسې چې ذاتي ارزښت یې د اسمي ارزښت سره برابر وي د واقعي پیسو څخه عبارت دی لکه طلایي او نقره اي سکې چې اسمي ارزښت یې د وزن له ارزښت سره برابر وي.

## Real price
## واقعي قیمت

واقعي قیمت د اسمي قیمت برعکس مفهوم ده ، واقعي قیمت هغه قیمت ته ویل کیږي چې اسمي ارزښت څخه د انفلاسیون تاثیر وویستل شی . له اسمي قیمت **(**Nominal price**)** سره یې پرتله کړئ.

## Real Production
## حقیقي تولید

په اقتصاد کې په ثابتو قیمتونو او انفلاسیون په پام کې نیولو سره د تولید شویو توکو او خدمتونو د بازار ارزښت څخه عبارت دی.

## Real Purchasing Power
## د حقیقي پیر ځواک

د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د پیسو په مرسته د توکو او خدمتونو ترلاسه کول، چې د توکو او خدمتونو په قیمتونو باندې اتکا لري.

د بیلګې په توګه: که د توکو او خدمتونو قیمتونه دوه چنده لوړ شي نو موجوده پیسې د پخوا په پرتله نیمايي توکي او خدمتونه پیرلی شي او که د توکو او خدمتونو قیمتونه نیمايي شي؛ نو موجوده پیسې د پخوا په پرتله دوه چنده توکي او خدمتونه پیرلی شي.

## Real Value
## واقعي ارزښت

واقعي ارزښت د اسمي ارزښت برعکس مفهوم ده ، واقعي ارزښت هغه ارزښت ته ویل کیږي چې له اسمي ارزښت څخه د انفلاسیون تاثیر وویستل شی . له اسمي ارزښت **(**Nominal Value**)** سره یې پرتله کړئ.

## Real Wage

## حقيقي مزد

د انفلاسیون په نظر کې نیولو سره د اسمي یا پولي مزد د پیر ځواک څخه عبارت دی یعنې دا، چې:Real wage=Nominal wage/price level، چې د ظاهري مزد په وسیله د توکو او خدمتونو د ترلاسه کولو اندازه په ګوته کوي.

همدارنګه له اساسي مزد څخه پرته نورې مادي مرستې لکه بېمه، د لارې کرایه، لباس او داسې نور هم په برکې نیسي. له اسمي مزد (Nominal wage) سره یې پرتله کړئ.

## Rebate

## تنزیل/تخفیف/کمښت

هغه مبلغ، چې له تادیه شوي مبلغ څخه بېرته د تنزیل یا تخفیف په بڼه تادیه کوونکي ته ورکول کېږي او یا یې هم معادل د تنزیل په شکل اخېستل کېږي. چې د کمښت (discount) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Receipt

## رسید

د یو توکي د ترلاسه کولو یو خدمت د ترسره کولو یا د پیسو د ترلاسه کولو په وړاندې کې تحریري اعتراف ته رسید ویل کېږي.

## Recession

## رکود

د کاروبار دوران یا دایرې د کساد (Contraction) مرحلې لپاره یوه عامه اصطلاح ده. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د کاروبار دوران یا دایرې مرحلو(Business Cycle Phases) ته رجوع وکړئ.

## Recognition Lag
### د پېژندنې موده

د اقتصادي پالیسیو په برخه کې: په اقتصاد کې د ټکان (shock) د رامنځته کېدو او د ټکان د درک ترمنځ وخت څخه عبارت دی. د تطبیق مودې (Implementation Lag) سره یې پرتله کړئ.

## Recovery
### بیا ستنیدل/بهبود

د کاروبار دوران یا دایره کې د کساد د مرحلې په پای ته رسېدو سره د رونق مرحلې پیل یا دا، چې د کساد مرحلې څخه د رونق مرحلې ته د اقتصاد ننوتلو څخه عبارت دی.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره کاروبار دوران یا دایرې مرحلو (Business Cycle Phases) ته رجوع وکړئ.

## Recycling
### بیا ګټه اخیستنه

په ځانګړي ډول د تولید په پروسه کې د تولید ضایعاتو او یا تېشونو څخه د ګټوموخو لپاره بیا ځلې ګټې اخیستنې ته وایي، د بیلګې په ډول د چاپېریال ککړتیا د مخنیوي، د تولید ضایعاتو او د لګښت د کمولو په موخه بیا ګټه اخېستنه.

د بېلګې په توګه: د سپین غر غوړیو تولید فابرېکه، چې د غوړیو لپاره پلاستیکي سطلونه هم تولیدوي؛ خو د سطلونو د تولید څخه وروسته د سطلونو د صفایي په پایله کې یوه اندازه ضایعات رامنځته کېږي، چې لدې ضایعاتو څخه بیا په خپل وار سره د سطل په جوړولو کې ګټه پورته کوي څو له یوې خوا د چاپېریال ساتنې سره مرسته وشي او له بلې خوا د تولید تمام شد لګښت راکم او له تولیدي ضایعاتو څخه ګټه پورته کړي.

## Redeemable Bonds
### بیرته پېرودلو وړ بانډونه

هغه قېمتي پاڼه (بانډ) چې وروسته د ټاکلي وخت څخه یې صادرونکی بېرته پېرودلی شي.

## Re-export

بیا صادرول

هغه توکي چې يو هېواد ته وارد شوي وي او نوموړی هېواد يې له واردولو څخه وروسته بیا صادروي. او يا هم په بل عبارت: يو هېواد ته د وارد شوي توکي بېرته صادرولو ته وايي پرته لدې، چې په شکل کې يې تغير رامنځته شوی وي، او د يوه لنډ وخت څخه وروسته ترسره کېږي.

## Reflation

ریفلاسیون

د انفلاسیون دوباره اعاده کولو حالت ته ريفلاسيون وايي. د دولت هغه سیاست، چې په اقتصاد کې د تقاضا د زیاتوالي په موخه جوړېږي څو د اقتصادي فعالیتونو د زیاتوالي لامل وګرځي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د اختیاري پولي سیاست (Discretionary Monetary Policy) ته هم رجوع وکړئ.

## Regional Policy

سیمه ایزه سیاست/پالیسي

هغه سیاست/پالیسي، چې موخه يې په ځانګړو جغرافیوي سیمو کې د اقتصادي کړنو زیاتوالي او رونق رامنځته کول وي.

## Regressive Tax

بازدارنده /سرکوب کوونکي مالیات

هغه مالیات چې په تولید باندې منفي اغیزه کوي او په پایله کې يې د تولید په کلي سطحه کې کموالی رامنځته کېږي او د مالیه د ټاکلو او تادیې هغه ډول، چې له مخې يې لوړ عاید لرونکي وګړي د مالیه کمه سلنه تادیه کوي نظر هغه وګړو ته، چې د عوایدو اندازه يې کمه وي. په بل عبارت: د عوایدو په ډېروالي سره د مالیې په سلنه کې کموالی رامنځته کېږي.

د بیلګې په توګه: که د يو کس میاشتني عواید ۱۰۰۰۰ افغانۍ وي او د يو بل کس میاشتني عواید ۲۰۰۰۰ افغانۍ وي دواړه وګړي د خپلو عوایدو څخه ۲۰۰۰ افغانۍ د مالیې په توګه تادیه کوي، چې په دې

ډول سره اول کس ٪۲۰ او دويم کس د خپلو عوايدو ٪۱۰ د ماليې په توګه تاديه کوي. له متناسبې ماليې (Proportional tax) او تصاعدي ماليې( Progressive tax) سره يې پرتله کړئ.

## Regulation

مقررات/تنظيمول

هغه دولتي مقررات، چې په اقتصاد کې د کاروبارونو او مستهلکينو د فعاليتونو د متاثره کولو، کنترول او تنظيم په موخه رامنځته کېږي.

## Regulatory Failure

د مقرراتو پاتې راتلل

هغه مقررات، چې په ټولنه کې د عوايدو په پرتله د ډېرو لګښتونو لامل ګرځي، چې له همدې امله ورته د دغو مقرراتو د پاتې راتلو اصطلاح کارول کېږي.

## Regulatory Forces

تنظيمووونکې ځواک

د بازار په چاپېريال کې هغه قوتونه، چې د متعددو دولتي نهادونو له لوري رامنځته کېږي او د يو کاروباري سازمان ورځني کړنې او پرېکړې تر اغېز لاندې راولي او معمولاً د سرغړونې په صورت کې جريمه وضع کوي او دغه مقررات تطبيقوي.

## Regulatory Policy

د تنظيم سياست/پاليسي

د دولت هغه سياست/پاليسي، چې د قانون او مقرراتو په وضع کولو باندې تکيه لري يا دا، چې: د اقتصادي کړنو پر وړاندې مقررات وضع کوي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي سياستونو (Economic Policies) ته رجوع وکړئ.

## Regulatory Pricing
## تنظیمیدونکی قیمت

په بازار کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو په ټاکلو( معمولاً د انحصار په حالت کې) باندې د دولت له کنترول څخه عبارت دی.

## Relative Poverty Level
## د فقر نسبي کچه

د فقر یا غربت نسبي کچه، چې په بیلابیلو سیمو یا هېوادونو کې د کورنیو او انفرادي وګړو د عوایدو نسبتاً ټیټه کچه ده، چې د ژوند بنسټیزو اړتیاو (خوراک، پوښاک، د اوسېدو ځای، لباس او داسې نور) د ترلاسه کولو لپاره اړین وي او دا اړتیاوې د هېوادونو د اقتصادي حالت په پام کې نېولو سره توپیر لري.

د بېلګې په توګه: د یو یخچال درلودل کېدای شي، چې په امریکا کې د خلکو یوه بنسټیزه اړتیا وګڼل شي خو په افغانستان کې بیا یخچال درلودل د خلکو بنسټیزه اړتیا نه ګڼل کېږي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د غربت کرښې (Poverty Line) یا د مطلق غربت کچې (Absolute Poverty Level) سره یې پرتله کړئ.

## Relatively Elastic
## نسبي ارتجاعي

د ارتجاعیت هغه ډول، چې د توکو او خدمتونو په قیمتونو کې په نسبي ډول کم تغیر د هغوی په مقدار کې په نسبي توګه د ډېر تغیر لامل وګرځي.

او یا هم دا چې: د توکو او خدمتونو مقدار د هغوی د قیمت په پرتله ډېر ارتجاعي حالت درلودونکی وي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره ارتجاعیت متبادل (Elasticity Alternative) ته رجوع وکړئ.

## Relatively Inelastic
نسبي غير ارتجاعي

د ارتجاعيت هغه ډول، چې پکې د توکو او خدمتونو په قيمتونو کې په نسبي ډول ډېر تغير د هغوی په مقدار کې په نسبي ډول کم تغير سره مل وي. او يا هم دا چې: د توکو او خدمتونو مقدار د هغوی د قېمت په پرتله ډېر ارتجاعي حالت ونه لري. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ارتجاعيت متبادل (ElasticityAlternative) ته هم رجوع وکړئ.

## Remonetization
بيا رواجول

د بيا رايجولو او په چلښت کې اچولو ته وايي يا له چلښت څخه وتلې سکې بېرته د معياري پيسو په توګه په جريان کې اچولو او قبلولو ته بيا رايجول وايي. له جريان څخه د پيسو ويستلو (Demonetization) سره يې پرتله کړئ.

## Renewable Resources
تجديد پذيره سرچينې

هغه طبيعي منابع دي، چې د وخت په تيريدو سره بيا د ګټه اخيستنې لپاره چمتو کيدلی شي.د بيا چمتو کيدلو عمل ممکن په اتومات او طبيعي ډول او يا هم د بشر له خوا صورت ونيسي. د دې ډول منابعو مقدار ثابت نه وي او اغېزمنه اقتصادي استعمال يې په دې پورې اړه لري، چې دغه ډول منابعو د استعمال او بيا چمتو کيدلو نسبت څه ډول ده. دغه ډول منابع هغه مهال له کمښت او خطر سره مخ کيدلی شي، چې د دوباره چمتوالي له اندازې څخه يې استعمال زيات شي ښه مثال يې نباتات، حيوانات تازه هوا يا تازه اوبه دي.

## Rent
کرايه

د توکو او خدمتونو په توليد کې د ځمکې، تعمير او د توليد نورو عواملو څخه د ګټه اخيستنې په وړاندې تاديې څخه عبارت دی.

او یا هم په بل عبارت: هغه مبلغ، چې له یو ملکیت څخه د ګټه اخستنې په وړاندې تادیه کېږي د کرایې څخه عبارت دی، چې معمولاً د ملکیت په اندازه، آسانتیا ، د فاصلې لیریوالی او داسې نورو ځانګړتیاو پورې تړلی وي.

## Repo

### دوباره تصاحت

له (Repossess) څخه اخیستل شوې اصطلاح ده او د دوباره تصاحت مانا لري. او له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې له مخې یې هغه کس، چې یو مالي سند یا بله شتمني پلوري د ټاکلي وخت څخه وروسته یې په ټاکلي قېمت بیرته ترلاسه کوي.

## Representative Money

### نماینده پیسې

هغه پیسې، چې ۱۰۰٪ د طلا یا نقرې پشتوانه ولري او یا هم هغه پیسې، چې په کامل ډول د طلا یا د نقرې په وسیله بیرته پېرل کېدای شي.

## Required Reserve

### مطلوبه/ قانوني زیرمه یا ریزرف

د سوداګریزو بانکونو د زیرمې هغه اندازه، چې بانکونه یې د قانون له مخې د مشتریانو د اماناتو او د پولي سیاست په موخه پر ساتلو مجبوره وي.

## Required Return

### مطلوب حاصل یا بازګشت

د بازګشت یا د ګټې هغه اندازه، چې د پانګونې یا د تولید د پروسې د دوام لپاره اړینه ګڼل کېږي.

## Rescheduling

بيا مهالويشنه

کله، چې د پور تصفيه کونکی د پور په تصفيه کې پاتې راشي؛ نو د ښکيلو اړخونو ترمنځ د پورونو د تصفيې لپاره د وخت غزولو ته بيا مهالويشنه ويل کېږي.

## Rescind

فسخ کول، باطلول

په رسمي ډول د هوکړه ليک، ځانګړي قانون او يا هم د مقرراتو باطلولو ته (Rescind) ويل کېږي.

## Reservation Price

ريزرف قېمت

په جزوي اقتصاد کې له هغه اضغري قېمت څخه عبارت دی، چې له مخې يې عرضه کونکي د معلومه اندازه توکو او يا خدمتونو د عرضه کولو اراده او وړتيا ولري. او يا هم په بل عبارت: هغه لوړ ترين قېمت چې تقاضا کوونکي يې د پېر اراده او توان لري چې د ريززف قېمت په نوم ياديږي او معمولاً په مزايده کې ډېر کارول کيږي.

## Reservation Wage

ريزرف مزد

هغه حداقل مزد، چې له مخې يې کارګر استخدامېږي يا دا، چې: له مخې يې کارګره قوه کارکولو ته حاضريږي او تر دې ښکته مزد لپاره کار نه قبلوي.

## Reserve

زيرمه/ريزرف

پيسې يا کوم توکي يا شتمني، چې د يوې ځانګړې موخې لپاره زيرمه او ساتل کېږي. د بېلګې په توګه: سوداګريز بانکونه د مشتريانو د امانتونو د ساتلو په موخه د امانت يوه معلومه سلنه د زيرمې په توګه په ساتلو باندې مکلف دي.

## Reserve Currecy

### اسعاري زېرمه

هغه اسعار، چې د دولت یا د هېواد د مرکزي بانک له لوري د پولي او مالي موخو د ترلاسه کولو لپاره د زېرمې په توګه ساتل کېږي لکه په اوسني وخت کې، چې ډالر د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره د زېرمې په توګه ساتل کېږي.

## Reserve Ratio

### د ريزرف نسبت

د بانکي اماناتو هغه سلنه، چې د مشتریانو د امانتونو په وړاندې د بانکونو له لوري په نقده ډول ساتل کېږي، چې یوه بنسټیزه موخې یې د پولي سیاست د تنظیم څخه عبارت دی.

## Reserve Regulation/Requirement

### د ریزرف مقررات/مطلوبه سطحه

د هېواد د مرکزي بانک مقررات، چې سوداګریز بانکونه د مشتریانو د امانتونو د ساتلو لپاره د امانتونو یوه معلومه برخې د زېرمې په توګه په ساتلو مجبوروي، چې معمولاً دوه موخو لپاره ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

- پولي سیاست(Monetary policy)
- د مشتریانو د اماناتو ساتل.

## Resource Allocation

### د سرچېنو تخصیص

د منابعو د تخصیص یا ځانګړنې په مانا دی یا د نا محدوده اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه له شته محدوده منابعو د متبادلې ګټه اخېستنې ، توزیع او ویش څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: غوښتنې او اړتیاوې نامحدوده او په وړاندې یې وسایل محدود دي نو لدې امله د ټولنې ټولې اړتیاوې او غوښتنې پوره کېدای نشي نو د وسایلو تخصیص دا په ګوته کوي، چې کومې اړتیاوې اول او کومې وروسته رفع شي او کومې اړتیاوې او غوښتنې دي، چې له رفع کېدو څخه پاتې کېدای شي.

او يا هم دا چې: څه شی تولید شي؟، چې د توکو او خدمتونو د تولید یا د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د تولیدي وسایلو د متبادل استعمال، توزیع او ویش پروسه په بر کې نیسي.

## Resource Market

## د منابعو بازار

هغه بازار، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه د تولید منابعو (کارګر، او طبیعي منابعو) د تبادلې خدمتونه پکې ترسر کېږي د منابعو له بازار څخه عبارت دی چې د عواملو بازار **(**Factor market**)** په نوم هم یادیږي. د مالي بازار**(**Financial market**)** او د تولید بازار **(**Product market**)** سره يې پرتله کړئ.

## Resource Price

## د منابعو قیمت

د منابعو یا سرچینو د قیمت څخه عبارت دي. دا د عرضې د پنځو ټاکونکو عواملو (Supply Determinants**)** څخه یو دی، چې د عرضې د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت ګڼل کېږي او د منابعو په قیمت کې تغیر د عرضې د منحني د انتقال لامل ګرځي. او يا هم دا چې: د توکو او خدمتونو په تولید کې د تولید منابعو د استعمال په وړاندې د تادیې څخه عبارت دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې ټاکونکو عواملو (Supply determinants) ته رجوع وکړئ.

## Resources

## منابع / سرچینې

منابع،سرچینې یا د تولید عوامل (ځمکه، کارګر، پانګه او متصدي یا کارفرما) برابر مفهوم لري، چې د مستهلکینو د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخیستل کېږي چې:

- د ځمکې څخه خام مواد، سبزیجات، معدنیات او داسې نور، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې ترې ګټه اخیستل کېږي ترلاسه کېږي.

- کارګر څخه د توکو او خدمتونو په تولید کې د تولید بنسټیزې وسېلې په توګه ګټه اخېستل کېږي
- د پانګې په وسیله د تولید بنسټیز او اړین توکي او لګښتونه لکه تجهیزات، مزد او معاش او داسې نور لګښتونه تمویلېږي.
- او متصدي یا حکمفرما بیا په خپل وار سره د تولید عوامل د ګټې ترلاسه کولو په موخه سره یو ځای کوي او د توکو او خدمتونو په تولید کې د تاوان خطر قبلوي.

## Restraint of Trade

## د سوداګرۍ محدودیت

هر هغه عمل چې د آزادې سوداګرۍ مخه نیسي لکه د دولت له لوري د قېمت ټاکل، د وارداتي سهمیې ټاکل، د تعرفې ټاکل او نور.

## Retail Sales

## پرچون پلورنه

د کورنۍ سوداګرې هغه ډول، چې پکې د توکو پلور په کمه پیمانه سره ترسره کېږي. له عمده پلورنې (Whole sales) سره یې پرتله کړئ.

## Retained Earning

## ساتل شوې ګټه

د سهامي شرکت د ګټې هغه برخه، چې نه هم ونډه لرونکو ته د dividend په شکل او نه هم د شرکت پر ګټه باندې د مالیه په شکل تادیه کېږي بلکې د شرکت د کاروبار د لا پراختیا په موخه په کاروبار کې پاتې او ترې ګټه اخېستل کېږي، چې د سهامي شرکت نه ویشل شوې ګټې (Undistributed Corporate Profit) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Retaliatory Tariff/Duty
## غچ اخیستونکې تعرفه

د یو هېواد په وړاندې د نورو هېوادونو د تبعیضي چلند په وړاندې د هغوی د جرېمې یا امتیاز ورکولو ته قایلولو په منظور د ګمرکي حقوقو لوړولو څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: هغه تعرفه چې یو هېواد یې د بل هېواد د وارداتو پر وړاندې د متقابل عمل په توګه وضع کوي. همدا راز د جبراني تعرفې (Retaliatory tariff ) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د تعرفې د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره تعرفې (Tariff) ته هم رجوع وکړئ.

## Retional Behavior
## منطقي سلوک

د اقتصادي واحدونو منطقي او شعوري سلوک ته وايي، او له هغه فرضیې یا هغه آند څخه سرچینه اخلي، چې وايي: په ټولنه کې وګړي د هغه توکي او یا خدمت د پېرودلو پرېکړه کوي، چې د استعمال په پایله کې یې په ډېر رضایت ترلاسه کولای شي او دا پرېکړه د تفکر تعاقل او منطق له مخې کوي.

## Return
## حاصل/بدله

د ګټې یا د عوایدو اندازه، چې د پانګونې یا د توکو او خدمتونو د پلور څخه ترلاسه کېږي.

## Return to Scale
## د مقدار په وړاندې حاصل (بازګشت)

د عواملو د مقدار په زیاتولو د تولید د مقدار د تغیر اندازې ته وايي. او یا هم دا چې: په اوږد مهال کې د تولید په ټولو عواملو کې د متناسب ډېروالي په پایله کې په تولید کې د رامنځته شوي تغیر یا زیاتوالي څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: که د تولید ټول عوامل (معمولاً کارګر، پانګه او ماشین آلات) په متناسب ډول سره ۱۰٪ ډېر شي او د تولید په اندازه کې ۱۰٪ ډېروالی، یا هم دا، چې له ۱۰٪ څخه کموالی یا هېڅ تغیر رامنځته نشي. د مقدار په وړاندې حاصل په درېو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: زیاتیدونکی بازګشت(Increasing Return To Scale)

۲: کمیدونکی بازګشت(Decreasing Return To Scale)

۳: ثابت بازګشت(Constant Return To Scale)

د لا ډېرومالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Revalorization

د ارزښت بیا اعاده

د دولت له لوري د هغه پولي واحد د ارزښت بیا برقرارول، چې له جریان څخه وتلی وي.

## Revaluation

بیا ارزښت ورکول

د نورو هېوادونو د پولي واحدونو په وړاندې د یو هېواد د پیسو د قېمت (د تبادلې نرخ) د لوړوالي عمل څخه عبارت دی، چې د داخلي پیسو د اخیستنې یا هم د اسعارو د پلور په بڼه صورت نیسي، چې په اختیاري ډول سره ترسره کېږي او موخه یې د هېواد د صادراتو ارزښت زیاتیږي او واردات ارزانیږي. له دې سیاست څخه معمولاً هغه مهال ګټه اخیستل کېږي، چې هېواد د سوداګرۍ ډول مثبت بیلانس لري، خو له دې وروسته یې نه غواړي او په دې ډول د دغه بیلانس تعادل رامنځته کوي.همدارنګه نوموړې اصطلاح د یوې شتمنۍ د بیا ارزښت ټاکنې په مفهوم هم کارول کېږي. له د ارزښت تنزیل (Devaluation) سره یې پرتله کړئ.

## Revenue

عاید

په اقتصاد کې دا اصطلاح معمولاً د عوایدو (دولتي ،شخصي یا هم د کاروباري) لپاره استعمالېږي.په ځانګړي ډول هغه عواید، چې دولت یې پر عوایدو د مالیاتو له لارې. او یا هم دا چې: پر وارداتو د ګمرکي محصول له لارې یا له نورو اقتصادي کړنو څخه تر لاسه کوي دولتي عواید دي، چې معمولاً د حکومتي عوایدو (Government revenue) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.او یا هم کاروبارونه چې د خپل اقتصادي کړنو څخه عواید ترلاسه کوي.

## Revolving Fund
## ګردشي فنډ

هغه فنډ، چې له هغه څخه د مصرفیدونکې برخې په اندازه پکې بیا زیاتوالی راوستل کېږي. یا هم په بل عبارت: څومره، چې مصرفېږي په همغه اندازه پکې بیا زیاتوالی رامنځته کېږي.

## Rigid Prices
## انعطاف ناپذیره قیمتونه

د توکو او خدمتونو قیمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر د شتون په عکس العمل کې په ډېر ورو ډول تنظیمېږي.

او یا هم په بل عبارت: هغه قیمتونه، چې په بازار کې د مازاد او یا کسر څخه نه متاثره کېږي یا ډېر کم متاثره کېږي، چې د Inflexible/sticky Prices اصطلاحات ورته هم کارول کېږي. له انعطاف پذیزه قیمتونو (Flixible Prices) سره یې پرتله کړئ.

## Rigid Wages
## انعطاف ناپذیره مزد

غیر ارتجاعي (Inflexible Wages) ته رجوع وکړئ.

## Risk
## ریسک/خطر

په عمومي ډول هغه حالت چې د یوې حادثې د وقوع څو امکانات شتون ولري او د هرې یوې احتمال د سنجش وړ وي. په ځانګړي ډول په یو کاروبار کې د پانګونې د متوقعه ګټې د کمښت یا د تاوان امکان څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: په راتلونکې کې د متوقعه ګټې او یا تاوان د امکان څخه عبارت دی، چې معمولاً یې په واقعي ډول سره وړاندوینه نشي کېدای. خو د وقوع د احتمال درجه یې سنجول کیدلی شی.

## Risk Averse

## خطر نه منونکی

د خطر څخه ځان ساتونکی کس ته وايي، چې هغه معين او معلومو عوايدو ته، چې خطر پکې شتون ونه لري نظر هغه عوايدو ته، چې د ګټې او يا تاوان خطر پکې رامنځته کېدای شي ترجيح ورکوي.

د بېلګې په توګه: يو کس ته دوه اختيار ورکول کېږي اول دا، چې تضمين شوې ۱۰۰۰ افغانۍ او دويم دا، چې يا د لوړې ګټې يا د تاوان چانس پکې مساوي وي په دې مانا، چې يا ۱۵۰۰ افغانۍ يا ۵۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي؛ نو په دې حالت کې که چېرې نوموړی کس اول اختيار غوره کړي؛ نو دې ته د خطر نه منونکي اصطلاح کارول کېږي. له خطر خوښونکي (Risk lover) او د خطر په وړاندې بې توپيره (Risk Neutral) سره يې پرتله کړئ.

## Risk Bearer

## خطر منونکی

هغه خطر منونکی کس (پانګه اچونکی)، چې د پانګونې يا يو اقتصادي فعاليت احتمالي خطر قبلوي او پانګونه ترسره کوي.

## Risk Lover

## خطر خوښوونکی

د خطر قبلوونکي کس يا يو کس، چې معين او ټاکلو عوايدو ته، چې خطر پکې شتون ونه لري کم ترجيح ورکوي نظر هغه عوايدو ته، چې د ګټې او يا تاوان خطر پکې رامنځته کېدای شي.

د بېلګې په توګه: يو کس ته دوه اختياره ورکول کېږي اول دا، چې تضمين شوې ۱۰۰۰ افغانۍ او دويم دا، چې يا د لوړې ګټې يا د تاوان چانس پکې مساوي وي په دې مانا، چې يا ۱۵۰۰ افغانۍ يا ۵۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي؛ نو په دې حالت کې که چېرې نوموړی کس دويم اختيار غوره کړي؛ نو دې ته د Risk Lover /Risk Seeker اصطلاح کارول کېږي. له خطر نه منونکي (Risk Averse) او د خطر په وړاندې بې توپيره (Risk Neutral) سره يې پرتله کړئ.

## Risk Management

د خطر مدیریت

هغه پروسه، چې پکې د متوقعه خطر د حداقل ته رسولو کوښښ کېږي.

## Risk Neutral

د خطر بې طرفه (سلوک)

د خطر په وړاندې بې توپیره کس یا یو کس، چې معین او ټاکلي عوایدو، چې خطر پکې شتون ونه لري او هغه عواید، چې د اضافي ګټې یا تاوان خطر پکې شتون ولري دواړو ته په یو شان ارزښت باندې قایل وي یعنې د غیر یقیني حالت شتون د هغه په پریکړو اغیز نه لری.

د بېلګې په توګه: یو کس ته دوه اختیاره ورکول کېږي اول دا، چې تضمین شوې ۱۰۰۰ افغانۍ او دویم دا، چې یا د لوړې ګټې یا د تاوان چانس پکې مساوي وي په دې مانا، چې یا ۱۵۰۰ افغانۍ یا ۵۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي؛ نو په دې حالت کې که چېرې نوموړی کس دواړو اختیارونو ته په عین ارزښت سره قایل وي؛ نو دې ته د Risk neutral اصطلاح کارول کېږي. له خطر نه منونکي (Risk averse) او د خطر خوښونکی (Risk lover) سره یې پرتله کړئ.

## Risk Premium

د خطر نسبت/پاداش

- هغه مقدار، چې یو خطر نه قبلوونکی کس یې د خطر د دفع کولو لپاره تادیه کوي.
- هغه اضافي فیصدي، چې له ربحې څخه علاوه په دې خاطر ورکول کېږي، چې متوقعه خطر جبران شوی وي او په دې ډول د پور یا شتمنۍ اخیستونکی وهڅېږي، چې همدغه له متوقعه خطر ډکه معامله ترسره کړي.

## Risk Seeking

## د خطر لټه

کله، چې یو کس په پانګونې کې د خطر قبلولو ته زړه ښه کوي یا دا، چې د خطر منلو ته تیار وي او حتی ترجیحاً په هغه پروژه کې پانګونه کوي، چې معمولاً پکې خطر شتون ولري او ګټه یې هم لوړه وي.

## Rival Consumption

## سیالیز استهلاک

سیالیز استهلاک د خصوصي توکو مهم خاصیت ده په دې مانا، چې د یو کس له خوا د یو توکي استهلاک (چې قیمت یې هم تادیه شوی وي)، په عین وخت کې د عین توکي له استهلاک څخه بل کس محرومول حتی که د قیمت تادیې ته یې هم حاضر وي. د بېلګې په ډول یو خوراک غذا، چې یو کس یې قیمت تادیه او استعمال کړې ممکنه نه ده، چې بل کس هم ورڅخه ګټه واخلي. ځینې داسې شیان شته، چې دغه خاصیت نه لري لکه د ګروپ رڼا یا عامه ملي امنیت، چې هر کس په همزمان ډول ورڅخه ګټه پورته کولی شي او یو کس مصرف د بل مخنیوی نه کوي.

## Running Cost

## جاري لګښت

هغه لګښت چې د یو اقتصادي واحد یا کاروبار د ورځنیو کړنو د ترسره کولو لپاره ترسره کېږي لکه د مزد او معاش لګښت او یا هم د خوراکي توکو لګښتونه او نور.

# S

## Sabotage
سبوتاژ/ګډوډول

په عام ډول د یوې پروسې ویجاړولو او سبوتاژ کولو په مانه ده خو په کاروباري مفهوم کله، چې کارګران د خپل کارفرما یا متصدي څخه شکایت ولري او په قصدي ډول د تولید پروسه د وخت په ضایع کولو او کله ناکله د ماشین الاتو په خرابولو ټکنی کوي او له مخې یې په خپل تولیدي اغیزمنتوب کې کموالی راولي نو د کارګرانو دغه عمل ته سابوتاژ ویل کېږي.

## Salary
معاش

د معاش یا تنخوا په مانا ده ، یا کارګر ته د هغه د ترسره شویو خدمتونو په وړاندې تادیې ته ویل کېږي چې معمولاً په میاشتني ډول ترسره کېږي. دغه ټاکلی مبلغ د کاروبار له لوري کارګرانو ته د خدمتونو یا کار په مقابل معمولاُ په میاشتني ډول سره تادیه کېږي. خو په ځینو هېوادونو کې په کلني ډول هم تادیه کېږي.

## Sales Tax
پر پلور مالیه

هغه مالیه، چې د توکو یا خدمتونو په پلور باندې وضع او اخېستل کېږي.

## Sample
نمونه

د هغه نمونې یا نماینده ګروپ په مانه ده چې د خپلې اړونده سلسلې څخه نماینده ګي کولی شي.نمونه یا سمپل په احصائیه کې د یوې لویې سلسلې ارقامو د تحلیل لپاره خورا زیات اهمیت لرونکی ده په ځانګړي ډول کله چې د سلسلې د ټولو مشاهداتو کتنه ممکنه نه وي.

## Sampling
### نمونه اخیستنه

په احصائیه کې د یوې لویې سلسلې د تحلیل لپاره د نمونې د اخیستنې او ټاکنې پروسې ته سمپلینګ وایي.

## Satisfaction
### رضایت/تسکین

په بریالیتوب سره د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو له پروسې څخه عبارت دی. او یا هم په بل عبارت: د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو د ګټې اخېستنې او استهلاک څخه ترلاسه شوي رضایت څخه عبارت دی.

## Save
### سپما

د عاید هغه برخه چې د لګښت څخه پاتې کېږي او د راتلونکو متوقعه او یا هم غیر متوقعه پیښو په وړاندې د ګټې اخېستو په موخه بېلېږي. او یا هم په بل عبارت: د عاید هغه برخه چې د اوسني لګښت په موخه ترینه ګټه نه اخېستل کېږي بلکه د راتلونکي لپاره زېرمه کېږي.

## Saving Account/Deposit
### سپما حساب/امانت

د سپما حساب یا هغه امانت یا بانکي حساب، چې خلک یې د مالي ادارو یا بانکونو سره د ربح په مقابل کې ساتي، دغه حساب سیالیت کم لري او د نقدو یا چک په ډول یې په لنډه موده کې استعمال وړ نه وي. د دې حساب په وسیله خلک خپلې نقدي عاید له جریان څخه باسي او ترمعلوم وخت پورې ورڅخه د معاملاتو لپاره ګټه نشي اخیستی؛ خو دربجې څخه معلومه ګټه ورڅخه ترلاسه کوي. د بانکې حسابونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره بانکی حساب **(Account)** ته هم رجوع وکړئ.

## Saving Functions
## د سپما تابع

د کورنیو د سپما او د تصرف وړ عوایدو ترمنځ ریاضیکي مثبت تړاو په ګوته کوي. دا په دې مانا، چې: که چېرې د کورنیو د تصرف وړ عواید ډېرېږي؛ نو د کورنیو په سپما کې هم ډېروالی رامنځته کېږي او که د کورنیو د تصرف وړ عواید (Disposable Income) کې کموالی راځي؛ نو د کورنیو په سپما کې هم کموالی رامنځته کېږي.

## Saving Line
## د سپما کرښه

په ګراف کې د کورنیو د سپما او د تصرف وړ عوایدو (Disposable Income) ترمنځ ګرافيکي تړاو په ګوته کوي، چې د دې کرښې (slope) مثبت وي، د صفر نه لوی او له یو څخه کوچنی وي او د سپما نهايي میلان په شکل هم حرکت کوي.

## Saving-Investment Equality
## د سپما او پانګونې مساوات

په کلاسیک اقتصاد کې هغه منطقي قیاس، چې وايي: ارتجاعي قیمتونه (Flexible Prices) د سپما او پانګونې ترمنځ مساوات یقیني کوي، چې دا د کلاسیک له دریو فرضیو څخه یوه ده د کلاسیک اقتصاد دوه نورې فرضیې عبارت دي له:

۱: ارتجاعي قیمتونه (Flexible Prices)

۲: د سی قانون (Say's Law)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Saving-investment Model
## د پسی انداز او پانګونې ماډل

هغه موډل، چې د کلي اقتصاد له دوه بنسټيزو سکتورونو (کورنۍ او کاروبارونو) په سپما او پانګونه باندې تکیه لري او د کینز په اقتصاد کې د تعادل د رامنځته کولو په موخه ترینه ګټه اخسېتل کېږي، چې دا تعادل د سپما او پانګونې ترمنځ د تقاطع په نقطه کې رامنځته کېږي.

## Say'slaw
## د سي قانون

دې نظریې ته د کلاسیک اقتصاد پوه جان بایتست سي Jean-Baptiste Say (۱۷٦۷-۱۸۳۲) له لوري پرمختګ ورکړل شوی دی نوموړی وايي، چې: په تولید کې ډېروالی په تقاضا کې د ډېروالي لامل ګرځي. او یا هم دا چې: ټولیز تولید په بازار کې ټولیزه تقاضا رامنځته کوي چې ټول تولید شوي توکي او خدمتونه وپلورل شي. دا په دې مانا چې: ټولیزه عرضه په خپله ټولیزه تقاضا رامنځته کوي.، چې دا د کلاسیک اقتصاد له دریو فرضیو څخه یوه ده دوه نورې یې عبارت دي له:

۱: ارتجاعي قیمتونه **(**Flixible Prices**)**

۲: د سپما او پانګونې مساوات (Saving-Investmente Quality)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Scab
## سکب/اعتصاب ماتونکی

هغه کس، چې له یو کاروبار سره کار پیلوي یا کار ته ادامه ورکوي پداسې حال کې، چې د کارګرانو ټولنه له نوموړي شرکت یا کاروبار سره په اعتصاب کې قرار ولري. د اعتصاب ماتونکی Strike Breaker اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Scarce
## محدود/ کمیاب

قلت یا کموالي ته وايي او د بشريت په ژوندانه کې هغه عمومي حالت، چې وايي: د وګړو د اړتیاو او غوښتنو په پرتله منابع او وسایل محدود دي. او په ټولنه کې د توکو او خدمتونو محدودیت ته (scarcity) اصطلاح کارول کېږي.

## Scarce Goods
## کمیابه توکي

په اقتصاد کې هغه توکي، چې د استعمال او خواهش په پرتله په کمه اندازه سره شتون ولري. او یا هم دا، چې: هر هغه توکي، چې په ذاتي توګه ګټور، د تصرف او اختصاص وړ او کمیابه وي. د اقتصادي توکو (Economic Goods) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Scarce Resources
## کمیابه منابع

هغه منابع، چې د استعمال او خواهش په پرتله په کمه اندازه سره شتون ولري، چې اقتصادي منابعو (Economic Resources) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Scarcity
## قلت/کمیابي

د بشریت په ژوند کې د هغه نافذ حالت شتون، چې له مخې یې ټولنه نامحدوده اړتیاوې او غوښتنې لري؛ خو په وړاندې یې منابع محدود دی. دا په دې مانا، چې: بشر ټول هغه څه، چې ورته اړتیا لري نشي ترلاسه کولای. چې د اقتصادي ستونزې (The Economic Problem) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Scarcity Problem

### د کمیابۍ ستونزه

په دې مانا، چې په ټولنه کې وګړي د خپلو اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو لپاره په کافي اندازه منابع او وسایل نلري څو د هغوی په مرسته خپلې ټولې غوښتنې او اړتیاوې رفع کړي. او یا هم په بل عبارت: د ټولنې اړتیاوې او غوښتنې نا محدوده دي او د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په وړاندې منابع او وسایل محدود دي، چې په دې ټوګه ټولنه نشي کولای، چې خپلې ټولې اړتیاوې او غوښتنې رفع کړي.

## Second Degree Price Discrimination

### د قیمتدوهمه درجه توپیر

د تبعیضي قیمت هغه ډول، چې له مخې یې د توکو پلورونکی د توکو قیمت د توکو د پلور په مقدار پورې تړي، چې د تور قیمت اېښودنې (Black Pricing) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. د قیمت د توپیر یا تبعیض په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د قیمت لومړې/دریمې درجې تبعیض (First/third Degree Price Discrimination) ته هم رجوع وکړئ.

## Second World

### دویمه نړۍ

دا اصطلاح د هغو هېوادونو لپاره کارېږي چې سوسیالیستي اقتصادي نظام په کې حاکم و. لکه د شرقي اروپا هغه هېوادونه چې سوسیالیستي سیستم په کې حاکم وو

## Secondary Data

### دوهمي اطلاعات یا معلومات

هغه معلومات چې په مستقیم ډول نه وي راټول شوي بلکه د نورو نشریو یا هم اطلاعاتو څخه ترلاسه شوي وي له لومړنیو مالوماتو (Primary Data) سره یې پرتله کړئ.

## Secondary Strike
دويمي/خواخوږۍ اعتصاب

د خواخوږۍ اعتصاب (Symphatic strike) ته رجوع وکړئ.

## Sector
سکتور يا څانګه

د اقتصاد يوې عمده برخې ته چې اړونده عناصر يې مشابه توليد او فعاليتونه لري سکتور ويل کېږي لکه کرنه، سوداګري،صنعت، چې هر يو يې يو سکتور ګڼل کېږي.

## Securities
قېمتي پاڼې

ونډې او يا هم د پور سندونه چې د پانګې تمويل او د عوايدو د ترلاسه کېدو لامل ګرځي قېمتي پاڼې بلل کېږي.

## Segment
ګروپ/ برخه

د توکو او خدمتونو د متوقعه پېرودونکو هغه ګروپ، چې تقريباً يو شان اړتياوې او غوښتنې لري او له نورو پېرودونکو څخه جلا ګڼل کېږي.

## Segment Variable
(د ځانګړې) برخې متحول

د سازمانونو، ګروپونو او انفرادي وګړو هغه ځانګړتياوې، چې له مخې يې بازار په وړو برخو (segment) وېشل کېږي لکه عمر، جنس (نارينه او ښځينه)، جغرافيايي موقعيت او داسې نورو ځانګړتياو له مخې بازار په وړو برخو يا واحدونو ويشل.

## Segmentation

## ګروپبندي

د بازار مونډې هغه پروسه، چې له مخې يې توليدونکي او پلورونکي د خپلو توليداتو د پلورلو لپاره بازار په داسې برخو (معمولاً ورو برخو) ويشي، چې هره برخه تقريباً يو شان اړتياوې او غوښتنې ولري. خو يو ګروپ له بل سره توپير ولري.

## Seigniorage

## حق الضرب

د پيسو د چاپ (معمولاً د سکو د ضرب وهلو) د لګښت او د پيسو د اسمي ارزښت ترمنځ توپير څخه عبارت دی. د بېلګې په توګه: که ده افغانيو په ضرب وهلو باندې ٤ افغانۍ لګښت راشي نو حق الضرب يې د ١ افغانۍ څخه عبارت دی.

## Self Correction

## خود اصلاحي

هغه اتوماته پروسه، چې له مخې يې بازارپه خپله په اتومات شکل له غير تعادلي حالت څخه تعادل ته راځي

## Self Interest

## شخصي علاقمندي/ګټې

شخصي علاقمندۍ شخصي ګټو ته وايي، يا د نورو د رفاه او ګټو په پرتله شخصي رفاه او ګټو ته اهميت ورکول.

د بېلګې په توګه: اقتصاد کې، چې توليدونکي د مستهلکينو او مستهلک د توليدوونکيو په وړاندې خپلو ګټو ته اهميت ورکوي او په دې توګه په اقتصاد کې هر وګړې خپلې شخصي ګټې تعقيبوي.

## Self-Sufficient Nation
ځان بسیا ملت

خود کفا ملت یا هېواد ته وايي او یا هم هغه هېواد، چې د خپلې اړتیا ټول توکي او خدمتونه په خپله تولید او له نورو هېوادونو سره د توکو او خدمتونو راکړه ورکړه نه ترسره کوي په خپل ځان د متکي هېواد په نوم یادېږي.

## Seller's Expectation
د پلورونکو توقعات

د عرضې د پنځو ټاکونکو عواملو (**supply determinants**) څخه یو دی، چې د عرضې د منحني رسمولو په وخت کې ثابت فرض کېږي او د تغیر په رامنځته کېدو سره د عرضې منحني هم له خپل ځای څخه انتقال مومي. د بېلګې په توګه: که عرضه کونکي داسې وانګیري، چې په راتلونکي کې د عرضې قېمت لوړېږي؛ نو په دې توګه په اوسني وخت کې په عرضه کې کموالی راولي څو په راتلونکي کې د قیمتونو د لوړوالي څخه ګټه پورته کړي. او یا هم دا چې: که عرضه کونکي داسې وانګیري، چې په راتلونکي کې د عرضې په قېمت کې کموالی رامنځته کېږي؛ نو په اوسني وخت کې په عرضه کې ډېروالی راولي څو په راتلونکي کې د قیمتونو د کموالي له امله رامنځته کېدونکي احتمالي خطر څخه په امن کې واوسي، چې په دې توګه په دواړو حالتونو کې د عرضې منحني له خپل ځای څخه انتقال مومي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې ټاکونکو عواملو (Supply determinants) ته رجوع وکړئ.

## Seller's Market
د پلورونکو بازار

په سیالیز بازار کې د عدم تعادل هغه حالت، چې پکې کسر (shortage) شتون ولري اوعرضه کونکي د قېمت په ټاکنه باندې تر ډېره حده حاکمیت او یا کنټرول درلودلای شي. او یا هم دا چې: په سیالیزي بازار کې هغه حالت، چې په اوسنیو قیمتونو سره د تقاضا مقدار د عرضې د مقدار په پرتله ډېر وي.

خو دا په دې مانا نده، چې د تقاضا کوونکو ترمنځ سیالي شتون نلري او لدې امله عرضه کونکي په بازار کې په قیمتونو باندې کنترول ترلاسه کوي بلکې په بازار کې دا حالت ځینې وخت په موقتي ډول رامنځته کېږي. د پیرودونکو بازار (buyer'smarket) سره یې پرتله کړئ.

## Seller's Surplus

## د پلورونکي مازاد

د قېمت هغه توپیر، چې د پلور د واقعي لګښت او د توکي د پلور د قېمت ترمنځ شتون ولري.

د بېلګې په توګه: که د یو توکي د پلور واقعي قېمت په بازار کې ۲۰ افغانۍ وي؛ خو د توکي پلورونکی د لزوم په حالت کې په خپل لګښت یعنې ۱۵ افغانۍ د نوموړي توکي پلورلو ته هم حاضر وي؛ خو توکی په واقعي قېمت (۲۰ افغانۍ) وپلوري؛ نو په دې حالت کې ۵ افغانۍ د پلورونکي د مازاد څخه عبارت دی. د پیرودونکي مازاد (buyer's surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Sensitive Market

## حساس بازار

هغه بازار، چې پکې د ښو یا بدو اطلاعاتو خپرېدل د توکو او خدمتونو قېمتونه ډېر متاثره کوي.

## Service

## خدمتونه

هغه اقتصادي کړنې، چې د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه ترسره کېږي یا دا، چې: د تولید هغه برخه، چې د لمس کیدو وړ نه وي او د اړتیاو او غوښتنو د رفع کېدو لامل ګرځي لکه په پوهنتون کې استاد خدمتونه، د ناروغ لپاره د ډاکټر خدمتونه او داسې نور. خدمتونه د تولید یوه برخه ده د تولید بله برخه توکي (goods) دي.

## Service Utility

## د خدمت ګټورتوب

هغه ګټورتوب او مطلوبیت، چې د یو ځانګړي خدمت څخه د ګټې اخیستنې په وړاندې ترلاسه کېږي.

د بېلګې په توګه: یو ښونکی، چې په یوه ښوونځي کې د نورو ښونکو په پرتله لایق، بااخلاق، باحوصله، او د ښې لهجې درلودونکی دی د ښوونځي زده کونکي د نورو ښوونکو په پرتله دده له ښوونې څخه ډېر مطلوبیت ترلاسه کوي.

## Share

ونډه

ونډې (Stock) ته رجوع وکړئ.

## Shift

نوبت/شفټ/بدلون

د کار په برخه کې د کار د نوبت په مانا دی یعنی د کار هغه مدت څخه عبارت دی، چې معمولاً یوه کاري دوره (۲٤ساعته یا اونۍ) په څو مساوي برخو داسې ویشل کیږي چې کار په دوامداره ډول د کارکرې قوې د بدلون سره سره دوام پیدا کړي. د بېلګې په توګه: یو کار یا کړنه ۲٤ ساعته جریان لري په دریو مساوي نوبتونو وېشل کېږي، چې اول نوبت د سهار له ۸ بجو د مازدېکر تر ٤ بجو، بل نوبت له ٤ بجو د شپې تر ۱۲ بجو او دریم نوبت د شپې له ۱۲ بجو د سهار تر ۸ بجو پورې دوام پیدا کوي.

## Shipment

حمل و نقل

معمولاً د سوداګریز توکیو د لیږد په مانا ده، چې لیږد یې معمولاً د کشتیو یا نورو لیږدونکو وسایلو په مرسته ترسره کېږي.

## Shock

ټکان (پیښه )

یوه غیر متراقبه پېښه، چې ټول اقتصاد یا د اقتصاد یوه برخه تر خپل اغېز لاندې راولي. د ټکان په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د عرضې/تقاضا ټکان (supply/demand) shock د بازار ټکان

(Market Shock**)**، د کلي بازار ټکان (Aggregate market **shock)** یا د نا انډوله اقتصادي ټکان (asymmetricshock) هم ته رجوع وکړئ.

## Short Run
## لنډ مهال

لنډ مهال د جزوی اقتصاد د مباحثو له مخې د تولید یوه دوره په بر کې نیسي چې لږ تر لږه د تولید یو عامل ثابت یا د تغیر وړ نه وی، خو د لوی اقتصاد په مباحثو کی لنډ مهال هغه دوره ده چی د قېمتونو کچه په کې ثابته وی او د اقتصادی پدیدو په بدلون سره قېمت تغیر نه خوری. د اوږد مهال (long run**)** سره يې پرتله کړئ.

## Shortage
## کمبود

په بازار کې هغه حالت، چې په اوسنيو قيمتونو سره د تقاضا مقدار د عرضې د مقدار په پرتله ډېر وي، چې ځينې وخت ورته د مازادې تقاضا (Excess demand) او د پلورونکو بازار (seller'smarket) اصطلاح هم کارول کېږي. له مازاد (surplus**)** سره يې پرتله کړئ.

## Shot Down Rule
## د (تصدۍ) د تړلو قاعده

هغه قاعده، چې له مخې يې توليدونکي د اقتصادي تاوان د اضغري کولو په موخه د توليد پروسه بندوي يا قطع کوي، چې دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي، چې د توليد قېمت د توليد متوسطه متغيره تمام شد لګښت څخه کم وي.

## Silent Partner
## غير فعال شريک

په کاروبار کې هغه شريک چې د کاروبار د ورځنيو يا هم د توليدي کړنو د ترسره کولو لپاره هېڅ ډول دنده پرمخ نه بيايي بلکه شرکت يوازې له مالي پلوه تقويه کوي او د شرکت په ګټه او تاوان کې شامل وي. چې (Sleeping partner**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Slope
## ميل

د يوې کرښې يا منحني ميل يا ميلان ته وايي، چې د زاويې د تانجانت يا د نوموړې کرښې لوړوالی پر اوږدوالي د نسبت څخه ترلاسه کېږي.

## Slowdown Strike
## د کار د ټکنی کولو اعتصاب

د اعتصاب هغه ډول چې کارګران پکې کار کولو ته دوام ورکوي؛ خو په قصدي ډول په خپل توليدي اغيزمنتوب کې کموالی راولي.

## Slump
## رکود (لنډمهاله رکود)

اقتصادي رکود **(**Economic depression) ته رجوع وکړئ.

## Small Business
## کوچنی کاروبار

په اقتصاد کې ټول هغه کاروبارونه، چې معمولاً په انفرادي ډول سره پرمخ بېول کېږي، د توليد مقدار يې کم وي او په بازار کې په قيمت باندې کنټرول ونه لري کوچني کاروبارونه بلل کيږي خو په ګڼو هيوادونو کې د سرمايي او کارګرو د تعداد له پلوه کوچنی کاروبار تعريفيږي. له لوی کاروبار **(**Big business**)**سره يې پرتله کړئ.

## Smuggling
## قاچاق

په ناقانونه لاره د توکو ليږد ته وايي. د بېلګې په توګه: د يو هېواد څخه بل هېواد ته د ګمرکي محصول تابع سوداګريزې امتعې واردول پرته لدې، چې ګمرکي محصول يې تاديه شي.

## Social Benefit/Cost

### ټولنيزه مزايا /لګښت

د ټولنې په رفاه باندې د يو اقتصادي کړنې له هر اړخيز اغيز څخه عبارت دی، چې په پراخ ډول اقتصادي او ټولنيزې ګټې او زيانونه په برکې نيسي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره بهرنۍ اغيزې (Externalilties) ته هم رجوع وکړئ.

## Social Regulation

### ټولنيز مقررات

هغه دولتي مقررات، چې په اقتصاد او ټولنه کې د يوې ځانګړې ستونزې د مهارولو په موخه رامنځته کېږي لکه د چاپېريال ککړتيا (pollution) په اړه د دولت مقررات يا دا، چې په ټولنه کې د کارګرانو ترمنځ د تبعيضي چلند له منځه وړلو په موخه دولتي مقررات.

## Social Science

### ټولنيز علم

په پراخه کچه هغه علم ته وايي چې د ټولنې او ټولنيزو اړيکو علمي مطالعه ترسره کوي، او د ټولنې د وګړو سلوک او رويه، او متقابلې ټولنيزې کړنې تر څېړنې لاندې نيسي، اقتصاد هم د ټولنيزعلم يوه برخه ده دا ځکه، چې اقتصاد هم دا واضح کوي، چې ټولنه د قلت يا کميابۍ ستونزې په وړاندې څنګه عمل کوي. دا په دې مانا، چې: په کوم ډول سره د محدوده وسايلو په استعمال سره خپلې نامحدوده اړتياوې او غوښتنې د امکان ترحده رفع کولای شي.

## Social Security

### ټولنيز مصئونيت/محافظت

په ټولنه کې غريبو، زړو او معيوبو وګړو ته د مالي مرستو د تهيه کولو له هغه سيستم څخه عبارت دی، چې په ډيری پرمختللو هېوادونو کې شتون لري او معمولاً د ځانګړې ماليې وضع کولو له لارې پر مخ ځي.

## Social Security Tax

د ټولنيز مصئونيت ماليه

د ټولنيز محافظت (Social security) په موخه پر عوايدو باندې د مالياتو ځانګړی ډول دی.

## Social Welfare

ټولنيزه سوکالي

سوکالي (Welfare) ته رجوع وکړئ،

## Socialism

سوسياليزم

يو ټولنيز اقتصادي سيستم ده چې په ټولنيز يا عامه ملکيت ولاړ ده. چون کميونيزم تر ډېره يوه سياسي نظريه وه؛ نو په دې توګه د ۱۹ پيړۍ په اوږدو کې د کمونيزم نوم تغير وکړ او په سوسياليزم باندې تبديل شو او سوسياليزم هغه اقتصادي سيستم دی، چې په لاندنيو بنسټونو ولاړ وي:

- دولت د انفرادي وګړو پر ځای د توليدي منابعو او وسايلو ملکيت لري.
- د توکو او خدمتونو د توليد څخه ترلاسه شوي عوايد د ټولنې ترمنځ د اړتيا معيار (Needstandard) له مخې وېشل کېږي.
- د ټولنې د وګړو ترمنځ طبقه بندي ( اقتصادي طبقه بندي) شتون ونه لري.
- د ټولنې هر وګړی خپلې کړنې د عامه پرمختګ په موخه ترسره کوي.

له پانګه وال اقتصادي نظام (Capitalism) او مختلط اقتصاد (Mixed Economy) سره يې پرتله کړئ.

## Soft Loan

ضعيف/نرم پور

هغه پور، چې د سود نرخ يې د بازار نرخ په پرتله کم وي او معمولاً د اقتصادي کړنو د هڅولو په موخه تهيه کېږي.

## Soft Money

### ضعیفې/نرمې پیسې

هغه پیسې، چې په غیر عادي ډول یې په ارزښت کې صعود او نزول رامنځته کېږي د ضعیفو پیسو څخه عبارت دي. له قوې یا ثابتو پیسو **(**Hard Money**)** سره یې پرتله کړئ.

## Sole Proprietorship

### انفرادي مالکیت کاروبار

انفرادي کاروبار **(**Proprietorship**)** ته رجوع وکړئ.

## Solvency

### د پرداخت وړتیا

په کاروبار کې هغه حالت، چې د کاروبار پورونه د کاروبار له شتمنیو څخه کم وي. او یا هم په بل عبارت: کاروبار په درست ډول پر مخ روان وي او د خپلو پورونو د تادیې وړتیا ولري. له تنګ لاسي (Insolvency) او افلاس یا دېوالی کیدل (Bankruptcy) سره یې پرتله کړئ.

## Special Drawing Right(SDR)

### د برداشت ځانګړی حق

د پیسو نړیوال صندوق (IMF**)** سره د یو هېواد هغه حساب دی، چې د سوداګرۍ په بیلانس کې د کسر له منځه وړلو په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي. او یا هم دا، چې: SDR د نړیوالې کرنسۍ شکل لري، چې په نړیوالو اقتصادي او مالي معاملاتو کې اسانتیاوې رامنځته کوي او په ۱۹٦٧ میلادي کال کې رامنځته شوی دی.SDR د پیسو د وجهي صندوق د پولي واحد په نوم هم یادېږي.

## Specialization

### تخصص

تخصص یا ځانګړتوب هغه حالت دی، چې پکې د کار د ویش په پایله کې د تولید منابع د ځانګړو کړنو د پر مخ بېولو لپاره ځانګړې کېږي. تخصیص د اقتصاد په مطالعه کې خورا ارزښت لري دا ځکه، چې تخصص له یوې خوا د تولید په مقدار کې د ډېروالي او د تولید په کیفیت کې د ښه والی

لامل ګرزي او له بلې خوا د تولید د تمام شد په لګښت او د تولید په پروسه کې د ضایعاتو د کموالي لامل ګرځي.

## Specific Tariff
## ځانګړې یا معینه تعرفه

پر وارداتو باندې د تعرفې هغه ډول، چې د وارداتو په هر واحد باندې د پیسو په شکل ټاکل کېږي. ځانګړې تعرفه د بهرنۍ سوداګرۍ د محدودیتونو او خنډونو څخه یو دی څو لدې لارې وکولای شي، چې واردات د امکان ترحده کنترول او د سوداګرۍ په بېلانس کې شته کسر را کم یا له منځه یوړل شي. د بېلګې په توګه: افغانستان ته د هر واحد تلویزیون په واردولو باندې ۱۰۰۰۰ افغانۍ محصول وضع کول. له د ارزښت له مخې تعرفې (Ad-volarm tariff)، یوازې د عوایدو لپاره تعرفې **(**Tariff for revenue only**)** او له حمایوي تعرفې **(**Protective tariff**)** سره یې پرتله کړئ د تعرفې د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره تعرفې **(**Tariff**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Speculation
## احتکار

احتکار یا په اوسني وخت کې کم قیمت سره د شتمنۍ یا توکي په دې نیت پېرل، څو په راتلونکي کې یې په لوړ قیمت سره وپلوري. او یا هم دا چې: د راتلونکي لوړو قیمتونو څخه د ګټې اخېستنې په موخه د شتمنیو او تولیداتو ذخیره کولو څخه عبارت دی احتکار یا سفته بازي معمولاً په مالي بازار کې ډېره لېدل کېږي.

## Spot Market
## د نقدي معاملاتو بازار

هغه بازار چې په کې د توکو او یا هم د خدمتونو راکړه ورکړه په نقده او سملاسي ډول ترسره کېږي.

## Stability
### ثبات

په کلي اقتصاد کې د تولید، استخدام او قیمتونو په کچه کې د اقتصادي نوساناتو محدودولو او یا هم تقریباً په ثابت حالت کې ساتلو ته ثبات ویل کېږي. ثبات د اقتصاد د پنځو موخو څخه یوه ده په ځانګړي ډول سره د کلي اقتصاد له دریو موخو څخه یوه موخه ده د کلي اقتصاد دوه نورې موخې عبارت دي له:

۱: اقتصادي وده(Economic Growth)

۲:کامل استخدام (Full Employment)

او د ثبات بنسټیزه موخه په اقتصاد کې د انفلاسیون د کنترول څخه عبارت دی. د لا ډېرو معلوماتو لپاره اقتصادي موخو(Economic goals) ته رجوع وکړئ.

## Stabilization Policy
### د ثبات یا استقرار راوستلو پالیسي

د دولت هغه سیاست، چې په کاروباري دوران یا دایرې کې د نوساناتو د خنثی کولو او د وزګارتیا او انفلاسیون د کچې د لوړوالي څخه د مخنیوي په موخه ترتیب او تطبیقیږي څو په هېواد کې اقتصادي کړنې د ډېر نوسان او تغیراتو څخه با ثباته حالت ته واړول شي. چې د نوسان ضد (استقرار) سیاست (Counter Cyclical Policy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Stable Equilibrium
### با استقراره تعادل

په بازار کې هغه تعادل، چې پرته لدې، چې د کوم بهرني قوت او یا مداخلې په وسیله له منځه ولاړ شي تر ډېره ساتل کېدای شي او د بنکیلو اړخونو لپاره د دې تعادل څخه د وتلو کوم محرک شتون ونلري. او یا دا، چې: په بازار کې هغه تعادل، چې: د عرضې یا د تقاضا په ټاکونکو عواملو Supply/demand Determinants کې د نه تغیر په حالت کې شتون لري. له بې ثباته تعادل (Unstable Equilibrium) سره یې پرتله کړئ.

## Stable Market
با ثباته بازار

هغه بازار چې د توکو او خدمتونو پلور په کې تر ډېره د قېمت تر اغیزې لاندې نه راځي. او یا هم دا چې: د توکو او خدمتونه قېمتونه تر ډېره ثابت پاتې کېږي. د بې ثباته بازار (Unstable market) سره یې پرتله کړئ.

## Stable Money
با ثباته پیسې

هغه ملي پیسې، چې د توکو او خدمتونو یا د نورو هېوادونو د ملي پیسو په وړاندې یې ارزښت ثابت وي (یا تقریباً ثابت وي).

## Stable Prices
با ثباته قېمتونه

با ثباته قیمت یا د قیمتونو ثبات یا هغه حالت، چې په اقتصاد کې د قیمتونو منځنۍ کچه ډېر کم تغیرات لري یا هم ثابته پاتې شي.، چې دا د لوی اقتصاد د عمده موخو څخه ده، د قیمتونو ثبات معمولاً د انفلاسیون د کچې(Inflation rate) په مرسته اندازه کیدلی شي.

## Stagflation
ستګفلیشن

په اقتصاد کې هغه حالت، چې په همزمان ډول بېکارې او انفلاسیون دواړه په لوړه کچه کې قرار ولري.

## Stagnation
کساد، رکود

د یو هېواد اقتصادي حالت چې په کې هېڅ ډول وده او پرمختیا شتون ونلري او یا هم دا چې وده او پرمختیا یې د کمېدو په حال کې وي.

## Stakeholders
### ذينفع خواوې/ګټه اخېستونکي

ټول هغه وګړي او ګروپونه، چې په يو شرکت يا کاروباري سازمان پورې يې ګټې تړلي وي لکه د شرکت يا کاروباري سازمان ونډه وال، کارمندان، پېرودونکي، اداره او داسې نور.

## Standard of Different Payments
### د مختلفو تادياتو معيار

د پيسو د څلورو بنسټيزو دندو څخه يوه ده د پيسو درې نورې دندې يې عبارت دي له:

۱: د تبادلې وسيله(Meduim of exchange)
۲: د ارزښت د اندازه ګېري وسيله (Measure of Value)
۳: ارزښت د ذخېرې وسېلې (Store of value)

او ددې دندې له مخې پيسې په اقتصاد کې د مختلفو تادياتو لپاره يو معيار دی، چې په اوسني وخت کې د توکو او خدمتونو د پېرودنې سره په راتلونکې کې د تاديې لپاره هم د يو معيار په توګه استعمالېږي. دا په دې مانا چې: د توکو او خدمتونو پېرل اوس ترسره کېږي او د قېمت تاديه يې په راتلونکي وخت کې د پيسو په وسيله ترسره کېږي. د پيسو د دندو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره ذکر شوو دندو ته هم رجوع وکړئ.

## State Bond
### دولتي بانډ

هغه منځ مهاله يا اوږد مهاله بانډ، چې د دولت له لوري د عامه پروژو (لکه د سرک جوړولو، ښوونځيو جوړولو يا د پلونو جوړولو) د لګښتونو د تمويل په موخه نشرېږي.

## Statistic
احصائيوي رقم

د احصائيې په برخه کې د يوې نمونې مشاهداتو د خواصو د اندازه ګيرى وسيله ده، دغه اصطلاح هم د نمونې د تابع او هم په خپله د تابع په بڼه کارول کېږي. د بېلګې په ډول ديوې نمونې څخه ترلاسه شوي احصائيوي اوسط، ميديان يا انحراف قيمتونه.

## Statute-Labor
قانوني(ګمارل شوي) کارګر

د دولت له لوري په ځينې عام المنفعه پروژو(لکه سرک جوړونې) کې د مزد او معاش څخه پرته د کارګرې قوې په کار ګمارل.

## Sticky Prices
نه بدليدونکي (ورو تنظيميدونکي) قېمتونه

د توکو او خدمتونو قېمتونه، چې په بازار کې عدم تعادل حالت کې په ډېر ورو ډول سره تنظيمېږي يا ثابت پاتې کيږي. او يا هم په بل عبارت: هغه قېمتونه، چې په بازار کې د مازاد او يا کسر څخه نه متاثره کيږي يا ډېر کم متاثره کېږي. چې د انعطاف ناپذيره قېمتونو (Inflexible/Rigidprices) اصطلاحات ورته هم کارول کېږي.

## Sticky Wages
نه بدليدونکی (ورو تنظيميدونکی) مزد

هغه مزد، چې د کار په بازار کې د مازاد او يا کسر د شتون په عکس العمل کې په ورو ډول سره تنظيمېږي يا هم تنظيمېږي. چې د انعطاف ناپذيزه/بی ثباته مزد (Rigid/Instable Wages) اصطلاحات ورته هم کارول کېږي.

## Stock

ونډه او یا ګودام

ونډه د **(**Share**)** مترادفه اصطلاح ده، چې په مالي شتمنیو یا هم وسایلو باندې د ملکیت د قانوني دعوی حق لري. او یا هم په بل عبارت: په سهامي شرکت کې د یو شریک د برخې ته ونډه ویل کېږي، چې معمولاً په دوه برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

- ترجیحي ونډه **(**Preffered stock**)**
- عامه ونډه **(**Common stock**)**

همدارنګه دا اصطلاح د ګودام یا د هغو توکو په وړاندې هم استعمالېږي، چې تولیدونکي یې د راتلونکې تقاضا په وړاندې د ځواب ویلو په موخه ساتي او په راتلونکي کې یې عرضه کوي.

## Stock Exchange

د ونډو تبادله (د ونډو د تبادلې بازار)

بورس **(**Bourse**)** ته رجوع وکړئ.

## Stock Market

د ونډو بازار

هغه مالي بازار، چې د سهامي شرکتونو ونډې پکې تبادله (پلورل او پېرل) کېږي. د بېلګې په توګه: د نیویارک د ونډو بازار یا د ټوکیو د ونډو بازار او داسې نور بازارونه.

## Store of Value

د ارزښت ذخیره

د پیسو د څلورو بنسټیزو دندو څخه یوه ده د پیسو درې نورې بنسټیزې دندې عبارت دي له:

۱: د مختلفو تادیاتو معیار **(**Standard of different payments**)**

۲: د تبادلې وسیله **(**Meduim of exchange**)**

۳: د ارزښت د اندازه ګېري وسیله **(**Measure of Value**)**

او د دې دندې له مخې پيسې د توکو د ارزښت د ذخيرې وسيله ده څو لدې ارزښت څخه په راتلونکي کې ګټه واخېستل شي. د پيسو د دندو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د پيسو ذکر شوو دندو ته هم رجوع وکړئ.

## Strategic Planning

ستراتيژيکه پلانونه

د يو کاروبار يا شرکت له لوري د خپل ماموريت، موخو، ستراتيژي، بازار موندنې، د بازار موندنې ستراتيژي او بالاخره د بازار موندنې پلان ته د پراختيا ورکولو له پروسې څخه عبارت دی، چې د SWOT د څېړنې په مرسته د اوږد مهال لپاره ترسره کېږي.

## Strike

لاريون/اعتصاب

د کارګرانو (معمولاً د کارکرانو د ټولنې د غړو) ترمنځ هغه هوکړه ليک، چې له مخې يې په مشروط او موقتي ډول د کار بنديز يا نه کول اعلانېږي څو کارګران خپلې ځانګړې موخې لکه: د مزد او معاش لوړول، د کار مناسب شرايط رامنځته کول، په وخت سره د کارګرانو اړتيا ته ځواب او ځينې نور امتيازات ترلاسه کړي.د اعتصاب په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره د اعتصاب لاندنيو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

- عمومي اعتصاب (General Strike)
- د کار د ټکنی کولو اعتصاب (Slowdown Strike)
- د خواخوږۍ اعتصاب (Sympathetic strike) چېدويمي اعتصاب (Secondary strike) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.
- غير قانوني اعتصاب (Illegal strike) چې د Out of law strike اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Strike Breaker

اعتصاب ماتونکی

اعتصاب ماتونکي (Scab) ته رجوع وکړئ،

## Subsidiary Company

تړلی یا مربوط شرکت (فرعي شرکت)

هغه شرکت چې له نیمايي څخه زیاتې ونډې یې د بل شرکت له لوري پیرودل شوي وي او د کنټرول چارې یې هم پرمخ وړي. له مور شرکت (اخېستل شوي شرکت) (Holding Company) سره یې پرتله کړئ.

## Subsidy

سبسایډي

هغه دولتي وړیا مرستې، چې له هغه تولیدوونکو سره ترسره کېږي، چې په تولید کې د ستونزو (تاوان) سره مخ وي او د تولید د تمام شد لګښت د ډېروالي له امله د تولید پروسې یا له سیالو تولیدوونکو سره سیالي کولو ته دوام نشي ورکولای. چې دا ډول مرستې معمولاً له هغه تولیدوونکیو سره ترسره کېږي، چې صادراتي توکي تولیدوي. چې د صادراتي جایزې (Export bounty) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Subsistence Economy

معیشتي اقتصاد

هغه اقتصاد چې د اولیه اړینو توکو د تولید کړنې په کې پرمخ وړل کېږي، د بازار تولید په کې یا شتون نلري او یا هم ډېر کم وي او اقتصادي راکړې ورکړې په کې په ډېره ټیټه کچه کې قرار ولري.

## Substitute

تعویض

دوه یا ډېر توکي، چې د عین اړتیا د رفع کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کیدای شی او د یوه توکي په قیمت کې لوړوالی د بل توکي په تقاضا کې د ډېروالي لامل وګرځي. معمولاً دا ډول توکي په دوه برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

- په استهلاک کې تعویضیدونکي توکي (Substitute in Consumption).
- په تولید کې تعویضیدونکي توکي (Substitute in Production)

د تعویض په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Substitute Availibity

## د تعویض شتون

د ارتجاعیت له دریو تعین کوونکو (Determinants) څخه یو دی دوه نور یې عبارت دي له:

۱: د وخت زمان (ځانګړی وخت) (Time Period)

۲: د بودجی تناسب (Budget Proportion)

او دا واضح کوي، چې د هغه توکي د قیمت ارتجاعیت نسبتاً زیات وي، چې زیات متبادل توکي ولري.

## Substitute in Consumption

## په استهلاک کې تعویضیدونکی

دوه یا ډېر توکي، چې په استهلاک کې یو د بل پر ځای استعمالېدای شي او د یو توکي په قېمت کې لوړوالی د بل توکي په تقاضا کې د لوړوالي لامل ګرځي. د بېلګې په توګه: پیپسي او کوکا کولا.

## Substitute in Production

## په تولید کې تعویضیدونکی

دوه یا ډېر توکي، چې په تولید کې یو د بل معاوض کېدای شی او د یو توکي په قېمت کې لوړوالی د بل توکي په عرضه کې د لوړوالي لامل ګرځي. د بېلګې په توګه: د کارګر په ځای د ماشین په کار اچول

## Subvention

## بسپنه

معمولاً د دولت له لوري له هغه کاروبار سره نقدي مرسته، چې نوی تأسیس شوی او یا دا، چې د تولید په پروسه کې د تاوان سره مخ وي.

## Sumptuary law

## د شخصي لګښتونو د تجدید قانون

هغه قانون، چې د هغه توکو یا خدمتونو د استهلاک څخه د مخنیوي په موخه رامنځته شوی وي، چې د ټولنیزې رفاه او د وګړو د روغتیا لپاره مضر یا تاواني وي. د بېلګې په توګه: د شرابو، چرسو او داسې نورو توکو تولید.

## Superior Goods

## غوره یا اعلی توکي

هغه توکي، چې په عاید کې ډېروالی یې په تقاضا کې د ډېروالي سره مل وي لکه تجملي توکي (luxury Goods). له نا مرغوب توکو (Inferior Goods) او له ګیفن توکو (Giffen Goods) سره یې پرتله کړئ.

## Supermarket

## مغازه / لوی پلورنځی

هغه لوی پلورنځی چې په کې د کورنیو د ورځنی اړتیا وړ ډېری توکي په پرچون ډول پکې پلورل کېږي.

## Super Normal Profit

## مافوقه نورماله ګټه

مازادې ګټې( Excess profit) ته رجوع وکړئ.

## Supply

## عرضه

په معلوم وخت کې په معلوم قیمت بازار ته د توکو او خدمتونو د وړاندې کولو له ارادې او وړتیا څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: بازار ته د توکو او خدمتونو د وړاندې کولو ارادې او وړتیا ته عرضه ویل کېږي. له تقاضا (Demand) سره یې پرتله کړئ.

## Supply Curve

### د عرضې منحني

د قېمت او د عرضې د مقدار ترمنځ د اړيکې ګرافيکي ښودنې څخه عبارت دی، چې د عرضې منحني پورته خوا ته حرکت کوي، چې په افقي محور د عرضې د مقدار او په عمودي محور يې د عرضې د قېمت اندازه ښودل کېږي.

## Supply Determinants

### د عرضې ټاکونکي عوامل

د عرضې هغه پنځه ټاکونکي عوامل (Supply Determinants)، چې په بازار کې عرضه تر خپل اغېز لاندې راولي او د عرضې د منحني د رسمولو په وخت کې ثابت فرض کېږي او لدې ټاکونکو عواملو څخه په يوه کې هم د تغير رامنځته کېدل د عرضې د منحني د انتقال لامل ګرځي دا پنځه ټاکونکي عوامل عبارت دي له:

۱: د عواملو قېمت (Factor price)

۲: تکنالوژي (Technology)

۳: د نورو توکو قېمتونه (Other prices)

٤: وړاندوينه او توقع (Expectations)

٥: او د پلورونکو شمېر (Numbers of sellers)

د عرضې د ټاکونکو عوامول په اړه د لا ډېرو مالوماو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Supply Management Policy

### د عرضې د مديريت سياست

هغه دولتي سياست، چې په ټوليزه عرضه کې د تغير له لارې په اقتصاد کې د ثبات رامنځته کولو کې ترې ګټه اخېستل کېږي. لکه په اقتصاد کې د کساد په حالت کې د عرضې په برخه کې د مقرراتو آسانه کول، د تکنالوژي او پانګونه کې ډېروالی راوستل او داسې نور څو د اقتصاد په توليدي وړتيا کې ډېروالی رامنځته شي. چې د عرضې اړخ اقتصاد (Supply Side Policy) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Supply Schedule

### د عرضې جدول

هغه جدول، چې په مختلفو وختونو او مختلفو قیمتونو بازار ته د توکو او خدمتونو د عرضې مقدار او اړونده قیمتونه پکې درج او د عرضې د تابع ، منحني او ارتجاعیت د محاسبې لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

## Supply Shock

### د عرضې ټکان

حد اقل د عرضې په یوه ټاکونکي عامل (Supply determinats) کې د تغیر له امله په بازار کې د تعادل حالت له منځه تلل، چې د عرضې د منحني د انتقال لامل ګرزي او په ممکنه ډول دوه ډوله تغیراتو لامل ګرځي:

- د عرضې کموالي (Supply Decrease)
- د عرضې زیاتوالي (Supply Increase)

چې په عرضه کې ډیروالي د عرضې منحني ښي خوا انتقال او کموالی یې چپ خوا انتقال لامل ګرزي.

## Supply Side Economics

### د عرضې اړخ اقتصاد

د اقتصاد هغه برخه، چې د منابعو په تولیدي فعالیت او مولدیت کې په ډیروالي باندې تمرکز لري څو په دې وسیله اقتصادي وده ډیره او په کلي اقتصاد کې ثبات رامنځته شي. دغه نظر ته په ۱۹۸۰کلونو کې پرمختیا ورکړل شوه او په پایله کې یې د ټولیز بازار نظر رامنځته شو. د تقاضا اړخ اقتصاد (Supply Side Economics) سره یې پرتله کړئ.

## Surplus

### مازاد

په بازار کې هغه حالت، چې: په اوسنیو قیمتونو د عرضې مقدار د تقاضا د مقدار په پرتله ډیر وي.، چې د مازادې عرضې (Excess supply) او د پلورونکو بازار (Buyer's Market) اصطلاح ورته هم کارول کیږي. همدا راز مازاد د ګټې په مانا هم کارول کیبري. او هغه منفعت ته وایي چې د بازار له قیمت څخه یې هم عرضه کوونکي او هم تقاضا کوونکي ترلاسه کوي. له کسر (Shortage/Deficit) سره یې پرتله کړئ.

## Switching Point

### د بدلون نکته

هغه وخت یا هغه قیمت، چې په هغه سره په اقتصاد کې د یو ډول منابعو د استعمال ځای بل ډول منابع نیسي. معمولاً دا هغه مهال رامنځته کېږي کله، چې یو ډول منابع یا قلت پیدا کړي او یا هم په لوړ قیمت پیدا کېږي؛ نو خلک د ارزانه منابعو خواته پام اړوي.

## SWOT

### سواټ

د څلورو بېلا بېلو اصطلاحاتو یو ترکیب، چې معمولاً د یو کاروبار یا شرکت په وسیله د یوې پروژې د تطبیق د عملي څېړنې په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي څو په دې ډول نوموړې پروژه، په هر اړخیز ډول سره وڅېړي دا اصطلاحات عبارت دي له:

- Strengths **(د قوت ټکي).**
- Weaknesses **(د ضعف ټکي).**
- Opportunities **(فرصتونه).**
- Threats **(ننګونې).**

او معمولاً د چاپېریال له څېړنې څخه وروسته دا څلور اصطلاحات څېړل کېږي چې:

- د قوت نقطې د نوموړې پروژې په وړاندې د یو کاروبار په هغو نقطو تمرکز لري، چې کاروبار یا شرکت یې د ترسره کولو قوت ولري.
- د ضعف ټکي بیا په هغو نقطو تمرکز لري، چې کاروبار یا شرکت پکې ضعف ولري یا ضعف لامل جوړېدای شي.
- فرصتونه بیا په هغو نقطو تمرکز کوي، چې کاروبار ته فرصتونه رامنځته کولای شي.
- او ننګونې په هغو نقطو تمرکز لري، چې د کاروبار یا شرکت د پروژې پر وړاندې تهدید او یا خنډونه رامنځته کولای شي.

د بېلګې په توګه: یو پانګوال غواړي، چې د جلال آباد په ښار کې د ماهیانو روزنې یو فارم جوړ کړي؛ نو مخکې لدې، چې پروژه پیل کړي غواړي، چې د SWOT تحلیل په وسیله د دې پروژې هر اړخیزه څېړنه ترسره کړي، چې په دې توګه د پروژې د قوت نقطې په لاندې ډول ذکر کیدی شي:

- د ماهيانو د روزنې لپاره د پرېمانه او تازه اوبو شتون.
- د ماهيانو د روزنې لپاره د مجربو او تکړه کارګرانو شتون.
- مناسب چاپېريال او داسې نور.

د پروژې د ضعف نقطې کېداى شي دا وي، چې:

- د اوبو او چاپيريال ککړتيا
- د بهر څخه دوارداتي ماهيانو سره سيالۍ په برخه کې ضعف.

د پروژې فرصتونه کېداى شي دا وي، چې:

- نورو ولاياتو ته د ماهيانو عرضه.
- د درونټې پارک ته د مېلو په موخه د ډېرو خلکو راتګ (معمولاً د ژمي په موسم کې).

د پروژې ننګونې کېداى شي دا وي، چې:

- د ماهيانو نور عرضه کونکې بازار ته داخل شي.

## Sympathetic Strike

د خواخوږۍ اعتصاب

د کارګرانو هغه اعتصاب، چې د خپل کارفرما يا متصدي پر وړاندې د کوم شکايت څخه پرته د نورو کارګرانو سره د همدردۍ له مخې ترسره کېږي، چې عمده موخه موخه د کارګرانو د ټولنو ترمنځ د يووالي رامنځته کول وي. چې د دويمي اعتصاب **(**Secondary strike**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. همدا راز بل ډول يې د خواخوږۍ اعتصاب ( Sympathy strike) ده چې د کارګرانو د يوې ټولنې له لوري، تنظيم او د کارګرانو له يوې بلې ټولنې له اعتصاب کوونکو سره د ملاتړ ښودلو په بنسټ ترسره کېږي، چې موخه يې د کارګرانو ټولنو ترمنځ همغږي او يووالی رامنځته کول دي.

## Syndicate

د سنديکا (صنفي) ټولنه

د بانکونو، موسساتو يا د انفرادي وګړو يوه ډله، چې د هغه کار يا کړنې د ترسره کولو په موخه سره يو کېږي، چې ډېرې پانګونې ته اړتيا لري.

# T

## Tacit Collusion

ضمني اتحاد

له هغه رسمي هوکړه لیک څخه عبارت دی چې د څو کاروبارونو له ترمنځ د ګډو سیاستونو د رامنځته کولو او پرمخ بېولو په موخه عقد کېږي چې د پټې مرستې **(**Implicit collusion**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له ښکاره اتحاد **(**Explicit collusion**)** سره یې پرتله کړئ.

## Take-off

د ټوپ (مرحله)

د ډبلیو ډبلیو روستو د نظریې له مخې دا مرحله د اقتصادي ودې او نمو دریمه مرحله ده، چې هغه زماني واټن په برکې نیسي، چې پکې هغه موانع، خنډونه او مقاومت کونکې قوتونه بالاخره له منځه ځي، چې د اقتصادي ودې په وړاندې مقاومت رامنځته کوي او هغه قوتونه، چې د اقتصادي ودې لامل ګرځي توسعه پیدا کوي. د روستو له نظره د اقتصادي ودې څلور نورې مرحلې عبارت دي له:

۱: عنعنوي ټولنه (Traditional society**)**

۲: د خیزش یا اوچتیدو لپاره مخکینی شرط (Precondition for take-off)

٤: د پوخوالي په لور ګام (Drive to maturity**)**

٥: د لوړې کتلې تولید دوره **(**age of high mass-production**)**

د ډبلیو ډبلیو روستو له نظره د اقتصادي ودې د مرحلو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو مرحلو ته هم رجوع وکړئ

## Tangible Assets

لمس کېدونکې شتمنۍ

فزیکي شتمنیو**(**physical assets**)** ته رجوع وکړئ

## Target Market
## د موخې بازار

د وګړو یا مشتریانو یوه ځانګړې برخه، چې د عرضه کوونکي د توکو، خدمتونو یا نظریاتو د پېرودلو لپاره تر ټولو ډېر متوقعه پېرودونکي وي او معمولاً د سلوک او روشونو، عاداتو، ډېموګرافي او داسې نورو ځنګړتیاو له مخې ټاکل کېږي او د همدغه ګروپي تقاضا په پام کې نیولو سره عرضه کوونکي دغه برخه د خپلو تولیداتو د پلور لپاره په نښه کوي.

## Targeting Strategy
## د نښه کولو ستراتیژي

د موخې بازار (Target market) یا د بازار طبقه بندي (Segmentation) په پروسه کې هغه لومړنۍ ګام، چې له مخې يې عرضه کوونکي د پېرودونکو د یوې ځانګړې ډلې یو کلي تصویر ته پراختیا ورکوي. دا ډول تګلارې په دریو برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له :

- Differentiated Strategy
- Undifferentiated Stragety
- Concentrated Strategy

## Tariff
## تعرفه

د ګمرکي حقوقو یو جدول یا سیستم، چې د دولت له لوري وضع او د واردېدونکیو توکو څخه اخېستل کېږي، چې په بهرنۍ سوداګرۍ د خنډونو یا محدودیتونو څخه یو دی، چې معمولاُ د وارداتي کنترول، د کورني تولید څخه د ملاتړ او د دولت د عوایدو د لوړېدو په موخه وضع کېږي، چې ندرتاً په بعضې صادراتي توکو هم وضع کېږي. د تعرفې د ډولونو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندنیو اصطلاحاتو ته همم رجوع وکړئ:

۱: د ارزښت له مخې تعرفه (Ad Volarm Tariff)

۲: حمایوي تعرفه(Protective Tariff)

۳: ځانګړې تعرفه (specific tariff)

٤: یوازې د عوایدو لپاره تعرفه (Tariff for Revenue Only)

٥: پښتو مانا Sliding-Scale Tariff

٦: جبراني تعرفه (Compensatory/Retailiatory Tariff)

٧: تبعیضي تعرفه (Discriminatory/Differential Tariff)

د تعرفې او د تعرفې د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولنو ته هم رجوع وکړئ.

## Tariff for Revenue Only
## یوازې د عوایدو لپاره تعرفه

هغه محصول، چې د کورني تولید څخه د ملاتړ په موخه نه بلکې د دولت د عوایدو د ډېرېدو په موخه وضع کېږي. له حمایوي تعرفي ( Protective tariff) سره یې پرتله کړئ. د تعرفې او د تعرفي د ډولونو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره تعرفې (Tariff) ته هم رجوع وکړئ.

## Tariff War
## تعرفوي جګړه

د تعرفي جګړې ته وايي، او کله چې یو هیواد د بل هیواد په صادراتو باندي د متقابل عمل په ډول تعرفه لوړوي او په دې ډول د مقابل هیواد تولیداتو قیمتونه لوړیږي. همدا راز د تعرفي جنګ د قیمتونو د جنګ مفهوم هم افاده کوي کله چې دوه تولیدونکي د یو بل په وړاندې د قیمتونو په ټیټوالي یا د کیفیت په لوړوالي کې سیالي کوي.

## Tax
## مالیه

هغه مبلغ، چې حقیقي او حقوقي وګړي یې د قانون له مخې د خپلو اقتصادي کړنو په وړاندې دولت ته تادیه کوي او اجباري شکل ولري، چې د دولت د عوایدو یوه لویه برخه جوړوي. او یا هم دا چې: د عامه خدمتونو او لګښتونو د تامین په موخه هغه مبلغ، چې دولت یې د قانون له مخې د انفرادي وګړو، شرکتونو او موسساتو د عوایدو څخه په اجباري ډول سره ترلاسه کوي. مالیه معمولاً په دوه ډوله اخېستل کېږي، چې عبارت دي له:

- مسقیم مالیات (Direct tax)
- غیر مستقیم مالیات (Indirect tax)

او معمولاً په درېیو ډولونو سره وضع کېږي، چې عبارت دي له:

- متناسبه مالیه (Proportional tax)
- زیاتیدونکی یا صعودي مالیه (Progressive tax)
- کمیدونکې یا نزولي مالیه (Regressive tax)

د مالیې د ډولونو د وضع کیدو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره اړوند اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Tax Avoidance

### له مالیې اجتناب یا سرغړونه

هر هغه عمل، چې د قانون له مخې د مالیې په اندازه کې د کموالی راوستو لپاره ترسره کېږي او په منطقی او قانوني ډول د مالیې مخنیوی کوي. د بېلګې په توګه: د اقتصادي کساد په حالت کې د کساد څخه د وتلو په موخه د دولت له لوري پر عوایدو د مالیاتو را کمولو لپاره د خلکو وړاندیز او استدلال څو وګړي خپل عایدات د توکو او خدمتونو په پېرلو یا په پانګونه باندې مصرف کړي. او یا هم د مالیه ورکوونکو له خوا داسې لارې چارې جوړول، چې د مالیې ورکولو څخه مخنیوی وکړی شي. له مالیې تیښتې (Tax Evasion) سره یې پرتله کړئ

## Tax Base

### مالیاتي قاعده

ټول هغه تولیدات او کړنې، چې مالیه ورباندې وضع او اخېستل کېږي او د مالیې د اخیستلو لپاره قاعده او بنسټ ګڼل کېږي. او یا هم دا، چې: ټول هغه تولیدات او کړنې، چې د مالیې د ورکړې تابع ګرځي لکه:

- پر پلور مالیه (Sales Tax)
- پر عوایدو مالیه (Income tax)

د مالياتي قاعدې په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Tax Collector
### ماليه ټولوونکی

هغه دولتي مامور، چې د ځينو ماليانو (په ځانګړي ډول پر ملکيتونو د ماليانو) د راټولو دنده او مسئوليت په غاړه لري.

## Tax Competition
### مالياتي سيالي

د هېوادونو له لوري د ماليې را کمولو هغه سيالي، چې د نړيوالې پانګې اچونې د هڅولو په موخه ترسره کېږي. او يا هم د چې: د نړيوالې پانګونې د هڅولو په موخه د هېوادونو ترمنځ د ماليې راکمولو سيالۍ ته مالياتي سيالي ويل کېږي.

## Tax Dog Doing
### له ماليې تېښته

له ماليې تېښتې يا (Tax evasion) ته رجوع وکړئ.

## Tax Efficient
### د ماليې له پلوه اغېزمن

د ماليې ورکوونکي له نظره: هغه کړنې تر لاس لاندې نېول، چې نظر بلې متبادلې کړنې ته کمه ماليه ورباندې ټاکل شوي وي.

## Tax Evasion
### له ماليې فرار يا تېښته

په غير قانوني ډول د ماليې په تاديه کولو کموالی راوستل. د بېلګې په توګه: يو کس خپل عوايد لدې امله پوره نه ښيي، چې د ماليې د ورکړې څخه ځان وساتي. او يا دا، چې په نورو حيلو او پلمو سره غواړي، چې د ماليې له ورکړې يا د ماليې له يوې برخې د ورکړې څخه ځان وساتي، چې له ماليې

څخه فرار (Tax dodging) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له مالیې څخه اجتناب/سرغړونې (Tax avoidance) سره یې پرتله کړئ.

## Tax Exemption
### مالیاتي معافیت

د مالیاتو د تادیې له وجیبې څخه قانوني آزادي ته له مالیاتو معافیت ویل کېږي. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې ځینې هغه موسسات، چې خیریه کړنې پرمخ وړي د هغه توکو په وړاندې د مالیې د ورکړې له وجیبې څخه معاف دي، چې د خیریه کارونو د پر مخ بېولو لپاره یې واردوي.

## Tax Free
### له مالیاتو معاف

ټول هغه عواید چې په قانوني ډول د مالیاتو له ورکړې څخه معاف وي.

## Tax Incidence
### د مالیې حمل/بار

د مالیې د تادیې له نهایي بار او بوج څخه عبارت دی، چې زیاتره وخت مالیه د یو کس له لوري تادیه کېږي؛ خو په نهایت کې د مالیې اصل بار د بل کس له لوري تادیه کېږي. د بېلګې په توګه: توکو او خدمتونو پر پلور مالیه (Sales tax)، چې په سملاسي ډول یې پلورونکي یا سوداګر تادیه کوي؛ خو په حقیقت کې په هغه قیمت کې شامله وي، چې پیرودونکي یې تادیه کوي.

## Tax Limit
### د مالیې حد
د مالیې د ورکړې هغه اعظمي حد، چې د مالیاتي ذیصلاح مقام له لوري وضع کېږي.

## Tax Multiplier
### مالیاتي ضریب
د مالیې په اندازه کې د تغیر او په ناخالص داخلي تولید کې د تغیر ترمنځ نسبت څخه عبارت دی او په ناخالص داخلي تولید باندې د مالیې د اندازې تاثیر اندازه کوي. د بېلګې په توګه: که پر عوایدو د تکس اندازه لوړه شي؛ نو د کورنیو او کاروبارونو له لوري په استهلاکي توکو او پانګونې باندې د

لګښتونو په اندازه کې کموالی رامنځته کېږي، چې په پایله کې په ناخالص داخلي تولید کې هم کموالی رامنځته کېږي.

## Tax Payer
## مالیې تادیه کوونکی

هغه کس، چې د قانون له مخې دولت ته د خپلو اقتصادي کړنو څخه ترلاسه شویو عوایدو په وړاندې د مالیې په ورکولو مکلف وي.

## Tax Proportionality
## د مالیې تناسب

د عوایدو په مختلفو سطوحو کې د مالیه په شکل د تادیه شویو عوایدو د تناسب څخه عبارت دی دا په دې مانا، چې د مالیې له لارې ترلاسه شویو عوایدو څومره اندازه په کوم شکل سره ترلاسه شوي دي؟ د مالیې وضع کولو شکلونه عبارت دي له:

- متناسبه مالیه (Proportional tax)
- زیاتیدونکی یا صعودي مالیه (Progressive tax)
- کمیدونکې یا نزولي یا سرکوب کونکې مالیه (Regressive tax)

د مالیې د تناسب په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Tax Rate
## د مالیې کچه

د عوایدو د هغې سلنې تناسب، چې د مالیه په شکل تادیه کېږي یعنې دا، چې پر مختلفو کټګوریو عوایدو د مالیې اندازه د سلنې له مخې په ګوته کوي.

## Technical Efficiency
## تخنیکي اغیزمنتوب

د شته منابعو په مرسته د امکان ترحده ډېر نه ډېر تولید ترلاسه کول، له ضایعاتو د مخنیوي او د تولید د تمام شد لګښت اعظمي کولو ته تخنیکي اغیزمنتوب ویل کېږي.

## Teller
## صراف

هغه کس، چې د بانک د مشتریانو سره د هغوی د مربوطه حسابو د معاملاتو چارې پر مخ بیایي ، زیاتره وخت ورته د (Cashier) نوم هم ورکول کیږي. دغه دنده زیاته مسلکي نه بلکې په تجربې او روزنې پورې تړاو لري له همدې امله بانکونه دغه دندې ته یوائې د ښوونځي فارغ کسان هم استخداموي.

## Terms of Trade
## د سوداګرۍ نسبت

د یو توکي د ترلاسه کولو په وړاندې د بل توکي د مقدار ورکړه یعنې دا، چې: یو هېواد د معلوم اندازه توکو او خدمتونو د ترلاسه کولو په وړاندې په کومه اندازه توکي او خدمتونه تادیه کوي(د صادراتو او وارداتو نسبت). او یا هم دا چې: هغه شرایط، چې له مخې یې یو هېواد بهرنۍ سوداګري ترسره کوي.

## The Economic Problem
## اقتصادي ستونزه

د کمیابۍ (Scarcity) لپاره بله متبادله اصطلاح ده او د بشر په شتون کې هغه نافذ حالت، چې دا په ګوته کوي، چې: د ټولنې اړتیاوې او غوښتنې نامحدوده او د رفع کولو په وړاندې یې وسایل او منابع محدود دي. دا په دې مانا، چې مونږ ټول هغه څه، چې ورته اړتیا لرو نشو ترلاسه کولائ. یا دا، چې:

- د ټولنې اړتیاوې او غوښتنې نامحدودې دي.
- د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو لپاره منابع او وسایل محدود دي.
- او وسایل په عین وخت کې د دوه یا ډېرو توکو او یا خدمتونو د تولید په موخه نشي کارول کېدای.

چې دا په ټولنه کې عمده ستونزې دي، چې د اقتصاد د مطالعې عمده برخه جوړوي

## The general Theory

## عمومي تيئوري

د کينز د کتاب (د پيسو، سود او استخدام عمومي تيوري) عام نوم دی نوموړی کتاب په ۱۹۳۶ ميلادي کال کې چاپ شوی او په دغه کتاب کې نوموړي په اقتصاد کې د زوال يا کساد (Contraction) رامنځته کېدو لاملونه او په وړاندې يې د حل لپاره سپارښتنې بيان کړي دي.نوموړی کتاب تر څلورو لسيزو پورې د کلي اقتصاد د ډېرو موضوعاتو د څېړنې په برخه کې ډېر ګټور ثابت شو، چې اوس هم په ډېرى اقتصادي موضوعاتو کې ترې ګټه اخېستل کېږي.

## The Wealth of Nation

## د ملتونو ثروت

نوموړی کتاب د اقتصاد مشهور عالم ادم سميث ليکنه ده او په ۱۷۷۶ مېلادي کال کې نشر شو او د نوي او عصري اقتصاد د مطالعې بنسټ ګڼل کېږي د دې کتاب يوه مهمه برخه د هېوادونو ترمنځ د آزادې سوداګرۍ اغيزمنتوب په ګوته کوي او په دې برخه کې ادم سميت زياتوي، چې: د هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې د محدوديتونو او ممانعتونو نه شتون په کلي اقتصاد کې د کامل استخدام او مؤثريت لامل ګرزي، چې همدې کتاب د اروپا او داسې نورو پرمختللو هېوادونو په اقتصادي وده کې خورا ګټور رول لوبولی دی.

## Theory

## تئوري يا نظريه

هغه بيانيه، چې د مشاهده شويو حقايقو ترمنځ ظاهري تړاو په ګوته کوي، چې دا اړيکې په مکرر ډول سره د محققينو په وسيله توضيح شوي وي. تيوري په طبيعت کې موجودو حقايقو ته د ځانګړو ميتودونو او شرايطو په کارولو او د ازمايښتونو وروسته منظم او عمومي شکل ورکوي

## Thin Market

## محدود بازار

Narrow Market ته رجوع وکړئ.

## Third degree price discrimination

### د قېمتدریمه درجه توپېر

د تبعیضي قېمت هغه ډول، چې له مخې يې پلورونکی د عین توکو پر پلور د مختلفو ډلو وګړو په وړاندې، چې په آساني سره د خپلو ځانګړتیاو لکه عمر، جنس (نر او ښځه) او داسې نورو ځانګړتیاو له مخې د پیژندنې وړ وي مختلف قېمت وضع کوي. د قېمت لومړی درجه تبعیض/توپیر (First degree pirce discrimination) او د قېمت دویمه درجه تبعیض/توپیر Second degree price discrimiantion سره يې پرتله کړئ.

## Third World Countries

### د دریيمې نړۍ هېوادونه

دا اصطلاح د نړۍ د هغو غریبو او وروسته پاتې هېوادونو په وړاندې کارول کېږي، چې د وګړو د ژوند کچه يې ډېره ټيټه وي، اقتصادي وده يې ډېره ورو او په ځينو وختونو کې منفي وي او ډېری يې په افریقا او آسیا کې شتون لري په دغو هېوادونو کې قحطي، غربت، دیکتاتورانه حکومتونه، تجاوز، جنګونه، فاسد حکومتونه، د ښوونې او روزنې ټيټ معیار او کیفیت، د نفوسو چټکه وده یا داسې نور ناوړه حالات شتون لري، چې د اقتصادي ودې پر وړاندې لوی خنډونه ګڼل کېږي؛ خو په اوسني وخت کې معمولاً د دې اصطلاح په ځای د پرمختیايي هېوادونو (Developing countires) اصطلاح کارول کېږي.

## Tiein sale

### مزدوج پلور

د پلورونکي له لوري په پیرودونکي باندې د یو توکي پلور، چې د بل توکي په پیر پورې تړلی وي. او یا هم په بل عبارت: د یو توکي پلور، چې د پلورونکي له لوري پکې حد اقل یو شرط اېښودل شوی وي. چې د مشروط پلور( Conditional sale) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Tie Loan

مشروط/ تړلی پور

هغه بهرنی پور، چې په دې شرط پورې تړلی وي، چې پور ترلاسه کونکی هېواد به د پروژې د تطبیق لپاره اړین وسایل او توکي له پور ورکونکي هېواد څخه پېري.

## Tiger Economy

ټایګر اقتصاد

دا اصطلاح د جنوب ختیځې اسیا چټک پرمختلونکو اقتصادونو ته لکه د جنوبي کوریا، مالیزیا، تایلند،سینګاپور او اندونیزیا د هېوادونو د اقتصاد لپاره کارول کېږي.دا ځکه، چې د دې هېوادونو اقتصادي وده معمولاً ډېره زیاته وه. او په اوسني وخت کې د چین هېواد ته هم دا اصطلاح کارول کېږي. پرته له اسیایي هیوادونو څخه د ځینو نورو هیوادونو لپاره هم دا اصطلاح کاریږی لکه ایرلینډ ، رومانیا او سلواکیا. د یادونې وړ ده چې دا اصطلاح معمولاُ د څلورو اسیایي هیوادونو لپاره کارول کیږي چې عبارت دي له: جنوبي کوریا، سنګاپور، مالیزیا او تایوان څخه. د لا ډېرو مالوماتو لپاره آسیایي بحران (Asian crises) ته هم رجوع وکړئ.

## Tight Money

انقباضي /سختې پیسې (پولي سیاست)

په جریان کې د پیسو راکمولو یا انقباض ته وایي، کله چې دولت وغواړي، چې په اقتصاد کې د انفلاسیون اندازه کمه کړي؛ نو مرکزي بانک په جریان کې د پیسو اندازه راکموي. او یا دا، چې: د سوداګریزو بانکونو له لارې کاروبارونو او عوامو ته د پور په ورکولو باندې سخت قوانین وضع کوي.

## Time Deposit

معیادي امانت

هغه بانکي امانت، چې معمولاً د ټاکلي وخت څخه مخکې نقد کېدای نشي او د هوکړه لیک له مخې د حساب درولودونکی خپلې پیسې له معلوم وخت څخه د مخه له بانک یا مالي ادارې څخه نشي

ويستل. له جاری حساب **(**Current account**)** او معيادي حساب/امانت **(**Time deposit**)** سره يې پرتله کړئ.

## Time Period

## ځانګړی وخت

په عام ډول زماني واټن يا د وخت يوې دورې څخه عبارت دی. همدا راز د ارتجاعيت**(**Elasticity**)** له دريو ټاکوونکيو عواملو څخه يو دی دوه نور يې عبارت دي له:

۱: د بودجې تناسب **(**Budget proportion**)**

۲: متبادل شتون **(**Subtitue availability**)**

او د ځانګړي وخت څخه موخه داده چې د يو توکي ارتجاعيت په اوږده موده يا د وخت په اوږده دوره کې زيات وي.

## Time Work

## د وخت له مخې کار

د مزد هغه سېستم، چې له مخې يې کارګر ته د کار د وخت په بنسټ لکه د فی ساعت يا هم في ورځ له مخې مزد ورکړه ترسره کېږي.

## Toll

## حق العبور

له هغه مبلغ يا ماليې ته وايي، چې د يوې شتمنۍ(معمولاً د عامه ملکيت لکه پل، سرک او داسې نورو څخه) د ګټې اخېستنې په وړاندې تاديه کېږي.

## Tonnage

## د ټن له مخې محصول/ماليې اخېستل

معمولاً د کشتيو څخه د ټن له مخې د هغوی په ظرفيت باندې ماليې/محصول اخېستلو څخه عبارت دی. د ارزښت له مخې محصول اخيستل **(**Ad volarm tariff**)** سره يې پرتله کړئ.

## Total Cost(TC)

## ټولیز لګښت

د تولید په پروسه کې د تولید د ټولو عواملو د لګښتونو لکه مزد، کرایه، سود مجموعې ته د تمام شد ټولیز لګښت ویل کېږي. او یا هم دا چې: د تولید په پروسه کې د رامنځته شویو ټولو ثابتو او متغیره لګښتونو مجموعې ته د تمام شد ټولیز لګښت ویل کېږي یعنې دا، چې: TC=TFC+TVC چې پدې مساوات کې:

- TC ټولیز لګښت **(**Total cost**)**
- TFC ټولیز ثابت لګښت **(**Total Fixed Cost**)**
- TVC له ټولیز متغیره لګښت **(**Total Variable Cost**)**

څخه نمایندګي کوي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ. ټولیز لګښت ته د عواملو ټولیز لګښت (totalfactorcost**)** اصطلاح هم کارول کېږي.

## Total Fixed Cost (TFC)

## ټولیز ثابت لګښت

د هغو ټولو لګښتونو مجموعه ده چې په لنډ مهال کې د توکو او خدمتونو د تولید په مقدار پورې نه وي تړلي. او یا دا، چې: هغه ټول لګښتونه، چې د تولید په اندازه کې تغیر سره مستقیمه تړاو ونه لري لکه د ځمکې کرایه، د ځینو کارکوونکو مزد او معاش او داسې نور ځینې لګښتونه. له ټولیز متغیره لګښت (Total Variable Cost) سره یې پرتله کړئ.

## Total Product (TP)

## ټولیز حاصل /تولید

د تولید ټولیزه اندازه، چې په معلوم وخت کې د تولید معلومو عواملو څخه د ګټه اخیستنې په پایله کې تولید شوي وي، چې د ټولیز فزیکي تولید (Total Physical Product) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له متوسط تولید **(**Average Product**)** او نهایي تولید **(**Marginal Product**)** سره یې پرتله کړئ.

## Total Return

### ټولیز بازګشت

هغه ټولیز عواید، چې په مالي شتمنیو باندې د پانګونې څخه د ګټې په توګه ترلاسه کیږي.

## Total Revenue (TR)

### ټول (ناخالصه ) عاید

د پلورل شویو توکو او خدمتونو د پلور څخه ترلاسه شویو ټولیزو عوایدو څخه عبارت دی.

## Total Utility (TU)

### ټوله افاده

هغه ټولیز رضایت یا تسکین، چې د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې ترلاسه شوی وي او یا هم دا، چې: د یو توکي او یا خدمت څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې مستهلکین په کلي توګه تر کومه حده رضایت تر لاسه کوي.

## Total Variable Cost(TVC)

### ټولیز متغیر لګښتونه

د تولید په پروسه کې د هغه لګښتونو مجموعه، چې په مستقیم ډول سره د تولید په مقدار پورې تړلي وي. او یا هم دا، چې: د تولید په پروسه کې د هغو لګښتونو مجموعه، چې د تولید مقدار په ډیریدو پکې ډیروالی او په کمیدو سره پکې کموالی رامنځته کیږي.

د بیلګې په توګه: د خامو موادو، د برښنا او ځینې نور لګښتونه، چې دا ډول ټول لګښتونه د تولید په مقدار پورې تړلي دي. له ټولیز ثابت لګښت (Total Fixed Cost) سره یې پرتله کړئ.

## Trade

### سوداګري

په عام ډول هر ډول اقتصادي تبادلې ته سوداګري ویل کیږي. په حقوقي لحاظ معمولاً د منقولو توکو پلورل او پیرل، چې په پرله پسې ډول د شغل او پیشې په توګه د ګټې د ترلاسه کولو په موخه ترسره

کېږي سوداګري بلل کيږي او د هيواد په کچه په د کورنۍ او بهرنۍ سوداګري په بڼه تعريفيږي. خو سوداګري معمولاً د هېواد بهرنې معاملات په بر کې نيسي په دې مانا، چې معمولاً لدې اصطلاح څخه د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې ګټه اخېستل کېږي. چې صادرات او واردات په برکې نيسي؟

د بېلګې په توګه: د سوداګرۍ بېلانس (Balance of trade) د لا ډېرو مالوماتو لپاره د سوداګرۍ بېلانس ته هم رجوع وکړئ.

## Trade Allowance
## سوداګريز تخفيف

د توکو او يا خدمتونو په پلور کې د تخفيف ورکولو ته سوداګريز تخفيف ويل کېږي چې زياتره وخت د سوداګريزو مالونو په لويه کچه د پير په مهال ورکول کيږي چې د (Trade Discount) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Trade Barriers
## سوداګريز خنډونه

د دولت له لوري د بهرنۍ سوداګرۍ پر وړاندې هغه ممانعتونه، چې د هېوادونو ترمنځ د آزادې سوداګرۍ مخه نيسي.او يا هم دا، چې: هر هغه محدوديت او يا خنډ، چې د هېواد بهرنۍ سوداګري تر خپل اغيزې لاندې راولي له سوداګريزو خنډونو څخه عبارت دي.

د بېلګې په توګه: محصول، مقداري محدوديت، کرنيز نورمونه او معيارونه او داسې نور قيودات،، چې بنسټېزه موخه يې د وارداتو راکمولو له لارې په بهرنۍ سوداګرۍ کې شته کسر راکمول يا له منځه وړل، کورني توليد ته پراختيا ورکول او د دولت د عوايدو لوړول دي.

## Trade Bloc
## سوداګريز بلاک

يوه ډله هېوادونه، چې له اقتصادي يا کلتوري اړخه سره نږدېوالی ولري او معمولاً يو بل ته نږدې جغرافيايي موقعيت ولري او په ګډه د بهرنۍ سوداګرۍ سياست همغږې کوي. د بيلګې په توګه: په آسيا کې د کوريا، تايوان، هانګ کانګ، ماليزيا او ځينې نور هېوادونو ګډ سوداګريز بلاک.

## Trade Deficit
## سوداګرۍ(بیلانس) کسر

د سوداګرۍ د بېلانس کسر(Balance of trade deficit) لپاره یوه متبادله اصطلاح ده او د یو هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې هغه حالت ده ، چې په معلوم وخت کې د هېواد د وارداتو ارزښت د صادراتو له ا رزښت څخه لوړ وي.

د بېلګې په توګه: که په ۱۳۹٤ کال کې د افغانستان د ۱۰۰ میلیارده افغانۍ په ارزښت صادرات او د ۱۱۰ میلیارده افغانۍ په اندازه واردات ولري نو په ۱۳۹٤ کال افغانستان په بهرنۍ سوداګرۍ کې د ۱۰ میلیارده افغانیو په اندازه له کسر سره مخ دی. سوداګرۍ مازاد (Trade surplus) سره یې پرتله کړئ.

## Trade Mark
## سوداګریزه نښه

هغه ځانګړې نښه، چې د یو ځانګړي تولید، صنعت یا پلورونکي د تشخیص او پېژندنې لپاره ترینه ګټه اخېستل کېږي، او په قانوني ډول د هغه څخه د ګټې اخېستنې حق یواځې د نوموړې نښې مالک ته حاصل وي.

## Trade Surplus
## سوداګریز مازاد

د سوداګرۍ د بېلانس مازاد ( Balance of trade surplus) لپاره یوه متبادله اصطلاح ده او د یو هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې هغه حالت ده، چې په معلوم وخت کې د هېواد د وارداتو ارزښت د صادراتو د ارزښت څخه کم وي.

د بېلګې په توګه: که په ۱۳۹٤ کال کې افغانستان د ۱۰۰ میلیارده افغانۍ په ارزښت واردات او د ۱۱۰ میلیارده افغانۍ په اندازه صادرات ولري نو په ۱۳۹٤ کال افغانستان په بهرنۍ سوداګرۍ کې ۱۰ میلیارده افغانیو په اندازه مازاد سره ترلاسه کوي.د سوداګرۍ کسر (Trade deficit) سره یې پرتله کړئ.

## Trade Union

### سوداګریزه ټولنه

د هیوادونو په کچه د سوداګریزو سیاستونو د همغږۍ ټولنې ته سوداګریزه ټولنه ویل کیږي او معمولاً د کاروبارونو له لوري د هغوی د ګټو د ساتلو او زیاتولو په موخه رامنځ ته کېږي د کارګرانو ټولنې (Labour Union) سره یې پرتله کړئ.

## Traditional Society

### عنعنوي ټولنه

د ډبلیو ډبلیو راستو د نظریې له مخې دا د اقتصادي ودې او پرمختګ لومړنۍ مرحله ده، چې پکې اقتصادي کړنې نسبتاً محدود او د نیوټن د وخت څخه مخکې تکنالوژۍ باندې اتکا لري.

د اقتصادي ودې څلور نورې مرحلې عبارت دي له:

١: د خیزش/اوچتیدو لپاره مخکینۍ شرط (Precondition for take-off)

٢: ټوپ مرحله (Take-off)

٣: د پوخوالي په لور ګام (Drive to maturity)

٤: د لوړې کتلې د تولید دوره (Age of high mass production)

د ډبلیو ډبلیو روستو د نظریې له مخې د اقتصادي ودې او پرمختګ د مرحلو په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو مرحلو ته هم رجوع وکړئ.

## Transaction Cost

### د تبادلې (معاملوي) لګښت

هغه لګښت، چې په یوه سوداګریزه معامله کې د معاملې د ترسره کولو څخه مخکې یا دا، چې د توکو او خدمتونو د پیر او پلور په وخت کې رامنځته کېږي.

د بېلګې په توګه: د یوې سوداګریزې معاملې د ترسره کولو لپاره د ماهرینو د مشورو لګښت یا د یوې پروژې د ترلاسه کولو لپاره د پروپوزل لیکلو لګښت او یا هم په خپله د هوکړه لیک لګښتونه.

## Transaction
### معامله

په بازار کې د توکو او خدمتونو تبادلې ته معامله ویل کېږي، چې معمولاً د پیسو په مرسته ترسره کېږي. او یا هم دا چې: د پلورونکي او پیرودونکي ترمنځ هغه هوکړه، چې له مخې يې یوې خواوې ته شتمني او بلې خوا ته تادیات په ګوته کېږي او یو بل ته د ملکیت انتقال ترسره کېږي.

## Transfer Payment
### انتقالي تادیات

هغه تادیات، چې په تولید کې د برخه اخیستو څخه پرته او معمولاً د دولت له لوري ترسره کېږي. چې درې عام ډولونه يې عبارت دي له:

- د ټولنیز محافظت لګښتونه (Social security)
- د عامه رفاه لګښتونه (Social welfare)
- وزګارو وګړو ته د دولت تادیات (Unemployment benefit).

د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

## Transferable Input
### د انتقال وړ عامل

هغه عامل، چې د ترانسپورت د لګښت د کموالي له وجې ډېره جغرافیايي سیمه احاطه کوي.یا په لویه جغرافیايي سیمه کې د ترانسپورت د کم لګښت له پلوه پیدا کیدلی شي.. او یا هم هغه عامل چې د تولید لپاره له یوه ځای څخه بل ځای ته او یا هم له یو کاروبار څخه بل کاروبار ته د انتقال وړتیا ولري.

## Transferable Output
### د لیږد وړ حاصل

هغه حاصل، چې د انتقال د لګښت د کموالي له امله لویه جغرافیايي سیمه په بر کې نیسي. او یا هم هغه محصول چې د تولید څخه وروسته د انتقال وړ وي او یا هم انتقال مومي.

## Transportability
د لېږد وړتیا

د پیسو د څلورو بنسټیزو ځانګړتیاو څخه یوه ده د پیسو درې نورې ځانګړتیاوې عبارت دي له:

۱: د دوام وړتیا (Durability)

۲: د وېش وړتیا (Divisibility)

۳: جعل نه منونکې (Non-counterfietability)

او د پیسو د دې ځانګړتیا له مخې: هر هغه شی، چې په اقتصاد کې د پیسو دنده ترسره کوي باید په آساني سره له یو ځای څخه بل ځای ته د لېږد وړتیا ولري څو د توکو او خدمتونو په راکړه ورکړه (تبادله) کې د تادیې د وسیلې په توګه خپله دنده په درست ډول سره ترسره کړي. د پیسو د ځانګړتیاو په اړه لا ډېرو مالوماتو لپاره د پیسو ذکر شوو ځانګړتیاو ته هم رجوع وکړئ.

## Trans-Shipment Point
د ترانسپورتي انتقال نکته

هغه ځای، چې له یو ډول ترانسپورت څخه بل ترانسپورت ته د اموالو انتقال پکې ترسره کېږي لکه د کشتیو څخه موټرونو ته یا د موټرونو څخه طیارو ته د اموالو د انتقال ځای.

## Treasury Bill
د خزانې بل

د خزانې بل معمولاً د پیسو بازار له لارې د دولت له لوري د لنډ مهال لپاره (معمولاً تر یو کال پورې) نشرېږي او د سود یو ټاکلی نرخ ور باندې تادیه کېږي څو دولت لدې لارې د خپلې بودجې کسر تمویل کړي. د خزانې بانډ او خزانې نوټ سره یې پرتله کړئ.

## Treasury Bond
د خزانې بانډ

د خزانې بانډ معمولاً د پانګې بازار له لارې د دولت له لوري د اوږد مهال لپاره (معمولاً د لسو کلونو څخه تر دیرشو کلونو پورې) نشرېږي تر څو لدې لارې دولت د بودجې کسر تمویل یا د اوږدمهاله

پروژو لپاره پیسې ترلاسه کړي او د سر رسید (Maturity) په پام کې نېولو سره د ربحې لوړ کچه ورباندې تادیه کوي. خو ځینې وخت د لویو شرکتونو له لوري هم نشرېږي. د خزانې بِل او خزانې نوټ سره یې پرتله کړئ.

## Treasury Notes
## د خزانې نوټ

هغه دولتي بهاداره پاڼې دي، چې دولت یې د بودجې د کسر د تمویل په موخه نشروي او د سر رسید یې د یو کال نه تر لسو کلونو پورې وي، چې د سود نرخ یې د سر رسید په پام کې نېولو سره ټاکل کېږي. د خزانې بِل او د خزانې نوټ سره یې پرتله کړئ.

## Treasury Securities
## د خزانې پاڼې

د بودجې د کسر د تمویل په موخه د دولت له لوري نشریدونکي مالي ارزښت لرونکې پاڼې دي چې په دریو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: د خزانې بِل (Treasury Bill)
۲: د خزانې بانډ (TreasuryBond)
۳: د خزانې نوټ (TreasuryNote)
د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Triangular Trade
## درې ګونې سوداګري

په یوه ټاکلي وخت کې د توکو او خدمتونو د تبادلې په پایله کې د دریو هېوادونو ترمنځ د صادراتو او وارداتو تبادله، چې د یو مثلث شکل غوره کوي.

د بېلګې په توګه: افغانستان خپل تولیدات پاکستان ته صادروي، پاکستان خپل تولیدات ایران او بالاخره ایران خپل تولیدات افغانستان ته صادروي او په دې توګه د دې دریو واړو هېوادونو ترمنځ

سوداګري د مثلث شکل غوره کوي.پدې ډول يو هيواد هغه هيواد ته صادرات استوي چې له هغه څخه عمده واردات نلري.

## Trough
کساد (خط القعر)

د کساد مرحلې څخه د رونق مرحلې ته د کاروباري دوران يا دايرې (Business cycle) د انتقال څخه عبارت دی، چې د کساد په ختميدو سره پيل او د رونق تر پيل پورې دوام پيدا کوي په دغه وخت کې په اقتصاد کې د توليد اندازه په کمېدو او د وزګارتيا کچه په لوړېدو وي. خو ځينې اقتصاد پوهان بيا خط القعر په اقتصاد کې د يوې جلا مرحلې په توګه پيژني. د لا ډېرو معلوماتو لپاره کاروباري دوران يا دايرې مرحلو (Business cycle phases)ته هم رجوع وکړئ.

## Trust
ټولنه ( څو اړخيز انحصار)

د سازمان يا کاروبار له هغه جوړښت څخه عبارت دی، چې په عين صنعت کې متعدد کاروبارونه تر کنترول لاندې راولي څو په بازار کې د توکو په قېمت ټاکنه باندې کنترول ترلاسه کړي؛ خو په اوسنې وخت کې په ډېرى هېوادونو کې غير قانوني ګرځول شوی دی.

## Tying Contract
تړلی هوکړه ليک

هغه ډول هوکړه ليک، چې له مخې يې پلورونکي د يو توکي پلورل په بل توکي پورې تړي او يوازې د يو توکي پلور نه ترسره کوي. دا ډول هوکړه ليک په ۱۸۰۰ او ۱۹۰۰ ميلادي کالونو کې شتون درلوده؛ خو اوس په ډېرى هېوادونو کې غير قانوني ګرځول شوی دی.

# U

## Uncertainity
## غیریقیني حالت

هغه حالت چې د یوې حادثې د وقوع کېږ امکانات شتون ولري خو د یوه احتمال هم د سنجولو وړ نه وی او د پېښې د پېښېدو او یا نه پېښېدو په اړوند کامله غیر یقینی حالت وی. یا په راتلونکي کې هغه حالت، چې د یوې پېښې رامنځته کېدل پکې نامعلوم وي.

## Under Developed Countries
## وروسته پاتې هېوادونه

د دریمې نړۍهېوادونو (Third world countries) ته رجوع وکړئ.

## Under Employment
## ناقص استخدام

د روزګارتیا یا استخدام هغه حالت چې په کامل ډول د کارکرې قوې یا ټولنې د تولیدي وړتیا څخه په کې ګټه نه اخېستل کېږي. دا په دې مانا چې: یو کارکوونکي د پوره ورځي یا ۸ ساعته کار وړتیا لري خو یواځي ٤ ساعته کار پیدا کوي او نور ٤ ساعته بیکاره تیروي. چې د نیمه استخدام (Half employment) اصطلاح ورته هم کارول کېږي

## Underground Economy
## پټ اقتصاد

هغه اقتصاد، چې د نا خالص داخلي تولید په اندازه کولو کې یې د ځینو اقتصادي کړنو د ثبت راپور نه ورکول کېږي،،چې په ډېری هېوادونو کې په نا خالص داخلي تولید کې د دې ډول کړنو یوه ځانګړې برخه (٪۲۵ او یا لدې هم زیات) په نښه کېږي او بیا په نا خالص داخلي تولید کې په ثبت رسول کېږي.

## Undifferentiated

## متجانس/نا مشخص

هغه کړنلاره، چې په متجانس بازار اتکا لري. یا د مشتریانو ترمنځ ښکاره توپیر نه وي او یا هم د تولیداتو ترمنځ.

## Undistributed Corporate Profit

## د سهامي شرکت نه ویشل شوې ګټه

د سهامي شرکت د ګټې هغه برخه، چې نه هم ونډه لرونکو ته د ویش وړ ګټې (dividend) په شکل او نه هم د شرکت پر ګټه باندې د مالیې په شکل تادیه کېږي بلکې د شرکت د کاروبار د لا پراختیا په موخه ترې ګټه اخېستل کېږي، چې د ساتل شوې ګټې **(**Retained earning**)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Unearned Income

## نا ترلاسه شوې عاید

د محاسبې په اصطلاح کې: د توکو یا خدمتونو څخه رامنځته شوي عواید، چې لا ترلاسه شوي نه وي، چې د موجل عاید (deferredincome) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. له ترلاسه شوي عاید **(**Earned income**)** سره یې پرتله کړئ.

## Uneconomic Activities

## غیر اقتصادي کړنې

هغه کړنې، چې د توکو او خدمتونو د تولید په موخه نه ترسره کېږي. او یا دا، چې: هغه کړنې، چې پر وړاندې یې د پیسو تادیه نه ترسره کېږي لکه د مذهب ، احساس یا کلتور د غوښتنې په اساس کړنې. له اقتصادي کړنو **(**Economic activities**)** سره یې پرتله کړئ.

## Unemployed Person

## وزګار کس

هر هغه وګړی، چې د کار کولو اراده او وړتیا ولري او په فعالانه ډول سره د دندې د ترلاسه کولو په هڅه کې وي. خو د توکو او خدمتونو په تولید کې عملاً برخه ونه لري. او یا هم په بل عبارت:: د دندې د ترلاسه کولو په هڅه کې وي؛ خو لا تراوسه هم وزګار پاتې شوی وي.

## Unemployment

## وزګارتیا

هغه عمومي حالت، چې پکې هغه تولیدي منابع (معمولاً کارګره قوه)، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې د برخه اخېستو اراده او وړتیا ولري او عملاُ د کار ترلاسه کولو په لټه کې وي خو په تولیدي کړنو کې برخه ونه لري وزګارتیا ګڼل کېږي. وزګارتیا معمولاً په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

۱: اصطکاکي وزګارتیا (Frictional Unemployment)

هغه وزګارتیا، چې له یوې دندې څخه بلې دندې ته د تولید عواملو (معمولاً کارګرې قوې) د تبدیلیدو له امله رامنځته کېږي.

۲: پټه وزګارتیا (Hidden Unemployment)

د تولید په پروسه کې د تولید د عواملو (معمولاً د کارګرې قوې) ترمنځ هغه حالت، چې که چېرې یو یا څو کارګر د تولید د عملیې څخه ووېستل شي په تولید کې کوم تغیر رامنځته نشي نو د تولید په پروسه کې د کارګرې قوې په منځ کې دغه حالت ته پټه بېکاري ویل کېږي.

۳: دوراني وزګارتیا (Cyclical Unemployment)

د وزګارتیا هغه ډول، چې د کاروباري دایرې یا دوران کې د کساد د مرحلې په رامنځته کېدو سره په کلي اقتصاد کې په اقتصادي فعالیتونه کې کموالی رامنځته شي (په ځانګړي ډول سره په نا خالص داخلي تولید باندې د لګښتونو اندازه راکمه شي).

دا په دې مانا چې: په اقتصاد کې د کساد یا زوال مرحله پیل شي نو ټولیز تقاضا کمېږي، چې د ټولیزې تقاضا په کمیدو سره د ټولیز تولید اندازه هم کمیږي او د ټولیز تولید په کمیدو سره د کارګرانو یوه برخه له کاره ګوښه او وزګار پاتې کېږي، چې په دې توګه دوراني وزګارتیا رامنځته کېږي. او یا هم په بل عبارت: د وزګارتیا هغه ډول، چې په کاروباري دوران یا دایره کې د کساد یا زوال مرحلې **(**Contraction**)** د پیل له امله رامنځته کېږي.

٤: موسمي وزګارتیا (Seasonal Unemployment)

د وزګارتیا هغه شکل، چې په پایله کې یې په اقتصاد کې د موسمي بدلون په پایله کې د تولید وسایل (معمولاً کارګره قوه)، چې په تولید کې د برخه اخېستو اراده او وړتیا ولري وزګار پاتې کېږي. او یا هم په بل عبارت: د وزګارتیا هغه ډول، چې په اقتصاد کې د موسمي بدلون په پایله کې رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه: د ژمي په موسم کې په کابل کې تقریباً ټول ودانیز کارونه په ټپه درېږي، چې په پایله کې یې هغه وګړي، چې په ودانیزو کارونو کې په فعالیت بوخت وي وزګار پاتې کېږي.

٥: تکنالوژيکي وزګارتیا (Technological Unemployment)

د وزګارتیا هغه ډول، چې د تولید په پروسه کې د کارګر پر ځای د ماشین آلاتو څخه د ګټې اخېستنې په پایله کې رامنځته کېږي.

٦: ارادي وزګارتیا **(**Voluntary Unemployment**)**

د وزګارتیا هغه ډول، چې پکې د تولید عوامل (په ځانګړي ډول کارګره قوه)، چې د کار کولو اراده او وړتیا ولري او په خپله خوښه نه غواړي، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې برخه واخلي. یعنې دا چې د لټې کوي.

٧: غیرارادي وزګارتیا **(**Involuntary Unemployment**)**

د وزګارتیا هغه ډول ته ویل کېږي، چې د تولید عوامل (معمولاً کارګره قوه)، چې د توکو او خدمتونو په تولید کې د برخه اخېستو اراده او وړتیا ولري؛ خو تولید ته د تقاضا د نه شتون له امله وزګار

پاتې کېږي، چې د کاروباري دوران یا دایرې د کساد یا زوال په مرحله کې یوه بنسټیزه ستونزه ګڼل کېږي.

۸: ساختاري یا بنیادي وزګارتیا (Structural Unemployment)

کله د کارګرانو مهارت د کار لپاره اړین مهارت سره تطابق ونه لري؛ نو په دې توګه کارګران د اړین ټرېننګ د ترلاسه کولو په موخه د لنډ وخت لپاره وزګار پاتې کېږي، چې په اقتصاد کې د کارګرې قوې دا ډول وزګار پاتې کېدل د ساختاري وزګارتیا څخه عبارت دی، چې معمولاً په ټکنالوژي کې د پرمختګ په پایله کې رامنځته کېږي.

د بېلګې په توګه: په تولید کې د نوې او عصري ټکنالوژي څخه د ګټه اخېستنې له امله کارګرانو ته د ټرېننګ ورکولو له امله هغوی د لنډ وخت لپاره وزګار پاتې کېږي.

## Unemployment Compensation
## د وزګارتیا حقوق

هغه معلومه اندازه تادیات، چې په ټولنه کې وزګارو وګړو ته د دولت له لوري ترسره کېږي او دا ډول تادیات معمولاً هره اونۍ یا هره میاشت ترسره کېږي. دا ډول تادیات معمولاً په پرمختللو هېوادونه کې شتون لري او د (Unemployment Benefit) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Unemployment Rate
## د وزګارتیا کچه

په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو په تولید کې استخدام شویو وګړو په پرتله د هغه وګړو سلنه، چې د کار کولو اراده او وړتیا ولري، د کار په لټه کې وي؛ خو تر اوسه یې دندې نه وي ترلاسه کړې.او یا هم دا، چې: په هېواد ټولې کارګرې قوې ته د وزګارو وګړو نسبت ته د وزګارتیا نرخ ویل کېږي. چې د سلنې له مخې ښودل کېږي.

د بېلګې په توګه: که په ۱۳۹٤ کال کې د افغانستان ټوله کارګره قوه ۱۵ میلیونه وګړي او د وزګاره کارګره قوه یې ۳ میلیونه وګړي وګڼو نو په افغانستان کې د بېکارۍ کچه د ۲۰٪ څخه عبارت دی. د

لا ډېرو مالوماتو لپاره د کاروباري دوران یا دایرې انډیکېټور **(**Business Cycle indicator**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Unemployment Reasons
## د وزګارتیا لاملونه

په هېواد کې د تولید عوامل په ځانګړې ډول کارګره قوه د مختلفو عواملو له مخې وزګار پاتې کېږي، چې درې عام عوامل یې عبارت دي له:

- د شته دندو پرېښودلو له امله وزګارتیا رامنځته کېدل.
- د شته دندو له لاسه ورکول له امله وزګارتیا رامنځته کېدل.
- د موقتي دندو د پوره کېدو له امله په اقتصاد کې د وزګارتیا رامنځته کېدل.

## Unemployment Sources
## د وزګارتیا سرچینې

د تولید منابع معمولاً د لاندنیو عمده عواملو له مخې وزګار پاتې کېږي او یا دا، چې هغه عمده عوامل، چې له مخې یې په اقتصاد کې وزګارتیا رامنځته کېږي عبارت دي له:

- اصطکاکي وزګارتیا (Frictional Unemployment)
- پټه وزګارتیا **(**HiddenUnemployment**)**
- دوراني وزګارتیا **(**CyclicalUnemployment**)**
- موسمي وزګارتیا **(**SeasonalUnemployment**)**
- تکنالوژیکي وزګارتیا (TechnologicalUnemployment)
- ارادي وزګارتیا **(**VoluntaryUnemployment**)**
- غیر ارادي وزګارتیا (InvoluntaryUnemployment)
- ساختاري یا بنیادي وزګارتیا (Structural Unemployment)

د لا ډېرو مالوماتو لپاره وزګارتیا **(**Unemployment**)** ته هم رجوع وکړئ.

## Unfair Competition

## نادرست/غیرعادلانه سیالي

د توکو او خدمتونو د پلورونکو ترمنځ هغه سیالي، چې په درغلۍ یا د دوکې له مخې ترسره کېږي.

د بېلګې په توګه: د بازاز موندنې له لارې د غلطو معلوماتو وړاندې کول. تبعیضي قېمت، رشوت خوري او داسې نور، چې د سیالۍ دا ډول معمولاً په ټولو هېوادونو کې غیر قانوني ګرځول شوی دی.، چې د (Unfair trade practices) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Unfavorable/Unfair Balance of Payment

## د تادیاتو غیر مساعد بېلانس

د تادیاتو د بېلانس کسر (Balance of payment Deficit) ته رجوع وکړئ.

## Unfavorable/Unfair Balance of Trade

## د سوداګرۍ غیر مساعد بېلانس

د سوداګرۍ د بېلانس کسر (Balance of trade deficit) ته رجوع وکړئ.

## Unilateral Agreement

## یو اړخیز هوکړه لیک

د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې هغه هوکړه لیک، چې معمولاً د دوه هېوادونو ترمنځ په یو اړخیز ډول سره عقد کېږي.

د بېلګې په توګه: د افغانستان او پاکستان ترمنځ دا ډول یو اړخیز هوکړه لیک عقد کېږي، چې له مخې یې افغان کارګران په پاکستان کې د کار کولو اجازه ترلاسه کوي.

## Union

## ټولنه / اتحادیه

د کارګرانو هغه سازمان، چې په ګډه سره عمل کوي چې د کاروبار د مالکینو سره د مزد او معاش، د کار شرایط، امتیازات او داسې نورو برخو باندې د اړتیا په وخت کې خبرې او بحث ترسره کړي،

چې موخه يې د کارګرانو له حقوقو څخه دفاع کول دي، چې د کارګرانو ټولنه (**Labor Union**) اصطلاح ورته هم کارول کېږي. دا ډول ټولنې ځينې وخت د متصدياتو يا کارفرمانو ترمنځ هم رامنځ ته کېږي. د لا ډېرو مالوماتو لپاره د کارګرانو ټولنې (Labor Union) او د سوداګريزې ټولنې (Trade Union) ته هم رجوع وکړئ.

## Unit Elastic

واحد ارتجاعي

د ازتجاعيت هغه ډول، چې د يو توکي په قېمت کې د رامنځته شوي تغير اندازه د توکي په مقدار کې د رامنځته شوي تغير له اندازې سره برابر وي. او يا هم په بل عبارت: په هره اندازه، چې قېمت تغير خوري په همغه اندازه سره مقدار هم تغير خوري. د ارتجاعيت نورو ډولونو لپاره د ارتجاعيت متبادل (Elasticity Alternative) ته هم رجوع وکړئ.

## Union Shop

د ټولنې مغازه (د ټولنې څخه بهر غړو لپاره)

د استخدام هغه مشروط هوکړه ليک څخه عبارت دی، چې له مخې يې په توليدي کړنو کې د کارګرانو استخدام په دې شرط ترسره کېږي، چې له استخدام څخه وروسته به د کارګرانو ټولنې غړېتوب ترلاسه کوي. د لا ډېرو معلوماتو لپاره تړلې مغازې (Closed shop) او پرانيستې مغازې (Open shop) ته هم رجوع وکړئ.

## Unit of Account

د محاسبې واحد

د پيسو د څلورو بنسټيزو دندو څخه يوه ده، د پيسو درې نورې بنسټيزې دندې عبارت دي له:

- د تبادلې وسيله (Medium of Exchange)
- د ارزښت د ساتلو وسيله (Store of value)
- د مختلفو تادياتو لپاره د معيار وسيله (Standard of Different Payments)

او د پیسو ددې دندې ه مخې: پیسې په اقتصاد کې د شمېر یا د اندازه ګیرۍ د واحد په توګه یوه وسیله ده، چې له مخې یې پیسې په اقتصاد کې د توکو او خدمتونو د قیمتونو د اندازه ګېرۍ په موخه استعمالېږي.

او یا هم دا، چې: د توکو او خدمتونو قېمتونه د پولي واحد په مرسته معلومېږي. چې د تادیې وسیله (Medium of Exchange) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

د پیسو د دندو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره د پیسو دندو (Money Functions) ته رجوع وکړئ.

## Unlimited Liabilities

### نا محدوده المسولیت/پوررونه

په کاروبار یا سوداګرۍ کې د هغه حالت شتون کله، چې د کاروبار شتمني د کاروبار د پوررونو د تادیې په وړاندې بسنه ونکړي نو د کاروبار مالک په شخصي ډول د کاروبار د پاتې پوررونو د تادیې مسئولیت په غاړه لري. او یا هم دا چې: کله، چې د کاروبار شتمني د کاروبار د پوررونو د تادیې په وړاندې بسنه ونکړي؛ نو د کاروبار مالک د پاتې پوررونو د تادیې مسئولیت په غاړه لري چې د کاروبار پاتې پوررونه له نورو لارو (لکه د پور اخېستلو له لارې یا د شخصي شتمنیو د پلورلو له لارې) تادیه کړي، چې دا حالت معمولاً د تضامني شرکت (Partnership)او انفرادي کاروبار(Proprietorship) د پوررونو په وړاندې رامنځته کېږي د محدود المسولیت Limited liabilities سره یې پرتله کړئ.

## Unlimited Needs and Wants

### نا محدوده اړتیاوې او غوښتنې

د کمیابۍ(Scarcity) له دوه بنسټیزو ستونزو څخه یوه هم نامحدوده اړتیاوې او غوښتنې دي (بله ستونزه یې عبارت ده له: محدوده وسایلو (Limited Means) او په دې مانا، چې: د خلکو اړتیاوې او غوښتنې د هغوی د منابعو په پرتله ډېرې دي او وګړي په ټولیزه توګه نشي کولای، چې خپلې

ټولې اړتیاوې او غوښتنې رفع کړي او په دې توګه په اقتصاد کې د کمیابۍ **(scarcity)** ستونزه رامنځته کېږي.

## Unplanned Investment
نا پلان شوې پانګونه

د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه، چې د متوقع اقتصادي مالوماتو لکه د سود نرخ، د پلور اندازه او د ګټورتوب څخه جلا ترسره کېږي. له پلان شوې پانګونې Planned Investment سره يې پرتله کړئ.

## Unstable Equilibrium
بې ثباته تعادل

په بازار کې هغه تعادل، چې د يو بهرني قوت د مداخلې په پايله کې له منځه ځي او په خپل حال نه پاتې کېږي. او يا هم په بله اصطلاح: يا په بازار کې هغه تعادل، چې د زيات وخت لپاره نه پاتې کېږي. له با ثباته تعادل (Stable equilibrium) سره يې پرتله کړئ.

## Unstable Market
بې ثباته بازار

هغه بازار چې په کې د توکو او خدمتونو پلور تر ډېره د قیمت تر اغیزې لاندې راځي. او يا هم دا چې: د توکو او خدمتونه قیمتونه تر ډېره ثابت نه پاتې کېږي. د با ثباته بازار **(Stable market)** سره يې پرتله کړئ.

## Unverifiable Axiom
نه تصدیق کیدونکی اصل

هغه فرضيې او تيوريګانې، چې پرته له تاييد او تصديق څخه باید ومنل شي او معمولاً د عقايدو، سياسي نظرياتو او کلتوري ارزښتونو له مخې منل کېږي.

## Uraguay Round

### د یوروګوای غونډه

په (GATT) باندې د خبرو اترو اتمه او وروستۍ مرحله په برکې نیسي، چې له مخې یې د GATT ځای د سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO) ونیوه. دغه مرحله په ۱۹۸٦ میلادي کال کې پیل اوپه ۱۹۹٤ میلادي کال کې پای ته ورسېده او د دې مرحلې په پایله کې د غړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې په محصول او داسې نورو محدودیتونو او قیوداتو کې کموالی رامنځته شو.

## User Charge

### د استعمال لګښت / تادیه

هغه تادیه، چې د عامه توکو یا خدمتونو څخه د ګټه اخیستنې په وړاندې ترسره کېږي لکه د کتابتون، پارک او داسې نورو څخه د ګټې اخیستنې په وړاندې د هغوی د قېمت تادیه.

## Usury

### سود (له حده زیات)

په عامه اصطلاح کې د سود هغه نرخ، چې د عدل او انصاف څخه لیرې وي؛ خو په علمي اصطلاح کې: د سود هغه نرخ، چې له ټاکلي (قانوني) حد څخه لوړ وي.

## Utilitarianism

### افاده پالنه (فلسفه )

هغه فلسفي نظریه چې وایي: د یو عمل ارزښت د نوموړي عمل په وسیله ترلاسه شوي رضایت یا ګټورتوب باندې اتکا لري.

## Utility

### افاده / ګټورتوب

د اړتیاو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې او استهلاک څخه ترلاسه شوي رضایت او تسکین څخه عبارت دی.، چې ځینې وخت ورته د سوکالۍ (Welfare) او (Welbeing) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Utility Maximization

### د افادې/ګټورتوب اعظمي کول

د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې یا استهلاک څخه د امکان ترحده د ډېر نه ډېر ګټورتوب یا رضایت د ترلاسه کولو کچې لاسته راوړلو څخه عبارت دی.

## Utility Measurement

### د افادې مقیاس

د توکو او خدمتونو څخه د ګټې اخېستنې او یا مصرف څخه ترلاسه شوی ګټورتوب یا رضایت اندازه ښودل په دوه ډوله ترسره کېږي، چې عبارت دي له:

- کمي یا عددي (Cordinal)، چې په عددي ارزښتونو اتکا لري لکه ۱،۲،۳،٤.......
- ترتیبي (Ordinal)، چې په ترتیب یا درجه بندي باندې اتکا لري لکه اول، دویم، دریم...،

ترتیبي طرېقه تر ډېره د ګټورتوب د اندازه کولو په وړاندې واقع بینانه طریقه ده، چې د کارډېنل له مخې اندازه ګیري د لږ یا ډېر په کارولو سره ترسره کېږي.

د بېلګې په توګه: وایو، چې منه د کېلې څخه ډېر ګټورتوب لري یا برعکس له د منې په پرتله کم ګټورتوب لري.

د افادې د مقیاس په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو اصطلاحاتو ته هم رجوع وکړئ.

# V

## Valuation

ارزونه /ارزښت اېښودنه

د معتبرو او منل شويو مقياسونو له مخې د يو ملکيت (جايداد) د قېمت سنجولو او ټاکلو څخه عبارت دی.

د بېلګې په توګه: له سوداګريزو بانکونو څخه د پور ترلاسه کولو په وخت کې يو بنسټ يا کس خپل جايداد د بانک په نوم د تضمين په توګه بيع کوي؛ نو د دې جايداد د ارزښت او يا قېمت ټاکنه د ځينو ثبت شويو شرکتونو له لوري، چې په همدې برخه کې فعاليت لري ترسره کېږي.

## Value

ارزښت

د مستهلکينو له لوري د يو توکي، خدمت يا هم د يوې منبع څخه د ترلاسه شوي رضايت له اندازې څخه عبارت دی، چې ښايي دا ارزښت ذاتي يا تبادلوي وي. چې ذاتي ارزښت يې په خپله د هماغه توکی څخه ترلاسه کيدونکی تسکين ده او تبادلوی ارزښت د همدې توکی د تبادلې يا د پير ځواک څخه عبارت دی.

د بېلګې په توګه: که يو کېلو غنم د دوه کيلو جواريو سره تبادله شي؛ نو په دې حالت کې د غنمو ارزښت د جوارو د ارزښت په پرتله دوه برابره ډېر دی او د جواريو ارزښت د جواريو د ارزښت نيمايي دی، چې معمولاً دا کار د پيسو په مرسته ترسره کېږي.

## Value Added

اضافه شوی ارزښت

د توليد په هره مرحله کې د يو توکي په ارزښت کې ډېروالی راوستلو څخه عبارت دی.

او يا هم دا، چې: په چاپېريال کې شته منابع او وسايل، چې په نسبي ډول کم اقتصادي ارزښت لري په توليد ي زيات ارزښت لرونکي توکي باندې بدلول چې په ارزښت کې يې له پخوا ډېروالی رامنځته شي.

## Value in Exchange

## په تبادله کې ارزښت

د يو توکي په وړاندې د بل توکي د تبادلې (معمولاً د پيسو په بڼه) وړتيا، چې له تبادلې څخه وروسته بيا هم د اړتياو او غوښتنو د رفع کولو په موخه ترې ګټه اخېستل کېدای شي. يا پيسې يو کس د خپلو اړتياو او غوښتنو د رفع کولو په موخه د توکو او يا خدمتونو په ترلاسه کولو مصرفوي مګر بيا هم همدا پيسې دا وړتيا لري، چې بل کس يې هم د اړتيا په وخت کې د تبادلې د وسېلې په توګه وکاروي. په استعمال کې ارزښت (Valueinuse) سره يې پرتله کړئ.

## Value in use

## په استعمال کې ارزښت

د توکو او يا خدمتونو د مستقيم مصرف په پايله کې د غوښتنو او اړتياو رفع کېدو يا د تسکين اندازې ته د توکي يا خدمت د استعمال ارزښت ويل کېږي. او يا هم دا چې: د توکې يا خدمت هغه ارزښت، چې د استعمال څخه وروسته ترې بل کس ګټه نشي ترلاسه کولای او يواځې د همدې مستهلک لپاره ارزښت ايجادوي

د بېلګې په توګه: د منې خوراک چې په مستقيم ډول سره د لوږې د رفع کولو لامل ګرزي په تبادله کې ارزښت (Value in Exchange) سره يې پرتله کړئ.

د يادولو وړ ده چې د ځينو توکو يا خدمتونو لکه عامه توکو لپاره په همزمان ډول ممکنه ده چې له يو څخه ډېرو مستهلکينو ته ارزښت ايجاد کړي.

## Variable

### متغیر/متحول

متغیر یا متحول، چې د اقتصاد په ریاضیکي ماډلونو کې د یوې بدلیدنکې او تغیریدونکې پدیدې په شکل ځای په ځای کېږي او د همدې ازاد او مستقل تغیر په وړاندې کې د ترلاسه کیدونکو پایلو کتنه او څېړنه. نه ترسره کېږي.

## Variable Cost

### متغیر لګښت

د تولیزو لګښتونو هغه برخه، چې د تولید له مقدار سره مستقیم تړاو لري یعنې د تولید په ډېروالی سره ډېرېږي او په کموالي سره یې کموالی رامنځته کېږي. له ثابتو لګښتونو **(Fixed cost)** سره یې پرتله کړئ.

## Variable Factors of Production

### د تولید متغیر عوامل

د تولید هغه عوامل، چې په معلوم وخت کې د تولید په مقدار کې په تغیر پورې تړلي وي. او یا هم په بل عبارت: د تولید په مقدار کې ډېروالي د نوموړو عواملو د ډېروالي او کموالی یې د کموالي سره مل وي. د بېلګې په توګه: خام مواد، کارګره قوه. چې ځینې وخت ورته د متغیر عامل Variable input اصطلاح هم کارول کېږي. د تولید ثابتو عواملو (Fixed Factors of Production) سره یې پرتله کړئ.

## Vault Cash

### د لاس په سر پیسې

هغه نقده پیسې، چې د سوداګریزو بانکونو په واک کې قرار ولري او د ورځنیو معاملاتو د پرمخ بېولو په موخه ترې ګټه پورته کوي او یا یې هم د قانون له مخې د پېرودونکیو د اماناتو په وړاندې یا د متوقعه خسارې د جبران په موخه د زېرمې په توګه ساتي.

## Velocity of Money

د پیسو دوران (سرعت)

په اقتصادي راکړو ورکړو کې په ټاکلي وخت کې د پیسو د برخه اخېستلو له ونډې څخه عبارت دی. او یا هم دا چې: هغه اندازه چې په یو ټاکلي وخت کې پیسې په څومره راکړو ورکړو کې برخه اخلي.، چې ځینې وخت ورته د جریان سرعت (Velocity of Circulation) اصطلاح هم کارول کېږي.

## Vertical Axis

عمودي محور

په ګراف کې د Y محور ته عمودي محور ویل کېږي دا محور د ښکته نه پورته خواته مستقیم میلان لري. د بېلګې په توګه: د بازار په ساده ګراف کې د توکو قېمتونه په همدې محور ښودل کیږي. چې د Y محور (y-axis) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Vertical Equity

عمودي مساوات/تساوي

د مالیې د ټاکلو هغه شکل، چې له مخې یې: یو کس، چې د بل کس په پرتله کم عاید ولري کمه مالیه تادیه کوي او په وړاندې یې د لوړ عاید لرونکي لوړه مالیه تادیه کوي. له افقي مساوات (Horizontal equity) سره یې پرتله کړئ.

## Vertical Integration

عمودي تکامل /ادغام /انضمام

د ادغام هغه ډول چې له مخې یې یو کاروبار د تولید یا د توزیع له یوې نه ډېرو متوالي مرحلو کې برخه اخلي. د بېلګې په توګه: دوه جلا کاروبارونه په دې ډول سره یو کېږي، چې یو کاروبار یو توکي او یا خدمت تولیدوي او بل یې ویشي.

## Vertical Merger
## عمودي ادغام

عمودي ادغام د ادغام له دريو ډولونو څخه يو دی او د ادغام له هغه ډول څخه عبارت دی چې دوه جلا ملکيت لرونکي کاروبارونه د يوه ملکيت لاندې راځي ، چې د يو کاروبار عامل (Input) د بل کاروبار محصول (Output) جوړوي.

د ادغام دوه نور ډولونه عبارت دي له:

۱: له افقي تکامل/ادغام/انضمام **(**Horizontal integration**)**
۲: متخاصم ادغام **(**Conglomerate integration**)**

د ادغام په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Vicious Circle
## فاسده/ شيطاني دايره

شيطانی دايره هغه غير ګټور ذاتي خپريدونکې حالت او د پيښو تسلسل ده چيری چې د دې دوران د يوې کړی د بلې راتلونکې ستونزې لپاره لاره هواروي او دا بيا په خپل وار د لومړی ستونزې د بيا پيدا کيدو لامل ګرځي او دا حالت تل د يوې دوراني کړۍ په شان ادامه لري. لکه د فقر شيطاني دايره.

## Visible Trade
## مرئي سوداګري

د يو هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ هغه برخه، چې د ليدو او لمس کېدو وړ وي.

د بېلګې په توګه: د توکو صادرات يا واردات.

دا اصطلاح د غير مرئي سوداګرۍ يا خدمتونو سوداګرۍ په مقابل کې کارول کېږي د لا ډېرو معلوماتو لپاره جاري حساب (Current Account) ته رجوع وکړئ او د مريي سوداګري (Invisible Trade) سره يې پرتله کړئ.

## Vital Statistics

### د ژوندانه احصائیه

د زیږون، مړینې، واده کولو، روغتیا، ناروغیو او داسې نورو د ژوندانه اړوند مسایلو پورې تړلې احصایې ته حیاتي احصایه ویل کېږي.

## Voluntary Exchange

### رضاکاره / د خپلې خوښې تبادله

د یو توکي په وړاندې د بل توکي تبادله، چې په خپله خوښه ترسره کېږي لکه د توکو او خدمتونو تبادله، چې د عرضې او تقاضا له مخې په بازار کې ترسره کېږي. له جبري/غیر ارادي تبادلې (Involuntary exchange) سره یې پرتله کړئ.

# W

## Wage

## مزد

د تولید په پروسه کې د کارګرې قوې د خدمت او برخه اخېستنې په وړاندې تادیې ته مزد ویل کېږي (معمولاً، چې په ورځني ډول سره تادیه کېږي). مزد معمولاً په دوه برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱: پولي یا ظاهري مزد (Money/Nominal wage)

۲: حقیقي مزد (Real Wage).

د مزد څخه علاوه د تولید د پروسې نور تادیات او لګښتونه عبارت دي له: رېجه پانګې ته، کرایه ځمکې ته او ګټه کارفرما یا متصدي ته تادیه کېږي. د مزد په اړه د لا ډېرو اصطلاحاتو لپاره د مزد ذکر شوو ډولونو ته هم رجوع وکړئ.

## Want

## غوښتنه

یو توکی یا هم خدمت، چې استعمال او یا استهلاک یې د ژوندې پاتې کېدو لپاره اړین نه وي بلکې په ژوند کې د مزایاو د ډېروالي لامل ګرزي او د نه استعمال په پایله کې یې په ژوند کولو کې کوم جدي خنډ نه رامنځته کېږي.

د بېلګې په توګه: یو کس غواړي، چې هره ورځ غوښه وخوري خو که ویې نه خوري؛ نو هم په ژوند کې کومه ستونزه نه رامنځته کېږي.

همدا راز دا اصطلاح د هغو غوښتنو لپاره هم کارول کېږي ، چې تخیلي بڼه ولري په دې مانا، چې یو څوک یې د لرلو غوښتنه لري؛ خو دتادیې وړتیا یې نه لري. له اړتیا (Need) سره یې پرتله کړئ.

## Wealth
ثروت

د تولید په پروسه کې د تولید وسایلو او موادو د تصرف له خالص ملکیت ته ثروت ویل کېږي. یا هم دا ، چې: د کاروبار د فزیکي او مالي شتمنیو د ملکیت او د کاروبار د پورونو ترمنځ د توپیر څخه عبارت دي. او یا دا، چې: هر هغه شی، چې ذاتي ګټورتوب ولري، د تصرف وړ وي او نسبتاً کمیابه وي ثروت ګڼل کېږي.

## Wealth Distribution
د ثروت وېش

په اقتصاد کې د وګړو ترمنځ د ثروت د وېش ډول په ګوته کوي. دا په دې مانا، چې: ثروت د ټولنې د وګړو ترمنځ په کوم دول وېشل شوی دی آیا د ثروت وېش په ټولنه کې د وګړو ترمنځ په عادلانه او یا هم غیر عادلانه ډول سره ترسره شوی دی؟.

## Welfare
سوکالي / رفاه

په اقتصاد کې ټولنیزه سوکالي د تولیدوونکو او مستهلکینو لپاره د بازار څخه د ترلاسه کیدونکې سوکالی مجموعه ده، چې په ډیری کتابونو کې ټولنیزې سوکالۍ (social welfare) په نوم نومول شوې او ټولیزه سوکالي هغه مهال خپل اعظمي حد ته رسیږي، چې بازار په پوره ډول سیالیز وي.

## Welfare Economics
د سوکالۍ اقتصاد

د اقتصاد هغه برخه، چې اغیزمنتوب او د ټولنې هر اړخیزه ښه والی مطالعه کوي او دغه موخه د کمیابه منابعو په متبادل تخصیص باندې تکیه لري، عمدتاُ د سوکالۍ اقتصاد په څېړنو کې د جزوي اقتصاد میتودونو او تخنیکونو څخه ګټه اخیستل کیږي. د اقتصاد دغه برخه په دوه مهمو قضیو ولاړه ده چې عبارت دي له:

۱: دا چې د ټاکلو فرضیو لاندې یو سیالیزی بازار د پریټو اغیزمنتوب **(Parito efficiency)** رامنځته کوي چې دا مفکوره د ادم سمېت د غیر مرئۍ لاس**(Invisible hands)** په نظریه ولاړه ده.

۲: دا چې د ځانګړو محدودیتونو په پام کې نیولو سره د د پریټو هره اغیزمنه پایله په بازار کې یو سیالیزي تعادل رامنځته کوی، چې په دې توګه د سوکالۍ اقتصاد له یوې خوا په جزوي اقتصاد ولاړ او له بلې خوا د عامه اقتصاد سره اړیکه پیدا کوي.

## Welfare Program

### د سوکالۍ پروګرام

په ټولنه کې غریبو، معلولو، د ډېر عمر لرونکو او معیوبو وګړو ته د مرستو د برابرولو او ورکولو پروګرام ، چې د دولت یا د خیریه بنسټونو له لارې پر مخ بېول کېږي.

## What?

### څه ؟

په اقتصاد کې د تخصیص د څلورو بنسټیزو پوښتنو څخه یوه ده درې نورې پوښتنې عبارت دي له:

۱: څنګه تولید شي؟ **(**How to Produce**)**

۲: د چا لپاره تولید شي؟ **(**For Whom to produce**?)**

۳: په څومره اندازه تولید شی؟ **(**How Much to Produce**?)**

او په دې مانا، چې د محدوده او کمیابه منابعو او وسایلو د تخصیص په وسیله د ټولنې د اړتیاو او غوښتنو په پام کې نېولو سره څه شی باید تولید شي؟.

## Whole Sale

### عمده پلورنه

د کورنۍ سوداګري هغه ډول، چې د توکو پلورل پکې په لویه پیمانه ترسره کېږي یا دا، چې په عمده ډول سره ترسره کېږی. د توک پلورنې **(**retail sale**)** سره یې پرتله کړئ.

## Willing to Accept

د قبولي اراده

هغه قیمت، چې د توکو پلورونکی یې د یو توکي د پلورلو په وړاندې د ترلاسه کولو اراده او وړتیا ولري، چې د توکي د عرضې د قیمت منشاء ګڼل کیږي. د تادیې ارادې (willing to pay) سره یې پرتله کړئ.

## Willing to Pay

د تادیې اراده

هغه قیمت، چې پیرودونکی یې د یو توکي د پیرلو په وړاندې د تادیه کولو اراده او وړتیا ولري، چې د توکي د تقاضا د قیمت منشاء ګڼل کیږي. د قبولي ارادې (Willing to accept) سره یې پرتله کړئ.

## Wind fall Profit

غیر منتظره ګټه

هغه ګټه، چې له خپلې عادي اندازې څخه ډېره وي.

## Wind fall Gain

غیر منتظره لاسته راوړنه

هغه مبلغ، چې ترلاسه کول یې تر ډېره د یو کس انسان په فکر کې هم نه وي او ترلاسه یې کړي. د بیلګې په توګه: یو کس د لاټري د ګټلو په پایله کې یو ټاکلی مبلغ ترلاسه کوي.

## Worker's Compensation

د کارکوونکو پاداش/معاوضه

د دولت له لوري د بیمې هغه پروګرام، چې د کار په جریان کې ټپي شوي کارګران ورڅخه ګټه پورته کوي او کارګرانو ته دا ډول تادیه د متصدي یا کارفرما له لوري ترسره کیږي.

## World bank (WB)

## نړیوال بانک

نړیوال بانک د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې هغه مالي بنسټ دی، چې په ۱۹٤٥ میلادي کال کې په دې موخه تأسیس شوی څو په نړۍ کې د غریبو او وروسته پاتې هېوادونو په اقتصادي وده کې ډېروالی سره مرسته وکړي او په دې ډول غریبو هېوادونو ته د هغوی د اقتصادي ودې د زیاتوالي په موخه په کم سود پورونه او هم د نوموړو پورونو څخه د ګټې اخېستنې لپاره تخنیکي مرستې برابروي او د خپلې اړتیا فنډ په نړیوالو مالي بازارونو کې د بانډونو د پلور څخه تهیه کوي او اړو هېوادونو ته معمولاً اوږد مهاله پورونه ورکوي.

## World Trade Organization (WTO)

## د سوداګرۍ نړیوال سازمان

د سوداګرۍ نړیوال سازمان په ۱۹۹٥ میلادي کال کې د یوروګوای غونډې (uroguay round) د سوداګریزو مباحثو په پایله کې د GATT پر ځای رامنځته شوی دی او د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ سرپرستي په غاړه لري. په اوسني وخت کې تقریباً ۱٦۰ غړي هېوادونه لري؛ خو افغانستان تراوسه په دې نړیوال سازمان کې غړېتوب ندی ترلاسه کړی؛ خو د ترلاسه کولو لپاره یې جدي هڅې پیل کړې دي. د دې سازمان عمده موخې یې په لاندې ډول دي:

- د هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو شخړو د حل په موخه اقدامات.
- د هېوادونو د بهرنۍ سوداګرۍ په پالیسۍ نظارت.
- غریبو او وروسته پاتې هېوادونو ته د تخنیکي مرستو او د مرستو څخه د ګټه اخېستنې لپاره د ټریننګونو برابرول. او داسې نورې کړنې یې عمده موخې جوړوي.

# X

## X
د انګلیسي د ایکس حرف

د کلي اقتصاد په مطالعه کې، د ټولیزو لګښتونو په مساوات کې د هېواد د صادراتو لپاره یو معیاري مخفف دی یعنې دا، چې: AE=C+I+G+(X-M) چې په دې مساوات کې:

۱: AE ټولیز لګښتونه (Aggregate Expenditure**)**
۲: C د کورني سکتور استهلاکي لګښتونه (Consumption Expenditure)
۳: I د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه **(**Investment Expenditures**)**
٤: G دولتي/حکومتي لګښتونه **(**Government Expenditures**)**
٥: **(**X-M**)** خالص صادرات **(**Export-Import**)** چې X د صادراتو او M وارداتو د ارزښت څخه نمایندګي کوي.

## X-axis
د ایکس محور

په ګراف کې افقي محور ته د Y محور (**X-axis**) ویل کېږي.، چې د افقي محور horizontal (Axis) اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## X-efficiency
د ایکس اغیزمنتوب

د نا قصې یا کاملې سیالۍ **(**Imperfect Competition**)** تر شرایطو لاندې د اغېزمنتوب هغې اندازې ته وایې چې وګړي او تصدۍ یې ترلاسه کولی شي، دغه ځانګړې اصطلاح د یوې کمپنۍ هغه بې کفایتي ښیي چې په بازار کې د سیالۍ د کم فشار په پایله کې له خپلو عواملو څخه اعظمي حاصل نشي ترلاسه کولی.دا نظریه په ۱۹٦٦ کال کې وړاندې شوه چې د اقتصاد د مشهور اصل (افادې اعظمی کولوUtility Maximization) سره په تناقض کې ده.

## X-inefficiency

### د ایکس غیر مؤثریت

له هغه توپیر څخه عبارت ده چې په تیوریکې ډول د پیشبینی شوی اغیزمنتوب او یو اقتصادي واحد په وسیله ترلاسه شوي واقعي اغیزمنتوب ترمنځ وجود لري یا په بل عبارت چې دا د بشپړه رقابت د شرایطو لاندې د پیش بیني شوي اغیزمنتوب او له بازار څخه په واقعي ډول د ترلاسه کیدونکي اغیزمنتوب ترمنځ تفاوت ته وایي. دا ډول غیر مؤثریت معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي کله، چې کاروبارونه په غیر موثر او یا بې کفایته ډول خپل تولیدي کړنې په مخ وړي او دلیل یې هم د سیالۍ د فشار نشتوالی وي.

د بېلګې په توګه: د اړتیا څخه ډېره کارګره قوه استخدامول، د تولید په پروسه کې د ضایعاتو ډېروالی او داسې نور، چې له مخې یې د تولید د تمام شد په لګښت کې لوړوالی رامنځته کېږي. د ایکس اغیزمنتوب (x-efficiency) سره یې پرتله کړئ.

## X-M

### خالص صادرات (صادرات منفي واردات)

د کلي اقتصاد په مطالعه کې د ټولیزو لګښتونو په مساوات کې د خالصو صادراتو لپاره یو معیاري مخفف دی، چې د صادراتو او وارداتو د ارزښت ترمنځ توپیر په ګوته کوي یعنې دا، چې: AE=C+I+G+(X-M) چې په دې مساوات کې:

۱: AE ټولیز لګښتونه **(**Aggregate Expenditure**)**

۲: C د کورني سکتور استهلاکي لګښتونه (Consumption Expenditure)

۳: I د کاروباري سکتور په وسیله د پانګونې لګښتونه **(**Investment Expenditures**)**

٤: G دولتي/حکومتي لګښتونه **(**Government Expenditures**)**

٥: **(**X-M) خالص صادرات**(**Export-Import**)** چې **X** د صادراتو او **M** وارداتو د ارزښت څخه نمایندګي کوي.

# Y

## Y-axis

د وای محور

په ګراف کې د Y محور ته د Y-axis اصطلاح کارول کېږي.، چې د **عمودي محور (verticalaxis)** اصطلاح ورته هم کارول کېږي.

## Yellow Dog Agreement

د زیړ سپي هوکړه لیک

له هغه هوکړه لیک څخه عبارت دی، چې مخکې لدې، چې کارګر په تولیدي پروسه کې په کار وګمارل شي د کارګر او متصدي یا حکمفرما ترمنځ په دې موخه لاسلیک کېږي، چې کارګر به د استخدام څخه وروسته د کارګرانو په ټولنه کې غړیتوب نه ترلاسه کوي او په دې ډول متصدي یا حکمفرما غواړي، چې د کارګرانو په بازار کې د کارګرانو کنټرول له منځه یوسي او بالاخره د کارګرانو اتحادیې هم له منځه ولاړې شي.

دا ډول هوکړه لیک په غربي هېوادونو کې د ۱۸۰۰ کلونو په وروستیو او د ۱۹۰۰ کلونو په اوایلو کې شتون درلوده؛ خو اوس تقریباً په ټوله نړۍ کې غیر قانوني ګرځول شوی دی.

او د زیړ سپي نوم ایښودنې دلیل یې دا وه چې هغه کارکوونکي چې دا هوکړه لیک لاسلیک کوې نو خپل ټول حقوق له لاسه ورکوي او په اصطلاح د زیړ سپي حیثیت غوره کوی.

## Yield

حاصل

په عام ډول حاصل ته وایې لکه کرنیز حاصل ، خو په ځانګړي ډول حاصل یا په مالي شتمنیو (بانډ، د خزانې بل او داسې نور) باندې د بازګشت کلي نرخ څخه عبارت دی، چې د مالي شتمنیو د سود نرخ او د مالي شتمنۍ په قیمت کې تغیر دواړه په برکې نیسي.

د بېلګې په توګه: که فرض کړو، چې د خزانې د بِل قیمت سل زره افغانۍ دی او د سود کلنی نرخ یې ۱۰٪ دی نو د خزانې د بِل درلودونکی هر کال ۱۰۰۰۰ افغانۍ په مالي شتمنۍ (د خزانې بِل) باندې د بازګشت په شکل ترلاسه کوي او که د کال په اوږدو کې د خزانې د بِل قیمت د سل زره افغانیو څخه ۱۰۵۰۰۰ افغانیو ته لوړ شي؛ نو د (yield) یې هم د ۱۰٪ څخه لوړېږي، چې په دې ډول سره د بِل درلودونکی ۱۰۰۰۰ افغانۍ د سود اندازه ترلاسه کوي او ۵۰۰۰ افغانۍ د بِل په قیمت کې د لوړوالي له امله ترلاسه کوي، چې په دې ډول سره (yield) یې د ۱۵۰۰۰ افغانۍ څخه عبارت دی، چې ۱۵٪ کېږي دا ځکه، چې، د سود نرخ یې په ثابت ډول سره ادا کېږي.

# Z

## Zero Based Budget
صفري بودجه

د بودجې جوړلو هغه ډول، چې له مخې یې ټول تخمیني لګښتونه او عوایدو د ټېر کال د عوایدو او لګښتونو له مخې سنجول کېږي او په دې توګه په بودجه کې هېڅ ډول کسر یا مازاد نه رامنځته کېږي، چې معمولاً یو نظري شکل دی.

## Zero Bond
صفري (بې ربحې) بانډ

هغه بانډ، چې سود ورباندې نه تادیه کېږي او د بازګشت نرخ یې د اسمي ارزښت او د بانډ د پېر د قېمت ترمنځ د توپیر څخه ترلاسه کېږي دا ډول بانډ معمولاً د تخفیف په ډول نشرېږي.

د بېلګې په توګه: یو بانډ، چې ۱۰۰۰۰ افغانۍ قېمت ولري او د سررسید وخت یې فرضاً یو کال وي نو که چېرې په اوسني وخت کې په ۹۰۰۰ افغانۍ وپلورل شي یعنې ۱۰۰۰ افغانۍ تخفیف پکې شتون ولري نو د بازګشت (Return) نرخ یې ۱۰٪ څخه عبارت دی.

## Zero Growth
صفري وده

د ودې هغه نرخ (معمولاً د نفوسو د ودې نرخ)، چې د صفر سره مساوي وي یا دا، چې په وده کې د تېر کال په پرتله سږ کال هیڅ تغیر شتون ونه لري.

## Zone Pricing
سیمه ایزه قېمت ایښودنه

د پلورونکي له خوا ښارونه یا سیمې په دې موخه په څو برخو ویشل څو د هرې برخې لپاره د عین توکي په وړاندې جلا جلا قېمت وټاکي.

## Zoning

### ناحیه بندي

په ښار یا نورو ځانګړو سیمو کې د ځینو کاروبارونو په ځای یه ځای کیدو باندې قانوني بندیز څخه عبارت دی.

د بېلګې په توګه: په ښارونو کې د خلکو د هستوګنې په سیمو کې د ځینو کړنو (لکه د خښتو بټۍ) په جوړولو باندې بندیز.

# ماخذونه

## دانګلیسي ژبې ماخذونه

**Andew, B.Abel, : Macro Economics, Addison-wesley publication, USA. 1998.**

**Baumols, et al.: Economc Principles and Policies, Australian Edition, 1997.**

**Burnbusch, et al, : Macro Economics, 9th Edition, USA, 2004.**

**Clayton : Economics Principles and Practices, American edition, 2000.**

**Dewett.K.K. & Chand Adarsh,:Modern Economic theory.21th revised edition. New Delhi.India.2002.**

**Krugman, Paul.R & Obstfeld Maurice,: International Economics, 6th Edition, USA.2003.**

**Malik, Mohammad Asif : Topic to Topic 200 Questions on Economics part 1. Publishers Emporium, Lahor Pakistan.2004.**

**Malik, Mohammad Asif : Topic to Topic 200 Questions on Economics part 2. Publishers Emporium, Lahor Pakistan.2004.**

**Mankiw, N.Gregoray, : Macroeconomics, 7th Edition,Worth Publishers, USA, 2010.**

**Nasir, M.Saeed, : Money Banking & Finance,Abid Umair Printing Press, Faisalabad, Pakistan. 2005-06.**

**Philip A.S. Taylor.: A New Dictionary of economics.1969.**

**Pindyck,Robert.S. et al, : Microeconomics, 7th Edition, Pearson. India. 2009.**

**Shahid, A.Hamid, : MacroEconomics. Ilmi Kitabkhana. Lahor, Pakistan.2013.**

**Wilson, et al, : Economics, Lincolnwood, Chicago, USA. 1997.**

## د پښتو ژبې ماخذونه

پښتو – انګلیسي قاموس، **Pashto-EnglishDictionary**د ژبو او ادبیاتو انستیټیوټ ، د افغانستان د علومو اکاډمي ، چاپ اریانا نشراتي موسسه. پیښور.پاکستان.**2005-06.**

د پوهنتون د دورې لکچر نوټونه، ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی ، **2003-2008.**

نړیوال اقتصادي نظامونه، عبدالواسع صابر، چاپ نیو کابل کتاب پلورنځی ، پیښور، پاکستان. **2007.**

د مخ پر ودې هېوادونو اقتصادي ستونزې : پوهاند دوکتور نذير احمد شهيدي، چاپ چارې: افغان کلتوري ټولنه، جرمني. **2005.**

## د اردو ژبې ماخذونه

اصول بنکاري ، خادم حسين، نويد پبليکېشنز ، لاهور پاکستان، **2007.**

اصول تجارت ،حصه اول و دوم، خادم خسين، نويد پبليکېشنز **,**لاهور پاکستان**2006..**

ترقياتي معاشيات، اى حميد شاهد، علمى کتابخانه ،لاهور، پاکستان. **2007.**

جزياتى معاشيات (**Microeconomics**) ، اى حميد شاهد،علمى کتابخانه ،لاهور، پاکستان. **1991.**

زرعى معاشيات و سرکارى مالبات، اى حميد شاهد، علمي کتابخانه لاهور، **2007.**

کتاب معاشيات ، حصه اول و دوم، پروفيسو منظور على شيخ،علمى کتابخانه ، لاهور، پاکستان. **2002.**

نظريه معاشيات (**Theoryofeconomics**) ، محمد حنيف اسلم، پوليمير پيليکشنز ، لاهور، پاکستان**1999.**

## د فارسي او درى ژبې ماخذونه

اقتصاد کلان (نظريه ها و سياست هاى اقتصادى) ،دکتر فريدون تفضلى: چاپ سيزدهم ، نشر نى ، ايران، **1381.**

پول و بانکدارى، يوجين.ا.ديوليو (**EugeneA. Diulio**)، ترجمه فارسى حسين حشمتى مولايى، ، چاپ موسسه بانکدارى ايران، بانک مرکزى جمهورى اسلامى ايران. **1374**

فرهنګ اقتصاد و بازرګاني (انګليسى به فارسى)**DictionaryofModernEconomics**، داکتر مرتضى قره باغيان، چاپ موسسه خدمات فرهنګي رسا. تهران ، ايران.**1992**

فرهنګ علوم اقتصادي (انګليسي-فارسى)**DictionaryofEconomics**،چاپ نوم، داکتر منوچهر فرهنګ، نشر آسيم. تهران. ايران.**2005**

فرهنګ فشرده علوم اقتصادي،(انګليسى-فارسي) **A Concise Dictionary of Economics**، داکتر منوچهر فرهنګ. نشر البرز.تهران ، ايران.**2003.**

فرهنګ کوچک اصطلاحات اقتصادى ، داکتر طهماسب محتشم، دولتشاهى:انتشارات شهر آب ، ايران.**1376**

مبادى اقتصاد ملى ، پوهنمل تاج محمد اکبر، موسسه تحصيلات عالي تابش، **1391.**

مبانى علم اقتصاد ، داکتر طهماسب محتشم، دولتشاهى ، انتشارات خجسته ، چاپ هشتم ، تهران ، ايران.**1371**

مسايل بين المللى پول، پوهاند دوکتور نذير احمد شهيدى، چاپ موسسه تحصيلات عالى تابش. **1392.**

# برښنايي ماخذونه


**AmosWeb,Econ.word, Retrieved from: http://www.amosweb.com/cgi-bin/awb_nav.pl?s=ecw.**

**Babylon Dictionary, English to Pashto-Farsi-Arabic. Electronic Dictionary (.lnk file).**

**Business Dictionary, Retrieved from : http://www.businessdictionary.com/terms-by-subject.php.**

**Business Education (biz/ed) ,Retrived from: http://www.bized.co.uk/reference/glossary/index.htm.**

**Cambridge Dictionaries Online, Business-English, Retrieved from : http://dictionary.cambridge.org/dictionary/business-english/.**

**Economic Glossary, the complet economic terms and definations, Retrieved from: http://www.bized.co.uk/reference/glossary/index.htm.**

**Economicswisconsin, Glossary of Economic Terms and Concepts , Retrieved from :http://www.economicswisconsin.org/guide/glossary.htm.**

**Investopedia, Retrived from: http://www.investopedia.com/terms/.**

**Investor Words, Retrieved from : http://www.investorwords.com/terms-by-subject.php.**

**Oxford References, retrieved from :http://www.oxfordreference.com/.**

**Pashto Dictionary, English to Pashto and Pashto-English. Electronic Dictionary (.exe file).**

**Ploliconomics, (Economics Made simple), Retrieved from : http://www.policonomics.com/subjects/.**

**The conference board of Canada,Dictionary of Financial,Economic and Business Terms, Retrieved from: http://www.conferenceboard.ca/topics/economics/economic-terms.aspx.**

**the Economic Times, Definations, Retrieved from :http://economictimes.indiatimes.com/definition**

**The Economist, Economics A-Z terms , , retrieved from :http://www.economist.com/economics-a-to-z/a.**

**The Free Dictionary, Financial Dictionary, Retrieved from :http://financial-dictionary.thefreedictionary.com/.**

**Wikipedia the Free encyclopedia, Economics Termenology, Retrieved from: https://en.wikipedia.org/wiki/Category:Economics_terminology.**

## د ليکوالانو بيو ګرافي

### ښاغلی پوهنيار عبدالله عادل

ښاغلي پوهنيار عبدالله عادل د محمد صابر زوی د پکتیا ولایت د آریوب ځاځیو ولسوالی اصلي اوسیدونکی دی چې اوس مهال د ننګرهار ولایت جلال اباد ښار په دریمه ناحیه کې ژوند کوي خپلې لومړنی زده کړې یې د ښوونځي تر کچې په جلال اباد کې بشپړه او په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د لوړو زده کړو په موخه د ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته شامل شو چې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې له همدې پوهنځي څخه په لومړۍ درجه فارغ شوی.نوموړی په ۱۳۸۸ کال کې د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په علمي کادر کې شامل او په تدریس یې پیل وکړ.د تدریس تر څنګ یې د Business Administration په برخه کې د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د استادانو لپاره د یوکلن روزنیز پروګرام بشپړ او په ۱۰/۲۰۰۹ کلونو کې یې د جرمنی هیواد ته د نورو زده کړو لپاره سفر وکړ، په همدې موده کې یې دجرمني دRUB پوهنتون څخه د Advanced Bachelor Upgrading Program یو کلنه دیپلومه ترلاسه کړه. ښاغلي عادل په ۲۰۱۱ کال کې د جرمنی هیواد په یاد پوهنتون کې د ماستری په زده کړو پیل وکړ او په ۲۰۱۳ کال کې دMSc (Economics & Management) ماستری سند په بریالیتوب سره ترلاسه کړ.نوموړي د خپلو زده کړو تر څنګ هیواد ته د هر ځل راستنیدو په مهال د اقتصاد په پوهنځی کی د ګڼو مضامینو تدریس کاوه او د یوکال لپاره د پوهنځي د علمي څیړنو د امریت چارې هم پر مخ بیولي دي، د دې تر څنګ د پوهنځي د کریکولم جوړونې په کمیته کې فعال غړیتوب لري. ښاغلي عادل د ماستری پر څیړنیز تیزس سربیره د اروپایي اتحادیې لخوا تمویلیدونکي د CASCADE څیړنیز پروګرام فعال غړی وه او څیړنیزه لیکنه National Position Paper یې اوس اوس د اروپایي اتحادیې د ویب پاڼې لخوا نشر شوې. اوسمهال ښاغلی عادل د دوکتورا PhD د زده کړو لپاره د جرمنی هیواد RUB پوهنتون لخوا منل شوی او هلته په زده کړو او علمي څیړنو بوخت ده.

### ښاغلی امان الله ورين

ښاغلی امان الله ورین د اسد الله زوی د د پکتیا ولایت د آریوب ځاځیو د شګې کلي اصلي اوسیدونکی او اوسمهال په کابل ښار کې ژوند کوي. نوموړي خپلې لومړنی زده کړې په پکتیا کې ترسره کړي او په ۱۳۸۲ کال کې د آریوب عالي لیسې څخه فارغ شوی.نوموړي خپلې لوړې زده کړې د لیسانس په کچه په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد په پوهنځی کې بشپړه کړې او له یاد پوهنځي څخه په دوهمه درجه فارغ شوی. ښاغلي ورین له فراغت وروسته په ګڼو حکومتي او غیر حکومتي ادارو کې دندې ترسره کړې او د دې ترڅنګ په ځینو خصوصي پوهنتونونو کې د تدریس چارې پر مخ بیایې.د نوموړي په لسګونو تحلیلي مقالې او لیکنې د هیواد په چاپي او برېښنايي رسنیو او مجلو کې چاپ او نشر شوې.ښاغلی ورین اوسمهال په کابل کې د سویس د یومف په نړیوال پوهنتون کې د عامه ادارې په برخه کې د ماستری په زده کړو بوخت دی.

# Abstract

Reference books and learning materials are quite essential part of higher education both for teachers and students. particularly the crucial thing in every educational discipline is that the standard terminology has to be known for every student of that specific area of study.

Based on observed reality and experiences in Afghan universities we recognized the necessity and demand for such a book in Pashto language which will be helpful both for students and teachers in the field of Economics and Business. It is clear fact that in a country such as Afghanistan, the development process of the learning environments through improvement of academic quality is not an easy task, however, it needs much more time & resources consuming efforts. Keeping in mind the necessity of time and all mentioned difficulties we (Adil & Vreen) took a step forward in this regard by writing a book of **Economic & Business Terms (The first ever English-Pashto Dictionary of Economic & Business Terms with Pashto explanationsand examples)**.. We have been working on this book since more than 4 years under direct and indirect supervision of professors and lecturers of economics and management. The first version (edition) has just completed in 2015.

Current edition of this book is a very first step for a future standardized and larger explanatory dictionary of economics and business, it is designed in nearly500 pages where each Standard English term is firstly translated to Pashto than shortly explained with most relevant examples in a few paragraphs. The similar or apposite terms are mentioned at the end of explanations for each term.

## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine. For this reason, we have published 200 different medical and non-medical textbooks of Engineering, Science, Economics and Agriculture (96 medical books funded by German Academic Exchange Service, 80 medical with 20 non-medical books funded by German Aid for Afghan Children and 4 non-medical books funded by German-Afghan University Society) from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Kapisa, Kabul and Kabul Medical universities. It should be mentioned that all these books have been distributed among the medical and non-medical colleges of the country for free. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:

*"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit."*

The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to the Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to **German-Afghan University Society (DAUG)** that has provided fund for four books including this one.

I am especially grateful to **GIZ** (German Society for International Cooperation) and **CIM** (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me during the past five years in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Minister of Higher Education Prof Dr Farida Momand, Academic Deputy Minister Prof M Osman Babury and Deputy Minister for Administrative & Financial Affairs Prof Dr Gul Hassan Walizai, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project.

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz, Ahmad Fahim Habibi and Fazel Rahim in the office for publishing books.

Dr Yahya Wardak
CIM-Expert & Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul/Afghanistan, January, 2016
Office: 0756014640
Email: textbooks@afghanic.org

**Message from the Ministry of Higher Education**

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields; so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and educational process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally I am very grateful to the German-Afghan University Society (DAUG) and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing textbooks of our lecturers and authors.

I am hopeful that this project should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,
Prof. Dr. Farida Momand
Minister of Higher Education
Kabul, 2016

| | |
|---|---|
| Book Name | Economic & Business Terms (English-Pashto Explanatory Dictionary) |
| Authors | Asst Tech Prof Abdullah Adil & Amanullah Vreen |
| Publisher | Nangarhar universityEconomics Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| No of Copies | 750 |
| Published | 2016, Second Edition |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |

This Publication was financed by the **German-Afghan University Society (DAUG)**.

Administrative and Technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it. Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Kabul
Office 0756014640
Email textbooks@afghanic.org

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2016
Sahar Printing Press
ISBN 978-9936-620-22-3